# په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې

**(دوهم ټوک)**

لیکوالان: لارس هیلسکوو او یعقوب سوینسن
ژباړن: محمد ابراهیم نعیمي ۲۰۱۶ زکال

د کتاب نوم: په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې
لیکونکي: لارس هیلسکوو او یعقوب سوینسن
د چاپ ځای: ډنمارک ۲۰۱۲ زکال
د کتاب اصلي ژبه: ډنمارکي
ژباړن: محمدابراهیم نعیمي
پښتو ته ژباړل شوي: نیټه ۲۰۱۶ زکال
د چاپ ځای: کابل ـ افغانستان
دچاپ خونه:
شمیره:
د کتاب ډیزاین کوونکي: بسم الله اغایګل

بسم الله الرحمن الرحيم

## د منځپانګو لړليک


د ژباړن څو خبري ............ ح
نهم څپرکی ............ ۱
د جنوب لوری ته لار ............ ۱
لسم څپرکی ............ ۳۳
په ډېرو جبهو کې جګړه ............ ۳۳
يولسم څپرکی ............ ۷۰
د ۲۰۱۱ ـ ۲۰۱۲ زکلونه ............ ۷۰
دولسم څپرکی ............ ۱۱۲
ستومانونکې جګړه ............ ۱۱۲
ديارلسم څپرکی ............ ۱۴۰
د اوباما جګړه ............ ۱۴۰
څوارلسم څپرکی ............ ۱۹۴
په کور دننه کې ګډوډي ............ ۱۹۴
پنځلسم څپرکی ............ ۲۲۱
د افغانستان په اړوند د پای خبري ............ ۲۲۱
شپاړسم څپرکی ............ ۲۹۱
د انتظار څخه ليري جګړه ............ ۲۹۱
ارزونه ............ ۳۳۰
د ژباړن لنډه پيژندنه ............ ۳۴۳

# ځان له ذهنه وباسم جانان له ذهنه وباسم
# څنګه د پتیال غوندی یو ځوان له ذهنه وباسم



دا کتاب د ټولو شهیدانو خو په ځانګړی توګه د شهید عبدالقدیم پتیال روح ته ډالۍ کیږي.
شهید عبدالقدیم پتیال د ۲ / ۱۱ / ۲۰۱۴زکال دمازدیګر لخوا د کندهار د پوهنتون د زده کړو په کوټه کې ناست و، چې په ناځوانمردانه توګه د دښمن د څو ډزو په واسطه یې د شهادت مقام خپل کړي. شهید پتیال د اخلاقو او په دولتي کار کې د پرهیزګاري داسې نمونه وه چې د خلکو په زړونو کې ځای درلودي. ما په ټول ژوند کې یو ځل د څو محدودو ساعتونو له پاره په ۲۰۱۰ زکال کې ولیدي. د نوموړی عالي انساني شخصیت دومره تر اغیزې لاندې راوستلم چې په ګومان مې د کلنو دوستي مو درلودل.
شهید پتیال د نورو دولتي چارواکو په څیر شتمني او بنګلې نه درلودي حتي د خپلو ماشومانو له پاره یې یو کور هم نه درلودي. کورنۍ او یاران یې په خپل شهادت باندې داسې غمجن کړل چې هیریدل یې ناشونې دي. په پای کې د ټولو شهیدانو روح د دوعا لاسونه پورته کوم. امین

# د ژباړن څو خبري

د ا چې کتاب ډيرې پاڼې درلودې نو اړ شوم چې کتاب په (۲) ټوکو کې چاپ کړم.

لومړی ټوک: د لومړی څپرکي څخه تر اتم څپرکې پورې

دوهم ټوک: د نهم څپرکي څخه تر شپاړسم څپرکې پورې

پر کتاب باندې نظر، د ليکوالانو مقدمه، د ښاغلي شاه محمد حصين تنقيظ او نور اړين معلومات په لومړي ټوک کې ځای شوي دي. د دې له پاره چې د دوهم ټوک حجم زيات نه شي نو سمدلاسې دوهم ټوک د يو لړ اړينو معلوماتو څخه وروسته ظپه نهم څپرکې پيليږي. په درناوي محمدابرهيم

# نهم څپرکی

## د جنوب لوری ته لار

د (۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲) پوری

د ۲۰۰۵ زکال پسرلی: ناټو د ډنمارک څخه پوښتنه کوي چې کولای شي د اروزګان او یا نیمروز ولایت امنیتي مسولیت پر غاړه واخلي؟ د ډنمارک د دفاع وزارت دواړه وړاندیزونه رده وي ځکه پورته وظایف ستونزمن او سخت ګڼي.

د اګست ۱۶ نیټه: د دفاع وزیر، سیون ګیده د وروستی ځل له پاره ډنمارکي سرتیري په فیض اباد کې ملاقات کړل. د دفاع وزیر په کابل کې د مقاماتو سره بحثونه وکړه چې ډنمارکي سرتیري هلمند ته ولیږل شي.

د ۲۰۰۵ زکال منی: د ډنمارک د بهرنیو چارو په زارت کې ارزونه وشوه چې د ډنمارک پوځونه د ارام ولایت، دایکنډی ټول امنیتي مسولیت پر غاړه واخلي.

د ۲۰۰۵ زکال د نوامبر میاشت: ډنمارکي جګړن لارس اولسلیو یوهنسن [۱] په کندهار کې د قوماندې په مرکز کې دنده درلوده. نوموړي دوه ځله د هلمند ولایت د لشکرګاه ښار او ګرشک ولسوالی ته پرواز وکړي.

د ۲۰۰۶ زکال د فبوري دوهمه نیټه: د ډنمارک پارلمان پریکړه وکړه چې ډنمارکي سرتیري د هلمند ولایت ته ولیږي.

ډنمارکي جګړن لارس اولسلیو یوهنسن د اوسپني خولی پر سر او د مرمیو ضد واسکټ واغوستي او د مختلفو هیوادونو د سرتیرو او افسرانو سره په الوتکه کې کښیناست. نوموړي جګړن ولیدل چې ډنمارکي الوتکه د غرونو پر سرونو د کابل څخه تیره شوه او د افغانستان د جنوب ولایت ته نژدي کیدل. کله چې الوتکه کندهار ته نژدي کیدل، یو ځل یي ارتفاع لوړه کړه او فشنګان یي فیر کړه چې د احتمالي توغندیو مخه ونیسي. دغه فشنګان دومره تودوخه تولیدوي چې توغندي وړپسی ځي، لږ وروسته د کندهار په هوایي ډګر کې را کوزه شوه.

د جګړې نه مخکې د کندهار هوایي ډګر د افغانستان په جنوب کې د ملکي پروازونو له پاره یوازني هوایي ډګر و. اوس دا هوایي ډګر د خوب له پاره د خیمو، کانتین، او د کانتینرونو وړوکی ښار غوندي وو. دا ټول وسایل د هوایي ډګر په مختلفو کونجونو کې ښکاریدل.

ډنمارکي جګړن لارس اولسلیو یوهنسن د لیري واټن څخه ولیدل چې هوایي ډګر د اغزي لرونکي سیم په واسطه احاطه شوي دي. دلته زندان هم و چې بندیان ور په کښې ساتل کیدل. د شپې له خوا د لیري پرتو غرو څخه د انفجارونو اوازونه اوریدل کیدل. جنګي او څرخي الوتکي پورته او کښته کیدلي.

وروسته مي سوچ وکړي چې دا جګړه ده.

ډنمارکي جګړن لارس اولسلیو یوهنسن له مخکې څخه جګړې ته تیار شوی و. کله چې په ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر پیښه وشوه، نوموړي د یو ځانګړي ګروپ پوځیانو مشر وټاکل شو او دا هم ورته وویل شول چې کیدای شي د القاعده او طالبانو پر ضد جګړې ته ولیږل شي. د ۲۰۰۱ زکال د کریسمس څه مخکې یي مایوسوونکي خبر واوریدي چې د ډنمارک ځانګړي پوځونه جګړې ته نه ځي.

اوس دغه ځوان افسر د ډنمارک د بانهالم [۲] (ژ:بانهالم د ډنمارک یوه جزیره ده.) د ځانګړو پوځیانو مشري د افغانستان په خاوره کې پر غاړه لري.

ډنمارکي جګړن لارس اولسلیو یوهنسن د لومړي پوځي واحد چې د مخکښانو په نوم یادیدل، مشر وټاکل شو. دا لومړي ډنمارکي پوځي واحد وو چې د جګړې له پاره د هلمند ولایت ته ولیږول شوو. نوموړی د جګړې له پاره ښه تیاری ونیوی. د دفاع وزارت د څارګرۍ اداري رپوټونه یي څو ځله ولوستل او د افغانستان د جنوبي سیمو په اړوند یي ټول هغه معلوماتونه چې لاسرسی یي ورته درلودل، په ژوره توګه ولوستل. خو کله چې کندهار ته ورسیدي بیا هم په حیرت کې ډوب شو. (ژ: کله چې دغه جګړن په ۲۰۰۱ زکال کې د جګړې څخه پاته شوو، مایوس شو. نوموړي تلوسه درلوده چې ژر جګړې ته

---

[۱] - Major Lars Ulslev Johannsen

[۲] - Bornholm

ولاړ شي. د نوموړي په آند په جګړې کې حلوا ویشل کیږي. د افغانانو تاب د نړۍ ډیرو زبردستو جګړه مارو قوتونو هم راوړی نه دي.)

نوموړی اوس وايي چې هره ورځ زموږ پر شاوخوا درنې پیښې کیدلې. د سرتیرو، وسلو، الوتکو او څرخي الوتکو لوی خوځښت نوموړی جګړن وپوهوي چې دا جګړه هغه ډول چې په ډنمارک کې نوموړی خپله او مشرانو فکر کولو، هغسې نه ده. د ناټو پوځیانو د افغانستان په دوهم لوي ښار کې په ډیر احتیاط ژوند کولو. افغانان وايي چې د افغانستان کنترول هغه وخت ممکن دي چې سړي کندهار تر کنترول لاندې راولي.

د هوايي ډګر څخه څو کیلومتر لیرې د ښار په زړه کې د جمعې د لمانځه له پاره لوی مسجد شته او هلته د مسجد څنګ ته د محمد (ص) چپنه هم ساتل کیږي. (ژ: موخه یې خرقه مبارکه ده.). په ۱۹۹۴ زکال ملا محمد عمر د خرقې مبارکې د زیارت په انګړ کې خپل ځان د مسلمانانو د لوی مشر (امرالمومنین) او په افغانستان کې اسلامي امارت اعلان کړي. د ملا عمر ښکاره کیدل د خلکو په مینځ کې ډیر لږ شوی دی چې یو ځل یې په دغه مهمه پیښه کې ځان ښکاره کړي. د ډنمارکي جګړن پر شاوخوا د استرالیا، امریکا او انګلیستان ځانګړي سرتیرو په اهسته ډول حرکت کولو. پوځیان سهار له وخته د غرنیو عملیاتو څخه ستړي او لالهانده راګرځیدل. خو خوشاله کونکي وه چې د غرمې له خوا به مې پوځیان هوسا او ارام ولیدل او د نوی دندې له پاره به تیار وو. ځانګړو پوځیانو په لوی کمپ کې بیل ځای درلودي چې استوګنه یې ور په کښې کول. په کمپ کې د امریکا، ځانګړو هوايي ځواکونو، انګریزي پوځیانو هم بیل ځایونه درلودل. د استرالیا هوايي ځواک هم په یوه کوچنې برخه کې استوګنه کول. ډنمارکي جګړن فکر کاوه چې سړي د نورو په چارو کې باید لاسوهنه ونه کړي.

ډنمارکي جګړن لارس اولسلیو یوهنسن په مشرتابه کې و نو ځکه څلور ورځې باید په کندهار کې وای. د ډنمارک د دفاع وزارت، د انجنیري پوځي واحد او د څار ګړي اداري کارکوونکي هم په کمپ کې وو. د هلمند په ولایت کې د ډنمارکي پوځیانو راتلونکي مشر، ډګرمن بیارنه میولر [۳] هم په کمپ کې اوسیدي. په حقیقت کې بیارنه میولر د کوچنې پوځي واحد د مشرتوب له پاره په نظر کې نیول شوی و چې د فیض اباد په سوله ایزه چاپیریال کې میشت وي. نوموړي مخکې داسې سیمې ته چې جګړه وی، لیږل شوی نه و. اوس د ډګرمن دندې د ریښې څخه بدلون موندي. د عملیاتو د قوماندې مرکز د پورته کمبودی سره سره نوموړي ډګرمن د ډنمارکي پوځ مشر وټاکي.

ډنمارکي افسرانو په غونډو کې برخه اخیستل، معلوماتونه یې د امریکايي، انګریزي او د نورو هیوادونو د پوځي کارپوهانو سره تبادله کول. ډګرمن بیارنه میولر په جنوب کې د ایساف د مشرانو سره غونډې وکړي خو لارس اوسلیب یوهنسن د څارګرو ادارو د مسولینو سره اړیکي ټینګې او د څرخي الوتکې په واسطه یې پر هلمند الوتنه وکړه. ډنمارکیانو ډیر وخت د ورځې یو د بل سره نه لیدل. په معمولي توګه ډنمارکیانو د ماښام د ډوډۍ خوړولو پر وخت په خیمه کې یا سهار په کمپ کې د منډو پر وخت معلوماتونه سره تبادله کول. دغه معلوماتونه یې د لارس اوسلیب یوهنسن د هغو معلوماتو سره پرتله کوله کوم چې نوموړي څو ځله هلمند ته الوتنه کړې وه. د ایساف د پلان پر بنسټ د ډنمارک د مخکښانو د پوځي واحد (۱۲۰) سرتیري

باید د ۲۰۰۶ زکال د فبوري او یا د مارچ په میاشت کې په هلمند کې ځای پر ځای شوی وای. په افغانستان کې د ډنمارک پوځي مشرتابه باید خپل پوځي سیستم ته وروستي معلوماتونه سپارلي واي تر څو د ډنمارک د دفاع او بهرنیو چارو وزارت په ګډه د ډنمارک پارلمان ته وړاندیز کړي وای چې د ډنمارک پوځونه په عملي توګه په هلمند کې په جګړه ایزو عملیاتو کې برخه اخلي. لارس اوسلیب یوهنسن دوه ځله په څلورو ورځو کې هلمند ته چې د کار راتلونکي ځای یې و، الوتنه وکړه. لارس اوسلیب یوهنسن په امریکايي څرخي الوتکه کې نصواري رنګه دښتونو ته په ځیر کتل. د الوتکې د خلاصې برخې څخه سرتیرو ماشینګړي د هر شکمن شي له پاره تیاري کړي وو تر څو د غرو د څوکو څخه د ولایت سهیلي برخو ته ورسیدي. نوموړي شنه کښتونه، د هلمند رود او د اوبو لوي کانال چې په مځکو کې تیر شوی وو، تر نظر تیر کړل. ډیر ریګ یې ولیدل او مځکه یې د خوځښت له پاره سخته ښکاریده.

جګړن سوچ وکړي چې سرتیري به چیري ځای پر ځای کړم؟ چیري به ځانونه پټوي؟ دښمن به چیري ځانونه پټوي؟ کله چې نوموړي د هلمند رود او کانال (ژ: د بغراکانال) ولیدل چې په درختو او شنو بوټو پټ دي نو اړینه یې وګڼل چې سرتیري باید دوه ډوله شنې او د مځکې همرنګه نصواري جامې ولري. لارس اوسلیب یوهنسن له یوه پلوه خوښ خو ډیر په سوچ کې هم ولویدي چې ډنمارکي سرتیري د لومړي ځل له پاره په دغه ډول جګړه کې برخه اخلي.

لارس اوسلیب یوهنسن په ژور سوچ کې ډوب شو چې دا جګړه به دی ته ورته وي چې د ریګو په سمندر کې جنګیږو. ډنمارکي جګړن سوچ وکړئ چې پراخې دښتې او تپې به د سرتیرو له پاره یو چلنج وي ځکه ډنمارکي سرتیرو په داسې

---

[۳] - Bjarne Møller

ځایونو کې تمرینات کړي دي چې د پېښېدو امکانات يې زيات وو خو بيا هم مطمين و چې ډنمارکي پوځيان به په پردي چاپېريال کې هم ښه جګړه وکړي. نوموړی فکر وکړي چې دا به نوی پوځي دوکتورين وي چې زه ورسره مخامخ يم او په زړه پوری به وي.

لارس اوسليب يوهنسن ناڅاپه په فضاء کې دودونه تر سترګو شول دا دودونه پر هغه لوی قير شوی سړک باندې ښکارېدل چې افغانستان د نورو هيوادونو سره نښلوي. دا لويه لار يوې تورې کربښې ته ورته ده چې په دښتونو او ريګونو کې تيريږي. نوموړي د مخابري له لاری واورېدل چې دا يو کمين و چې د څرخي الوتکي په واسطه بمبارد شو چې په ترڅ کې يوي لاری موټر اور واخيست. د لارس اوسليب يوهنسن سوچونه نور هم په واقعيت بدل شول چې په رښتيا ډنمارکي پوځيان د نوي ماډل جګړې سره مخامخ دي.

په کوپنهاګن کې د يوې ډلې لوړپوړو افسرانو او ملکي مشرانو له پاره د افغانستان جنوب سيمه نا اشنا نه وه. دوي د ۲۰۰۵ زکال د پسرلي څخه د ډنمارکي پوځيانو د ګډون په تړاو پر پلان کار کولو، ځکه چې ناټو ځواکونه د جګړې دريم پړاو ته ننوتل.

تر لومړی پړاو وروسته کوم چې ډنمارکي پوځيان د الماني سرتيرو سره په بشپړ امن په فيض اباد کې وو، د ايساف ځواکونو دوهم پړاو هم د هيواد په لويديزو برخو کې په پرتليزه توګه په سوله او امن کې تير کړي. په دريم پړاو کې د ايساف ځواکونه اړ وو چې د هيواد جنوبي برخو ته خوځښت وکړي تر څو د حامد کرزي د حکومت نفوذ ته په کنزورېټيوو(د پخوانيو دودونو ټينګ ملاتړي) پښتني سيمو کې پراختيا ورکړي. د پوځ مشر يسپر هيسليو پوهيدي چې نوی دنده د هغو دندو سره چې ډنمارکي پوځيانو په فيض اباد او کابل کې اجرأ کړي، توپير لري.

نوموړي اټکل کولو چې د افغانستان په جنوب کې عمليات به دومره سخت وي لکه په عراق کې چې سخت وو. يسپر هيلسيو شک نه درلودي چې پوځ به د راتلونکو عملياتو د پاره تياري ونه لري. په رښتيا سره يوه اګاهانه سياسي پريکړه نه وه چې ډنمارکي پوځيان د طالبانو د زړه (مرکزي) سيمو ته واستوي. هغه ګوندونه چې د افغانستان د عملياتو په تړاو يې پريکړې کولې، د حالاتو څخه خبر نه وو او رسنيو هم په دی اړوند څه ليکلي نه وو. پوځ هر وخت هڅه کوي چې د سياستوالو پريکړې په ښه وجه تر سره کړي.

د ډنمارکي پوځ مشر، يسپر هيلسيو په کال هينداره (جنتري) کې په لنډه توګه داسي ليکل شوي و: که چيري ډنمارک د ناټو سره په دغو سختو عملياتو کې چې ناټو په ۲۰۰۶ زکال د هيواد په جنوب کې پيل کوي، ګډون کوي نو بايد د ډنمارک سرتيري د ۲۰۰۵ زکال په وړي کې پوځي تياري ونيسي، چې پرته له دي څخه سرتيري اماده کيدلای نه شي. په همدي خاطر اړينه ده چې د دفاع وزارت مشرتابه د ۲۰۰۵ زکال په مني کې پلان تيار کړي. سياسي پريکړې کيدلای شي وروسته وشي.

دا چې ډنمارکيان د افغانستان د عملياتو زړه ته ننوتل، دوه علتونه يې درلودل: افغانستان په راتلونکي کې هيڅکله د ترهګرو له پار د امن سيمه نه شي او افغانستان بايد د ډموکراسی او د بشر حقوقو ته درناوی هيواد باندې بدل شي.

د دفاع وزارت خپلي موخي درلودي: دا چې ډنمارک د نړيوالو لانجو په حل کې وځليږي او په ناټو کې ډيره اغيزه ولري. د حکومت او پوځ نهايي موخه دا وه چې ډنمارک د اتيايمو کلنو په څير په نړيوالو کړکيچونو کې د انزوا څخه وباسي چې و موخي ته د رسيدلو له پاره برياليتوبونه لاسته راشي.

د پوځ مشر يسپر هيلسيو په ناټو کې دغه برياليتوب احساس کړي. په رسمي توګه هيڅ پريکړه د هيوادونو تر مينځ د امريکي د موافقي پرته نه کيږي. خو په عمل کې امريکا پرته د سيال څخه د ناټو مشري درلودل.

يسپر هيلسيو وايي چې په ټوله هغه موده کې چې زه د ډنمارکي پوځ مشر او په ناټو کې استازي وم، نه مي ياديږي چې د ناټو مشر زما د ملاقات غوښتنه رد کړي وي. ډيري وخت به خصوصي خبري د غونډې تر پيل مخکي او يا وروسته کيدلي. که به ما وغوښتل چې د ناټو د مشر څخه د خبرو له پاره وخت وغواړم، زما غوښتني ته يي هر وخت مثبت ځواب وايه. دا نوی خبره وه چې د ډنمارک د پوځ مشر ته ځانګړی درناوی کيدي.

کله چې يسپر هيلسيو د ډنمارک ګډون د هلمند په عملياتو کې د خپل نارويجي همکار سره په پټه د ناټو په غونډه او د غونډې څخه بهر خبري کولې، د نورو هيوادو استازو حسادت ښکاره کاوه. که څه هم د سويډن او فنلينډ پوځيانو د افغانستان په شمال کې شتون درلودي خو د نوموړو دوو هيوادونو د پوځ مشرانو خوب هم نه ليدي چې د ايساف د عملياتو په دريم پړاو کې برخه واخلي. دغه پروژه د ستهکلم او هيلسنکي له پاره سياسي مرګ وو.

د ناروې د پوځ مشر، سویرې دینیسن [٤] ځو ځله د یسپر هیلسیو سره د جګړې د دریم پړاو په اړوند بحث وکړې. نارویجانو غوښتل چې د هلمند په عملیاتو کې ګډون وکړي، نوموړو د خپل دفاع وزیر سره خبري کړي وي. یسپر هیلسیو وايي چې نوموړي کټل چې په تفریحګانو کې څوک د پوځي کمیټې سره خبري کوي. په ناروې کې حکومت بدل شو، د حکومت واګې د سوسیال ډموکراټانو او د سوسیالیستانو کیڼ اړخي ګوندونو تر لاسه کړي نو ځکه د ناروې پوځ هلمند ته نه ولاړي.

د ډنمارکیانو کار د پخوا څخه جریان درلودي: د ګالف په جګړه، بالکان، هوایي بریدونه پر سربیانو، ځانګړي پوځیان و افغانستان ته او وروستی د عراق اشغال یادولای شوو. په یادو شوو ټولو جګړو کې ډنمارک ګډون درلودي.

د بحرانانو په جریان کې د ډنمارکي پوځ ځوانو افسرانو وکولای شواې چې په پوځ کې بدلون راولي. نو ځکه ډنمارکي پوځ د زده کړو او وسایطو له لحاظه مجهز او تکړه شوو، کولای یې شواي چې په ښه توګه په خطرناکو نړیوالو عملیاتو کې برخه واخلي. د ۲۰۰۵ زکال په پسرلي کې د پوځ د بدلون نوښتګرو ځوانو افسرانو د ډنمارکي پوځ لوړ مقامونه اشغال کړل نو ځکه د افغانستان جنوب ته په عملیاتو کې ګډون دوهمه لوبه شوه. ډنمارکي پوځیان باید لومړنی سرتیري وي چې دغې خطرناکي سیمې ته ولاړ شي. یسپر هیلسیو باوري و چې دغه عملیات پیاده سرتیرو ته اړتیا لري. د یسپر هیلسیو مرستیال، تیم سلوت یونسن [٥] هم عیني نظر درلودي، نوموړي هم د نوښتګرو ځوانو افسرانو د قوي اجراتی کسانو څخه وو. تیم سلوت هم دا فکر کاوه چې د ډنمارکي پوځ ګډون د افغانستان د جنوب په عملیاتو کې یوه لار ده چې ډنمارکي پوځ ارزښت لوړیږي کوم چې د کلنو په جریان کې لاسته راوړی دي.

د دفاع وزارت هم د موضوع په ارزونه پیل وکړي. حکومت او د حکومت لوړپوړو چارواکو علاقه درلوده چې ډنمارک تر ممکنې کچې مخکښ وي. د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر اوس د حکومتي مشرانو نظرونه راټول کړي او داسي بیان کوي:« موږ ته ډیره مهمه وه چې د ناټو له لوري راکړل شوی دنده په ښه توګه تر سره کړو. موږ د دندې څخه تیښته نه کوله.»

ستونزه دا وه چې انتخاب په درست وخت کې شوی واي. داسې څرګنده شوی وه چې د جګړې دریم پړاو د ۲۰۰۶ زکال د پسرلي په پیل کې شروع شوی کیږي. په دغه وخت کې ډنمارکي پوځیان د پخواني یوګوسلاویا په کوسوو کې مصروف وو، نو ځکه ستونزمنه وه چې د افغانستان په جنوب کې لویو جنګي عملیاتو ته ورسیږي.

اساسي ستونزه اقتصاد او د سړیو کمښت وو. وروسته د دفاع وزارت وپوهیدي چې د پوځونو تیتول ډیر لګښت لري. کوچني عملیاتونه د نړی په مختلفو برخو کې د اکمالاتو په وجه ډیر ګران تماميږي او هم ځانګړو کارپوهانو، ډاکترانو، میخانیکانو او د انجنیري برخې سرتیرو ته اړتیا لري. په همدې خاطر د دفاع وزارت مشرتابه غواړي چې زیاتره پاملرنه لویو عملیاتو ته وکړي. دا ډول لوی عملیات د سیالي پر دندو هم ډیره اغیزه ښندي او دا امکانات هم ډیره وي چې د نړیوالو د پاملرني وړ وګرځي. تر ټولو ښه دا وه چې پوځونه د غونډ په کمیټ ولیږل شي.

د پخوانی یوګوسلاویا په کوسوو کې د ۲۰۰۵ زکال په پسرلي کې یو غونډ پوځیان چې شمیره یې (۵۰۰) تنو ته رسیدل، لیږل شوی وو خو په عراق کې د استول شوي غونډ شمیره یو څه ډیره وه. یاني په ټولیزه توګه دغو دوو هیوادونو ته (۱۰۰۰) تنه سرتیري لیږل شوی وو. په همدې توګه تقریباً (۲۰۰) سرتیري د افغانستان څخه او څو تنه سرتیري د نړی د نورو برخو څخه ورسره یو ځای شول. دې شمیري پوځیانو زموږ لوړترین قابلیت ښودلای شواي. په کاغذو کې لیکلي وو چې ډنمارک به (۲۰۰۰) سرتیري ولیږي، خو دا یو عیني واقعیت نشو کیدلای کله چې یو غونډ د افغانستان په جنوب کې ځای پر ځای شوی وای.

د پوځ په عملیاتي مرکز کې ډګرمن هینریک سومر [٦] د نړیوالو عملیاتو د ستراتیژی او عمل د اړیکو مسول و.

ډګرمن هینریک پوهیدي چې سرتیري څه کولای شي او کله نور مخته تللای نه شي. د دریم غونډ ځای پر ځای کول د ډګرمن په نظر دغومره ستونزمنه وه لکه په عراق کې چې بریالیتوب لاسته نه راتلي.

ډګرمن هینریک وویل چې دوه غونډه ښه تنظیمولای شوو خو د دریم غونډ ځای پر ځای کول موږ د خاورو سره برابروي.

---

٤ - Sverre Dinesen

٥ - Tim Sloth Jørgensen

٦ - Henrik Sommer

د ډنمارک د اوپراتیفي کوماندو مشر، جنرال پاول کیاسکوو [۷] د پوځ ستونزې د دفاع وزارت د قوماندې مرکز ته وړاندې کړې. یسپر هیلسیو موضوع تر پریکړې څخه مخکې د ازاد بحث له پاره وړاندې کړل. جنرال پاول کیاسکوو په ټینګه وویل چې یو برخه سرتیري د جګړې څخه یوې اساسي تفریح ته اړتیا لري، مخکې تر دې چې سیاستوال یوه لویه برخه سرتیري قوي جګړې ته لکه افغانستان ولیږي.

د یسپر هیلسیو، تیم سلوت یونسن او جنرال پاول کیاسکوو تر مینځه دري نفري غونډه جوړه شوه چې د امکاناتو ارزونه وکړي او د پوځ د اندیښنو په تړاو تفاهم شتون درلودې. دا کیسه اوس تیم سلوت یونسن دا ډول بیانوي «موږ د پوځي او اقتصادي موانعو په لحاظ نه شوای کولای چې په عیني وخت کې په کوسوو، افغانستان او عراق کې د یوه یوه غونډ په درلودلو حضور ولرو. هیله دا وه چې موږ د عراق څخه ووزو او پوځ ته شپږ میاشتې استراحت ورکړو. نو موږ به د افغانستان د جنوب له پاره تیار شوو. موږ دغه هیله د دفاع وزیر ته وویل او هغه په پرنسیپ کې وپوهیدي.

صدراعظم اندریس فوک غاسموسن د پوځ د جنګې تفریح غوښتلو د اړتیا څخه خبر نه وو. د دفاع وزارت باید د حل یوه لار پیدا کړی واې چې د هلمند په عملیاتو کې برخه واخلې پرته له دې څخه چې په پیل کې یو خیالی د حل لار پیدا شوی واې تر څو یو بشپړ پوځي غونډ برخه اخیستي واې. دا پوښتنه هم مهمه وه چې ډنمارکیانو د جګړې له پاره لیوالتیا درلودل؟ څو موده ډنمارکي ولس غوښتل چې د دغې درنې جګړې ملاتړ وکړي؟

که چیری بریالي شوو تر څو د ولس پراخ ملاتړ د جګړې د پراخوالي په تړاو په افغانستان کې تر لاسه کړو، نو هله هیله لرو چې په پارلمان کې د سیاسي ګوندونو تر مینځ همږغي رامینځته شي. د عراق په جګړه کې د سیاسي ګوندونو د همږغي نه شتون ډیره منفی اغیزه وښندله.

همدغه علت و چې د ډنمارکي پوځ مشر هڅه کوله چې د افغانستان د جګړې په تړاو د سیاسي ګوندونو ترمینځ پراخ تفاهم رامینځته شي.که بریالي شوو چې د سوسیال ډموکراټانو ملاتړ تر لاسه کړو نو کیدلای شي چې د سوسیال ډموکراټانو د بهرنیو چارو پخواني وزیر، موګنس لویکه ټاټټ یوه شي چې دا یوه ښه نظریه ده.

سیاستوالو د افغانستان په تړاو په عادي ډول د پوهولو له پاره بحثونه پیل کړل. د نړیوال ترهګری سره باید مبارزه وشئ خو په ټولیزه توګه انساني خیالونه او موخې هم د ګواښونو سره مخامخ دي. د طالبانو د واکمنۍ په نسکورولو د ښځو د حقوقو تر پښو لاندې کول، د کابل په غازي ستدیوم کې د انسانانو چار ماري کول، د موزیک، فلم کتل او د تلویزین ننداري منع کول بیا د افغانانو له پاره په یو واقعیت نه بدلیږي. د پوځیانو له نظره د افغانستان جګړه «ښه جګړه» یانې (ژ: عادلانه جګړه) ده خو د عراق جګړه چې د جګړې د پیلولو دلایل نادرست وه، خرابه جګړه (ژ: غیري عادلانه جګړه) وه.

د ډنمارک د پوځ د قوماندې په مرکز کې د روانو جدي بحثونو په مینځ کې ناڅاپي کلاسیک وړاندیزونه وشول چې ډنمارک په پیاده جګړه کې برخه نه اخلي. د پخوا په څیر اف ـ ۱۶ [۸] الوتکي باید د عملیاتو له پاره ولیږي. په دغه ډول د پوځ مشرتابه، پوځ ته د ستړیا څخه نجات ورکولو. د انساني تلفاتو کچه ډیره لږیدله او هوایي ځواکونو تر یوې کچې د پوځ اعتبار ساتلای شوای. په دغه ډول پوځ خپل شتون نړیوالو ته هم ښودلای شوای.

هوایي ځواکونو د پیاده پوځ په عوض دنده غوښتله. هوایي ځواکونو د اوږدې مودې ستراتیژیکې موخې درلودې. هوایي ځواکونو علاقه درلوده چې داسې دلایل راټول کړي چې د جټ جنګي الوتکو پر رانیولو یو میلیارد کرونه ولګولاي شي. دا ډیره ښه وه چې وسایل استعمال شي. دغه وړاندیز د دفاع وزارت له لوری و نه منل شو.

د پوځ پخواني مشر، یسپر هیلسیو [۹] وویل: « سړی کولای شي چې انساني تمدن د هوا څخه وران کړي او د جنګي کښتیو په واسطه د نړۍ سمندرونه قبضه کړي خو جګړه پر مځکه په پیاده پوځونو ګټل کیږي. خو همدا شان هم وشول.»

د عملي ستونزو د شتون، د ستړي پوځ او د خلکو د ملاتړ په اړوند د اندیښنو سره سره د نوي جګړې له پاره د پلان پر جوړولو کار پیل شو. د دفاع وزیر، سیون ګیده [۱۰] او د دفاع وزارت مشر سکرتر، اندیرس ټرولبورګ [۱۱] د پیاده پوځ د ستړیا په اندیښنو پوهیدل خو دوي جوته کړه چې د سیاسي دلایلو پر بنسټ نه شو کولای چې پوځ پر ارامه پریږدو.

---

[۷] - Poul Kiæskou

[۸] - F-16

[۹] - Jesper Helsø

[۱۰] - Søren Gade

[۱۱] - Anders Troldborg

يسپر هيلسيو او تيم سلوت يونسن ته د حکومت له لوري خبر ورکړل شوو چې همدغه خط په لاندې ډول تعقيبيږي: «کله چې ايساف ځواکونه د افغانستان جنوب ته ولاړ شي، ډنمارکي سرتيري به د پياده پوځونو په مخ کې قرار لري. د دفاع وزير او د وزارت مشر سکرتر پريکړه وکړه چې د ځينو سرتيرو د خدمت موده به لنډه وي خو دا وړانديز د پوځ د قوماندې د عملياتي مرکز د مشرتابه لخوا رد شوو. همدا شيبه د پوځيانو د خدمت موده شپږ مياشتې ده چې د سيمې د پيژندلو له پاره ډير لنډ وخت ګڼل کيږي.»

د پورته وړانديز په تړاو لاندې موافقې ته ورسيدل:« د پوځ د قوماندې مشرتابه بايد حکومت ته وړانديز وکړي چې ډنمارک بايد و افغانستان ته پوره غونډ ونه ليږي. په بدل کې ډنمارکيانو وړانديز وکړي چې يوه ډله پوځيان چې شمير يې (۱۲۰) تنه وي او ځينې کومکي دندې به هم په اضافي توګه ترسره کړي، افغانستان ته وليږي. ډنمارکي پوځيان به د کوسوو او عراق په شانې مستقلانه عمليات نه کوي خو ډنمارکيان به د اړتيا په وخت کې يوه ضربتي قوه وي چې د ملاتړو هيوادونو د پاملرنې وړ وګرځي.» په دغه ډول به د پوځ اساسي قوتونه د اضافي ستړيا څخه وژغورل شي، کوم چې پاول کيارسکوو انديښنه درلوده. د دغه پلان عملي کول به دا مانا و نه لري چې د ايساف د ځواکونو د دريم پړاو په عملياتو کې ډنمارکيانو برخه اخيستې نه ده. د پوځ مشر، يسپر هيلسيو د دفاع وزارت مشر سکرتر، انديرس ټرولبورګ سره وعده کړې وه چې د مخکښانو پوځي واحد به د افغانستان په جنوب کې د دريم پړاو جګړې له پاره يوازې په پيل کې هلته وي. موخه دا وه چې ډنمارک په لومړيو (۱۸) مياشتو کې د مخکښانو پوځي واحد د افغانستان جنوب ته ليږي. تر دې وروسته ډنمارک دغه ډول سرتيري نه درلودل چې جګړې ته يې وليږي ځکه دوي تر هغه وخت پورې بيا جګړې ته نه ليږل کيدل تر څو يو کال يې تفريح کړې نه واي. ټول سرتيري بايد د امکان په صورت کې د دوو جګړو په مينځ کې درې کاله تفريح وکړي. په بدل کې د پوځ مشرتابه پلان درلودې چې د عراق څخه د ۲۰۰۷ زکال په دوبې کې ووزي او هغه سرتيري چې بايد عراق ته ليږل شوی وای، هغه به افغانستان ته وليږي.

د ۲۰۰۵ زکال په پسرلي کې يوه خطرناکه سياسي لوبه وه چې ډنمارکي سرتيري په بيړه د عراق څخه وباسي. په عراق کې جګړه ورځ تر بلې زياتيدل. د ډنمارکي ګوندونو تر مينځ د جګړې د پيل پر بنسټونو او دلايلو د ټکر احتمال وو او پايله يې نه ښکاری ده. د تيم سلوت يونسن له پاره د معادلې حل ستونزمن و، ځکه: څنګه وکړای شوو چې د شپږو مياشتو په جريان کې د عراق څخه ووزو چې د يوی خوا مو خپل ملګري خطا ايستلي نه وي او د بلی خوا داسې ښکاره نه شوو چې لکی مو په کوناټو کې پټه کړه او وتښتيدلو؟

د پيل څخه ځرګنده وه چې ډنمارک ته ناممکنه ده چې په يوازې توګه د افغانستان په جنوب کې وي. د عراق د جګړې په څير بايد ډنمارک د يو قوي هيواد پوځيان د ملاتړو په توګه ولري. د پوځ مشرتابه پرته د تشويش څخه غوښتل چې د ملاتړي هيواد په توګه په هلمند کې تر امريکايانو، انګليسان ډير ښه دي. د امريکايانو د پوځ زياته شميره او د لوړې تکنالوژی درلودل په پياده جګړه کې د ډنمارکيانو سره ګډ کار د هميش له پاره ستونزمن کړی دي. د ډنمارک پوځيانو له پاره په ټولو برخو کې ستونزمنه ده چې د امريکايانو د غوښتنو مطابق په جګړه کې برخه واخلي. کله چې جګړه پيل شي، ډنمارکيان په تصميم کې هيڅ رول درلودلای نه شي. ډنمارکي پوځ د انګريزي پوځ سره ډير ورته والی لري او د انګريزي پوځ شميره د امريکايانو په پرتله دومره زياته هم نه ده. د بل لوري د ډنمارکي او انګريزي پوځونو جګړه ايزه وسايل، کلتوري برخه او د جګړې په اړوند فکر کول ډير ورته والي لري. تر ټولو مهمه دا وه چې په جنوبي عراق کې د ډنمارکي او انګريزي پوځونو ګډ کار په تاکتيکي برخو کې تر وروستی قدمي ياني دلګی پورې هم په برياليتوب مخته تلي. په پای کې د انګريزانو تر څنګ يوه بريالي سياسي لوبه وه. که سياسي چاپيريال اماده شوی وای چې ډنمارکيان د عراق څخه ووزي، د انګريزانو غبرګون به ډير ملايم واي، که انګريزان پوهيدلي وای چې ډنمارکي پوځيان زموږ تر څنګ د افغانستان په جګړه، هلمند کې ګډه برخه اخلي.

د ډنمارکيانو د پاره مهمه دا وه چې د افغانستان په جنوب کې دندې واقعي بڼه درلوده چې د انګريزي پوځ سره يې په ګډه مسوليت واخيستي. د ۲۰۰۵ زکال په پسرلي کې د ډنمارکيانو څخه د اروزګان ولايت د مسوليت اخيستلو پوښتنه وشوه خو ډنمارکي پوځي مشرتابه هغه رد کړه ځکه د اروزګان ولايت ډير پراخه وو او هم اټکل کيدي چې طالبان په اروزګان کې ډير غښتلي دي خو په وروسته کې د اروزګان مسوليت هالنډ واخيستي. ډنمارکيانو د دومره لوی دندې د اجراً کولو ظرفيت نه درلودي. د ۲۰۰۵ زکال په پسرلی او وړی کې چې پلان جوړی دي، ډنمارکي او انګريزي افسرانو په ترتيب سره کوپنهاګن او لندن ته څو ځلي سفرونه وکړل. د ډنمارک پوځي اتشه په لندن کې، نيلس ک اولسن [۱۲] د انګليستان د دفاع وزارت سره تر ډيرو بحثونو وروسته په اهسته توګه راضي شو. د انګليستان صدراعظم، توني بلير [۱۳] کوښښ کولو چې د انګريزي پوځيانو د وتلو له پاره د عراق څخه د قناعت وړ يوه لاره پيدا کړي، ځکه توني بلير په انګليستان کې د ډنمارک په پرتله ډير

[۱۲] - Niels K. Olsen
[۱۳] - Tony Blair

خپل محبوبیت د لاسه ورکړي و. په ډاون سټریټ ۱۰ کې [۱۴] (د انګلیستان د صدراعظم رسمي استوګنځي) حتی په ۲۰۰۴ زکال کې بحثونو جریان درلودي چې د افغانستان د جګړې پیل به یو ښه خیالي پلاتفورم ولري. د افغانستان په جګړه کې توني بلیر تیارو چې زیات پوځیان ولیږي او د امریکا سره خپل ملاتړ په کلکه تایید کړي، په همدغه وخت کې به په اهسته ډول د عراق د خرابې جګړې څخه پوځیان وباسي. د ناټو هیوادو د سرانو په غونډه کې چې د ۲۰۰۴ زکال د جون په میاشت کې په استانبول کې جوړه شوه، په همدغه دلیل توني بلیر اعلان کړل، تیار دي چې مرکزي قرارګاه او مشر جنرال د ایساف په واک کې ورکړي کله چې د جګړې دریم پړاو د افغانستان په جنوب کې په ۲۰۰۶ زکال پیل کیږي. توني بلیر د ناټو په غونډه کې وعده ور نه کړه چې څومره پوځیان به ولیږي خو د انګلیستان ددفاع وزارت د سرتیرو د لیږرولو له پاره تیاری نیول پیل کړل. ډنمارک هم د ۲۰۰۵ زکال په پسرلي کې راښکاره شو چې د انګریزانو پلان جوړونه ډیره مخته تللي و. ډنمارکیانو یوازي غوښتل چې د انګلیستان په پلان کې یو ځای پیدا کړي، خو نه یې غوښتل چې پوښتنه وکړي چې انګریزان ولي هلمند انتخابوي او یا انګریزان څومره سرتیري د دندې د اجراکولو له پاره لیږي. ډیره ستونزمنه وه چې سړی یې په دلیل وپوهیږي چې ولي انګریزانو د کندهار پر ځای د هلمند ولایت انتخاب کړي. انګلیستان د پوځي طاقت په لحاظ تر امریکا په دوهمه درجه کې قرار درلودي نو طبعي خبره وه چې انګریزانو باید د قندهار امنیتي مسولیت پر غاړه اخیستی وای خو د انګریز جنرالانو د کندهار د مسولیت پر غاړه اخیستل په داسې حال کې چې لا ډیر پوځیان یې د عراق په جګړه کې ښکیل وو، ناشوني چاره ګڼله. انګریزانو د خپل انتخاب په اړوند په رسمي توګه دلایل وړاندې کړل چې د هلمند ولایت د کوکنارو د کر کښت مرکز دي، او د انګریزانو اصلي موخه داده چې د نشه ای توکو سره په کلکه مبارزه وکړي. توني بلیر وروسته وویل چې د هلمند څخه هیروین اروپاه ته قاچاق کیږي چې زموږ د ځوانانو ژوند ته ګواښ دی، نو ځکه د هلمند امنیتي مسولیت موږ پر غاړه اخلوو.

د لندن په سهیل لویدیز کې د نورت وډ [۱۵] په سیمه کې د انګلیستان د دفاع وزارت مرکز [۱۶] پریکړه وکړه چې د انګلیسي پوځ (۳۰۰۰) سرتیري د ایر اسه لوټ بریګاده ۱۶ [۱۷] کې ځای پر ځای شي. دا هغه پوځي واحد و چې د ناټو د دندو د پاره تیار شوی وو په همدي ډول د ډنمارک د لارس اولسلیو یو هنسن د مخکښانو پوځي واحد د ناټو د دندو له پاره تیار وو. د ایر اسه لوټ بریګاده ۱۶ یو بل امتیاز هم درلودي چې د هوا څخه د چورلکي یا پراشوټ په واسطه پیاده کیدلای شواي. لویه ګټه یې دا وه چې انګریزي پوځیانو لویه ساحه د لږو سرتیرو په واسطه کنترولولای شواي. بله خبره دا وه چې د انګریز پوځ دغه واحد د ۱۹۸۲ زکال میهني جګړې څخه بیا منظمي جګړې ته تللي نه وو. د دغو پوځیانو کوچنیو ګروپونو د عراق په جګړې کې برخه اخیستي وه خو د پراشوټ پوځي واحد په ټولیزه توګه په جګړه کې ګډون نه وه کړی. د انګریزي پوځ د پلان جوړونکو اساسي ستونزه دا وه چې د هلمند د حالاتو څخه پوره خبر نه وه. انګریزان د پیل څخه د معلوماتو په تړاو معیوب ګڼل کیدل ځکه په لښکرګاه کې د (۱۰۰ ـ ۲۰۰) امریکایي ځانګړي ځواکونه میشت وو چې موخه یې یوازي د القاعده د پلویانو د مینځه وړل وو او د طالبانو د خوځښتونو په باره کې د سټلایت څخه کار اخیستي نه وو. وروسته د امریکا د ځارګري اداري لوړپوړو، پاکستاني ژورنالیست، احمد رشید ته اعتراف وکړي چې د سیمې څخه د معلوماتو نه درلودلو په وجه د غبرګونو سره مخامخ شوو:«دا دومره لویه غلطي وه چې د دغې غلطي په وجه د ناټو ځواکونو ډیره لویه بیه ورکړه.»

د انګریزانو ځانګړي ځواکونه د ۲۰۰۵ زکال په وړی کې هلته ځای پر ځای شول، د دوی معلومات داسې وو چې وضعیت ارام دي او دغه ارامتیا به دوام وکړي. کله چې د انګریزانو او ډنمارکیانو (۳۰۰۰) سرتیري په هلمند کې ځای پر ځای شول، پوځیانو ګومان وکړي چې د دغومره پوځ ځای پر ځای کول به د نشه ای توکو کار و باریان، د قومي خپل منځي ستونزو مشران او طالبان په خوځښت راولي. خو دغه اخطار د انګلیستان حکومت او د انګلیسانو د دفاع وزارت جدي و نه ګڼي. انګریزی جنرال ګورډوون میسینجر [۱۸] په سیمه کې د زري دار لنډ کروزر موټر په واسطه و ګرځیدي چې د کومې ځانګړې ستونزې سره مخامخ نه شو. د جنرال ګورډون ارزونه داسې وه چې په هلمند کې دنده تر کنټرول لاندې ده. د تهدید لوړه ترینه درجه به په عراق کې د بصرې په ډول وي چې د څو محدودو کلونو په جریان کې به قابو شي. دغه امیدونو د انګلیستان د وخت د دفاع وزیر، جان رایډ [۱۹] وهڅولو چې په کابل کې خبریالانو ته ووایي چې په هلمند کې به بشپړ بریالیتوبونه زموږ نصیب شي. نوموړي وویل «موږ د افغانستان په جنوب کې دنده مخته وړو چې خلک، د دوی اقتصاد او ډموکراسي یې وساتو. موږ به ډیر خوشاله شوو که دري کاله وروسته خپل هیواد ته ستون شو او یو ډز هم نه وي.»

---

[۱۴] - Downing Street 10

[۱۵] - Northwood

[۱۶] - PJHQ

[۱۷] - 16.ssault Air ABrigaden

[۱۸] - Gordon Messenger

[۱۹] - John Reid

وروسته د ډنمارکي او انګریزي پوځیانو مشر انګلیسي جنرال اندریو مکی [۲۰] وټاکل شو. نوموړي اوس په نیغه د ډنمارکي او انګریزي پوځیانو د اماده ګی ارزونه وړاندې کوي:«موږ هلمند ته په ترلو سترګو ولاړو او دبریالیتوب ناري مو پیل کړي. ټولو هغه کسانو چې د مخالفینو د جګړو په پیچلي حالت پوهیدل، ویل یې چې دغه ارزونه یوه لویه غلطي ده.»

نوموړی جنرال د پلان جوړولو ټوله پروسه تر نیوکو لاندې راولي. د پلان جوړولو پروسه د غوښتني او باور پر مفکوري داسې جوړه شوې وه:«چې د ستونزو حل د را پیدا کیدلو سره سملاسي کیدلای شي.» جنرال مکې یوازې دا ډول ارزونه کړی نه ده. ډګروال سټوارټ ټوټال [۲۱] په هلمند کې د پراشوټي پوځیانو لومړی قوماندان و چې د ټایمز [۲۲] ورځپاڼي سره په مرکه کې وایي: «موږ په هلمند کې د قومي خوځښت او زور په اړوند معلومات نه درلودې. موږ د نشه ای توکو په اغیز باندې نه پوهیدلو. موږ هیڅ معلومات نه درلودي او په دی هم نه پوهیدلو چې د چا سره خبري وکړو؟» د نوموړی امر، جنرال اید بوټلر [۲۳] هڅه وکړه چې پوځي مشرتابه ته خبرداري ورکړي چې (۳۰۰۰) سرتیري د ورسپارل شوي دندې د اجرأ د پاره کافي نه دي. د بوټلر ږغ بیځی وا نه وریدل شو. نوموړی اضافه کوي: « ما کنو غوږو ته خبري وکړې، د خلکو (۹۰) سلنه انرژي په عراق کې مصرف شوی و. هیچا د ژور سوچ وهلو له پاره سم وخت نه درلودي چې وپوهیږي، موږ څه کوو او کوم څه ته ور روان یو؟ د هلمند د دندې تر اجرأ وروسته دواړو، جنرال بوټلر او جنرال اندریو مکی د دفاع وزارت پرېښودي. د انګلیستان د پارلمان د دفاعي کمیټي د ۲۰۰۹زکال یو رپوټ دا جوته کوي چې د دواړو جنرالانو د نیوکو ملاتړ کوي:«د انګریزي پوځ عملیات د مشرتابه په کچه د غیري حقیقي پلان د جوړولو په خاطر په اهسته ډول د خرابیدو لار طی کول. د مختتلفو وزیرانو تر مینځ د موضوع په تړاو اړیکي درست نه وي تنظیم شوی. د پورته کمیټي په نظر اساسي غلطي دا وه چې د دفاع وزارت د هلمند په عملیاتو کې په څرګنده توګه د پوځیانو دنده معلومه نه کړه.» نوموړی وایي چې د پوځ پلان جوړونه پر (۱۰) سلنه واقعي معلوماتو او (۴۰) سلنه اټکلونو باندې جوړه شوی وه. نور څه باید سړي د عملیاتو په جریان کې پیدا کړی وای. نو ځکه یو دقیق پلان او جوړې شوی ستراتیژي شتون نه درلودې.

د ۲۰۰۵زکال د اګست په میاشت کې یوه ګډوډه او شکمنه غونډه د ویکټوریا [۲۴] د سرک په یوه زیرخانه کې چې د لندن په مرکز کې قرار درلودي، جوړه شوه. په کوټه کې ایرکانډیشن نه و، د رطوبت بوي پورته کیدي. په غونډه کې د پوهنتونونو استادان، پوځیان، څو بهرنیان او یو زیات شمیر د بهرنیو چارو لوړ پوړي چې ټوله (۳۵) تنه وو، راغونډ شول. په غونډه کې لویه برخه هغه کسان راټول شوی وو چې د هلمند ولایت د کلتوري موضوعاتو په تړاو یې ژور معلومات درلودل او غوښتل یې چې دغه معلومات او پوه نورو اړوندو وزارتونو ته انتقال کړي. یو ډنمارکي هم په غونډه کې حاضر و. ډانیل کورسکي [۲۵] تر زده کړو وروسته په انګلیستان کې و. نوموړي د انګلیستان د بهرنیو چارو او د انکشافي چارو په وزارتونو کې دنده اجرأ کړي وه او عملي تجربې یې په کابل او بصره کې د دندې پر وخت لاسته راوړې وې. نو طبعي خبره وه چې نوموړي د نوي ارتباطي ځانګی د مرستیال په توګه مقرر شو، چې په مستقیمه توګه یې د انګلیسان د صدراعظم، توني بلیر دفتر ته معلومات ورکولو.

د ۲۰۰۵ زکال په وړي کې ملکي ادارو هم تلاښ وکړي چې د پوځیانو سره د پلان په جوړولو کې ګډون ولري، ځکه دوي یو کال مخکې پیل کړی و. په زیرخانه کې غونډه د ډانیل کوریکس د ګروپ له پاره ډیره مهمه وه. دوي باید دغې یوې پوښتني ته ځواب موندلي واي: هلمند څه ډول یو ځای دي؟ سره ددي چې د کمپیوتر څخه دري فایلونه د هملمند په تړاو راټول شوي معلوماتونه نوموړي ګروپ ته وسپارل شول، خو ډیرو پوښتنو ته ور په کښې ځوابونه نه موندل کیدل. ډیر مهم سند چې دیرش پاڼي وو، د هلمند د جغرافیایي موقعیت په اړوند معلومات موندل کیدي. انګریزان او یوازني ډنمارکي په ډیره انرژي سره کار پیل کړي. د مرکز په لویدیز کې ډیر هیجان و. په عراق کې د مشکلاتو زیاتیدلو معلومات لندن ته را رسیدلي نه وه. داسې ښکاریده چې په جنجالي هیوادونو کې په کورنیو او بهرنیو ستونزو او دنړیوالي ترهګرۍ پر ضد باندې برې ته رسیدلای شوو. په زیرخانه کې داسې ښکاریده چې لمر پر لویدو دي چې د کوټي په مینځ کې یوه دایره رسم شول. د دایرې په مینځ کې لیکلي و: «اقتصاد، سیاسي جوړښت او ټولنیز حالت». د غونډې ګډون کوونکو باید د دایرې په مینځ کې هغه مطلب موندلي واي چې دوي یې په اړوند زیات معلومات درلودي. په داسې حال کې چې ټولو لستونې بډ وهلي وو نو ملکي کارپوهانو، افسرانو ځوانو ډیپلوماټانو د یو او بل تر مینځ ګروپونه سره پیدا کړل. ګروپونه نورو کوټو ته سره ولاړل او خپل معلوماتونه یې د هلمند په تړاو د یو او بل سره شریک کړل. د دې چارې مثبته پایله دا شوه چې هغه کسان سره راغونډ شول

[۲۰] - Andrew Mackay
[۲۱] - Stuart Tootal
[۲۲] - The Times
[۲۳] - Ed Butler
[۲۴] - Victoria Street
[۲۵] - Daniel Korskis

چي تر يوې کچې يي د هلمند په تړاو معلومات درلودې. منفي پايله يي دا وه چي ستونزې بيان شوې. د ټولو احساس د غونډې څخه دا وو چي زيات شميرې ستونزې شتون لرې او حالات ډير پيچلي دي. کيدلاى شي چي ډيرې نورې ستونزې هم وموندل شي خو ځواب يي شتون نه درلودې. په ژوره توګه د حالاتو جاج اخيستل هيڅ وخت په بشپړه توګه د نورو د منلو وړتيا ونه موندله. په توليزه توګه هيڅوک نه پوهيدې چي زموږ عمليات به د کومو جدي ستونزو سره مخامخ کيږي. د زيرخاني په غونډه کې داسي کسان وو چي د واک د جوړښت او د قبيلوې سيستم په تړاو يي معلومات درلودې خو ډير لږ کسان په هلمند کې د دقيقو ستونزو او واقعيتونو په يوه برخه پوهيدل په داسي حال کي چي زوړ سيستم په بشپړه توګه وران شوى وو. په دغه هيجاني غونډه کې بيا هم د ملکي ادارو پلان جوړونکو فکر کولو چي په هلمند کي به سياسي ستونزې د حکومت په ښه احساس او د اړوندو لوړپوړو چارواکو په زده کړو حل شي. يوه نظريه چي وروسته ډانيل کورسکي او د ډلې مشر غيرې واقعي او د پوهيدلو وړ ونه وګڼل دا وه چي واک په څه ډول د افغانستان په جنوب کي چليږي؟ يوه غلطي دا وه چي ډانيل کورسکي او د ګروپ مشر، مارک ايتيرينګټون [٢٦] چي د ملکي ادارو عمليات يي پلانګذاري کول، جرأت يي ونه کړې چي د پوځي پلان جوړولو په تړاو په دولتي سيستم کي لوړ پوړو چارواکو ته د ممکنه ستونزو خبرداري ورکړي. الارم ږغيدلي و څکه وزيرانو غوښتل چي پوځونه هلمند ته ولاړ شي. مارک ايتيرينګټون وروسته د ټايمز ورځپاڼي ته وويل چي مشرانو نه غوښتل چي خراب خبر واوري، دوي يوازې د ښو خبرونو د اوريدلو له پاره تيار وو.

مارک ايتيرينګټون او ډانيل کورسکي هم داسي نظر درلودې چي د تلوار له پاره نورو دلايلو شتون درلودې. پوځيانو غوښتل چي د عراق په جنوب کې د ستونزو څخه خلاص شي. ډانيل کورسکي وايي چي زه په دى خيال کي شوم چي د هلمند په دښتونو کي به په لنډ کروزرموټر کي ناست يم چي د موټر پر سره به ماشيندار نصب وي. د ډيرو خبرتياو سره سره د کورسکي او ايتيرينګټون له پاره د پاسه څخه داسي امر واورول شوو: « موږ پوهيږو چي موږ د کوم خبر د اورولو له پاره اړتيا لرو، دا خبر د هغو زړو سياستوالو له لورې کيدې چي په چوکۍ کي ناست وه او د دښمن سره يي د جګړې کولو تجربې درلودې.» د دښمن د ماتې له پاره اساسي موضوع د پوځ او ملکي ادارو تر مينځ ګډ کار اړين دي. د مخالف سره هيڅوخت جګړه نه بريالى کيږي تر څو د خلکو له پاره د جذب لار پيدا نه شي. په اساس کي د دښمن سره جګړه بايد د سياسي حل لاره ولري، ياني دا چي دښمن د خلکو ملاتړ د لاسه ورکړې، نه يوازې په پوځي برخه کي بلکي په سياسي چاپيريال کي هم ناکامه او يوازې پاته شي. دغه تجربه انګريزانو د ١٩٥٠ زکال د ماليزيا په جګړه کي لاسته راوړه کوم چي د چين د امپراطورې د ماهو ملاتړ مخالفين يي مات کړل. ولې امريکايانو د ويټنام په جګړه کې د غيرې محبوب، په ادارې فساد کې ډوب او غيري موثر حکومت تجربې د جنوبي ويټنام څخه درلودې. لويديزو هيوادونو وروسته دغه تجربې د بالکان په جګړې کي لاسته راوړې خو په عراق کې د پوځ او ملکي ادارې ګډ کار ډير اړين وو. ډنمارک په ملکي کارونو کي لاسوهنه نه کوله. دغه ګډ فکر چي پوځ او ملکي ادارې ګډ کار وکړي. د لومړى ځل له پاره په ٢٠٠٤ زکال کي دغه موضوع د ناټو په غونډه کي د دفاعي چارو کي پر موافقي باندې جدي طرحه شوه. د ډنمارکيانو د کوپنهاګن په ښار په يو لوى کنفرانس کي د پوځ او ملکي ادارو د ګډ کار پر څرنګوالي باندې بحث کيدې، برخه واخيستل خو تر کنفرانس وروسته هيڅ پرمختګ ونه شوو. د هلمند له پاره د تياريوو په وخت کي د بهرنيو چارو او د دفاع وزارتونو داسي رول ونه لوبولو چي ډنمارکيانو ته دملکي چارو د پياده کولو له پاره د مشرتوب رول ورکړې. کله چي د بهرنيو چارو کارکوونکي په لندن کي وو، تلاښ يي ونه کړى چي په غيري رسمي توګه د دانيل کروسکي سره اړيکي ونيسي او ځانونه د دانيل کروسکي او مارک ايتيرينګټون په انديښنو وپوهوي چي ولې انګريزانو بيره کول. په لندن کي دانيل کروسکي دوه ځله د ډنمارک د پوځي اتشي، نيلس اولسن سره خبري کړى وي. کروسکي وايي چي نيلس اولسن د ښو دلايلو له مخې په پوځي مسايلو کي دخيل وو.

د ٢٠٠٥ زکال د اګست په (١٦) نيته د سهار پر (۵) بجي د ډنمارک د دفاع وزير، سوين ګيده د المان په يوه ترانسپورتي الوتکه کي د ازبکستان څخه د افغانستان پر لورى الوتنه وکړه. د امنيتي دلايلو له مخې د دفاع وزير ډنمارکي الوتکه چي د راکټ په مقابل کې محافظتي وسايل نه درلودل اود افغانستان په فضاء کي الوتنه نه شواى کولاى ، پريښودل. د دفاع د وزير د سفر موخه په رسمي ډول د نوبت له مخې د ډنمارکي پوځيانو ليدنه وه. سيون ګيده هميشه په کال کي دوه ځله د هغو ډنمارکي پوځيانو څخه چي د نړى په ګوټ ګوټ کي په جګړه ايزو فعاليتونو بوخت وو، د عادت له مخې ليدنه ورڅخه کول. ټول سرتيرې بايد په هغو ځايونو کي چي ځاى پر ځاى شوي دي، د دفاع د وزير د ليدلو تجربه ولري او رسنيو هم په هميشني ډول د وزير د سفرونو راپورونه خپرول. خو دا ځل د پخوا په ډول د سرتيرو عادي ليدنه نه وه. شپږ مياشتي مخکې د ډنمارک پارلمان پريکړه کړې وه چي ډنمارکي سرتيرې بايد د افغانستان په جنوب کي ځاى پر ځاى شي نو ځکه د دفاع وزير د پوځ د استولو په تيارى باندې سخت مصروف و. د پوځيانو د ځاى پر ځاى کولو په تړاو د دفاع وزير بايد د افغانستان د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو د چارواکو سره په کابل او د ايساف د مشرانو سره ليدلي واي. په فيض اباد کې د ډنمارکي سرتيرو سره د ډنمارک د دفاع وزير نورمال ليدنه بايد تيره شوى واى، وروسته يي نور کارونه کول. د ازبکستان څخه ډنمارکي هيت په شمال کي مرکزي ښار، مزارى شريف ته الوتنه وکړه. وروسته د دفاع وزير او ورسره هيت په ډنمارکي الوتکه کي د

[٢٦] - Mark Etherington

فیض اباد په ښار کې د جرمني او ډنمارکي پوځونو کمپ ته الوتنه وکړه. د الوتکې سیټونه یوازې د لیلون ټوکر څخه جوړ چې د الوتکې د چوکیو سره یې ورته والی نه درلودې. په الوتکه کې د معمول څخه خلاف ډیر لوړ پوړي ناست وو: د ډیپارتمنت مشر، انډیرس ټرولډبورګ [۲۷] ، د دفاع وزارت د دوو څانګو مشران، د بهرنیو چارو د وزارت د یوې څانګې مشر، د وزارت حقوقي مشر او د دفاع وزارت د خارګرې اداري مشر، یورن اولسین [۲۸] شامل وو. په همدې توګه د پولیټیکن یو ژورنالیست هم ورسره ملګری وو. په فیض اباد کې د دفاع وزیر د سرتیرو سلامتي وغوښتل. وروسته وزیر ته د امنیت او د ډنمارکي سرتیرو د چارو په تړاو معلومات ورکړل شو. په همدې توګه یې هغه ځایونه وزیرته وښودل چې ډنمارکیانو مرستې ورسره کړې د بیلګې په توګه یوه ښوونځې او د اوبو رسولو کانالیزیسیون وزیر ته وښودل شوو. وروسته د یوې بریالی پروژې څخه لیدنه وکړه. تر دغې سترې ورځې وروسته د کابل پر لورې الوتنه وکړه. په کابل کې سیون ګیده افغانستان د دفاع وزیر، عبدالرحیم وردک چې د حامد کرزي د ګروپ سړی و، وکتل. د ایساف په مرکزي دفتر کې د دفاع وزیر د عملیاتو پلانونه د نژدې څخه ولوستل او د ډیرو کلیدو مشرانو سره یې وکتل.

د اګست د میاشتې پر (۱۹) نیټه ډنمارکي هیت د ازبکستان په هوایي ډګر و ډنمارک ته په لاره کې د پولیټکن د ورځپاڼې د ژورنالیست سره مرکه وکړه چې د ورځپاڼي پر مخ خپره شوه. د دفاع وزیر په مرکه کې د سرتیرو د زیاتولو خبره یاده کړه، ځکه اوس یوازې (۱۶۵) سرتیري په افغانستان کې وو. سیون ګیده وویل: موږ به په افغانستان کې اوږده موده پاته شوو او زما نظر دادې چې په اوږده موده کې به هڅه وکړو چې د افغانستان په مسایلو کې ګډون ولرو. د دفاع وزیر تأکید وکړې چې اوس زموږ پوځ د نورو سرتیرو د استولو ظرفیت نه لرې ځکه زموږ (۱۱۵۰) سرتیري په نړیوالو دندو کې مصروف دي. په همدې خاطر افغانستان د نورو سرتیرو لیږل غواړي چې موږ خپل سرتیري په نورو بهرنیو هیوادونو کې لږ کړو. نوموړی وړاندوینه وکړه چې د سرتیرو د لږولو لوی چانس په کوسوو کې دي. دا به د ناټو له پاره یوه خطرناکه خبره وي چې په افغانستان کې بیا رغونه و نه شي او ثبات را نه وستلای شو. داسې حالت د ترهګرو سره مرسته کولای شي. سیون ګیده خبرداري ورکړې چې د افغانستان د مسایلو حل به پیسې او ډیر وخت وغواړي. د دفاع وزیر څرګنده نه کړه چې سرتیري به د افغانستان خطرناکې جنوبي سیمې ته ولیږل شي. البته دا څرګندوني هغه وخت کولي چې سرتیري په جدي توګه د عراق څخه ووزي. د ۲۰۰۵ زکال د اګست په میاشت کې وختي و چې د عامو خلکو تر مینځ د سرتیرو د ځای پر ځای کیدو بحث شوی وای. کیدلای شوای چې عراق ته د سرتیرو لیږل د غلطې اعتراف ګڼل شوی وای. د کوسوو په اړوند د دفاع د وزیر څرګندونو د پوځ مشرانو ته په بالکان کې دیپلوماتیکی ستونزې را ولاړې کړې. کله چې پولیټکن اړوند خبر په ورځپانه کې خپور کړې، د رویټر خبرې سرویس د پوځ د مشرتابه څخه په بالکان کې وپوښتل چې ایا تاسو د دفاع د وزیر د پلان څخه خبرتیا درلودل؟ موږ هیڅکله په دې تړاو کوم معلومات نه لرو، دا به د دفاع د وزیر غوښتنه وي. په حکومت کې د موضوع د جهت ورکولو په تړاو کومه شک شتون نه درلودې. دوې تیار وو چې د راتلونکو ټاکنو له پاره د عراق څخه د پوځیانو ایستل د بحث موضوع کړې. په ځانګړی توګه د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستې میولر لګیاه وو چې د عراق د جګړې څخه ډنمارکي پوځیان وباسي. ولې خو شک نه و چې بیا هم ډنمارکي پوځیان باید په جنګي جبهه کې وي. په همدغه دلیل د سرتیرو ډیرول د افغانستان په جنوب کې پر ځای کار وو.

د امریکا د پوځې اتشه ناڅاپي خبرې، جګړن لارس اولسلیو په حیرت کې وا نه چاوه:« د امریکا پوځې اتشه د ۲۰۰۵ زکال په منی کې د مخکښانو د واحد پوځیان په بانهلم (ژ:د ډنمارک یوه جزیره ده) [۲۹] کې وکتل او داسې ور ته وویل: که دغه ستاسو درنې وسلې وي نوتاسې راته لیونیان ښکاري، اړینه یې بولم چې ډیر تابوتونه د ځانونو سره یوسی.» پوځې اتشه شوک وخوړې چې ډنمارکي پوځیان یې ولیدل چې درنې ماشینګړې هلمند ته نه وړې. د ډنمارکیانو درنې وسلې (۵،۵۶) ملي متره ماشینګړې وې چې پر موټر باندې د دایم له پاره باید نصب نه شي. سپکې وسلې وې چې پر موټر محکم و نه تړل شي، د ډزو په وخت کې نښان ویشتل دقیق نه وې. نوموړی ورته وویل چې دا وسله د نښان ویشتلو له پاره په هیڅ ډول مساعده او دقیقه نه ده. نوموړی وویل چې سپکې وسلې طالبانو ته موقع ورکوي چې نژدې راشي او خپل راکټونه وکاروي. په حقیقت کې د لارس اولسلیو یوهنسن د مخکښانو پوځې واحد ته چې د ناټو سره په بیړنیو حالاتو کې مرسته کوله، (۷،۶) ملي متري ماشینګړې ورکول شوې وې چې پر موټر مونتاژ کیدلای شواې او د نښان ویشتولو واټن یې هم زیات وو. مانا دا چې د بانهالم پوځیانو ته ډیرې ښې وسلې ورکول شوې وې چې دغو پوځیانو د همدغو وسلو سره د ناټو د ځواکونو سره په ګډو تمریناتو کې برخه اخیستې وه. ډنمارکیانو په ډیره ښه توګه د هسپانیا دفورتوینتورا د جزیرې [۳۰] په دښتونو او غرونو کې تمرین کړې وو. کله چې ډنمارکي پوځیانو ډیره موده درنې وسلې استعمال نه کړې او د افغانستان د لیږدولو موضوع هم جدي مطرح نه

---

۲۷ - Anders Troldborg
۲۸ - Jørn Olesen
۲۹ - Bornholm
۳۰ - Fuerteventuea

وه، نو پوځیانو پورته درنې موډرنې وسلې دوباره تحویل کړي. مانا دا وه چې د موډرنو دوربینونو، د شپې د وسایلو، درنو ماشینګړو او ځانګړو موټري وسایلو سره نوموړي پوځي واحد مخه ښه کړی وه. د لارس اولسلیو یوهنسن له پاره ډېره دردونکې وه چې درنې وسلې د موټري وسایلو څخه خلاصې شوي وي او په کدام کې پرتې وي چې د اړتیا په وخت کې کار ورڅخه واخیستل شي. کله چې د امریکا اتشه د پوځي واحد څخه لیدنه وکړه، نو لارس اولسلیو یوهنسن پریکړه وکړه چې درنې وسلې په خپله موقع برابري کړي چې سرتیري په وسلو باندې ټرینینګ وکړي. لارس اولسلیو یوهنسن د ځان سره وویل چې زه باید په یاد ولرم چې د دغو درنو وسلو لاسته راوړل زموږ له پاره د ژوند او مرګ ارزښت لري. کله چې څو اونۍ وروسته د عملیاتو د قوماندې په مرکز، کاروف [۳۱] کې غونډه وه، چانس برابر شو چې لارس اولسلیو یوهنسن په نیغه تصمیم نیونکو افسرانو ته خپل غوښتنه بیان کړي. د نوموړي وړاندیز څو مشاورینو ته چې په غونډه کې ګډون درلودي، راجع شوو. لارس سوچ وکړي چې مشاورین خو په جګړه کې نه وی، دوي ولې پر جګړه ایزو وسایلو د پریکړې واک لري. په غونډه کې (۳۰) افسرانو او څو مشاورینو ګډون درلودي چې لارس د دوي په مینځ کې ډېر ځوان و. لارس اړ شوو چې په نیغه وواېي که تاسو موږ ته درنې ماشینګړې د هغو وسایطو سره را نه کړي چې ماشینګړې ور باندې نصب شي نوزه اړ یم چې هلته خپله داسې یو کار وکړم چې همدغه سپکې ماشینګړې پر موټرې وسایطو نصب کړم. ماته زما د سرتیرو ژوند ډېر ارزښت لري. د غونډې حالت جدي ښه ونیوله، مشاورین ولاړ شول او په تنده لهجه یې وویل ته باید دا کار ونه کړې او غونډه یې پرېښودل. د لارس هڅو ګټه وکړه. د ډنمارکي پوځي فرقې مشر، کنود بارټیلس [۳۲] د لارس د وړاندیز څخه ملاتړ وکړي. د جنګي ښوونځي افسران چې په موضوع ښه خبر نه وو، ویې ویل چې دا ولې ستونزه ده. پایله دا شوه چې پوځیانو ته درنې وسلې ورکړه شوي. نوي وسلې تر پخوانیو وسلو چې سرتیرو پر موټرونو نصب کړي وي، قوي او د لیرې واټن ویشتونکي وي.

د پوځ مشر، یسپر هیلسیو پوهیدي چې د مشاورینو شتون په دفاعي چارو کې د هغو افسرانو له پاره چې په جګړه کې وي د وسایطو او زده کړو په مخ کې خنډ جوړه وي. د پوځ مشر پریکړه کړي وه که په غونډو کې ستونزې جدي ښه واخلي نو اړ دي چې په پوځي توګه میز په سوک ووهي. اندیښنې او کړکیچ د تأثر وړ خو اړین وو. د لارس اولسلیو یوهنسن د کار ځای ډېر نامناسب و. نوموړی فکر کولو چې د کار ځای داسې ښه لري چې هر څوک د خپل موقف په سوچ کې وي. لارس اولسلیو یوهنسن د ځان سره سوچ کولو چې د خپل پوځي واحد سره د هلمند څخه راوګرځي، پوځ به پرېږدي. د ستونزو سره سره د پوځ په قرارګاه کې د خوښې احساس شتون درلودي. سره د دې چې دغه پوځي واحد بانهالم په نوم یادیدي، خو سرتیري یې د ډنمارک د مختلفو سیمو څخه وو. د پوځ مشر، یسپر هیلسیو دغه پوځي واحد ته د تیارۍ په لوړه درجه قایل وو. نوموړي ویل چې د بانهالم پوځي واحد د دندې پر وخت په لومړی قدم کې ولاړ وي. د بانهالم د مخکښانو دغه پوځي واحد ته د ناراضیانو نوم ورکول شوی وو، ځکه هر لوړپوړي جنرال یا لوړ پوړی میلمه به چې د دوي د کتلو د پاره راغي، پرته د ډار څخه یې خپل نظریات ورته بیانول. د پوځي واحد ټول افسران او میخانیکان داسې وو چې په ارامه یې خپلې ټولې نیوکې بیانولې. د لارس اولسلیو یوهنسن په نظر د سرتیرو دا ډول کړنې د واک پر سر په شخړه کې ستونزې ډېره ولې نو ځکه نوموړي خپله ستراتیژي سرتیرو ته داسې بیان کړل: دا درسته ده چې شکایت وکړی تر څو حالات مو ښه شي. مګر تاسې اجازه لرې چې درې شکایتونه وکړي او درې داسې ټکي وی چې ورڅخه راضي اوسئ.

که غواړې د کومې موضوع په تړاو نظر څرګند کړي نو ډېره مهمه ده چې په پیل کې د مثبت او وروسته منفي ټکي بیان کړي. لارس اولسلیو یوهنسن هڅه کوله چې پرسونل ته د وسایطو او موادو د کمبود په تړاو خپلې اندیښنې بیان نه کړي. علاوه له دی څخه نوموړی باور درلودي چې هر څه ښه مخته روان دي. خو بیا هم د شپې له خوا لارس ته اندیښنې پیدا کیدلې، د دې له پاره چې پام یې بل لوری ته وګرځي ، بهرته به ووتي او منډې وهلې. ستونزده دا وه چې د هلمند په تړاو کافي معلوماتو ته لاسرسی نه وو. لارس پوهیدي چې د څارګرې ادرې معلومات کافي نه دي او د بل لوری د پوځ څارګرې ادارې وخت او سرې نه درلوده ځکه په عراق کې بوخت وه. په عوض لارس یو ځوان څیړونکي، پیټر ترولسن [۳۳] د پوځي اکاډمي څخه بانهالم ته راوغوښتئ. نوموړی د دفاع وزارت یوازنی سړی و چې د څیړنې له پاره یې په افغانستان کې پرمختګونه څارل. په دغه ترتیب سره پوځي واحد د هلمند په تړاو غیري رسمي سطحي معلومات تر لاسه کړل.

د دفاع وزارت د قوماندې مرکز ډېره اندیښنه درلوده که د هلمند د خطرناکه عملیاتو په تړاو د تیارۍ خبر د پارلمان تر پریکړې مخکې رسنیوته ووزي نو ټول عملیات به د خاور سره برابر کړي. دغه رسوایي به د حکومت او پوځ تر مینځ یوه سیاسي ننداره وي که څرګنده شي چې ډنمارکي پوځیان تر شپږو میاشتو وروسته د عراق څخه وزي. د عراق د جګړې د پیل دلایل ډېره حساسه موضوع و او د جګړې د جهت تبدیلول د عراق څخه و افغانستان ته د مخالفو ګوندونو په مقابل کې

[۳۱] - Karup

[۳۲] - Knud Bartels

[۳۳] - Peter Dahl Thruelsen

اعتراف نه ګڼل کیدي. یسپر هیلسیو د رسنیو دغه پوښتنه رد کړه. کله چې د یسپر څخه د پوځ احتمالی ګډون د افغانستان په جګړه کې پوښتنه وشوه، نوموړي داسي یو ګډوډ ځواب ورکړي: «پوځ هر وخت پر مختلفو پلانونو کار کوي.» د یسپر ځواب د دی باعث شوو چې ژورنالیستان ونه پوهیږي چې د ډنمارک بشپړ ګډون د افغانستان په جګړه کې د دی مانا لري چې د عراق څخه ډنمارکي پوځیان په بشپړه توګه وزي. د بانهالم پوځیانو د دي قابلیت درلودي چې د جنرال څخه تر عادي سرتیري پوري ډیر نژدي وي. باید ډنمارکي پوځونه حتماً هلمند ته ولاړ شي؟ سره د دي چې د افغانستان د جنوب په تړاو معلومات نه شته خو بیا یي هم دلیل وایی چې اړینه نه ده چې سړی د هلمند په تړاو متخصص وي چې ستونزې وپیژني. په هلمند کې د نشه ای توکو پریمانه کر و کښت او د پاکسان د بلوچستان د نا ارامه ایالت سره اوږده پوله په خپله د دی څرګند سیګنال و چې دنده د ستونزو ډکه ده. په حقیقت کې انګریزانو د ډنمارک په استازیتوب پر موضوع پریکړه کول. انګریزانو غوښتل چې هلمند ته ولاړ شي، د ډنمارک حکومت او پوځ دوي تعقیبول. که څه هم د ۲۰۰۵زکال په مني کې نور امکانات هم وو. د بهرنیو چارو په وزارت کې ډیرو اشاره وکړه چې ښه به وي چې د هلمند په بدل کې د دایکندی ولایت چې غرنۍ سیمه ده ، څیرنه یي وکړو او مسولیت یي واخلو. د دایکندي ولایت د هزارګانو(شیعه) مسلمانانو سیمه ده چې د طالبانو سره چې پېښتانه دي ښې اړیکي نه لري. همدغه دلیل و چې د دایکندی ولایت تر هلمند لږ خطرناکه ګڼل کیدي. په یوه ارامه سیمه کې کیدای شي چې د عامو وګړو د پاره هم ډیر کار وکړلای شوو. په فیض اباد کې د ډنمارکیانو کارونه د عراق د جګړې تر سیوري لاندې پټ شول. د بهرنیو چارو په وزارت کې د انکشافي کارونو مسولینو بیا هم اندیښنه درلوده چې د ډنمارکیانو فعالیتونه به په هلمند او یا بل د خطره ډک ولایت کې هم د فیض اباد په شان تر سیوري لاندې راشي. د دایکندی موضوع د پام څخه وغورځول شول. هیڅ یو سیاستوال چې وروسته یي د ډنمارکي پوځیانو شتون د افغانستان په جنوب کې تصویب کړي، پر احتمالي الترناتیف بحث ونه کړي. دغه نظریه د سیاستوالو په مغزو کې ځای ونیوي. سیاستوالو هیڅ وخت د ناټو د مرکزي قوماندې د مرکز څخه د یسپر هیلسیو مکررو وړاندیزونو ته غوږ ونه نیوي. ستونزمنه وه چې په کافي اندازه د ناټو هیوادونه وموندل شي چې د افغانستان د جنوب لوري ته زړه ښه کړي. د ایساف د پلان جوړولو پر وخت داسي هیواد نه پیدا کیدي چې د نیمروز ولایت مسولیت پر غاړه واخلي. سره د دي چې د ډنمارک معلومات د نیمروز په تړاو ډیر لږ وو خو د پوځ مشر په پیل کې د یاد شوی ولایت مسولیت اخیستنه رد کړ. د نیمروز ولایت د ایران سره په دوو لورو کې ډیره نژدې پولې لري او هم د پاکستان د بلوچستان د ایالت سره چې بی کنترولة ایالت دي، هم ګډه پوله لري. د هلمند څخه ډیر زیات نشه ای توکي نیمرو او وروسته د ایران د لاري اروپا ته په قاچاق وړل کیږي. نیمروز په څرګنده د ستونزو ډک ولایت وو. تر څلورو کالو وروسته امریکایانو انرژي پیدا کړه چې د نیمروز مسولیت خپله واخلي. امریکا، برتانیه او ډنمارک په خپله خوښه د افغانستان جنوب واخیستي. کاناډا چې د عراق په جګړه کې برخه اخیستي نه وه، د دي له پاره چې د بوش سره اړیکي نورمال حالت ته راولي نو د افغانستان په جګړه کې لوی مسولیت پر غاړه واخیستي. سره د دي چې د حالاتو په پرتله د کاناډا ځواکونه (۲۶۰۰) تنه لږ ښکاریدل خو بیا یي هم په کندهار کې د ایساف مشرتوب پر غاړه واخیستي خو هیره دي نه وي چې امریکایي ځواکونه هم په کندهار کې میشت وو. هالنډ د ناټو وروستي لوی هیواد د افغانستان په جنوب کې وو. هالند ستونزه درلوده، په کور دننه کې تر ډیرو بحثونو وروسته تیار نه و چې د اروزګان مسولیت پر غاړه واخلي ځکه د اروزګان ولایت د ملا عمر کور ګڼل کیدي. د مني به موسم کې د امریکا تر ډیر فشار وروسته هالند تیار شو چې د (۱۴۰۰) سرتیرو په درلودلو سره د اروزګان په ولایت کې د ایساف مشرتوب ته غاړه کښیږدي خو امریکایان او د استرالیا پوځونه هم ورسره وو. د ۲۰۰۸ زکال د ډسمبر پر (۸) نیټه ایساف د عملیاتو پلان په جنوب کې د عوامو په اطلاع ورسولو. تقریباً تر یو کال وروسته چې ډنمارکي پوځ د هلمند د تللو له پاره تیاري نیوي، نو سیاستوال او عوام په موضوع خبر شول.

بهر ته د ډنمارکي سرتیرو لیږل همیشه د بهرنیو چارو د وزارت کاری ساحه ده، سره د دي چې د دفاع وزارت او پوځ ټول عملي کارونه پر غاړه لري. د پریکړې وړاندیز [34] د دوو وزارتونو تر مینځ په ایمیل کې تبادله شوو، وروسته د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر د ۲۰۰۶ زکال جنوري په (۱۲) نیټه وړاندیز وکړي. د بهرنیو چارو وزارت د ارزونې له مخې په هلمند کې د ډنمارکي پوځ د ځای پر ځای کولو په تړاو، نه د بهرنیو چارو وزارت او نه هم د دفاع وزارت داسي هڅې کړي دي چې پارلمان فکر وکړي چې هلمند ته د سرتیرو لیږل په پارک کې چکر وهلو ته ورته دي. ولې د وړاندې شوي پریکړې په هیڅ ځای کې داسي نه تر سترګو کیدل چې د هلمند خطر د عراق په څیر بیان شوی وي، دا هم جوته شوی نه وه چې د هلمند د پخواني والي، ملاشیرمحمد اخند تر لیري کیدو وروسته طالبان په هلمند کې غښتلي شوی دي. د هلمند د حالاتو په تړاو پر دغه ډراماتیک پرمختګ په پارلمان کې هیڅ بحث ونه شو او چا دا پوښتنه هم ونه کړه چې دغه بدلون به د ډنمارکي پوځ له پاره کومه راتلونکي مینځته راوړي. د دفاع وزارت څارګرې ادارې د راتلونکو خطرونو په اړوند ډیره ډیپلوماټیکه ژبه و کاروله: «ترهګریز بریدونه او د ترهګرو له لوري تهدیدونه په ټول افغانستان کې زیات شوی دي، د ترهګریزو بریدونو کچه په هلمند کې ډیره ده.» د پریکړې په متن کې یادونه شوی وه چې کیدلای شي ډنمارکي پوځیان په جګړه کې ښکیل شي چې د خطر کچه یي د افغانستان ترشمالي سیمو زیاته ده. پارلمان ته د حکومت او پوځ هغه پلان چې هلمند ته به کراره کراره نور پوځیان هم ولیږول شي کله چې ډنمارکي پوځیان د عراق څخه په بشپړه توګه ووزي، معلومات نه وو

---

[34] - B 64

ورکړی شوی. د پریکړې په متن کې لیکل شوی و چې په ټولیزه توګه به د ډنمارک مرسته په هلمند کې د جګړې په دریم پړاو کې (۲۹۰) تنه سرتیري وي خو دا یادونه شوی نه وه چې دغه مرسته به یوازې پیل وي. یسپر هیلسیو وایي چې سیاست مدارانو نه غوښتل او یا هم د سرتیرو د بشپړ شمیر په اړوند معلومات ور نه کړل شوو. پلان داسې و چې د اړتیا په وخت کې به سرتیري تر هغه وخت زیاتیږي چې سیاستوال یې د درولو غوښتنه وکړي. د ۲۰۰۶ زکال د جنوري په (۱۹) نیټه پریکړه [۳۵] بی ځلور شپیته، پارلمان تر لومړی ځل غور لاندې ونیول شول. د ښی لیبرال ګوند یو لوړ پوړی، [۳۶] ټرولس لونډ پاولسن خیالي پلان پټ نه کړي، داسې یې وویل:« زموږ ډنمارکیانو موخه داده چې په ډموکراټیکه توګه د انتخابي ولسمشر، حامد کرزي سره مرسته وکړو چې ډموکراټ او باثباته افغانستان رامینځته کړي چې نور د منځنیو پیړیو د تاریکو طالبانو او د القاعده د ترهګریزې ډلې تر واک لاندې نه وي.» په ځانګړې تو ګه د سوسیالیست ګوند څخه، هولګر نیلسن [۳۷] او د یو موټي لست څخه، فرانک این [۳۸] د مباحثې جریان پیل کړي.

فرانک این وویل: سړی باید په ژوره توګه ارزونه وکړي چې د سرتیرو ځای پر ځای کول په کابل او وروسته د افغانستان مختلفو برخو ته د سرتیرو لیږل د دې قابلیت لري چې په هیواد کې ثبات رامینځته کړي، ایا مناسب پرمختګ ممکن دي که یوازې د پوځ په استعمال سره مقاومتونه رامینځته کوو؟» هیڅوخت په پارلمان کې روان بحثونه ژور نه شول پرته د دې چې ضد و نقیضه پریکړه د بی ۶۳ [۳۹] مینځته راوړي. پورته پریکړه د ډنمارک د بهرنیو چارو په سیاست کې مهم ټکی و ځکه د ډنمارک د پوځیانو د پاته کیدلو له پاره په عراق کې د پریکړې نوی والي ته اړتیا و. د ډنمارکي پوځیانو پر استولو و هلمند ته په پارلمان کې یو ساعت بحث وشوو خو په عراق کې د ډنمارکي پوځیانو پاته کیدل یاني د پریکړې نوی والی باندې پنځه ساعته بحث وشوو. د بی ۶۴ پریکړې په تړاو چې پارلمان لومړی او دوهم ځل بحث کولو، په مینځ کې د افغانستان ولسمشر کرزي او د بهرنیو چارو وزیر یې ډنمارک ته په رسمي سفر راغلل. دوي د لندن د هغه لوی نړیوال کنفرانس څخه چې د افغانستان د پرمختګ په تړاو د ملل متحد تر مشرتابه لاندې جوړ شوی وو، و کورته پر لاري، ډنمارک ته راغلل. هغه بیړني پریکړه چې په ۲۰۰۱ زکال د طالبانو تر ماتولو وروسته شوی وه، لغوه شوه. لویدیز هیوادونه باید د پوځ په زور او د بیا رغوني مرستې په لوړه کچه زیاتې کړي تر څو حامد کرزي وکولای شي پر ټول هیواد واک ټینګ کړي. خو حامد کرزي باید د پوځي او د میلیاردو ډالرو مرستو په بدل کې لویدیزو هیوادونو ته د حالاتو د ښه کیدلو اثبات وکړای شي. د ډموکراټییزه کولو پروسه باید دوام وکړئ، عدلي سیستم باید په ښه ډول اجرأت وکړای شي، اداري سیستم باید دومره فعال شي چې اداري فساد له مینځه یوسي. برسیره پر دې باید د افغانستان ولسمشر د بشر د حقوقو او د ښځو د حقونود رعایت ګرانټي کړي. په پریکړه کې تأکید وشو چې د لویدیز شتون نور په افغانستان کې یوازې د دې له پاره نه دي چې القاعده په نښه کړي او د نوي نړیوالي ترهګري مخ ډب کړي.

د بی ۶۴ پریکړې په تړاو چې په پارلمان کې د دوهم ځل له پاره بحث کیدي، یوه ورځ مخکې د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د ډنمارک د صدراعظم څخه مننه وکړه چې ډنمارک د نوي افغانستان په جوړولو کې مرسته کوي. د ډنمارک د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر، د کیڼ لیبرال ګوند او د سوسیال ډموکراټانو مشرانو د ولسمشر حامد کرزي د منني پیغام څخه ګټه پورته کړه چې پریکړه په پارلمان کې تایید شي. د بحث په جریان کې (۹۶) پوښتني د بهرنیو چارو او د دفاع وزارت څخه وشولې. پنځه کاله روسته چې ډنمارک پریکړه وکړه چې پوځونه افغانستان ته ولیږي، (۴۰) پوښتني د ژورې پاملرني وړ وګرځیدلې:«ایا حکومت وړاندوینه کړی ده چې څو تنه سرتیري به مړه او ټپیان شي؟ خو د پوځ او حکومت ځواب څرګند او روښانه نه وو.» داسې ارزونه شوی نه ده خو ډنمارکي پوځیانو ته دا ډول ترینګ او زده کړې ورکړه شوی دي چې د افغانستان د امنیتي حالاتو په نظر کې نیولو سره پوځي عملیات تر سره کړي. که د دفاع په وزارت کې مسولینو د جادوګري د کریستال کاسه درلوداي چې د راتلونکي وړاندوینه وکړي نو داسې ځواب به یې ورکړي واي:«موږ انتظار لرو چې د پنځو کالو په جریان کې به (۴۰) سرتیري ووژل شي او همدومره سرتیري به سخت ټپیان شي. د ټپیانو زیاته شمیره به د همیش له پاره معیوب شي. او تقریباً (۱۰۰۰) تنه به داسې ټپیان شي پرته له دې څخه چې د همیش له پاره معیوب شي. په نهایت کې د ټولو استول شوو سرتیرو څخه (۵ او ۱۵) سلنه به په روحي ناروغیو اخته شي چې د همدغو سرتیرو څخه د یو شمیر روحي ناروغي به (پ ـ ټ ـ اس ـ ډ) [۴۰] ته انکشاف وکړي. (ژ: دا هغه روحي ناروغي ده چې د جګړو، زلزلې او سیلابونه د پیښیدو په وجه د انسانانو پر روح باندې خرابه اغیزه ښندې. په ځانګړی ډول د جګړو څخه دا روحي ناروغي ډیر منفي

---

۳۵ - B 64

۳۶ - Troels Lund Poulsen

۳۷ - Holger K. Nielsen

۳۸ - Frank Aaen

۳۹ - B 63

۴۰ - Post-Traumatic Stress Disorder (PTSD)

پرمختګ کوي، ناروغ ډارونکي خوبونه ويني، بی خوبه وي، هميش ډار لري، د بدن لويه برخه يي پرته د کوم دليل څخه دردونه لري، پرځان باور د لاسه ورکوي، د جګ ږغ، ډزو او غالمغال په وخت کې ډير نا ارامه وي...).

که سياستوال د دغومرو ستونزو څخه خبر واي، په څه ډل به يي د سرتيرو د ليږلو سره موافقه کړي واي؟ د ډنمارک د خلکو ګوند د بهرنيو اړيکو مشر، سيون يسپيرسن [٤١] وويل: په ۱۹۸۲ زکال د انګليستان صدراعظمي، مارګريت ټاچر [٤٢] چې پر ارجنټاين بريد کولو وويل چې کيدلای شي تر (۸۰۰) تنه سرتيري تلفات ولرو. نو ځکه بايد دا ومنو چې جګړه انساني تلفات لري. سيون يسپيرسن وايي که ما راتلونکي ليدلای نه پوهيږم چې څه ډول رايه به مې ورکړي واي. په هغه وخت کې موږ فکر نه کولو چې زموږ پريکړه د ډنمارک ګډون په جګړه کې تاييدوي. د سوسيال ډموکراټانو د هغه وخت مشر، موګنس لويکه ټافټ په هغه وخت کې داسې يو احساس درلودي چې د افغانستان جګړه به هم د عراق د جګړې په څير خطرناکه وي. مګر د نوموړي اټکل تر هلمند پوري ونه رسيدي. د سوسيال ډموکراټانو زياته پاملرنه د عراق لوري ته وه. يوازنی سوسيال ډموکراټ، سوين اوکن [٤٣] و چې د ګوند په دننه بحثونو کې د سرتيرو ليږل په لاندې توګه خطرناکه وبلل:«ډنمارک به نور هم تر هغه چې موږ فکر کړی دی په جګړو کې ښکيل شي.» (سوين اوکن د سوسيال ډموکراټانو پخوانۍ مشر و چې د خپل کېن اړخې دريځ په خاطر هيڅوخت صدراعظم نه شو. د کډوالو سره ډير مهربان و چې وروسته د سرطان په ناروغۍ مړ شو.) سوين اوکن د خپلې ادعا د اثبات له پاره د نړيوالو رسنيوو هغه مقالې ته اشاره وکړه چې په جنوب کې وسله وال مخالفين د اور د سکروټو سره پرتله کړی وو. خو سوين اوکن خپله ژوره انديښنه د ګوند په هغه کوټه کې پريښودله، ياني په عمومي بحثونو کې ذکر نه کړه. په سوسياليست ګوند او يو موټي لست کې د سرتيرو د ليږلو مخالفينو انديښنه دا وه چې د ډنمارکيانو مرسته د ايساف تر بيرغ لاندې به د امريکايانو د هغه پروګرام برخه شي چې د القاعدې د مشرانو د وژلو يا نيولو په تلاښ کې دي. (ژ: همداسې شوه.) ايساف د ملل متحد د امنيت شورا د پريکړې پر بنسټ دنده درلوده چې د افغان حکومت حاکميت باوري او سرتاسری کړي. برسيره پر دغه د ايساف د دندو د اجرأ کولو د پاره څرګندو قوانينو شتون درلودي. خو د امريکايانو عمليات [٤٤] د نړيوالې ټولنې تر څارنې لاندې نه وو، د امريکايي پوځيانو زياته برخه د امريکا ځانګړي پوځيان وو چې دوي د تر شاه کيدلو کلتور نه درلودي. د حکومت لوړپوړو چارواکو په ستونزو باندی خبرتيا درلودل. په پريکړه کې په څرګنده توګه ليکل شوی و چې د افغانستان په جنوب کې د ټولو عملياتو مشرتوب بايد ايساف وکړي کله چې ټول قوتونه ځای پر ځای شي. خو بيا هم د سوسياليست ګوند مشر، هولګر نيلسن د پريکړې څخه راضي نه و. نوموړي وويل: « موږ بايد په نيغه د ترهګرو پر ضد جګړې ته ووزو، موږ به د امريکايانو د عملياتو يوه برخه شوو. په افغانستان کې اوس په بشپړه توګه نوي حالت رامينځته شوی دي چې همدا اوس موږ پريکړه ورباندې کوو. خو په پرنسيپ کې موږ په پارلمان کې پر دغه نوي حالت هيڅ بحث هم و نه کړي.»

د بهرنيو چارو وزير د کېڼ اړخه ګوندونو انديښنې په بشپړه توګه بی اساسه وګڼلې. د بهرنيو چارو وزير د بحث د ارامتيا له پاره وويل: «موږ د امريکايانو د عملياتو يوه برخه نه يوو. دا دناټو عمليات دي چې د ملل متحد تر بيرغ لاندې تر سره کيږي.» او داسې ادامه يي ورکړل: په حقيقت کې زموږ ګډون بيا رغونه او بشري مرستې دي نو په طبعي ډول بايد د نشه ای توکو د قاچاق وړونکوو، جګړه مارو او طالبانو څخه يې وساتو.» خووروسته څرګنده شوه چې ډنمارکيان د ملل متحد د پريکړې پر بنسټ د امريکايي عملياتو څخه بيل نه شول. د پارلمان د غونډې په پايله کې د ډنمارک سوسياليسټ ګوند او يو موټي لست د سرتيرو ليږل و هلمند ته منفي رايې ورکړي. د پورته دوو ګوندونو د ارزونې له مخې خطر ډير زيات وه چې ډنمارکي پوځونه د امريکايانو تر سيوري لاندې د نشه ای توکو سره په جګړه کې ورګډ شي. نو ځکه يي منفي رايه ورکړه. د پورته ګوندونو په نظر دا جګړه وه، البته د ډموکراسۍ د پراختيا او د ښځو د حقوقو د اعاده کولو له پاره تلاښونه نه وه چې مثبت رايه ورکول شوي واي. دغو ګوندونو ته د انتظار څخه ليري يو معلومات لاسته ورغي: ډنمارکي ورځپاڼې، يولند پوست [٤٥] د ۲۰۰۵ زکال د سپټمبر پر (۳۰) نيټه د (ژ: محمد ص) کاريکاتورونه رسم کړل. دهمدغو رسمونو په وجه ډنمارک د ۲۰۰۶ زکال د جنوري مياشتي په جريان کې د اسلامي نړۍ هيوادونو، آن هغو مسلمانو هيوادونو سره چې د ډنمارک دوستان وو، په لانجه واوښت. ډنمارک انديښنه درلوده چې ولسمشر حامد کرزي او د بهرنيو چارو وزير چې ډنمارک ته راغلی دي، پر موضوع به نيوکه وکړي. خو ولسشمر حامد کرزي د ډنمارکيانو په مخ کې د رسنيو او د بيان ازادي د تفاهم وړ وګڼل. د ډنمارک سوسياليسټ ګوند او يو موټي لست ډيره هڅه وکړه چې د ډنمارکي پوځيانو د ليږلو پر موضوع د پارلمان بحث د پورته لانجې په خاطر وځنډوي. پورته دوو ګوندونو د دفاع وزارت د څارګرې ادارې څخه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د امنيتي وضعيت نوي جاج واخيستل شي خو د دوي غوښتنه رد شوه. د فبوري په دوهمه نيټه پريکړه

[٤١] - Søren Espersen

[٤٢] - Margaret Thatcher

[٤٣] - Svend Auken

[٤٤] - Enduring Freedom

[٤٥] - Jyllands-Posten

وشوه. د بی ۶۴ [٤٦] پریکړه لیک د حکومتي ګوندونو، د ډنمارک د خلکو ګوند، سوسیال ډموکراټانو او کیڼ راډیکال تایید کړ.

د هلمند په تړاو بحثونو پر ورځپاڼو اغیزه ونه کړه. ټوله پاملرنه پورته کاریکاتورونو ته وه. تر پریکړې څو ساعته وروسته چې ډنمارکي سرتیري باید هلمند ته ولیږل شي، د ډنمارک صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د العربیه تلویزیون سره په مرکه کې هڅه وکړه چې د رسمونو په باب توضیحات ورکړي. په منځني ختیځ کې ناارامیو دوام وکړي، په اعتراضونو کې د ډنمارک ضد روحیه غښتلي شوه چې وژني، د ډنمارک د سفارت سوځیدنه او په یو شمیر هیوادونو کې د ډنمارک پر تجارتي توکو بایکاټ ور سره مل وو. هلمند د پاملرني څخه لویدلي وه ولې رسمونو په راتلونکو میاشتو کې د ډنمارکي سرتیرو پر تیاري نیولو چې باید ولیږل شي، اغیزه وکړه.

[٤٦] - B 64

## په ډیرو جبهو کې جګړه

د ۲۰۰۱ ـ ۲۰۱۲ زکال پورې

اپریل ۲۰۰۶ زکال: د ډي اف ډی اس [۴۷] د ډنمارکي کښتیو د شرکت په واسطه (۴۰۰) کانتینرونه د پوځي وسایلو بار د کراچي بندر ته ورسیدل.

د ۲۰۰۶ زکال اپریل ـ مي میاشتي: کانتینرونه په بیلا بیل ډول د موټرونو په واسطه د سپین بولدک د بندر د لارې څخه د کندهار پر لار په هلمند کي د باسټیون کمپ [۴۸] ته رسول کیدل.

د ۲۰۰۶ زکال د می د میاشتي لسمه نیټه: ډنمارکي پوځیان باسټیون کمپ ته ورسیدل.

د ۲۰۰۶ زکال د مي (۲۵ ـ ۲۸)نیټي: د هلمند د والي او حکومت د فشار په واسطه انګریزي پوځیان د هلمند ولایت ټولو ولسوالیو ته تیت شول. د پوځیانو کوچني ګروپونه د هلمند شمال، کجکي، سنګین، نوزاد او موسی قلعه او جنوب، ګرمسیر ته ولیږدول شول.

د ۲۰۰۶ زکال د جولای(۲۱) نیټه: د ډنمارک د مخکښانو پوځي واحد باید په موسی قلعه کې د انګریزي پوځیانو ځای نیولي وای نو ځکه ډنمارکي سرتیري د جولای پر(۲۶) نیټه موسی قلعه ته ورسیدل.

د ۲۰۰۶ زکال د جولای (۲۸) نیټه: د موسی قلعه مسجد په سهوه سره د بمبارد په پایله کې وران شو.

د ۲۰۰۶ زکال د اګست (۲) نیټه: ډنمارکي پوځي، مورټن میتیسین [۴۹] په سر کې وویشتل شو.

د ۲۰۰۶ زکال د اګست (۲۴) نیټه: دوباره انګریزي پوځیانو په موسی قلعه کې د ډنمارکي سرتیرو ځای ونیوی.

د ۲۰۰۶ زکال د سپټمبر (۴ ـ ۵) نیټي: د ډنمارک د دفاع وزیر، سیون ګیده په بیړني سفر د باسټیون کمپ لیدلو ته ورغي.

د ۲۰۰۶ زکال د نومبر (۲۱ ـ ۲۳) نیټي: هیله ټور نینګ سمیټ [۵۰] (اوسنۍ صدراعظمه ۲۰۱۴ زکال) ، پیا کیرسګورد [۵۱] (د ډنمارک د خلکو د ګوند مشره چې د کډوالو سره سخت مخالفت لري) د نورو سیاستوالو سره د کمپ بوسټین، کندهار او کابل څخه لیدنه وکړه.

د پاکستان د کراچي په بندر کې باید پوځیان یا د کښتۍ کارکوونکي ونه ګرځي. د ډنمارک د مرکزي قومانداني څخه داسي امر شوی و: «ډنمارکي پوځي پرسونل باید د ترانسپورتي کښتۍ ډی اف ډی اس څخه کښته نه شي دا ځکه چې د حقوقي لحاظه دوي پر پردی خاوره کې وو.»

د محمد (ص) د انځورونو د چاپولو څخه وروسته د ۲۰۰۶ زکال د اپریل په میاشت کې لویه پوښتنه دا وه چې د ډنمارکیانو پوځي وسایل په مطمینه ډول ډنمارکي سرتیرو ته ورسیږي.

ډنمارکي سرتیري یوه میاشت وروسته د الوتکو په واسطه د افغانستان جنوب ته انتقال کیدل. د پاکستان حکومت زړه نا زړه ومنل چې کیدلای شي ډنمارکي پوځي وسایل په ترانزیټي ډول د پاکستان څخه تیر شي. دا چې د پاکستان حکومت د محمد (ص) پر انځورونو سخت په غوسه وو نو په هیڅ ډول یې اجازه نه ورکول چې د ډنمارکي پوځیانو قدم د پاکستان په خاوره کې کښیښودل شي. خوشبختانه زموږ کښتۍ دومره لویه وه چې کیدلای شوای، لاري موټرې داخل ته ورننوزي او په داخل کې کانتینرونه بار کړي. پاکستاني لاري موټر چې ډول ډول رنګ شوي، ځنګولي او واړه نمایشي ځیځیرونه په ځړیدل، کښتۍ ته دننه کیدل او کانتینرونه یې باروړل. مخکې له دي چې کانتینرونه د ډنمارک څخه بار شي، په قصدي ډول ځینی څنډې قات او ماتي شوي او هم سپري پر وپاشل شوه چې زاړه معلوم شي. د کښتۍ څخه ټول ډنمارکي بیرغونه لیري شول. پلان

[۴۷] - DFDS
[۴۸] - Camp Bastion
[۴۹] - Morten Mathiasen
[۵۰] - Helle Thorning - Schmidt
[۵۱] - Pia Kjærsgaard

دا و چې هيڅوک بايد پوه نه شي چې دا مالونه په اصل کې د کوم هيواد څخه راغلي دي. کانتينرونه د پاکستان په خاوره کې (۷۰۰) کيلومتره تيريدل، له يوې خوا څخه خلک په افغانستان کې د جګړې سره مخالف وو او د بل لوري د محمد(ص) د

انځورونو پر کښلو سخت په غوصه وو. وروستی موخه د کانتينرونو د کښته کولو په هلمند کې د باستيون کمپ و. د وسايطو او لوجيستيکي توکو د استولو مسول ډګروال هينريک سومر [۵۲] و خو ډنمارک هيڅکله داتجربه نه درلوده. د ۲۰۰۶ زکال د

جون په مياشت کې بايد لارس اولسليو يوهنسن [۵۳] (۱۲۰) د مخکښانو پوځي واحد سرتيري او (۱۷۰) تنه ميخانيکان، کارپوهان، اداري پوځيان د استولو له پاره تيار کړي واي. قانون داسې و چې د يوه سرتيرې وسلې، مرمۍ، روغتيايي توکې د يوې مياشتي له پاره يو کانتينر کيدي. ډنمارکي پوځيان بايد کافي وسايل د ځانه سره ولري او دوې به څلور مياشتي هلته پاته شي نو ځکه (۴۰۰)

کانتينرونه يې په وسايلو بار وو. يو بل دا امکان و چې وسايل د الوتکو په واسطه وليږي خو د باستيون کمپ مخې ته يو وړوکی د شګلنو ډبرو هوايي ډګر شتون درلودي. الوتکو په واسطه د وسايلو ليږلو، (۱۰۰) ميليونه کرونه اضافي لګښت ته اړتيا درلوده. دومره ډيري پيسي د منظمو الوتونو له پاره نه وې. همدغه دليل و چې وسايل د سمندرد لارې د کراچي بندر ته وليږدول شول او د هغه ځای څخه د سپين بولدک د لارې کندهار ته انتقال کيدل. دغه لارې ډنمارکيانو ته ډير سرخوږی ورکړی. د پاکستان لوری ته د پښتنو په سرحد کې (ژ: فکر کوم د چمن ښار يې موخه ده.) طالبانو خپل مرکز درلودي، دلته طالبانو استراحت کولو، ټرينينګ يې کاوه، د اړتيا وړ وسلې او نور ضروريات يې بشپړ کول او نوي کسان يې جذبول. دا هغه ځای و چې طالبانو کولای شواي د وسايلو پر قطارونو بريدونه وکړي.

د ډی اف ډی اس د ګډ کار کولو پارتنرانو هڅه کول چې محلي ترانسپورتي شرکت ومومي. د ډنمارک د بهرنيو چارووزارت د وسايلو د ګمرکي چارو سمون پر غاړه درلودي. دا اسانه چارې نه وې. د پاکستان بيروکراسی شهرت لري خو(ژ: د اسلام د پيغمبر) انځورونو نور هم پاکستاني چارواکي هڅولي وو چې سخت چلند وکړي. د پاکستان سفارت څو اونۍ د بمونو د تهديد او خطر او هم د انځورونو د رسمولو د اعتراضاتو او لاريونونو په خاطر تړلی و. په همدغه خاطر اړتيا وه چې د وسايطو د انتقال په خاطر د پاکستاني مقاماتو سره د کوپنهاګن څخه خبري وشي. د اپريل په نيمايي کې د پاکستاني مقاماتو له لورې منفي ځواب راورسيدي چې ډنمارکي پوځيان بايد د پاکستان په خاور کې قدم کښيږدي. په دغه وخت کې کښتۍ د کراچي بندر ته نژدې شوی وه. ډګروال هينريک سومر تلاش کولو، تر څو مطمين شي چې د کښتۍ څخه د پاکستاني لاريو په واسطه وسايط بارېږي. د کښتۍ د دريدلو په وخت کې مسول نفر حق درلودي چې د لږ وخت له پاره د کښتۍ څخه پياده شي. ډګروال هينريک سومر پريکړه وکړه چې د وسايلو د ترانسپورټ په جريان کې د ټولو خطرونو په اړوند په ژوره توګه خپل مشران خبر نه کړي. نوموړي اوس وايي چې په دغه ډول د ډيرو پوښتنو څخه خلاص شوم او موږ په دغه شيبه کې بل څه کولای هم نه شول. د وسايطو د (۱۴) ورځو د ترانسپورټ په موده کې د پوځ مشرانو يوازې ښه اميدونه درلودل. د وسايطو قطار د طالبانو د سږمو سره تيری دي، بله هيڅ لار نه وه. په طبعي ډول موږ د هرې خطرې د پيښيدو انتظار درلودي. د وسايطو قطار د کراچي څخه يوې يوې لارې په بيل ډول حرکت وکړي. ډګروال وايي چې موږ موټروانانو ته وويل چې تاسو د خپلو کورنيو د غړو سره حرکت وکړي او هيڅ چا ته د رسيدو دقيق وخت مه واياست. ډګروال ځان ته تسليت ورکاوه چې موټړانو په قطار حرکت نه دي کړی که کوم خطر پيښ شي نو د يوې لارې وسايل به د لاسه ورکړو. خو هيڅ خطر پيښ نه شو، يوازې پر يوې لارې ډزي وشوي خو وسايل يې ضايع نه شول. ټول وسايل پر خپل وخت د باستيون کمپ ته ورسيدل، وروسته سرتيري د ځانګړو مهمو پوځي وسايلو او وسلو سره الوتنه وکړه. تر الوتنې لږ وخت مخکي د ډګروال پوځي واحد د هغو انګريزي سرتيرو سره چې په ګډه يې بايد عمليات کړي وای، په انګليستان کې پوځي تمرينات تر سره کړل. ترتمريناتو وروسته کوچنې اندېښنې د راتلونکو عملياتو په تړاو ليري شوي. انګريزي پوځيانو، ډنمارکي سرتيري خبر کړل چې موږ داسې عمليات کړي دی چې په مياشت کې د (۱۰۰) سرتيرو څخه دري تنه غيري محارب شوی او يا وژل شوی دي. دا يوه تيوري ده مګر دا تيوري بايد وکارول شي چې ټوله ژوره پاملرنه وکړو. ډګروال لارس په دی تړاو شک نه درلود.

کله چې ډنمارکيانو د منظمې جګړې له پاره تياري نيوي، په دغه وخت کې د انګريزانو جګړه ايزه پلان په هلمند کې ګډوډ وو. د پلان په جوړولو کې اساسي ټکی دا و چې د ايساف نوي قومندان، جنرال ډيويډ ريچارډس (انګليسي) [۵۴] داسې طرح درلودل چې ټول قوتونه په هلمند کې ځای پر ځای کړي. بايد پوځيان د هلمند په مختلفو سيمو کې تيت نه شي، پرته له دې د کاري پلان له پاره د سر خوږ جوړوي: لږ سرتيري، ډيرې دندې په پراخه سيمه کې ستونزه ده. بله ستونزه داده کله چې پوځيان په مختلفو وړو کمپونو کې وي، د غذايي موادو او مرميو رسول يې ګران کار دي. انګريزانو ويل چې د پوځونو

[۵۲] - Henrik Sommer

[۵۳] - Lars Ulslev Johannesen

[۵۴] - David Ricards

تیتول په حقیقت کې جګړه نه ده. وروستی پوځي ستراتیژي داسې جوړه شوه چې (۳۰۰۰) انګریزي سرتیري او (۲۹۰) ډنمارکي سرتیري به په هلمند (ژ:لښکرګاه) کې وي. تقریباً نور سرتیري نه وو ځکه د انګلیستان او ډنمارک ډیر پوځیان په عراق کې پاته وه. د انګلیستان د دفاع وزیر، جان راید د خپل پوځي مشرانو څخه داسې لیکلي سند وغوښتي، که د عراق څخه د سرتیرو وتل وځنډول شي، بیا هم په هلمند کې د پوځي عملیاتو تر سره کول ممکن دي. وروسته پریکړه وشوه چې انګریزي او ډنمارکي سرتیري باید زیاته پاملرنه د لښکرګاه، باستیون کمپ او اقتصادي مرکز، ګرشک د امنیت ساتلو ته وکړي. د هلمند لویه برخه خلک تقریباً د (۱۰۰) کیلو متر مربع په ساحه کې اوسیدل. په راتلونکي کې باید د جنوب سیمه کندهار سره ونښلول شي. د پورته پوځي ستراتیژي موخه دا وه چې انګریزي او ډنمارکي پوځونه په لوړه کچه د ولسونو امنیت خوندی کړي، د حامد کرزي د حکومت استازو ته امنیتي امکانات برابر کړي چې په سیمه کې عدالت تأمین او د حکومت واک ته پراخوالی ورکړي. کله چې په دغو مهمو سیمو کې امنیت تأمین شي، نو هلمندیان به وغواړي چې د هلمند په نورو برخو کې هم امنیت ور تأمین کړو، په دغه ډول به د ولس زړونه خپل کړو. د انګریزانو له پاره دغه ستراتیژي د امیدونو ډکه وه. د دوي په آند په مرکزونو کې به پرمختګ راشي، وروسته به اهسته اهسته ټول هلمند ته وغځیږي. ستونزه دا وه چې دغه ستراتیژي هیڅ وخت عملي نه شول. څو میاشتي وروسته د ۲۰۰۶ زکال په وړی کې ډنمارکي او انګلیسي پوځونه (۷) مختلفو ولسوالیو ته تیت شول. دا هغه پیښه وه چې انګریزي پوځیانو یې عملي کول نه غوښتل: لږ شمیر سرتیري پراخو سیمو ته ولیږل شول چې پوځیانو د خپلو ځانونو څخه هم دفاع هم نه شوای کولای. دغه لویه غلطي د دي باعث شول چې وروسته څلور کلونه یې د پرمختګ مخ ډب کړي، د ډنمارکي او انګریزي سرتیرو د وژنو سبب هم شول. ستراتیژي انګریزانو جوړه کړه، ډنمارکیانو د کوچني ورور په صفت د ستراتیژي په جوړولو کې برخه نه درلوده. مهمو اشخاصو د ۲۰۰۶ زکال په وړی کې جنجال کولو چې ولې د ستراتیژي څخه سرغړونه کیږي.

واقعیت داسې بدلون وکړی چې طالبان د څو میاشتو په جریان کې غښتلي شول، چې یو دلیل یې هم دا و چې د ملا شیرمحمد اخندزاده د ملاتړو سره یې لاس ورکړي. په همدغه وخت کې د پخوانیو متنفذینو تر مینځ د نشه ای توکو جنجالونه هم راپورته شول. په همدغه وجه امنیتي حالات د پولیسو له پاره په څلورو مهمو ښارونو، سنګین، موسی قلعه، نوزاد او کجکي کې ډیر خراب شول. د ګرمسیر امنیتي وضع هم ډیره خرابه وه. یوازې د دوو غټو ښارونو، لښکرګاه او ګرشک په مرکزونو کې د دولت امنیتي چارواکو تر یوې کچې واک درلودي.دغو دو ښارونو د جنرال ډیوډ د ستراتیژي د مغز حیثیت درلودي.

نوی والی، داود چې په هلمند کې قومي واک نه درلودی، نه یې غوښتل چې په نورو ولسوالیو کې د قدرت واګي د لاسه ورکړي.ولسمشر حامدکرزي هم په دغه ډول نظر درلودي. ټول تلاښ باید شوی وای چې د کابل د حکومت ابرو او عزت ساتل شوی وای. والي او حامد کرزي د انګریزانو پر مشرتابه فشار راوړي چې په نورو ناارامو ولسوالیو کې هم د حکومت شتون حتمي کړي. په عیني وخت کې د انګریزي پوځیانو د مشرانو تر مینځ د واک پر سر کړکیچ راپورته شوو چې پر ډنمارکي پوځیانو یې ډیره اغیزه وښندل. د انګریزي پوځیانو مهم پوځي واحد، پراشوتي [۵۵] سرتیري په هلمند کې وو، چې مشر یې جنرال اید بوټلر [۵۶] (۶۰۰) کیلومتره لیري په کابل کې استوګن و چې د ټولو انګلیسي پوځیانو مشرتوب یې په غاړه درلودي. جنرال بوټلر مخکې د ځانګړو انګلیسي پوځیانو [۵۷] مشر و، نوموړي کاري شخصیت و. جنرال بوټلر په ډیرو برخو کې د ایساف د مشر، جنرال ډیویډ سره مخالف و، که څه هم نوموړی جنرال د خپل ستراتیژیک او سیاسي قابلیت له پلوه ډیر شهرت درلودي. دغه اختلاف د پوځ په جوړښت کې ستونزې رامینځته کړی وي. څوک نهایي پریکړه کوي؟ برسیره پر دي دغه دوه لایق جنرال په شخصي توګه هم سره جوړ نه وو. دا چې د ایساف په مرکزي دفتر کابل کې په دقیقه توګه څه پیښ شول، څرګند نه شول خو جنرال اید بوټلر د خپلو پوځیانو مشرتوب په هلمند کې پر غاړه واخیستي. جنرال ډیویډ ریچاردس یې د هغه د ستراتیژي سره یو څنګ ته کړي. د ایساف یو ملکي لوړپوړي چارواکي په لښکرګاه کې دغې پیښې ته د «جنرال بوټلر یوه منظمه کودتاه» نوم ورکړي. په هلمند کې د بوټلر وروسته جنرال اندریو مکي [۵۸] د پلان جوړولو په وخت کې د قوماندي ورکولو پر ګډوډ حال خبرداری ور کړي.

قومانده او کنترول قوی نه وو او قومانده د اساسي قواو څخه بیله وه چې دا د ناوړه حالت د پیښیدو نسخه وه. جنرال اندریو مکي اوس وایي: «ما هغه وخت وویل چې دغه همږغي او کمپرمایز به هیڅ وخت مثبته پایله ونه لري. ارګانیزیشن د موخې د لاسته راوړلو له پاره د ناروغ بنه لري. زما څخه غوښتنه وشوه چې باید خاموشه اوسم، وروسته څرګنده شوه چې دا یوه

---

۵۵ - 16. Air Assult

۵۶ - Ed Butler

۵۷ - SAS

۵۸ - Andrew Mackay

ښه خبرتیا وه. د ایساف د کابل په مرکزي دفتر کې یو ډنمارکی پوځي د انګریزانو د پوځیانو د اختلاف نژدي نندارچي و. پورته ډنمارکي سرچینه په دی اړوند داسي وایي:

« شخصاً زه داسي فکر کوم چي جنرال بوټلر چي د اس ای اس پخواني پوځي و، غوښتل یي چي بهر ووزي او جګړه وکړي. نوموړي ځیني کسان په خپل پوځي واحد کي هم درلودل. بوټلر څو ځله جنرال ډیوډ ریچاردس ته وویل چي دندي به سره وویشي خو بوټلر ریچاردس دا هم ویل چي دی به د ناټو جنرال وي خو زه د انګریزي پوځ جنرال یم.» ډنمارکي پوځي وایي چي جنرال بوټلر یو کله شخ خو قانوني کله شخه پوځي و. بوټلر خپل تر لاس لاندې پوځیان داسي روزلي وو که دښمن موږ ته را نه شي موږ باید ورپسي ولاړ شوو. په لندن کي د کینګس کالیج [59] پروفیسور تیو فاریل [60] د انګریزي پوځ پټو اسنادو ته لاره پیدا کړی وه. د هغه په نظر د ډنمارکي پوځي خبري ربښتیا دي. جنرال بوټلر د هلمند شمال، سنګین، موسی قلعه، کجکي، نوزاد او جنوب، ګرمسیر ته ولاړي. پروفیسور تیو فاریل وایي.«دا ډیر غلط عملیات وو ځکه موږ د دغومرو لویو عملیاتو له پاره کافي سرتیري نه درلودل. وروسته داسي یو دلیل ورته پیدا کړي چي باید د هغه ستراتیژي له مخي پرمختګ وکړو چي په ټولو ولسوالیو کي نفوذ ولرو نه هغه پخواني ستراتیژي چي په درو سیمو (په مثلثي شکل) کي واک شتون ولري.

خو دا یوه بیړنی پریکړه وه. اوس پرفیسور تیو نه پوهیږي چي که بوټلر پوځونه تیت کړي وای نو نوموړی څه فکر درلودي چي طالبان به څه وکړي؟ بوټلر وایي، ما هیڅوخت فکر نه کولو چي موږ په طالبانو پسي ورشوو او هغه به ورک شي. (ژ: دا انګریزي جنرال یو ماشوم ته پاتیږي. څنګه د جنرال بوټلر عقل دا منل چي د موډرن پوځ سره لځي پښي طالبان مخامخ جګړه وکړي؟ داسي ښکاري چي نوموړي جنرال د ګوریلایي جګړې الفبا هم نه وه زده کړی.) وروسته جنرال بوټلرداسي توضیح کړل:« ما کافي سرتیري نه درلودل، خو بله چاره نه وه ځکه د افغان حکومت غوښتنه باید په بیړه عملي شوی وای، مخکي له دي څخه چي طالبان دغه سیمي تر ولکي لاندې راولي.» د بوټلر یو افسر، سټوارت ټوټال [61] د خپل مشر څخه د ټایمز په ورځپانه کي داسي دفاع کوي: دا مهمه نه وه چي بولټر څه کول خو دی به د ستونزو سره مخامخ کیدي، نو ځکه دا باید سری په یاد ولري مخکي تر دي چي ټوله ملامتي پر هغه شي. د هلمند والي، داود وروسته دا رد کړل چي د انګریزي او ډنمارکي پوځیانو د جنګي خوځښت واک د نوموړی سره وو. نوموړی اضافه کړل چي موږ ګډه پریکړه وکړه چي د دریو سیمو (مثلث) ستراتیژي څخه ډه ډه وکړو. داود دا هم وویل، کله چي پریکړه وشوه چي باید ۳۲۰۰ انګریزي او ډنمارکي سرتیري په هلمند کي د ۲۰۰۶ زکال په جریان کي ځای پر ځای شي، دا به ټوله جنګي سرتیري وي. موږ افغانانو فکر نه کولو چي د ۳۲۰۰ سرتیرو په مینځ کي به مرسته کوونکي پرسونل لکه کارپوهان، کسبکاران او د لوژستیک ډله هم شامله وي. کله چي جنرال بوټلر د وړی په پیل په هلمند کي د پوځیانو مشرتابه ته ار ایستل شوو، فقط ۲۰۰۰ سرتیرو شتون درلودي چي (۷۰۰- ۸۰۰) تنه یي جنګي سرتیري وو، د دي ډلي څخه (۱۲۰) تنه ډنمارکي جنګي سرتیري وو. په لندن کي هم لوړپوړي چارواکي نه پوهیدل چي ولي د پوځیانو غوښینه برخه جنګي سرتیري نه دي. کله چي واقعیتونه په لندن کي مرکزي لوړ پوړی چارواکی ته څرګند شول، په ناڅاپي ډول یي د ټایمز ورځپاني ته وویل:«زه ټول مسولیت منم.». هغه ډنمارکي پوځي د ایساف په مرکزي دفتر کي کار کولو، څو ځله په ډنمارک کي مشرانو ته خبر ورکړي وو چي حالات د منلو نه دي. ولي هیڅ و نه شوه. د جنرال بوټلر پریکړه او د افغان حکومت غوښتنه چي پراشوټي سرتیري په هلمند کي د دغو پنځو ولسوالیو له پاره امنیت ونیسي، ډیر ژر څرګنده شوه چي دا پریکړه مرګوني او ناکامه وه. په همدغه وخت کي ډنمارکي سرتیرو په باستیون کمپ کي تریننګ وکړي او د خپلو انګریزي ملګرو سره یو ځای په هلمند کي تیت شول. د سنګین په کمپ کي ۱۰۰ پراشوټي سرتیري د (۲۵) ورځو په جریان کي (۴۴) ځله تر برید لاندې راغلل خو هر ځل به یي طالبان په شاه وتمبول. په نوزاد کي د جنرال بوټلر نیپالي سرتیري د دوو اونیو په جریان کي (۲۸) ځله تر برید لاندې راغلل. په کجکي کي هم حالت خراب و چي (۸) انګریزي او (۲۴) افغاني سرتیري په لسو ورځو کي (۳۰) ځله د طالبانو تر برید لاندې راغلل. په ۲۰۰۶ زکال ګرمسیر دري ځله د طالبانو تر ولکي لاندې راغي چي هر ځل به دوباره انګریزي سرتیرو ونیوي. د ډنمارکیانو له پاره مهمه سیمه د موسی قلعه پرمختګ و چي د باستیون د کمپ څخه (۷۰) کیلومتره لیري پرته وه. د موسي قلعه سیمه هم یوه اوږده تراده وه چي بزګران د موادو د رانیولو له پاره بازار ته راتلل. ښار د هلمند د رود د رابیل شوی کانال پرغاړه پروت دي او رود د شنو کښتتونو په مینځ کي پروت دي، کوم چي بزګران مځکي کري. د تریاکو کر، کښت او تولید د اقتصاد مهمه سرچینه، د جرمونو او خشونت مهمه وسیله وه.موسی قلعه د مختلفو قومونو مر کز وو چي د لیري شوي والي ملا شیرمحمد اخندزاده د قوم لویه برخه هلته استوګن دي. کله چي ملا شیرمحمد اخندزاده په ۲۰۰۵ زکال د ولایت د مقام څخه لیري شو نو د موسی قلعه قومونه وویشل شول چي د دولت او پولیسو ملاتړي لړ شول. په حقیقت کي

[59] - Kings College i London
[60] - Theo Farrel
[61] - Stuart Tootal

موسی قلعه په یو پوځي مرکز بدل شو. د موسي قلعه ښار د تقریباً (۳۰۰۰۰) اوسیدونکو په درلودلو سره داسي یوه سیمه نه وه چي موږ ته ښه راغلاست ووایي.

موسي قلعه داسي سیمه نه وه چي پوځیان یې په خپله خوښه انتخاب کړي خو ډنمارکي پوځیانو د جنرال بوټلر په یوه غوښتنه پرته د کوچنی شکایت څخه هلته ولاړل. ډنمارکي پوځیان د انګریزانو د کوچني واحد په عوض تلل چي د طالبانو لخوا کلابند وو. د انګریزانو د مخکښه پوځیانو کوچني دلګي په موسي قلعه کي د دو ورځو له پاره د پولیسو د مرستي کولو ته هلته تللي وو. خو د طالبانو د بریدو په پایله کي انګریزي پوځیان د ولسوالی څخه وتلای نه شوای او هم دوي اړ وو چي سیمه وساتي پرته له دي موسی قلعه د طالبانو تر ولکي لاندي راتلل. د دوو ورځو په بدل کي شپږ اونی هلته پاته شول. د انګریزي پوځیانو اکمالات نه کیدل او سرتیرو هم نه شوای کولای چي په دوامداره توګه په اونیو اونیو جګړه وکړي. خو دا دنده د ډنمارکي سرتیرو له پاره هم ستونزمنه وه. انګریزي مخکښه دلګي درنه وسله نه درلوده او ښه مجهز هم نه وو. په حقیقت کي د انګریزانو د دغو پوځیانو دنده کشف او پر مختلک وو.

ډنمارکي پوځیانو د موسی قلعه د ښار په دننه کي هم خپل د لوړ کیفیت مهارتونه په کار نه شواي اچولای. که چیري پوځ په یوه وړه سیمه کي د طالبانو د دوامداره ځار لاندي کلا بند وي نو بیرنی، نابېره او ازاد جګړه ایز خوځښتونه درد دوا کولای نه شي. بیا هم ډنمارکي پوځیان د ورکړل شوی دندي څخه نا امیده نه وو. ډنمارکیان د (۶ ـ ۸) اونیو د باستیون په کمپ کي هغو تجهیزاتو ته انتظار ویوست کوم چي کولای یي شوای پوځیان د سړک پر غاړه بمونو څخه وژغوري. دغه انتظار ډنمارکیانو ته دردوونکي وو چي د دوي انګریزي ملګري په اونیو کلا بند وو او څو ځله بیرق نیم ځوړند شو ځکه انګریزانو تلفات لیدل خو ډنمارکي پوځیان په ارام چاپیریال کي په ټریننګ بوخت وو. په همدغه وخت کي د موسی قلعه څخه ډیر ډارونکي خبرونه راتلل. د طالبانو بریدونه همیشه د شپي له خوا تر سره کیدل، ځکه طالبانو د شپي په دوربینانو سره هدفونه ښه ویشتل. بله خبره دا وه چي ډنمارکي سرتیري د انګریزي دلګی څلور برابره وو، نو ځکه امید و چي ډنمارکي سرتیري به طالبان په شاه تللو ته اړ باسي. کله چي دا چاره تر سره شي نو به په ښار کي ګزمي وګرځي، د خلکو باور به پیدا شي او د حکومت واک به پراخ شي. خو په ټولیزه توګه لاس اولسلیو یو هنسن داسي ګومان نه کولو چي دغه دنده به ډارونکي وي. نورو ډیره اندیښنه درلوده. په ځانګړی توکه د ډنمارکي پوځونو د ورتللو په جریان کي دغه ښار ته او په کمپ کي ځای پر ځای کیدل، اندیښني ډیرې پارولي. تر حرکت یوه ورځ مخکي د عملیاتي قوماندې د مرکز مشر، پاول کیاسکوو هلمند ته راغي. نوموړي ارزونه وکړه چي ډنمارکي پوځونه به بل رنګه رول ولوبوي کله چي د انګریزانو ستراتیژي بدله شوه او پریکړه یي وکړه چي د افغانستان بیرغ په ولسوالیو کي رپیدلی وساتي. پاول کیاسکوو د ډګرمن بیانه میلور سره وعده وکړه چي د اړتیا په وخت کي باید ډنمارکیانو ته هوايي مرستي په هروخت کي ورسیږي او دا وعده باید مخکي د ډنمارکي پوځیانو تر حرکت تایید شي. که ډنمارکیانو ته ګرانتي ور نه کړل شي نو ډنمارکي سرتیري به بیرته د باستیون په کمپ کي پاته شي. ایساف د هوايي ځواک د بشپړې مرستو وعده وکړه. پاول کیاسکو ډنمارک ته ولاړي خو بیرته یي خپل رخصتي وځنډول ځکه نوموړي باور درلودي چي ډنمارکي سرتیرې به د دندې د عهدې څخه ووزي خو جګړه به حتماً کیږي. په داسي حالت کي د عملیاتي قوماندې د مرکز مشر باید په بهر کي نه وي. پاول چي ډنمارک ته را روان و، د لارې څخه یي د دفاع وزارت د قوماندې مرکز ته ټلیفون وکړي او اجازه یي تر لاسه کړه چي یو ګروپ ماهر نښان ویشتونکي سرتیري چي په مجهزو وسلو سمبال دي، هلمند ته ولیږل شي. ډنمارکي مخکښو پوځیانو داسي کار پوهان نه درلودل. کله چي سیاستوالو هلمند ته د پوځیانو د استولو پریکړه کوله، په متن کي ځای شوي وو، چي کیدای شي اضافه کار پوهان ولیږل شي که د ډنمارکیانو ژوند ته ګواښ شتون ولري. د دغه استثنایي حالت څخه کار واخیستل شو مخکي له دي څخه چي ډنمارکي پوځیان د موسی قلعه پر لوری حرکت وکړي. دغه هم د لارس یوهنسن له پاره یو کوچنی بریالیتوب و. نوموړي خپل په لست کي لیکلي و چي باید ماهر نښان ویشتونکي د ډنمارکي پوځیانو سره په هلمند کي وي، خو اړ ایستل شو چي باید خپله غوښتنه دقیقه کړي. په همدي خاطر نوموړی هغه نښان ویشتونکي چي د موټرانو پر سرونو باندې درنه مونتاژ شوي وسله ولري، غواړي. اوس نو ډیر لایق نښان ویشتونکي ور ته منظور شول. دغو نښان ویشتونکوو دا چي دښمن په لیري واټن کي ویشتلای شوای، سرتیرو ته یي هم مشوره ورکولای شواي چي څنګه ځانونه وساتي. همدغو کار پوهانو کولای شواي هغه ودانی او ځایونه چي د دښمن له لوري زیات خطر رامینځته کولای شي، وټاکي. لږ څه زیات وخت تیر شوو چي ښکاري پوځیان موسی قلعه ته ورسیدل. په دغه لنډه موده کي ډنمارکیان تر ډیر فشار لاندې وو او ډیر یي ټپیان شول. د جولای د میاشتي پر (۲۱) نیټه د ډنمارکي سرتیرو کاروان په (۴۰) موټرو او لاریو کي د شمال پر لوری وخوځیدي. د لارس اوسلیو یوهنسن او ورسره پوځیانو سره لوموړی مقاومت د لارې په اوږدو کي په دښتو کي رامینځته شوو. د پوځیانو قطار د طالبانو د موټر سیکلونو د سپورو لخوا ترتعقیب لاندې راغي. سره د دي چي ډنمارکي پوځیانو د خبرداري ډزې وکړې خو کومه ګټه یي و نه کړه. برسیره پر دي ډنمارکي پوځیانو و موسی قلعه ته پر لارې دري ځایه د لاري پر سر د بمونو سره مخامخ شول خو خوشبختانه تلفات یي نه درلودل دا بمونه د شوروي اتحاد د وخت څخه پاته وو چي پر وسایطو باندې انفجار وکړي. کله چي ډنمارکي سرتیري د (۵۰۰۰) کیلومتره لیري واټن څخه افغانستان ته راالیږل کیدل، د دفاع وزارت او د عملیاتو د مرکزي قوماندې مشرانو د زړو ماینونو څخه اندیښنه درلوده. ټول پوهیدل، کله چي ډنمارکي سرتیري د شنه زون څخه ووزي او د موسی قلعه پر لوري حرکت وکړي، وروسته به په تنګو کوڅو کي په حرکت کي وي چي د خطرونو ډکي دي. کله چي په موسی

قلعه کې هغې قلعه ته ورسېږي چې امنيت يې ټينګ شوی دی نو بيا څرګنده نه ده چې څه به پېښېږي. د مرکزي عملياتو د قوماندې مرکز مشرانو، يسپر هيلسيو او تيم سلوټ يونسن د هر ډول پيښې امکان نه ردولو او ډېره انديښنه يې درلوده. تيم سلوټ يونسن وايي:«موږ د احتمالي موانعو په تړاو سوچ کولو. موږ د انګريزي پوځيانو څخه وپوښتل چې هلته کوم احتياطي پوځيان شتون لري چې د احتمالي پېښو په وخت کې ډنمارکيانو ته مرسته ورکړي؟ زموږ پوځيان ډېر را څخه ليرې وو.» لارس اولسليو ته خبر ورکړل شو چې ډنمارکي پوځيان بايد په موسی قلعه کې د څلورو څخه تر اته اونيو پاتې شي. کله چې ډنمارکي پوځيان د موسي قلعه پر لوری په حرکت کې وو، د مرکزي عملياتو د قوماندې د مرکز ډنمارکي مشرانو غوښتل چې په دقيقه توګه دوي ته معلومات ورکړل شي چې ډنمارکي پوځيان څو موده په موسی قلعه کې پاته کيږي، کله به د دوي عوضي سرتيري ورځي او دا به د چا پوځونه وي؟ ډنمارکي مشرانو دا هم غوښتل چې په څرګنده توګه ورته وويل شي چې د ټيپانو انتقال به څه ډول وي او اکمالات به څنګه کيږي؟ پوښتنې د مرکزي قوماندې پر ميز راټولي شوي خو ځواب ورکول يې اسانه چاره نه وه. تيم سلوټ يونسن وايي:« دا لومړی ځل و چې موږ سرتيري داسې دوامداره جګړې ته تلل او موسی قلعه داسي يو ځای و.» ډنمارکي پوځيان د ۲۰۰۶ زکال د جولای پر (۲۶) نيټه موسی قلعه ته ورسيدل. وروسته پنځه ورځو وښودل چې لارس اوسليو يوهنسن، پاول کياسکوو او تيم سلوټ يونسن په افراطي توګه خوشبينه وه. د لارس اوسليو يوهنسن موټر په يو داسي سيستم مجهز و چې چي لار يې داسي تعقيبولای شوای چې پر پرده باندې ليدل چې د پوځيانو موټران مخ پر وړاندې په خوځښت کې دي. ښکاره خبره ده چې پوځيان په دښت کې د بريدونو د خطر سره مخامخ وو نو ځکه يې وسايط داسي تنظيم کړی وو چې دفاع وکړای شي.

يو درو‌ند هيبتناکه ږغ پورته شو ياني د ولسوالی په مرکز کې په نژدی واټن مورټر [٦٢] (يو ډول وسله ده) فير وشو چې د ۱۲۰ تنو ډنمارکي سرتيرو د پاره هغه خبرتيا وه چې د دوي له پاره په موسی قلعه کې څه پيښې انتظار لري. مورټر د طالبانو ډېره خطرناکه وسله ده. دغه وسله کيدلای شي چې د کورونو د ديوالونو شاه ته د يو يا دوه کيلومترو په واټن پټه شي، کله چې فير شي، کيدلای شي هغه سرتيري چې د کمپ په غولي (ډګر) کې دي، وويشتل شي پرته له دې څخه چې د وسلې موقعيت مشخص کړي او دوباره موثره ځوابيه بريد وربانديې وکړي. لږ شيبه وروسته يو هيبتناکه ږغ پورته کيږي. بمب د کمپ پر هغه بله څنډه انفلاق وکړي، يو ږغ او ور پسي بل ږغ واوريدل شو. د جولای پر (۲۸) نيټه چې دوي ورځې تيرې شوی وي، چې دا د ډنمارکي پوځيانو دريم تلاښ وو، بريالي شول چې د ولسوالی مرکز ته ننوزي. د ډنمارکي پوځيانو سره ولسوالي ته د ننوتلو په جريان کې لاندې پوځيانو مرسته وکړه: (۳۰) تنه انګريزي سرتيرو، افغان پوليسو او هغه څلور ډنمارکيان چې يولس(۱۱) ورځي مخکې په چورلکه کې موسی قلعه ته راغلي وو. د مورټر بريدونه جدي ستونزه وه. د وخت خبره وه چې کوم د مورټر بمب به نښان وولي ځکه ختيڅو کورونو زموږ درسته ساتنه کولای نه شوای. يا بايد د مورټر د بريدونو د فيريدلو ځای رڼګ شي او يا بايد هغه د ځار نفر چې نښان ويشتونکي ته لارښوونه کوي چې زموږ کمپ ته نژدې شي، له مينځه يووړل شي. د امريکايانو يوه بم ويشتونکي ب ـ ۱ [٦٣] الوتکه را روانه وه چې زموږ سره مرسته وکړي خو زموږ پهره دارونو ډېره هڅه کول چې د ويشتونکي او يا د لارښود نفر موقعيت تشخيص کړي. د مورټر ويشتونکي تر هغه وخت فيرونو ته دوام ورکړي چې د بم غورځونکي الوتکې ږغ ډېر رانژدې شو. د مورټر ږغ دومره رانژدې شو چې ډنمارکيان باوری شول چې فيرونه د ګنو کورونو څخه د شمال برخې ته کيږي. لارس اولسليو يوهنسن په خپل کتاب (ډنمارکي پړانګان) [٦٤] کې ليکي: د بم ويشتونکي الوتکې بمبار ته مې د مورټار پر موقعيت باندې اجازه ور نه کړه ځکه د ډيرو ملکي بيګناو خلکو د وژلو احتمال وو. لارس اولسليو يوهنسن پريکړه وکړه چې دوي ته نژدې د الوتکې څخه بم وغورځول شي چې د استوګنو د کورونو څخه ليرې تر څو طالبان ډار شي او ملکي تلفات رامينځته نه شي. امريکايي الوتکې ته د کمپ څخه د شمال ولوري (۴۰۰) متره ليرې کوارډينات ورکړل شو. ډنمارکي سرتيري چې د الوتکې ته يې د نښان ويشتلو لارښوونه کول، ږغ يې وکړ چې بمب د فيرولو په حالت کې دي. ناڅاپه يو هيبتناکه ږغ پورته شو، سرتيرو په مځکه ځانونه وغورځول او باوري شوه چې کومه غلطي پيښه شوی ده. د بمب هيبتناکه اواز، د فشار امواج، دوړي او خاوري او د بمب ټوټې ډيرې قوي وې. د کمپ هوا د دوړو ډکه، د انسانانو بدنونه سره کښيکښل شول او ږغ يې ډېر لوړ و. لارس باوري شو چې د هدف ويشتل غلط شوی دي. نوموړی سوچ وکړي چې کمپ يې په بشپړ ډول ويجاړه کړی دي. لارس په دوړو او خاورو کې هڅه وکړه چې د وتلو لار پيدا کړي خو تر يو متر اضافه ليري نه ښکاری ده. بل کوچني ږغ نژدې واوريدل شو چې د کوټو نازک اوسپنيزه چت پر مځکه رانسکور شوو. د لارس په مغزو کې سوچونه پيل شول چې دوهمه دلګی سرتيري تر اوسپنيز چت لاندې وو، نو ټول تر چت لاندې شول؟ خو هڅه يې وکړه چې د حالاتو څخه ځان خبر کړي. وخت ډېر هسته تيريدي او دوړي د لږيدو په حالت کې وي چې سرتيرو د مخابرې د لارې معلومات راکړي چې څوک ژوبل شوی نه دي. لږ وروسته لارس ته معلومه شوه چې اوسپنيزه نازک چت د اوسيدونکو مسجد و چې وران شوی دي. مسجد د کمپ په هغه بله څنډه کې

[٦٢] - A **mortar** is a weapon that fires explosive projectiles known as (mortar) bombs at low velocities, short ranges, and high-arcing ballistic trajectories

[٦٣] - B 1

[٦٤] - De danske tigre

پروت و چې الوتکې په دقیقه توګه ویشتلې و. بیا هم د ډنمارکي سرتیرو سره بخت یاري وکړه. په مسجد کې څوک نه وو، ځاني تلفات يې نه درلودل خو بله ستونزه يې رامینځته کړه. سرې کولاې شي ووایي چې یوه کوچنۍ غلطي وه خو د کلي د مسجد ورانول د تخنیکي غلطي په وجه لویه ستونزه وه. د ډنمارکیانو ژباړونکو بیان کړل چې دري ستونزې رامینځته کیدلاې شي:

ـ په اسلام باندې عقیده من پولیس به څه ډول غبرګون وښیي؟

ـ طالبان به د دغې غلطي څخه په څه ډول د خپل پروپاګند له پاره ګټه پورته کړي؟

ـ که چیرې د ښار اوسیدونکي خبر شي چې مسجد د ډنمارکي پوځیانو په واسطه وران شوی دي او ډنمارک هغه هیواد دي چې د محمد(ص) انځورونه يې خپاره کړي وه، څه ډول غبرګون به وښیي؟

لارس اوسلیو یوهنسن پریکړه وکړه چې موضوع به د ښار د سپین ږیرو جرګې ته بیان کړي. نوموړی فکر وکړی کله چې د سپین ږیرو شورا جوړه شي پرته له ځنده د غلطي مسولیت منم. د دغه بد نصیبه بمباری یوه ورځ وروسته د ښار سپین ږیري کمپ ته راغلل. لارس اوسلیو یوهنسن دومره لاس او پښه و چې پریکړه یې ونکړای شوای چې سپین ږیري تلاښي شي که یا؟ خلک پرته د خبرتیا کمپ ته راداخل شول. خطر زیات و خو لارس نور څه ونه کړل.

لارس د ځان سره وویل چې باید د ژباړن لارښونو ته غوږ شم، ژباړن داسي ویلي و: په یاد ولره چې ته مشر یې، خلک باید وپوهیږي چې ته مشر يې او دلته هره پریکړه په تا اړه لري. خلک د کمپ په مینځ کې پر کمبله کښیناستل. مخامخ (۱۵) بانفوذه سپین ږیري کښیناستل. د پوځ د ځارګرۍ اداري مسولین پوهیدل چې په راغلو خلکو کې د طالبانو نفر شته خو لارس د غونډې په جریان کې د امنیت له پاره هیڅوک ونه درول خو لارس توپانچه درلوده. د نوموړی شاه ته د ښار لس ځوانان کښیناستل. دا ناممکنه وه چې سرې وپوهیږي چې د خلکو او ځوانانو سره وسلې شته که یا؟ لارس فکر وکړی چې باید زما شاه د امنیت ساتلو له پاره یو څوک ولاړ وای. لارس اوسلیو یوهنسن خلکو ته وویل چې لویه غلطي پیښه شوه. خلکو په تنده لهجه ورته وویل، غلطي!!! د خلکو لهجه تنده شوه او د لاسو په حرکاتو یې په ټینګار خبرې کولې. لارس اوسلیو یوهنسن خلکو ته وویل زه تاسو ته اطمینان درکوم چې د موضوع په تړاو به څیړنې وشي چې ولې داسي پیښه رامینځته شوه؟ نوموړی ورته وویل چې ډنمارکیان هیڅ وخت نه غواړي چې خپل کمپ ته دومره نژدې بمباری وکړي. لارس اوسلیو یوهنسن وعده ورکړه چې د سیمې د کارګرانو په واسطه به بیرته مسجد جوړ کړو او لګښت به يې موږ(ډنمارکي پوځیان) ورکړو. وروستې خبرې لارس په کندهار کې د مشرتابه سره شریکې کړی وې. په پیل کې د ایساف پوځي مشرانو ټینګار وکړي چې په نقشه کې مسجد نښاني شوی نه و نو ځکه باید تاوان يې ور نه کړل شي. خو دغه بیروکراټیک دلیل ژر خاموشه شو او لارس ته يې اجازه ورکړه چې د مسجد د جوړولو تاوان ورکړي. لارس اوسلیو یوهنسن په غونډه کې نور مسایل هم طرحه کړه. تاسو په ښار کې نورې څه اړتیاوي لري؟ خلکو په ارام اواز ورته وویل چې موږ به سبا فکر وکړو. هیڅ چا ونه ویل چې کلینیک، ښوونځي او یا بریښنا غواړو، ځکه چې تر اوسه پوري د باور چاپیریال مینځته راغلی نه و نو ځکه د ډنمارکیانو مرستو ته يې اړتیا نه درلوده. سپین ږیرو ورته وویل چې ستاسي ډنمارکیانو په راتلو سره جګړه توده شوی ده، زموږ د ښار څخه ووزئ. د سپین ږیرو په شکایتونو کې د افغانستان د شخړې اساسي ټکي لیدل کیدل. خلکو امنیت غوښتې خو د ایساف د ځواکونو په شتون کې شک درلودي چې په افغانستان کې امنیت تأمین کړای شي. د لارس اوسلیو یوهنسن لنډه تشریح دا وه چې د ډنمارک پارلمان پریکړه کړی ده چې ډنمارکي پوځیان باید هلمند ته ولاړ شي. ډنمارکیان ځکه افغانستان ته راغلي دي چې د افغانستان ولسمشر، حامدکرزي وغوښتل چې په افغانستان کې پرمختګ وشي. لارس اوسلیو یوهنسن خلکو ته وویل چې زموږ پوځیان په هیڅ صورت د افغانستان څخه تر هغه وخت پوري نه وزي، تر څو چې د خپل حکومت له لوري امر ورته ونه شي. نوموړی علاوه کړه چې فیرونه ځکه وشول چې طالبانو پر موږ برید وکړي. په ځواب کې خلکو ورته وویل چې تر هغه وخت پورې به موږ پر تاسي بریدونه کوو، تر څو چې تاسي دلته شتون ولري. د سپین ږیرو غونډه پای ته ورسیدل خو لارس اوسلیو یوهنسن وعده ورکړه چې تر خپل توان پورې به کوښښ وکړي چې په سیمه کې سوله تأمین شي، سره د دې چې نوموړي (۲۰۰) سرتیري په دومره لوی ښار کې درلودل چې د ډنمارک د یو ولایت سره برابر و. دغه غونډه د ډنمارکیانو وروستۍ غونډه وه چې په موسی قلعه کې د خلکو سره جوړه کړه.

د ۲۰۰۶ زکال د اګست پر (۲) نیټه ډنمارکي پوځیانو یوه اونۍ په موسی قلعه کې تیره کړی وه چې هره ورځ د طالبانو تر برید لاندې راتلل. په معمولي توګه لومړی يې راکټ فیرولو،

وروسته به د توپکانو ډزو دوام وکړي. طالبانو پرته د ټاکلي پلان څخه ناڅاپي ډزې پیلولي او د نښان په ویشتلو کې ښه نه وه. ولې دا ورځ بل ډول وه. کله چې په لنډ وخت کې په ضربه ای ډول پنځه ـ شپږه ډزې مسلسل وشوي، د یوي پوستې څخه

ږغ وشو، میډیک![٦٥] (ژ: د ناز نوم دي). مورټن میتیاسن[٦٦] پر سر وویشتل شو او حالت يې ډېر خراب دي. د قوماندې د مرکزي پوستې څخه لارس یوهنسن د ټپي شوي افسر ويني ليدلای شواي. د مرستې له پاره بايد لومړی هغه کسان چې د ټپونو د پاکولو سره کومک کولای شي، هلته د کلا په دننه کې پر زينه پورته په چارغاوک ورشي. وروسته دوي بايد د پوستې د سرتيرو د ډزو په واسطه حمايه او بلې زينې ته په چارغاوک ورپورته شي او په پروت سره ټپي ته ځان ورسوي. دوي بريالي شول چې ټپي شوي سرتيري په کمپل کې ونيچي. وروسته لږ کش کړل شو او هغه موټر سايکل ته چې د امبولانس کار ورڅخه اخيستل کيدي، پورته شو. په کوچني کلينيک کې ډاکټر ټوله هغه څه چې ممکنه وو وکړل تر څو ژوندی پاته شي وروسته د چورلکې په واسطه وليږل شو. په دغه يوه ساعت کې لارس يوهنسن څو ځله د قوماندې د مرکز سره اړيکه ټينګه کړه تر څو هر څه ژر چورلکه راوليږي، څو ټپي سرتيري د باسټيون کمپ او يا د کندهار پوځي روغتون ته انتقال شي. يو ټپي سرتيري يا افسر بايد تر نيم ساعت زيات انتظار و نه باسي چې د چورلکې پواسطه انتقال شي. وخت د نوموړي له پاره ځکه ډېر اړين و چې د ژوندي پاته کيدلو چانس يې ډېريدي. د نورو سرتيرو د جنګي مورال له پاره هم د وعده شوی وخت مراعات کول ډېر ارزښت درلودي. خو په هلمند کې څو ساعتونه تيريدل تر څو انګريزي ټپي سرتيري به انتقال شول. د چورلکو کمښت او خطر وو چې طالبانه يې رانسکوره کړي. موسی قلعه خطرناکه ځای و چې چورلکه به د ورځې په رڼا کې کښينستل. په کندهار کې مشرتابه دومداره د ټپي سرتيري د روغتيايي حالت پوښتنه کول. لارس يوهنس پوهيدي چې د کندهار پوځي مشرتابه ارزونه کوله چې ټپي سرتيري ته نجات ورکړي که يا؟ که ټپي سرتيري د ژوندي پاته کيدو چانس ونه لري نو بايد د چورلکې او پرسونل ته يې خطر قبول نه شي. ولې ډنمارکيانو د مرستې پر رسولو باندې ټينګار کولو. لارس يوهنسن د سټلايټ ټليفون د لاري په کندهار کې د ډنمارکي پوځيانو استازي، کلاوس بيلينسټين[٦٧] سره خبري وکړې او دا چې څه کيږي، معلومات يې ورڅخه وغوښتي. لارس يوهنسن دومداره فشار اچوي چې چورلکه وليږل شي. زموږ سرتيري په سر کې ويشتل شوی دی او ژوندي دي نو ځکه د هغه انتقال بايد تر ټولو څخه مخکې وشي. تاسي بايد وعده شوی وخت مراعات کړي. دا خبري لارس يوهنسن د سټلايټ ټليفون له لاري په ټينګار کولي خو متوجه شو چې بايد غالمغال ونه کړي ځکه بی ګټې کار دي. لارس يوهنسن څو ځله تر کلينيک منډه کړه خو بيا هم د ټپي حالت بدلون نه وه کړي، ژوندي و خو حالت يې کړکيچن و. په کندهار کې د پوځ مشرتابه ډار درلودي چې کيدلای شي چورلکه د کښينستلو او جګيدلو په وخت کې په راکټ وويشتل شي. انګريزانو پوښتنه وکړه چې کيدلای شي ټپي د کمپ څخه ليري دښت ته انتقال کړي چې د چورلکې د کښينستلو له پاره مساعد شرايط وي؟ دا غوښتنه رد شوه ځکه د ټپي حالت ډېر خراب و او کمپ تر بريد لاندې و. دومره وخت نه و چې د دې چارې له پاره پلان جوړ شوی وای. چورلکه کيدلای شي په ښار، يا کمپ او يا سل متره ليري د کمپ د دروازې څخه کښيني. د همدغه خبرو په جريان کې يوه ښه پيښه وشوه. د امريکايانو يوه توره چورلکه[٦٨] چې د دوو اپچ[٦٩] چورلکو له خوا بدرګه کيدل، د پنځلسو دقيقو په جريان کې موسی قلعه ته راورسيدل او پيلوټ په کمپ کې الوتکه نه کښينول. الوتکه څو متره ليري د کمپ د ديوال څخه کښينستل. مخکې له دې څخه چې ډنمارکي پوځيان د چورلکې د کښينستلو امنيت ته سرتيري ور وليږي، چورلکه کښينستل. پيلوټ چيغې کړې چې تاسو يو ټپي لري؟ پيلوټ د يو ډاکټر سره يوځای د کمپ پر لوري منډې کړې پرته له دې چې د امنيت سرتيرو ته انتظار وباسي. ډېر ژر مو ټپي سرتيري د انتقال له پاره تيار کړي. لارس يونسن د ټپي سرتيري لاس تر چورلکې پورې نيولي و. نوموړي سرتيري ته اطمينان ورکولو چې هر څه به ښه شي، ته اوس د ښه علاج له پاره رسيږي. کله چې لارس يوهنسن د سرتيري لاس خوشي کړي د يو لوړ پوځي مشر څخه يې واوريدل چې موږ باور لرو چې ټپي سرتيري به ژوندی پاته شي. مورټن ټپي سرتيري ژوندي پاته شو خو معيوب دي. دا چې طالبان په نښان ويشتولو کې ماهر شوي وو، ځانګړی دليل يې درلودي. د طالبانو د مخابروي خبرو دا اوريدولو څخه موږ ته پته ولګيده چې طالبانو ته د پاکستان څخه د مرستې له پاره نور سرې راليږل شوي وو. نوي طالبان تر سيمه ايزو طالبانو په نښان ويشتلو کې ډېر ماهر وو ځکه موږ يوه اونی د سيمه ايزو طالبانو سره جګړه کړی وه چې نښان يې نه شوای ويشتلای.

د ۲۰۰۶ زکال د اګست د مياشتی په پيل په ډنمارک کې د هوا په تړاو زياته انديښنه وه. وړي ډېر ښه و خو وروسته دومره بارانونه په ډنمارک کې واوريدل چې هر څه يې ډوب کړل.

ډنمارکيانو د سمندر په ډيرو ځايونو کې د لامبو څخه ډه ډه کول ځکه چې د اوبو پر مخ ډير ډبل پوټکی د شنو شيانو راپيدا شوی وو. د پوځ مشر، يسپر هيلسيو او د دفاع وزير، سيون ګيده نوري انديښني درلودي. خوځنده روغتون د موسی قلعه له پاره په غيری عادي توګه فعال و. تر يوې اونی وروسته د طالبانو ورځنيو بريدونو دا جوته کوله چې دا جګړه ژر پای ته نه

[٦٥] - Medic

[٦٦] - Morten Mathiasen

[٦٧] - KlusBillenstien

[٦٨] - Black Hawk- helikopter

[٦٩] - Apach- helikopter

رسيږي. مخامخ جګړه وه او د کمين نيول وو . يسپر متوجه شو چې د انګريزانو تيوري چې ماشومانو ته به شيريني ويشي، نه عملي کيږي. د دفاع په وزارت کې ټول د حالاتو کړکيچن ګړندي پرمختګ ته ګوته په غاښ وو. په لومړي اونۍ کې لوړپوړو پوځيانو فکر کولو چې دا يو ليږدونکي پړاو دي. کله چې ډنمارکي پوځيان ځاى پر ځاى شي او طالبانو ته د خپل جديت څخه خبرتيا ورکړي، حتماً به طالبان پر شاه شي. خو يوه اونۍ وروسته د بريدونو د ډيروالي کچې نور څه راته بيانول.

د ډنمارک د عملياتو د مرکز قوماندان جنرال هينريک ريوربو ډم [70] ته دنده ورکړه شوه چې د انګريزانو پر پوځي مرکز فشار راوړي چې څه وخت د ډنمارکيانو په عوض نور سرتيري موسى قلعه ته ځي او اکمالات يې په څه ډول کيږي. ځواب قانع کونکي نه و. د انګريزانو پوځي مشران د افغانستان په جنوب او انګليستان کې هم د ډنمارکيانو په ډول د موسى قلعه د حالاتو پر بدلون چې نور هم مقاومت ډيريدي، په حيرت کې وو. کله چې ډنمارکيان موسى قلعه ته ورسيدل، حالات ډير خراب وو. هرډول اټکل چې د ډنمارکيانو پوځيان به طالبان وډار کړي، يو خيال و. زموږ ډنمارکيانو او د انګريزانو څارګرو ادارو هم د حالاتو په باب بشپړ اټکل کولاى نه شواي. موږ ډنمارکيان په موسى قلعه کې دري اونۍ يا تر هغه ډير وخت بايد پاته شوى واي که موږ هغه دنده مخته بيولاى چې موږ ته راکړل شوى وه خو موږ دومداره په جګړه کې وو. (ژ: د ډنمارکيانو اصلي دنده بيا رغونه وه.) يسپر هيلسيو وايي چې انګريزانو هم د حالاتو د بدلون په تړاو اقرار وکړي. نوموړى وايي: زما ياديږي چې په کوپنهاګن او لندن کې ګډه ژبه دا وه چې موږ اوس په موسى قلعه کې يوو او د ګډو ستونزو سره مخامخ يوو. دا پوځيان چې په موسى قلعه کې وو، هڅه يې کول چې ژوندى پاته شي. ستونزه دا وه چې ايد بوټلر د انګريزانو پوځي مشر دومره سرتيري نه درلودل چې د ډنمارکي پوځيانو په بدل کې موسى قلعه ته وليږي. په موسى قلعه کې ډنمارکي پوځيان بايد په لاندې مرسته راضي شي. (۵۰) سرتيري د رويال ايرش د ګارډ [71] څخه او د ډنمارکيانو ښکاري سرتيري چې د راتلو په حال کې وو. سره د دي چې د لارنس يوهنسن د سرتيرو شميره د کومکي سرتيرو په ګډون (۵۰) سلنه ډيره شوه خو د طالبانو بريدونو همهغسي دوام درلودي. کله چې پوځيانو د خرابو شرايطو له پاره تياري نيوي، يوه غيري منتظره پيښه وشوه. هغه دا چې ډنمارکيانو سوله ايزو دندو د هلمند د سختي جګړې سره ټکر وکړو. يوه ورځ د دفاع وزارت د ستراتيژۍ او پلان جوړولو مشر پوځي، تيم سلوت يونسن په يوه غونډه کې په مودبانه ډول ياد کړه چې زموږ سرتيري په دښتو کې د يخ څخه لرزيږي. په دغه شيبه کې د بحري قواو مرستيال ادميرال انفلاق وکړي او په تنده لهجه يې وويل: ولاړ شه د سپورت په مغازو کې دستکښي او د خوب اړوند توکي رانيسه په الوتکه کې افغانستان ته وليږه، چې بيا دى شکايت وا نه ورم. جنرال هينريک ريوربو ډم پر انګريزانو فشار راوړي چې بايد د ډنمارکي سرتيرو په بدل کې انګريزي پوځيان موسى قلعه ته وليږي. سره د دي چې ډنمارکيانو د انګريزانو د دغه کمزوري حالت څخه په ګټه اخيستنه کولاى شواى چې سياسي لوبه خپل په ګټه پاى ته ورسوي خو د ډنمارک حکومت نه غوښتل په دغه لويه لوبه کې ګډون وکړي. رسنيو د ورځنيو جګړو په اړوند ليکني پيل کړي. د دفاع وزير سيون ګيده مهمه موخه دا وه: دا چې حکومت په محدود اکثريت سرتيري د عراق جګړې ته وليږل، خو د افغانستان د جګړې له پاره لوى اکثريت شتون درلودي، نو حکومت بايد هڅه کړي واى چې د افغانستان د جګړې د اکثريت ملاتړ د لاسه ور نه کړي. سيون ګيده د اکثريت د ملاتړ په ارزښت پوهيدي. دا سياسي خطرناکه لوبه وه چې په ورځني ډول د ډنمارکي سرتيرو د ژوند په تړاو بحثونو جريان درلودي. دغه بحثونه د حکومت سياسي بنسټ د برياليتوب او ناکامي په اړوند ورانوي. يوه لويه ستونزه د ډنمارکي سرتيرو د وژل کيدو موضوع و چې ورځنۍ اجندا ته يې بدلون ورکړي. همدا ډول په پوځ کې يو مقاومت رامينځته شوو چې ولې پوځ د سياسي موخو د لوبو له پاره استعماليږي. پوځ په طبعي ډول د سياسي پريکړو د لارښود مطابق دندې سرته رسوي خو د عراق په جګړه کې ګډون د پارلمان د کوچنۍ ډيره کې پريکړه يو استثنايي چاره وه. د دفاع د وزير سيون ګيده مهمه وسله دا وه چې د افغانستان د جګړې ملاتړي په خپل پراخه حوصله او د زړه د راز په ويلو سره وساتي. سيون ګيده د پخواني دفاع وزير، سوينډ ايج ينسبيو [72] په پرتله د سياسي کارپوهانو په نظر د پارلمان د سياسيونو سره ښه ملګرتوب درلودي. مګر پټ رازونه چې په موسى قلعه کې ډنمارکي پوځيان د سختو شرايطو سره لاس او ګريوان دي، نه رسوا کول.

سيون ګيده د ۲۰۰۶ زکال د اګست پر (۳) نيټه يولنډ پوستن [73] ته د سرتيرو په اړوند داسي وويل: دا يوه ډيره خطرناکه سيمه ده او موږ د نورو بريدونو په انتظار کې يوو. ولې زموږ سرتيري د ورکړل شوي دندې د پاره ښه روزل شوى دي. په همهغه ورځ د دفاع وزير د پوليټيکن د ورځپاڼي سره په مرکه کې ټينګار وکړى چې سياستوالو ته چې سرتيري هلمند ته وليږل شي، بشپړ معلومات ورکړل شوى وو:«موږ خپل ډار تاييد کړي، خو پر ما د دفاع د وزير په توګه او د پارلمان پر غړو بايد خراب تاثير ځکه ونه کړي چې د پريکړې په وخت کې مو ويلي وو چې د تهديد خطر زيات دي.»

[70] - Henrik Rørboe Dam

[71] - Royal Irish Guards

[72] - Svend Aage Jensby

[73] - Jyllands - posten

د هلمند د جګړې څخه ملاتړ لا تر اوسه تر تهدید لاندې نه و. مهمه دا وه چې د سوسیال ډموکراټانو د دفاعي کمیسون مشر، پیرکولوند [۷٤] بیا هم د ډنمارکي پوځ څخه ملاتړ کولو. د پولیټکن د ورځپاڼې سره د دفاع وزیر وویل چې زما په اند د موسی قلعه ستونزې لنډ مهاله دي. د افغانستان په جنوب کې طالبانو ته اجازه ورکړه شوې وه چې پرته د مزاحمت څخه ژوند وکړي. دغه حالت طالبانو ته موقع ورکړې و چې د بهرنیو پوځونو په شتون کې د خپل پایښت اوشتون له پاره تیاري ونیسي. سرې یې ردولای نه شي چې طالبانو د ناټو د پوځونو زغم ازمویه. په دغه وخت کې چې د دفاع وزیر په مرکه کې د حالاتو د ارامتیا په تړاو خبرې کولې، په همدغه وخت کې د دفاعي چارو د کمسیون بیړنی غونډه د اګست په (۷) نیټه د غرمې په وخت راوبلل شوه. سهارنۍ غونډې د معمول له مخې د خوښیو غونډې وې. په سهارنۍ غونډو کې به ښه نارې د ګډون والو له پاره برابر شوې وو. کله کله به د دفاع وزیر د غرمې په ډوډې کې لوړو پوړو چارواکو ته د پارلمان په کانتین کې معلوماتونه ورکول.

د اګست په (۷) نیټه په غونډه کې یوازې قهوه وه او د دفاع د وزارت د غونډو په تالار کې جلسه دایره شوه. په غونډه کې هیڅ شي غیرې عادی نه و. د دفاع وزیر، سیون ګیده د پوځ د یو شمیر لوړ پوړو لخوا چې یسپر هیلسو د وزیر په څنګ کې روان وو، بدرګه کیدې. لوی درستیز، یسپر هیلسیو باید شخصاً حاضرینو ته په موسی قلعه کې د سختې جګړې معلومات ورکړې واي. نوموړي ویډیویي کلیپونه، انځورونه او نقشه د ځان سره درلودل. د بهرنیو چارو د وزارت لوړ پوړو استازو هم ګډون کړی وو. په غونډه کې سیاستوال لږ وو. د سوسیایست ګوند د دفاعي چارو مسول، هولګر نیلسن فوراً احساس کړه چې موضوع جدي ده. نوموړي سوچ وکړی چې د دفاع د وزیر سره په غونډه کې هروخت خوشالي وه خو نن موضوع بل ډول ده. هیڅ چا ځانګړی تبصره ونه کړه. یسپر هیلسیو وارخطا نه ښکاریده خو ډیر جدي و. هولګر نیلسن وایي چې جدیت د پوځ د مشر په خبرو کې د ورایه څرګند وو. په موسی قلعه کې مقاومت تر هغه ډیر زیات دي چې موږ یې اټکل کړی وو. کله چې د ډنمارکي سرتیرو انځورونو ښودل کیدل چې په غیري مصونه چاپیریال کې سرتیري په خیمه کې پراته دي، سیاستوال د چوکیو څخه ورپورته او انځورونه ته ځیر شول. کله چې لارس یوهنسن د موسی قلعه پر لوري حرکت کولو چې د هغه سرتیرو سره د مرستې له پاره ورشي، چې په سیمه کې بند پاته دي د غونډې پر ګډون کوونکو ډیره اغیزه وکړه. کیڼ راډیکال د دفاعي چارو د کمسیون مشر، هیلویګ پیټرسن [۷۵] په یاد راوړي چې دا یوه ځانګړې غونډه وه چې ګډون کوونکي پر ګوتو ناست وو. لوړ پوړو افسرانو په ډنمارکي سرتیرو ویاړ کولو چې په دومره سختو شرایطو کې د ورکړل شوو دندو د عهدې څخه وتلای شي خو د دوي په تړاو ډیر اندیښمن هم شول. سره د دې چې د پوځ مشرانو تایید کړه چې موږ دوام ورکوو او انګریزان به ژر په موسی قلعه کې په خطرناکو پوستو کې ځای پر ځای شي خو پوځې مشرانو و نه کولای شوای چې د غونډې برخوالو ته د ارامتیا احساس ورکړي. په غونډه کې سیاستوال وپوهیدل چې د پوځ مشران اوس هم امید لري چې په موسی قلعه کې د ډنمارکي سرتیرو ځای پر ځای کول به لنډ مهاله وي. کله چې ایساف په درست ډول دندې پر غاړه واخلي نور به د ډنمارکي پوځیانو دنده د سولې په عملیاتو بدله او خطر به نه وي.

د سوسیالیست ګوند څخه هولګر نیلسن وویل: کله چې د اګست په میاشت کې موږ ته معلومات راکړل شوو، پوه شولو چې ډنمارکي سرتیري په نیغه په جګړه کې ښکیل دي، خو کله چې موږ شپږمیاشتې مخکې په پارلمان کې د (ب ـ ۶۴) پریکړه وکړه ، موږ اټکل نه وه کړي چې سرتیري به په جګړه بوختیږي. یسپر هیلسیو د غونډې څخه ډیر راضي و ځکه ډیرو پوښتنو ته یې ځواب ووایه. د سیاستوالو له پاره اړتیا و چې په حالاتو زیات وپوهیږي ځکه چې رسنیو او خلکو ته درست ځواب وویلای شي. د پوځ مشر متوجه شو چې د غونډې برخوال د ډنمارکي سرتیرو خطرناک حالات ته په موسی قلعه کې ژوره پاملرنه وکړه او غوښتنه یې دا وه چې ډنمارکي سرتیري جوړ او سالم واوسي. د پوځ مشر د غونډې ځکه راضي شو چې د سیاستوالو د خبرو څخه ورته معلومه شوه چې دوي یوازې د غلطې په پیداکولو پسې نه ګرځي خو یوې موضوع ډیر مایوسه کړي: « ماو لیدل چې ډیرو سیاستوالو علاقه ښکاره کړه او په غونډه کې برخه واخیستل او دغسې انتظار هم ورڅخه کیدې. همدغه سیاستوال وو چې سرتیري ستونزو او جګړې ته ولیږل.»

د (۹) تنو نورو ښکاري سرتیرو سره اریک یونسن [۷۶] د مورټن تر ټیپ کیدو څو ورځې وروسته موسی قلعه ته راورسیدل. د نوو ورغلو سرتیرو دنده دا وه چې امنیتي حالت ښه کړي او خپلو ملګرو ته مورال ورکړي. د دغو ښکاري سرتیرو راتلل د کمپ پخوانیو سرتیرو ته نوي امید او مورال ورکړي. د پورته یادې شوې اضطراري پوځې غونډې څخه دوي ورځې وروسته د موسې قلعه څخه یو عجیب معلومات راورسیدې: ډنمارکي سرتیري د کمپ څخه په سل متري کې د وچو خاشو په مینځ کې یو روښنایي ولیدل چې کوم شي د لمر د وړانګو سره په تماس ځلیږي. سرتیري په دوربین کې ورته وکتل او ویې لیدل چې یو طالب وسله په لاس په چارغاوک کمپ ته رانژدې کیږي او غواړي د تیرې پیښې په ډول بیا هم یونسن راڅخه

[۷٤] - Per Kaalund
[۷۵] - Helveg petersen
[۷۶] - Erik Jørgensen

ووژني. ډنماركي سرتيري په بيړه ډز ورباندې وكړي او هغه يې وواژه. ايرك يونسن سل په سل كې باوري و چې طالب يې وويشتي. دا هغه طالب و چې ډنماركي سرتيري، مورټن او يو انګريزي سرتيري يې په سر كې ټپيان كړي وو او يو بل ډنماركي سرتيري په معجزه ډول ورڅخه خلاص شو ځكه ګولۍ يې په اوسپنيزه خولۍ كې ومښتل. ايرك يونسن پراخې تجربې درلودې. نومړي مخكې په عراق كې ډيرو ځانګړو دندو ته ليږل شوی وو. د لوړ پوړو

چارواكو او د بهرنيو چارو د وزارت د استازو د باډي ګارډ په توګه هم ياته شوی و. نومړي د طالبانو نښان ويشتونكي ته په حيرت ياته و. ايرك اټكل كولو چې كيدای شي دغه طالب ډير نژدې راغی او ورسته ډزې كوې. ايرك يوهنسن اوس وايي: موږ د مسلكي نښان ويشتونكو په توګه لومړي فكركولو چې په څومره واټن كې ليري ځای پر ځای شوو؟ كوم ځای وټاكو چې نښان وويشتل شي؟ نور څه وكړو چې ښه نښان ويشتونكي واوسوو؟ ايرك يوهنسن په المان كې د دوو اونيو له پاره د نښان ويشتلو كورس خلاص كړی و چې دفعتاً خبر وركړل شو چې د البورګ هوايې ډګر ځان ورسوي. نښان ويشتونكو سرتيرو دوي ـ دري ورځې په خپلو وسلو تمرين وكړي او وروسته د تركيې، كابل، كندهار له لارې هلمند ته ورسيدل. دوي د يوې دلګې انګريزي سرتيرو او د يو ګروپ بم غورځونكو سرتيرو سره يو ځای موسی قلعه ته راغلل. راتګ و موسی قلعه ته ډراماتيک وه. ايرک يوهنسن د خپلو ملګرو سره په سرلوڅې موټر كې چې محافظتي چت يې نه درلودې، ناست وه. د يوې نښتې څخه وروسته انګريزي مرسته كوونكو سرتيرو لار پرانيستل او د رود څخه تير شول. بيا طالبانو په ډزو پيل وكړي، مرمې د سرتيرو د سرو څخه تيريدلې. كه څه هم طالبان په ليري واټن كې ناست وو خو كيدلای شوای كومه مرمۍ يې په سرتيرو لګيدلې واي. هغه سرتيري چې د ځانګړو توپكانو په واسطه په ليري واټن كې نښان ويشتلای شي مختلف نومونه لري. خو په موسی قلعه كې د سرتيرو اساسي دنده دا نه وه چې پر دښمن ډزې وكړي. د ايرک يوهنسن او د ملګرو تخصص دا وو چې ساحه وڅيړي او معلومات تر لاسه كړي چې د كومو ځايونو څخه دښمن ډزې كولای شي، د دې پر ځای چې دوي خپل مهارت په نښان ويشتلو كې په كار واچوي. دوي بايد د ډنماركي او نورو سرتيرو سره چې د موسی قلعه په كمپ كې بند وو، مرسته وكړي چې څنګه ځانونه وساتي. دغو كارپوهانو هغه ځايونه بايد ځانګړي كړي واي چې دښمن د هغه ځايونو څخه پر ډنماركي سرتيرو ډزې كوي. څو ورځې وروسته كمپ داسې جوړ شوو چې طالبانو ډنماركيان ويشتلای نه شوای. سرتيرو په ديوالونو كې تيركښان جوړ كړل. ټول كمپ وكتل شو تر څو داسې پوسته نه وي چې شاه ته يې روښنايي وي، ځكه طالبان د روښنايي څخه په ګټه اخيستنه ډنماركي سرتيري وينې او ډزې ورباندې كوي. ښكاري پوځيانو هم د خطرناكو پوستو مسوليت پر غاړه واخيستې او د شپې له خوايې د كمپ نه بهر په لنډ واټن ګزمې كولې، او هغه ونې يې له مينځه وړلې چې طالبان ور په كښې پټيدل. ښكاري پوځيانو په يوه كور كې د يوې موډرنې ماشينګړې د نصب كولو ځای پيدا كړي چې د ډزو په وخت كې ډنماركي سرتيرو د خولې څخه د اور لمبې ليدلای نه شوای. د طالبانو يو شمير احتمالي پټن ځايونه له مينځه يوړل شول. ښكاري پوځونو ټول هغه كورونه چې كمپ ته نژدې وو، منفجر او وران كړل. د ښكاري پوځيانو د راتګ مهمه اغيزه دا وه چې د سرتيرو مورال يې ډير لوړ كړي. په همدې ډول طالبان هم د افغاني پوليسو د لارې خبر شول چې ډنماركي ځانګړې كارپوه سرتيري راغلي دي. نو ځكه طالبانو تر يوې كچې د نوو راغلو پوځيانو په درناوي ځانونه شاته كړه.

د لومړي ځل له پاره د افغانستان په جنوب، موسی قلعه كې ډنماركي سرتيرو د افغان پوليسو سره په ګډه كار پيل كړي. تقريباً (٦٠) افغان پوليس چې د كورنيو چارو په وزارت پورې تړلي وو، ډيري خرابې وسلې يې درلودې او پوځې انضباط او ډسپلين يې هم خراب و، ډير احتمال و چې د ډنماركي سرتيرو ته د مرګ خطر پيښ كړي. د پوليسو امر يې د كوكو په نوم ياداوه چې د جهاد دوخت د مجاهدينو قوماندان و. زموږ د څارګرې ادارې د معلوماتو له مخې دغه تنومند، جګ چې لويه توره ږيره يې درلوده، كوكو مخكې د طالبانو سره نژدې اړيكې درلودې. د ډنماركي او انګريزي سرتيرو له خوا د پوليسو ټليفونونه اوريدل كيدل، څرګنده شوه چې يو شمير پوليس د طالبانو سره اړيكې لري. دا موږ ته څرګنده نه وه چې دغه پوليس په رښتيا د دښمن په ليكو كې وو او كه تر فشار لاندې وو، ځكه د دوي كورنۍ په ښار كې اوسيدلې. لارس يوهنسن د پيل څخه پريكړه وكړه چې يوازې ډنماركي او انګريزي سرتيري اجازه لري چې د كمپ د قوماندې مركز ته راشي. ډير خطر و چې د پوليسو په واسطه طالبانو ته مهم معلوماتونه وركړل شي. ډنماركي پوځې پوليسو د ټولو افغان پوليسو انځورونه واخيستل او راجستر يې كړل تر څو كمپ ته د ننوتلو پر وخت وپيژندل شي، تر څو نور بيګانه كسان داخل نه شي. يوه ورځ كوكو او څو پوليس راغلل يو نفر يې راوستي چې نومړی باوری و چې دغه كس طالب دی. كوكو وويل چې موږ تحقيق ورڅخه كوو او وروسته يې په دار ځړوو. لارس يوهنسن ورسره همږغی نه شو، او نيول شوی نفر يې په كمپ كې بندی كړی. سره د دې چې ډنماركيانو پر افغان پوليسو امر نه درلودې خو دا ډنماركي جګړن و چې افغاني او نړيوال قوانين يې بايد مراعات كړي وای. لويه ستونزه د نيمچه ځوانانو وه. هر پنجشنبه مخكې د جمعې د ورځې تر رخصتې به ځوان پوليسو ښه ځانونه پريولل، اريش به يې وكړی او نوي جامې به يې واغوستلې. كوكو د ښار څخه هم نيمچه ځوانان راوستل. په افغانستان كې د هلكانو رقصول او يا بچه بازي رواج ده. هغو پوليسو چې په امنيتي پوستو كې دنده درلوده، په ورځو او اونيو د خپلې كورنۍ څخه ليري وه نو ځكه وړو هلكانو چې عمرونه يې د (١٠ ـ ١٢) كلنو پورې وه، ارايش وركاوه يانې سترګې ورتورولې او لاسونه يې په نكريزو ورسره كوله. سره د دې چې ډنماركي پوځيان پوهيدل چې د دغو هلكانو سره لواطت هم كيږي خو د ډنماركي پوځيانو مشرتابه پريكړه وكړه چې د دوي په كار كې لاسوهنه و نه كړي. لارس يوهنسن

وایي چي موږ نه شوای کولای په دغه رواج کي او هم مو نه غوښتل بدلون راولوو. کله چي ښکاري پوځیان او انګریزي کومکي سرتیري ځای پر ځای شول پر کمپ باندي فشار لږ شو. خو بیا هم ستونزمنه وه چي د کمپ څخه په لیري واټن ګزمه وکړای شوو. عادي وګړو هم موږ ته مراجعه نه کوله نو د ګزمي کولو یوازنی موخه دا وه چي د کمپ امنیت ښه وساتل شي. ډنمارکیان په داسي یو حالت کي نه وو چي امنیتي ساحه پراخه او د کابل د حکومت له پاره ملاتړي زیات کړي. موسی قلعه د جګړي په یو مرکز بدله شوی وه. په هلمند کي یو بل انګریزي جنرال د منی په موسم کي باید د جنرال اید بوټلر ځای نیولی وای. جنرال بوټلر ومنل چي د افغان حکومت هغه غوښتنه چي بیرغ یې د هلمند په ټولو سیمو کي ورپیږي، بریالیتوب ته ونه رسیدله. د نوموړی جنرال پوځیانو د هلمند په ټولو سیمو کي د ژوندي پاته کیدو په خاطر جګړه مخته بیوله. جنرال بوټلر غوښتل چي ستراتیژي بدله کړي، خو په عیني وخت کي ډنمارکیانو ډیر فشار اچولي وو چي خپل سرتیري د محلي سیمو څخه چي یوازي ځان ژغوري، ژر تر ژره وباسي. د ۲۰۰۶ زکال د اګست په نیمایي کي ښه خبر راورسیدي. انګریزانو پریکړه وکړه چي ټول هغه پوځیان چي په ولسوالیو کي په میاشتو میاشتو بند پاته دي، باید راوایستل شي. دغي پریکړي ډنمارکیانو ته موقع په لاس ورکړه چي خپل سرتیري د موسی قلعه څخه راوباسي او په هغو پوځي دندو مصروف شي چي د دوي له پاره ښه وي. د پوځیانو د وتلو عملیاتو ته (ماریب عملیات) نوم ورکړل شو او سرتیري باید د اګست پر (۱۴) نیټه د ستونزو څخه راویستل شي. په کمپ کي خوشالي او امیدونه خپاره شوه. د پوځیانو ایستل په دوه ډوله تعبیرېدلای شي. کیدای شي چي د ایساف او د کرزي د حکومت په شاه کیدلو نوم ورکړل شي او یا دا چي اړین پوځي تاکتیک و ګڼل شي چي د محدودو پوځیانو قوت په مهمو ځایونو کي استعمالیږي. ډنمارکي مخکښانو سرتیرو په دی تړاو سوچ نه کولو. دوي خوشاله وو چي خپلي پخوانی دندې ته راوګرځي. خو خوشالي ډیر دوام و نه کړی. د اګست تر (۱۴) نیټي څو ورځي مخکی د سرتیرو دوتلو پلان وځنډیدی. مګر ولسمشر حامد کرزي بیا هم نه غوښتل چي ولسوالي د سیاسي او مورال له پلوه طالبانو ته پریږدي. د سرتیرو مزاج ډیر خراب شوو ځکه په کمپ کي راتلونکي پنځه ورځي ډنمارکي سرتیرو د طالبانو تر بریدونو لاندې راغلل. په موسی قلعه کي د جګړن لارس یوهنسن سرتیري ډیر ستړي شوي وو. ډنمارکي سرتیري په کوچني کمپ کي ستومانه وه او د دومداره جګړي څخه هم ستړي وو. ولسوالیو د زندان حیثیت درلودي، سرتیري د فزیکي لحاظه فعال نه وو او ټریننګ هم نه وو. ځو ځله چینایي راکټونه په کمپ کي ولویدل کوم چي سرتیري په غیري مصونه خیمو کي بیده وه. هر ځل سرتیرو پرته د ډار څخه نجات پیدا کړي. ډیر سرتیري سطحي ټپیان شول خو هیڅوک جدي ټپي نه شو. په ډنمارک کي د پوځ مشرانو فشار واچولو چي د ډنمارکي سرتیرو پر ځای موسی قلعه ته انګریزي پوځیان واستول شي. د اګست پر (۲۴) نیټه بالاخره غوښتنه ومنل شوه. پریکړه وشوه چي په هلمند کي د نړیوالو پوځي ځواکونو لویه برخه باید دغه دنده پر غاړه واخلي نو ځکه د انګریزانو د رویال ګارډ [۷۷] ډیر پوځیان باید په موسی قلعه کي ځای پر ځای شي. د ډنمارکي پوځیانو د وتلو عملیات داسي شول چي نور احتیاطي سرتیري باید د وتلو په عملیاتو کي مرسته وکړي. په دغه وخت کي هغه سرتیري په نورو دندو کي بوخت

و نه ساتل شي. سرتیري په مختلفو ځایونو کي ځای پر ځای شول، د دوي دنده دا وه چي دفاع وکړي.

دغه اوازه په ټول هلمند کي خپره شوه چي ډنمارکي سرتیري د ستونزو څخه خلاص شول. ورځپاڼو د ډنمارکي سرتیرو د سختو شیبو په تړاو لیکني خپرې کړي. ستونزمنه نه وه چي څوک په حیرت کي نه شي چي په هلمند کي څه تیریدل. یوه ورځ مخکی چي ډنمارکي سرتیري د موسی قلعه څخه راووزي، ډنمارکي ورځپاڼي، انفرمیشن د موسی قلعه د سختو شرایطو په اړوند لیکنه خپره کړه. د افسرانو د اتحادیې مرستیال، ستین میدسن [۷۸] تیار و چي د موضوع په تړاو څه ووایي: « ډنمارکي سرتیري د نا امیدي په چاپیریال کي راښکیل دي. د طالبانو بریدونه دومره زیات او درانه دي چي ډنمارکي سرتیري د ژوندي پاته کیدلو له پاره تلاښونه کوي.» په همدغه ورځ د دفاع زیر، سیون ګیده په یو خبري کنفرانس کي وویل چي شرایط په موسی قلعه کي ډیر سخت وو. نوموړي وویل چي د ډنمارکي پوځیانو اساسي دنده دا شوی وه چي یوازې کمپ وساتي. هغه چي موږ فکر کړي وو چي ډنمارکي پوځیان به ګزمي کوي په اوسنیو شرایطو کي ډیر ستونزمنه چاره ده. د پوځ لوړپوړي چارواکي پوهیدل چي د موسي قلعه څخه تر وتلو وروسته به د سختو غبرګونونو سره مخامخ شوو. رسنیو هره اونی د نیوکو کیسي درلودي. د هلمند په جګړه کي ښکیل کیدل د پیل څخه سیاسي او د میډیا

حساسیتونه درلودل. د دفاع وزارت او حکومت ډاریدي چي د پارلمان ارزښتناکه سیاسي ملاتړ د افغانستان څخه د خطر سره مخامخ کیدونکي دي. د سوسیال ډموکراټانو د بهرنیو چارو د پخواني وزیر، موګنس لویکه ټافټ اندیښنه د پوځي قوت د استعمال په تړاو ربښتیا را ووتل او کیدلای شی ستونزې رامینځته کړي. حکومت پوهیدي چي د سوسیال ډموکراټانو پخواني مشر، موګنس لویکه ټافټ (ژ: نوموړي یو وخت د بهرنیو چارو وزیر و او وروسته د لنډې مودې له پار د ګوند د مشر په توګه هم وټاکل شو.) د ګوند په دننه کي د ستونزو سره لاس او ګریوان دي او د سوسیال ډموکراټانو نوې مشره، هیله ټورنینګ

۷۷ - Royal Irish Guad
۷۸ - Steen Madsen

سمیت [۷۹] د افغانستان د جګړې په تړاو د پوځ استعمال ته ډېر مایله ده. خو د حکومت او اپوزیشن تر مینځ د عراق په جګړه کې همږغي نه وه ولې د افغانستان په اړوند شرایط بیل وو. د موګنس لویکه ټافت له پاره موسی قلعه یوه خرابه خاطره وه. موږ ته څرګنده شوه چې دا څه ډول عملیات وو چې موږ ور په کښې ښکیل وو. مرکزي حکومت پر دغو سیمو ډیر لږ کنترول درلودې. موګنس لویکه ټافت وویل چې افغانستان داسې یو هیواد دې چې هیڅ لاس په وهل شوی نه دې، موږ په نیغه د جګړې ډګر ته ور ننوتلو. د موګنس لویکه ټافت د وینا له مخې سوسیال ډموکراټان د ورکړل شوې وعدې څخه نه پر شاه کیږي که څه هم د موسی قلعه په حالت باندې حیران شول. د دفاع وزارت او پوځ له پاره لومړی ستونزه دا وه چې د انفرمیشن ورځپاڼې او ډنمارک راډیو په قول ډنمارکې پوځیان د موسی قلعه څخه پر شاه تللې دي. د ډنمارک راډیو ژورنالیست، یون ډرګستال [۸۰] په دوامداره توګه اعلانول چې ډنمارکې پوځیان باید د موسی قلعه څخه پر شاه شي. د عملیاتي مرکز ډګروال هینریک سامر [۸۱] د ژورنالیست، یون ډرګستال څرګندونې د ډنمارکې سرتیرو له پاره ډېر خطرناکه وګڼلې که دښمن وپوهیږي چې ډنمارکې پوځیان د موسی قلعه څخه وزي. ژورنالیست د ډګروال دلایل ومنل خو دا چې د ډنمارکې پوځیانو وتل پرته د په شاه تللو څخه بل نوم ورکول کیدلای نه شي، د ډګروال سره همږغی نه و.

د پوځیانو پر شاه کیدل او یا د پلان له مخې د سرتیرو بدلول؟

عادي ډنمارکیانو ته د سرتیرو وتل ډېر اهمیت درلودې خو د پوځ له پاره د پرشاه کیدلو کلمه دردناکه وه. ډګروال وویل: تر موسی قلعه وروسته ما زیاته پاملرنه هغه کیسې ته واړول چې ګواکې موږ د موسی قلعه څخه تیښتیدلي یوو ځکه موږ فشار زغملای نه شوو. موږ یې باید په یاد ولرو چې په افغانستان کې جګړه جریان لري، دا په دې معنا لکه په ډنمارک کې چې هم جګړه وي. موږ تقریباً جګړه وبایلله. د ډګروال امر، پاول کیاسکوو په قهر و چې سرتیري په تیښتې تورن کیږي. د جنرال په نظر دا بی عدالتي وه. دجنرال په آند دا خبرې پرته د څیړنې او واقعیتونو څخه کیږي. د ډنمارکي سرتیرو وتل د پلان له مخې وشول، هغه وخت چې ډنمارکي سرتیري د موسی قلعه پر لوری خوځیدل د ژر رایستلو بحثونو جریان درلودې. د عملیاتو د قوماندې مرکز ژورنالیستانو ته وړاندیز وکړې چې دوې کولای شي د ایساف عملیاتي پلان وګوري. په هغه وخت کې وعده داسې وه چې ډنمارکې سرتیري به د لنډ وخت له پار موسی قلعه ته ځي. ډنمارکیان د موسی قلعه څخه تښتیدلي نه دي. ډنمارکیانو دقیق هغه څه وکړل کوم چې د انګریزانو پوځې مشرتابه ورڅخه غوښتې وو او انګریزي سرتیري د دوې پر ځای موسی قلعه ته ولاړل. خو واقعیت نور هم پیچلی و او دغه واقعیت د ایساف د عملیاتي پروګرام څخه چې هینریک سمر د میډیا په واک کې ورکړی، نه څرګندیدې. عام ډنمارکیان خبر نه وو چې ډنمارکې پوځیانو څو اونی تلاښ کړی وو چې د دوې پر ځای انګریزي

سرتیري موسی قلعه ته راشي خو ولسمشر حامد کرزي ایساف اړ ایستې چې سرتیري باید په ولسوالیو کې پاته وي. د ۲۰۱۰ زکال د ډسمبر په میاشت کې د ویکي لیکس د اسنادو څخه څرګنده شوه چې ډنمارکي او انګریزي پوځونو په موسی قلعه کې د الوتکو مرسته په لوړه کچه غوښتې وه. په ښار او نژدې سیمو کې (۸۰) بمبارونه وشول چې په دغو بمبارونو کې الوتکو شل ټنه انفلاقي مواد مصرف کړی وو. مګر د جګړې دغه خطرناکه حالت چې ډنمارکي پوځیانو په تیرو سلو کلونو کې تجربه کړی نه وو، په هر قیمت چې کیږي باید د دوې د ناکامی په مانا تعبیر نه شي. سره د دې چې ستونزه د ډنمارکي سرتیرو ناپوهي او د مورال کښته والي نه وو، غلطې د انګریزانو په ستراتیژي کې وه چې د حامد کرزي او د هغه د والي، ملا شیر محمد اخندزاده د فشار په پایله کې د ایساف لږ ځواکونه تیت کړل.

د پوځیانو د خوابدې سره سره رسنیو د نیوکو ډکې تبصرې خپرولې. د پوځیانو د مرکزي اتحادیې مشر، فین بوسه [۸۲] د ډنمارکې ورځپاڼې (بیرلیګسکه ټیدنه) [۸۳] خپرونې مخامخ جګړه وبلله. نوموړی وایې چې دا دسرتیرو دنده نه وه. موږ د سرتیرو او موادو د بشپړولو له لحاظه تیار نه وو. دغه بیان تر نیوکو لاندې ونیول شوو. د پوځیانو یو غړی دعملیاتو د مرکزي قوماندې پر ویبپاڼه لیکنه وکړه. دغه سرتیري، مشر سرجنت ب.ټامسن [۸۴] د موسی قلعه څخه راوتلی و او د پوځیانو د اتحادیې پر بیان باندې ډېر مایوسه شو. نوموړی سرجنت وویل چې د پوځیانو د اتحادیې بیان زموږ سره د ملاتړ په مانا نه دي. نوموړی ارزونه کول چې د دغه ډول اتحادیې غړیتوب وساتي او که نه؟ دوې موږ دندې ته لیږي خو ملاتړ نه راڅخه کوي. یوه ورځ وروسته هینریک سمر د پوځیانو د دفاع له پاره ملا وتړل. په ډنمارکي ورځپاڼه، یولنډ پوستن کې د اګست په

[۷۹] - Helle Thorning Schmidt
[۸۰] - Jærgen Dragsdahl
[۸۱] - Herik Sommer
[۸۲] - Finn Busse
[۸۳] - Berligske Tidende
[۸۴] - B. Thomsen

(۲۶) نیټه یې ولیکل چې ډنمارکي پوځیان په هیڅ صورت د طالبانو څخه نه ډاریدل. نوموړی ډګروال وویل چې ډنمارکی پوځیانو د (۶۰ ـ ۷۰) تنه طالبان د هغه وخت څخه چې هلمند ته تللي دي، وژلي دي. ډګروال علاوه کړه چې د دښمن وژنه زموږ یوازنی بریالیتوب نه وو. د دفاع وزارت او د عملیاتو د مرکزي قوماندي مشرتابه د ډګروال د بیان څخه خوښ نه شول چې نوموړی د جګړې موخه د طالبانو وژنه را په ګوته کړه. موګنس لویکه ټافټ د ډګروال د بیان څخه ګوته په غاښ ونیول. موګنس لویکه ټافټ وویل: « موږ افغانستان ته د جګړې د پاره تللي نه یوو، کله چې پر موږ برید وشي د ځان څخه دفاع کوو. لویکه ټافټ د پولنډ پوست ورځپاڼي ته وویل چې د ډګروال هینریک بیان د (یو پوځي قهر او د برید له پاره د چمتووالي په مانا دي).» د کیڼ راډیکال د بهرنیو چارو پخواني وزیر، مورتن هیلوی پیټرسن د پولیټکن ورځپاڼي ته د ډګروال بیان د نارینه غرور وګاڼه. په کور دننه کي د ډګروال هینریک پر بیان چې څومره طالبان یې وژلي دي، قهر زیات شوو، که څه هم د دفاع وزارت لومړی د (۱۲) طالبانو د وژلو او وروسته یې د (۲۵) طالبانو د وژلو ادعا وکړل. د دفاع وزیر، سیون ګیده د اګست پر (۲۹) د دفاعي چارو کمیسون ته په یوه غونډه کي په نوي ډول معلومات ورکړي. دا چې د وړی روخصتي پای ته رسیدلي وه او د موسی قلعه موضوع ډیره ګرمه وه نو غونډي ته ټول حاضر شوی وو چې د دفاع وزیر نوي معلومات واوري. سره د دي چې تازه کوم څه غونډي ته وړاندي نه شول خو سوسیال ډموکراټانو په افغانستان کي د جګړې څخه ملاتړ ته دوام ورکړی. د وژل شوو طالبانو په باب بحثونه وشول. اوس ډګروال هینریک وایي چې ما د وژل شوو طالبانو د احتمالي تعداد په ویلو سره ستونزه جوړه کړی نه ده. نور هیوادونه د مړو د ارقامو د ویلو څخه ډیر څه لاسته راوړي. خو موږ دا کار کړی نه دي. په هغه وخت کي موږ پر موضوع ډیر بحث وکړي او پریکړه مو وکړه چې خلکو ته را ووزو او ورته ووایو چې موږ دغه ډول خلک ووژل. دا د جګړې یوه برخه ده. دا کومه پټه خبره نه وه. خو دا لومړی او وروستی ځل دي چې د ډنمارک پوځیان د دښمن د تلفاتو شمیره اعلانوي. د طالبانو تلفات په قوی احتمال د ورکړل شوي شمیرې څخه زیات وو. ټول ښکیل افسران او سرتیري د تلفاتو په تړاو پر ښار درنو بمباریو ته اشاره کوي. دا یو حساسه موضوع ده دوی نه غواړي چې خپل نوم وښیي. مګر دوي وایي چې د دښمن د تلفاتو شمیر د دفاع د وزارت د ورکړل شوي شمیرې (۲۵) تنه څخه څو برابره زیات دي، اټکل کیږي چې د تلفاتو شمیره د (۱۰۰ ـ ۲۰۰) تنو پوری وي. د هلمند جګړه د ورځپاڼو د سرمقالو څخه لیری نه شوه. احتیاطي پوځي، سیبیستن میرنیلد [۸۵] په بیرني توګه هلمند ته را وغوښتل شو، نوموړی د هلمند د عملیاتو په تړاو ځان مصون نه احساسولو. کله چې نوموړی ډنمارک ته راوګرځیدي، د پولیټیکن ورځپاڼي ته یې وویل چې ډنمارکي پوځیان د دندي له پاره ښه تیار شوی نه وو. نوموړی وویل: «ناخبري او ډار تر زغم وتلی وو. ایا د ژوند د لاسه ورکول د داسي یو موضوع له پاره چې په ما هیڅ اړه ونه لري، د دي ارزښت لري؟ یا دا چې د وروستني ژوند معیوب و اوسم؟» یو اندیښمن او وارخطا سرتیري کولای شي چې غیري منتظره بدبختي رامینځته کړي. خو په سلګونو کورنی چې سرتیري یې جګړې ته لیږلی دي، څنګه غبرګون به وښیي؟ دوي ورځي وروسته کیپټان مایکل هوفمین [۸۶] د افسرانو د اتحادیې په مجله کي د بحث له پاره موضوع ولیکل. نوموړی خبرداری ورکړي چې په هلمند کي د ډنمارکي سرتیرو وسایطو درست محافظتي چتر نه درلودي. د دوي وسایط دوهمه درجه وو. د سپټمبر پر (۴) نیټه د دفاع وزیر سیون ګیده هلمند ته سفر وکړي. د سیاسي او رسنیو د فشار په پایله کي وزیر اړ شو چې سفر وکړي. پلان دا و چې د دفاع وزیر د لویو موزو سره په دښتنو کي د سرتیرو د ملاتړ په خاطر وخوځیږي. د دفاع وزیر د نارینه په حیث چې خپله هلته ولاړي د سرتیرو د ملاتړ په خاطر لیږي راوغړي. د وزیر سره د بیرلینګس تیدنه د ورځپاڼي په پوځي چارو کي یو باتجربه ژورنالیست کریستین بریونډوم [۸۷] او د ټي وی ـ ۲ [۸۸] د تلویزیون یو ګروپ ورسره ملګري وو. بریندوم او ملګرو یې د بروکسل او کوپنهاګن څخه د بیرلینګس تیدنه په لومړی پاڼه کي د (ډنمارکي سرتیري په لومړی لیکه کي د طالبانو په نیولو لګیاه دي) تر سرلیک لاندي لیکنه خپره کړه. په لیکنه کي بیان کړل چې څنګه لارس یوهنسن د ډنمارک د مخکښانو سرتیري د طالبانو پر ضد په جګړه کي ګومارلي دي. په بله ورځ یې د بریلینګس تیدنه له لوری د دفاع د وزیر سره لنډه مرکه وکړه چې هغه داسي وویل:« پر ما ډیر بده اغیزه ښندي چې زموږ خلکووایي چې ډنمارکي پوځیان د ورکړل شوي دندي د عهدې څخه وتلای نه شي او یا وایي چې غلط جنګي وسایل لري. دا خبره درسته نه ده که د سرتیرو څخه پوښتنه وشي، دوي راضي دي.» مخکی چې د دفاع وزیر هلمند ته ولاړ شي، هغه یو ځانګړی مشاور، یعقوب وینټر [۸۹] درلودي. دوي د سفر په جریان کي یوه اوږده لیکنه وکړه او تر راتګ وروسته یې د وزیر د مرکي سره یوځای په بیرلینګس تیدنه ورځپانه کي خپره کړه. په لیکنه کي پر هغو سیاستوالو او تبصره کوونکو سخت برید شوی وو چې د موسی قلعه تر پیښي وروسته یې د ډنمارکي پوځ ګډون او فعالیتونو باندې په هلمند کي نیوکي کړې وي. نوموړی لیکلي و چې ټوله دغه تبصرې د سوء تفاهم، د ناخبري او د بی حوصله ګی څخه سرچینه اخلي. د سرتیرو د خواخوږی نه درلودل او په پوځي ستراتیژي نه پوهیدلو باندې دلالت کوي.

---

[۸۵] - Sebastian Mernild

[۸۶] - Michael Hoffmann

[۸۷] - Christian Brøndum

[۸۸] - TV2

[۸۹] - Jacob Winther

د دفاع وزیر علاوه کړه چې دا ډول څرګندوني د سرتیرو او په تولیزه توګه د روانو عملیاتو له پاره ډیرې خطرناکې دي، او هم د نورو هیوادونو باور پر ډنمارک باندې زیانمن کوي.

نوموړي علاوه کړه چې د نیوکو دغه حالت د دوي په مینځ کې څه ګټه رسولای شي؟ د ډنمارک صدراعظم د «دوشنبې سهار» په نوم اونیزه خپرونه کې د سپټمبر پر (۱۱) نیټه په ورته ډول څرګندوني وکړې او علاوه یې کړه: «هر ځل چې څوک د نس درد پیدا کړی، خطرناکه دي. ځکه ترهګرو ته مورال او قوت بخښي او داسې اټکل کوي که یوڅه نور فشار هم وارد کړي، موږ به د افغانستان څخه وتلو ته اړ باسي. کله چې د دفاع وزیر د سپټمبر پر (۶) نیټه د افغانستان د سفر څخه هوایی ډګر ته راورسیدي، سمدلاسه په صحرایي یونیفورم کې د ډنمارک د دوهم تلویزوني چینل د سهارنی په خپرونه کې راښکاره شو. د ډنمارکي پوځیانو د زیاتو هلو ځلو یادونه یې وکړل او دا یې هم وویل، ولې موږ غواړو په افغانستان کې نورهم پاته شوو؟ کله چې د دفاع وزیر د پولیټیکن د ورځپاڼې د خبریال، سبیستین میرنیلد سره مرکه پای ته ورسیدل، د سوسیال ډموکراټانو د دفاع کمسیون مشر، پیر کاولوند [۹۰] د غونډې غوښتنه وکړه. په همهغه ورځ چې د دفاع وزیر د هلمند څخه راغي، غونډه جوړه شوه. په غونډه کې د دفاع وزیر هغه لیک چې د ځان سره یې راوړی و، غونډې ته ور وښودي. لیک د هغه پوځي واحد لخوا و کوم چې انتقاد کوونکي، سبیستین میرنیلد هلته خپل دعسکري دوره تیره کړی وه. لیک د مشر سرجنټ هینریک ینسن لخوا لاسلیک شوی و، لنډیز یې ولولئ: «هرځل چې موږ یوه لیکنه لولو او خوله مو بدخونده شي، نور یې پټولای نه شوو. موږ نه شوی کولای چې پر کوچنیو درواغو سترګې پټې کړو. موږ نور زغم نه لرو چې زموږ پر هڅو او بریو باندې شکونه شتون ولري. موږ به نور چوپ پاتې نه شوو.» کله چې لیک ولوستل شو، د سوسیال ډموکراټانو د دفاعي چارو د کمسیون مشر، پیر کاولوند خپلې نیوکې واخیستلې او د دفاع وزیر پر بیان یې رضایت څرګند کړي. وروسته بیا د ګوندونو له لوري د افغانستان پر معضله چې د ډیرو ګوندونو لخوا د سرتیرو لیږل تصویب شوی وو، نیوکې ونه شوي. تر یوې میاشتې وروسته د دفاع وزیر مشاور، یعقوب وینتر د انفرمیشن د ورځپاڼې سره خپل نظر د بحث له پاره داسې څرګند کړي: «په تولیزه توګه باید سیاستوال خپل بحثونه د عام ولس په اطلاع ورسوي. دا د دوي دنده ده او د ډموکراسۍ یو زرین اصل دي. خو ځانګړي حالات پیښیدلای شي چې د سرتیرو امنیت ته ګواښ وي او هغوي کمزوري کړي.» یعقوب وینتر موسی قلعه د بیلګې په توګه یاده کړه. خبره دا ده که طالبان پوه شي چې د دوي بریدونه ډنمارکي پوځیانو ته درانه تامیرې او د پوځیانو څخه سیاسي ملاتړ لړزانده دي نو حتماً خپل بریدونو ته زور ورکړي.

موګنس لویکه ټافټ په ۲۰۰۶ زکال په ډیرو خرابو دلایلو کوښښ وکړي چې ډیموکراټیک بحث تر فشار لاندې راولي. نوموړي د جګړې مخکښانو، امریکا او انګریزانو ته موضوع محول کړل او ویې ویل چې دوي هروخت په بحثونو کې د جګړې پر حقانیت خبرې کوي. نوموړی علاوه کړه: زما په نظر باید کوم سرحد شتون ونه لري چې پر کومه موضوع د عامو خلکو په حضور کې بحث کیږي، البته تر هغه کچې چې داسې معلوماتونه رسوا نه شي چې د دښمن سره مرسته وکړي.» اوس نوموړی دا منی چې حکومت بریالی شو چې د نیوکو ډک بحثونه د ډیرو کلونو له پاره ودروي. د حکومت پلمه د سرتیرو د امنیت په تړاو وچلیدل.

نوموړی وایي: «همدا یې موخه وه. خو موږ څو ځله هڅه وکړه چې ووایو، د سرتیرو انتقادول زموږ موخه نه ده. څه چې موږ نیوکه وربانډې درلودل، سیاسي چارې وې.»

په موسی قلعه کې دوباره انګریزي سرتیري ځای پر ځای شول چې د ښار څخه دفاع وکړي. په ۲۰۰۶ زکال د اکتوبر په میاشت کې جنرال ډیوډ ریچاردس بریالی شو چې د سپین ږیرو د شورا سره یو تړون لاسلیک کړي: «پوځیان به د ښار څخه ووزي که د سیمې خلک په خپله د ښار امنیت ټینګ کړي او پرینږدي چې طالبان ښار تر خپلې ولکې لاندې راولي.» د سرتیرو ایستل او یا د سولې تړون د ډنمارک په بحثونو کې کومه اغیزه نه درلودل. د دفاع وزارت پوهیدي که کوم ډنمارکي سرتیري ووژل شي یا بل ډراماټیک څه پیښ شي نو حتماً به بیا سیاسي بحران رامینځته شي. په همدغه علت د دفاع وزارت د ګوندونو مشران راوبلل چې د سرتیرو څخه لیدنه وکړي. دا بلنه یوازې ژورنالیستانو ته نه وه، بلکې سیاستوال هم باید په خپلو سترګو د سرتیرو دندې ووینې. د ښې لیبرال ګوند (حکومتي ګوند) ، ګیټه لیله لوند بیچ [۹۱] چې د بهرنۍ چارو د شورا مشر وه، سیون ګیده د خپل ګوند دغه مشرې ته وویل چې د سیاسي مشرانو د سفر او لیدنې ترتیبات ونیسي. د رسنیو څخه په سفر کې څوک نه وو. د ګوندونو مشران باید په ارامۍ سره د سرتیرو حال ووینې او ارزونه یې وکړي. د ۲۰۰۶ زکال د نومبر پر (۲۰) نیټه د سهار پر (۸) بجې ، سیاسي مشران او نور لوړپوړی چارواکي د کوپنهاګن په (کیسټروف) نړیوال هوایی ډګر کې حاضر شي. د عادت له مخې باید ډیرو مشرانو دغه سفر ځنډولی وای خو تر ټولو مهمه وه چې د سوسیال ډموکراټانو مشره، تورنینګ سمیټ (اوسنۍ صدراعظمه) او د ډنمارک د خلکو د ګوند مشره، پیا کیس ګورد د سفر له پاره تیارې وې. دغو دواړو ګوندونو هر یو ګوند په خپلو دلایلو د هلمند عملیاتو ته د پوښتنې علامه کښیښودلې وه. دا هغه وخت

[۹۰] - Per Kaalund

[۹۱] - Gitte Lillelund Bech

و چې جګړه په موسی قلعه کې ډېره توده وه. بله مهمه موضوع دا وه چې د پورته دوو ګوندونو مشران هیڅ وخت د استول شوو سرتیرو سره لیدنه کړی نه وه. د حکومت له پاره ښه دا وه چې د اتو مشرانو څخه پنځه ښځې وې. د ښځو د ازادي په خاطر هم موږ باوري وو چې د افغانستان د جګړې له پاره سیاسي ملاتړ دوام مومي. د هیله ترنینګ سمیت او پیا کیسګورد سربیره دغو ښځو هم د کیڼ راډیکال ګوند څخه، لونه ډیوب کیا [۹۲] د ښی لیبرال ګوند څخه ګیتالیله لوند، د ځان ساتو(کنسرویټیو ګوند) څخه پیا کریسمس میولر[۹۳] په سفر کې ګډون وکړي. د نارینوو څخه ځان ساتو د ګوند څخه الان نیبوهر [۹٤] د ښیِ لیبرال ګوند څخه ینس هالډ میډسن [۹٥] او د سوسیال ډموکراټانو څخه پیر کاولوند د سفرغړي وو. د خلکو د سوسیالیست او د یو موټي ګوندونو څخه په سفر کې کوم استازی برخه وا نه خیستله. سفر د یو ناوړه خوب په څیر و. کله چې هیت په دوبی کې د شپې لخوا کوز شول، نو ډنمارکي الوتکې ته منتظر پاته شوه ځکه الوتکې تخنیکي ستونزې درلودې. د هیت غړي په یو لوکس هوټل کې ځای پر ځای شول خو د دفاع او د بهرنیو چارو وزیرانو د ستونزې د حل له پاره هڅې پیل کړي. دوي کولای نه شوای چې هر ډول الوتکه کرایه کړي ځکه باید الوتکې د راکټ په مقابل محافظتي سیستم درلودلای. د شپې په اوږدو کې بریالي شول چې د متحده اماراتو یوه الوتکه قرض کړي تر څو هیت افغانستان ته ورسوي. د باسټیون د کمپ د خوب په خیمه کې هیت ځای پر ځای شول. نارینه او ښځې په جلا خیمو کې وه. د هیت ښځینه غړو د لومړی ځل له پاره وازمویل چې تشناب ته د اوسپنیزې خولۍ، زرې واسکټ، د تشناب چپنه او د تشناب اتول او نورو وسایلو سره رواني وې. دوې مخکښې سیاستوالې ډېرې تر اغیزې لاندې راغلې وې. د هیت نورو غړو وویل چې تورنینګ سمیټ او پیا کیس ګورد، احساس تر اغیزې لاندې راغلي وو او د کمپ فعالیتونو ته ګوته په غاښ وو. د هیت غړو ته د زرې واسکټ د اغوستلو په صورت کې اجازه ورکړل شوه چې یو لنډ چکر د موټر په واسطه په هغه سیمه کې ووهي چې په میاشتو د دښمن د فعالیتونو څرک لیدل شوی نه دي. سیاستوالو د پراخو دښتونو څخه انځورونه واخیستل او ویډیويي فلمونه یې ډک کړی کله چې موټر د تګ په حال کې و، د هیت غړو ته اجازه ورکړل شوه چې په دښته کې لږ پر پښو وګرځي. د سرتیرو په مینځ کې مشهوره د سوسیال ډموکراټانو نوی مشر وه. د سیاستوالو تر مینځ د ستراتیژۍ او پوځي حالت په باب بحث نه کیدي. دوي ټولو د سرتیرو د کورنیو د اړیکو په تړاو بحثونه کول. د دوي تر مینځ د ملکې مرستو په تړاو هم بحثونه وشول چې ولې تر اوسه پورې پیل شوی نه دي. د عملیاتو د قوماندې مرکز په خپله ویبپاڼه کې د سیاستوالو سفر و افغانستان لوی بریالیتوب وګڼي. کله چې هیت د نومبر په (۲۳) نیټه د شپې پر (۲۳) بجې ډنمارک راورسیدي، پوځي چارواکو د انځورونو او ویډیوګانو څخه منظم کلکسیون جوړ کړي او د رسنیو په واک کې ورکړي. د ډنمارک دوهم تلویزیوني چینل [۹٦] د تیر ځل په ډول وغوښتل چې په سهارنۍ خپرونه کې د دفاع د وزیر سره مرکه وکړي، خو هغه ښه وبلله چې مرکه د هیله تورنینګ سمیت او پیا کیاسګورد سره وشي. کله چې پورته دوې دګوندونو مشرانې د تلویزیون په سټډیو کې د مرکې له پاره کښېنستلې، د دوي شاته هغه ویډیو ګانې چالانه وې چې دوي اوسپنیزې خولۍ پر سرونو او زرې واسکټونه یې اغوستي وو. مرکې (۷) دقیقې وخت ونیوي. دواړو په مرکه کې د سرتیرو د شهامت او د دغه عملیاتو د ارزښت په اړوند خبرې وکړې او جوته یې کړه چې موږ د سفر څخه ډیر شیان زده کړه. د مرکې په پیل کې تلویزیوني چینل د هیله تورنینګ سمیت یوه لنډه ویډیو چې د پوځ د رسنیو په مرکز کې ناسته ده، وښودل. په ویډیو کې ښودل کیږي چې د ګوند مشره په دښت کې د موټر په واسطه ګرځي او وروسته د یو سرتیري او افسر سره خبرې کوي. پیا کیاسګورد د یو سرتیري کیسه کوي چې خپل میرمن او کورنۍ یې ډیر یادیږي. پیا کیاسګورد هغه کسانو ته چې د دې ګوند ته وټونه ورکوي وویل: « په میلیونونو کډوال افغانان بیرته خپل هیواد ته ستانه شوي دي نو ځکه د افغاني کډوالو له پاره په ډنمارک کې شرایط بدلون کوي.» د دفاع وزیر د سیاستوالو د سفر څخه ډیر راضي و. په ځانګړی توګه د دفاع وزارت د هیله تورنینګ سمیت د سفر څخه ډیر راضي و ځکه نوموړې ډیرې ښې تجربې د ځان سره راوړی وې. سرتیري د نوموړې څخه ډیر خوښ وو. تر ټولو ښه خبر دا و چې د ګوندونو دغو دواړو مشرانو وویل چې د هلمند عملیات به دوامداره وي. پیا کیسګورد وویل چې کیدلای شي دا جګړه (۲۰) کاله وغواړي خو هیله تورنینګ سمیت د مرکې په وخت کې ډیر احتیاط کاوه نو ځکه نوموړې وویل کیدلای شي دا عملیات د (۵ ـ ۱۰) کلونو وخت ته اړتیا ولري. دواړې مشرانې د لوړې بیې ورکولو ته تیارې وې. د دفاع وزارت مشاور داسې وانګیرل چې د دواړو مشرانو خبرې د سرتیرو د عملیاتو د پاره د افغانستان په جنوب کې ګرانښې و. د سوسیالیست ګوند د مشر، هولګر نیلسن د وینا له مخې دغه سفر د نوی صدراعظمې، هیله تورنینګ سمیت له پاره ډیر ارزښتناکه وه. نوموړی وایي د دفاع وزارت ډیر ښه سرمایه ګذاري وکړه ځکه د ډیرې مودې له پاره سوسیال ډموکراټان چوپ وو. د هیله تورنینګ سمیت مرکه په تلویزیون کې د افغانستان جګړه د اوږدې مودې له پاره د سوسیال ډموکراټانو د تایید وړ وګرځول. هولګر نیلسن ارزونه کوي چې په ډنمارک کې د جګړې په باب بحثونه د نورو ناټو هیوادونو سره ډیر توپیر درلودې ځکه په نورو

[۹۲] - Lone Dybkjær

[۹۳] - Pia ChristmasMøller

[۹٤] - Allan Niebuhr

[۹٥] - Jens Hald Madsen

[۹٦] - TV 2

هیوادونو کې پر جګړې ډېرې نیوکې کیدلې. د سوسیال ډموکراټانو لوړ پوړو چارواکو هم ورته ارزونه کړې ده. دوی وایي چې د عراق جګړه تر ډېرو نیوکو لاندې وه نو ځکه د هلمند څخه پاملرنه بل لورې ته اوښتې وه. هیله تورنینګ سمیت او پیا کیسګورد نه غوښتل چې د دغه کتاب له پاره زموږ سره مرکه وکړي. د ډنمارکي هیت د سفر څخه دوي میاشتې وروسته د طالبانو او انګریزانو د سولې تړون د موسی قلعه په تړاو مات شوو. د طالبانو ویاند وویل چې د ایساف ځواکونو د ۲۰۰۷ زکال د جنوري په میاشت سخت بمبارد وکړي چې ډېر جګړه مار یې ووژل. مانا دا ده چې بهرنیانو پریکړه تر پښو لاندې کړه. د فبوري د میاشتې په پیل کې جنرال دان مکنیل [۹۷] په افغانستان کې د پوځونو مشرتوب په غاړه واخیست. نوموړی غوښتل چې د طالبانو بریالیتوب په موسی قلعه کې ووینې. د ښار خلک یې تښتې ته اړ کړل، د سپین ږیرو د شورا غړې یې د ښار په مینځ کې په برقي پایو (ستنو) وځړول. د ایساف نوي مشر ژر د بم دان مکنیل نوم تر لاسه کړي. د موسی قلعه د طالبانو مشر، ملا غفور کوم چې ښار یې نیولی و، څو ورځې وروسته په هوایي بمباریو کې ووژل شو. امریکایې جنرال د زور ستراتیژي د مخالفانو په مقابل کې وکاروله. نوموړی تر مخکنی قوماندان قوي ښکاریدی. د ملاتړو هیوادونو پوځیان د یوه کال په جریان کې تر دوه برابره زیات شول، خو د امریکا دسرتیرو د زیاتې شمیرې څخه مننه کوو. جنرال دان مکنیل تقریباً ۳۳۰۰۰ د ایساف سرتیري او ورسره ۸۰۰۰ امریکایې سرتیري د ازادی [۹۸] د عملیاتو له پاره په واک کې درلودل. د ۲۰۰۷ زکال په پسرلي کې نوموړی جنرال د نوی عملیاتو اعلان وکړي. بیا هم لس میاشتې تیرې شوی تر څو د ایساف ځواکونو او د کابل حکومت پر موسي قلعه واک پیدا کړي.

---

[۹۷] - Dan McNeill

[۹۸] - Opreation Enduring Freedom

## د ۲۰۱۱ ـ ۲۰۱۲ زکلونه

د ۲۰۰۶ زکال پسرلی: د دفاع وزارت څارګرې ادرې په ګرشک کې یو اجنټ درلودي چې د ښکاري سرتیرو تر ساتني لاندې و. دغه اجنټ باید د سیمې معلوماتونه راټول کړی وای.

د ۲۰۰۶ زکال د اکتوبر میاشت: انګریزي سرتیرو په غلطي سره و کندهار ته نژدې (۹) ملکي وګړي ووژل.

د ۲۰۰۷ زکال پسرلی: ډنمارک غیري رسمي ګرانټي واخیستل چې د ډنمارکي پوځونو یو جنګي دلګی به د هلمند مرکزي برخه و ګرشک ته نژدې کنترولوي.

د ۲۰۰۷ زکال د جون لومړی نیټه: د ډنمارک پارلمان تایید کړه چې (۶۴۰) سرتیري په ځانګړی توګه ګرشک ته ولیږل شي.

د ۲۰۰۷ زکال د اګست په میاشت کې: د ډنمارک اساسي پوځیان کمپ پریس [۹۹] ته را ورسیدل. ډګروال کیم کریستنسن [۱۰۰] او جګړن اندریس سټورروډ [۱۰۱] د ریګستان څخه لیدنه وکړه.

د ۲۰۰۷ زکال د سپټمبر ۲۷ : د لومړی ځل له پاره ډنمارکي سرتیري د زنبولي په کلی کې په جګړه کې ښکیل شول.

د ۲۰۰۷ زکال دسپټمبر ۲۶ : دوه ډنمارکیان هغه وخت مړه شوه چې د انګریزانو راکټ د دوي په موقعیت ولګیدي.

د ۲۰۰۷ زکال د اکتوبر ۱۵ : جګړن اندیرس سټورروډ د شمال خواته په ریګیستان کې د بمب په یوه پارچه ټپي او یوه ورځ وروسته مړ شو.

د ۲۰۰۷زکال د نومبر ۲۹ : دوه ډنمارکیان د انګریزانو د ګیبرالټار [۱۰۲] د پوځي مرکز سره په سخته جګړه کې ووژل شول.

د ۲۰۰۸ زکال د فبوري ۲ : د ارماډیلو [۱۰۳] پوځي مرکز پرانیستل شوو. دغه پوځي مرکز د ګیبرالټار څخه پورته واقع و. د دغو پوځي مرکزونو د جوړیدو موخه دا وه چې د طالبانو خوځښت د شمال د لوری څخه بند کړي.

د ښکاري پوځیانو جامې افغانانو ته ورته وي. کمیس، لنګوټه او پراخ پرتوګ کوم چې سرتیرو کولای شوای تر دغو جامو لاندې زري اوسپنیز جاکټ او وسلې پټې کړي. د دباندې څخه د

دوي دوه ټویوټا موټران وو چې په افغانستان کې د خلکو ډیر خوښ دي. خو په لاندې برخه کې ماشین، ټیرونه او ګیربکس ډیر قوي جوړ شوی و. د موټرانو د حرکت فشار کومه ستونزه نه وه چې یو کوچنی دلګی ښکاري سرتیرو خپل اجنټ په مستعار نوم (ایریک) [۱۰٤] چې د پوځ په څارګرې ادرې [۱۰۵] یې اړه درلوده، په هلمند کې ګرځاوه. دغه عملیات د ۲۰۰۶ زکال په پسرلی کې تر سره شول. ډیره کوچنی کړی د دفاع وزارت د عملیاتو د مرکز او د پوځ د څارګرې اداری څخه د ګرشک د سیمې څخه د معلوماتو د راټولو د ارزولو په پروګرام کې شامل وو، ځکه لږ وخت وروسته ډنمارکي پوځونو په دغه سیمه کې عملیات کول. دعملیاتو د مرکز او د پوځ د څارګرې اداري تر مینځ ګډ کار د اړتیا په خاطرکیدي. په نورمال ډول د مخکښانو پوځي دلګی د عملیاتو د مرکز او یا د دفاع وزارت تر امر لاندې وي. د راز د پټولو په خاطر د مخکښانو دلګی چې د اجنټانو ساتنه او څارنه یې کوله، د پوځ په څارګرې اداري پوري وتړل شول چې په نیغه ددفاع د وزیر او د اړوند ډیپارټمنټ تر امر لاندې وي. د سرچینو د معلوماتو له مخې په لنډ مهاله توګه د پوځ د عملیاتو د قوماندې مرکز د دغه

۹۹ - Camp Price
۱۰۰ - Kim Kristensen
۱۰۱ - Andres Storrud
۱۰۲ - Base Gibraltar
۱۰۳ - FOB Armadillo
۱۰٤ - Eric
۱۰۵ - FE

مسوليت څخه خلاص شو چي پټو معلوماتونو ته لاسرسی ولري او مسوليت يي ور په غاړه وي. که د پارلمان کوم غړي وغواړي چي د دغو پټو عملياتو په تړاو معلومات وغواړي، د دفاع وزير او څارګره اداره د معلوماتو ورکولو څخه د ډنمارک د امنيت او د عملياتو د رازونو د بربنډ نه کولو په خاطر ډه ډه کولای شي. يوازې د پارلمان امنيتي کمسيون او هغه سياستوال چي د څار د کمسيون غړي دي، په پرنسيپ کي کولای شي د دغو معلوماتو څخه خبر شي. دا په نظر کي نيول شوی نه وه چي د ډنمارک د مخکښه سرتيرو دلګی به دا ډول دنده په ګرشک کي اجرأ کوي. د ډنمارکيانو جامي ډيرې ښي نه وي خو سل په سل کي د شپې په تاريکي او د څراغونو په نه شتون په واټونو پورې تړاو درلودې. سره د دي چي دوي لوی ړيرې درلودې خو د وجود د جوړښت، سترګو او د پښتو په ژبه ګډوډې خبري کول د دي باعث کيدل چي وپيژندل شي که په تصادفي توګه د محلي خلکو له خوا درول شوی واي. که چيرې خبره رسوايي ته شوی وای، د موټروان څنګ ته نقد (۵۰) ډالری نوټ پروت و چي رشوت ورکړي، مخکي له دی څخه چي د مخکښه دلګی سرتيري د وسلي څخه کار واخلي. سره د دي چي ډنمارکيانو په هغو سيمو کي عمليات کول چي د افغاني امنيتي ځواکونو تر واک لاندې وې، خو بيا هم د خطر کچه لوړه وه. ډنمارکيانو بايد افغاني مقامات په خپلو پټو عملياتو کي شريک کړی نه واي. دا ځکه چي کيدلای شوای چي معلوماتونه غلطو کسانو ته رسيدلي واي چي زموږ افغاني اجنټانو ته د مرګ خطر پيښيدي. په خرابو حالاتو کي داسي هم پيښيدلای شوای چي زموږ افغاني اجنټان او د دوي ساتونکي د طالبانو او يا د هغوي د ملاتړو د کمين سره چي د افغانستان په جنوب کي ډير واک درلودې، مخامخ شوی واي. که ناڅاپي پيښه شوی وای د تيښتي لار سنجول شوی وه. موټرانو په دوامداره توګه يو د بل سره مخابراتي اړيکي درلودې خو د موټرانو د پيژندلو له پاره په څراغونو کي ځانګړې ځايونه خراب شوی وو. دوي ماشينګړې، توپانچې او لاسي بمونه درلودل. تر چوکيو لاندې د تيښتي يوه يوه بسته پرته وه چي په بسته کي اضافي مرمی، سټلايټ ټليفون، پيسي او ضروري غذا ور په کښي ځای شوی وه. دا د سرتيرو د ژوندي پاته کيدلو له پاره وه که دوي اړشوي وای چي د موټر څخه کښته او خپل ځان خپله وساتي. په ګرشک کي د مخکښانو سرتيرو په مينځ کي توماس راتساک [١٠٦] هم شتون درلودې چي په ۲۰۰۹ زکال هغه کتاب چي ډير وپلورل شو، د ( مخکښان د ځانګړو سرتيرو سره يو ځای په جګړه کي) [١٠٧] په نوم خپور شو. په کتاب کي د اجنټ ايرک سره د عملياتو په تړاو معلومات وړاندې شوی دي. په دغه څپرکي کي دا معلومات نه شته چي دا عمليات د افغانستان په کومه سيمه کي وه. د مخکښانو سرتيرو يو ځای کول د څارګرې ادارې سره هم بيان شوی نه دي. په کتاب کي د اجنټ مليت ته هم اشاره نه ده شوی او دا هم ويل شوی نه دي چي د راټول شوو معلوماتونو څخه چيرې ګټه اخيستل کيدل. د دفاع وزارت د مرکزي سرچينو د خبر له مخي اجنټ د پوځ د څارګرې ادارې څخه و، چي د نومورې د کار موخه د ګرشک په سيمه کي دا وه چي په هغه سيمو کي معلومات راغونډ کړي چي وروسته يي امنيتي مسوليت ډنمارکي پوځيانو ته سپارل کيږي. د ۲۰۰۶ زکال په جريان کي اجنټ ايرک او د هغه ملګرو معلوماتونه راټول کړل چي وروسته د انګريزانو د څارګرې ادارې چي په هلمند کي ډير فعال وو د معلوماتونو سره يو ځای شول چي د ډنمارکيانو د جګړه ايزو فعاليتونو له پاره د ګرشک په سيمه کي يو اساس شو. کله چي د جګړن لارس اوسليو يوهنسن سرتيري د ۲۰۰۶ زکال د اګست په مياشت کي د موسی قلعه څخه ووتل، نو په ټوليزه توګه د ډنمارکيانو عمليات په هلمند کي ارام شول. په اکتوبر کي د لارس د سرتيرو په عوض د مخکښانو د پوځي واحد بله ډله په هلمند کي ميشت شول. د هغوي د ټريننګ او وسلو سره برابره دنده ورته وسپارل شوه چي د موسي قلعه د کمپ تر ساتلو ځو برابره ښه دنده وه.

سرتيري د يو ګرځنده ډلي په توګه په هلمند کي مختلفو جګړو ته وليږل شول. انګريزي سرتيرو ته هم ځو ځله ملاتړي پوځونه وليږل شول. د يوه کال څخه په کمه موده په هلمند کي د لويديزو سرتيري دوه برابره شوه يانی د ۲۰۰۷ زکال په پسرلي کي په هلمند کي د بهرنيو سرتيرو شميره تر (۷۰۰۰) تنو څخه اضافه وه. د ډنمارکيانو د مخکښانو دريمي ډلي ته هم د دوي د ټريننګ برابره دنده وسپارل شوه. د ۲۰۰۷ زکال د جولای پر (۲) نيټه سرتيرو د هلمند په شمال کي څلور شکمن کسان ونيول. عمليات دير ډراماتيک نه وه.دا څلور شکمن افغانان د چورلکي په واسطه د باستيون کمپ ته انتقال شول، چي تر لومړنيو څيړونو وروسته د انګريزانو په جيلخانه کي واچول شول او وروسته دوي کيدلای شوای د افغانانو بنديخاني ته وسپارل شي. دا لومړی ځل و چي ډنمارکي سرتيرو په افغانستان کي د شکمنو کسانو د بندي کولو مسوليت پر غاړه اخيستي. د جګړې د پيل (۲۰۰۱) زکال د جنوري د مياشتي (ژ: زما په اند دا نيټه غلطه ده کيدلای شي د ۲۰۰۲ زکال د جنوري لومړی نيټه وي) څخه چي ډنمارکي ځانګړي پوځونه جګړې ته ورننوتل، د بنديانو ساتل او څيړني ورڅخه کول ډنمارکيانو ته ځانګړې ستونزې پيدا کړي. ډنمارکيانو د بنديانو د ساتلو او پوښتنو کولو ظرفيت نه درلودې نو اړ وو چي بنديان نورو بهرنيو ځواکونو او يا افغان حکومت ته تسليم کړي. د دفاع وزير، سيون ګيده د عراق څخه په زده کړه د بنديانو په تړاو د افغانستان د حکومت سره يو تړون لاسليک کړي. د ۲۰۰۵ زکال د جون د لومړی نيټه څخه وروسته يو ياداشت وليکل شو چي ډنمارکي پوځيانو په څه ډول بنديان افغاني مقاماتو ته تسليم کړی وای. افغانانو بايد دوه شيان جدی رعايت کړی واي:

[١٠٦] - Thomas Rathsack

[١٠٧] - Jæger – i krig med eliten

وروسته بندیانو ته باید د مرګ سزا ور نه کړل شي او ډنمارکیان په مختلفو وختونو کي په ناخبره توګه وکولای شي چي بندیان د افغانانو په زندانو کي وکتلای شي.

برسیره پر دي په افغانستان کي د بشر د حقوقو او د سره صلیب نړیوال سازمانونه د بندیانو د لیدلو حق ودرلودلای شي. کله چي د دفاع وزیر افغانانو ته خپل غوښتني بیان کړي، په څرګند ډول یي دا هم ورته وویل چي ولي زموږ د پاره دغه مسایل ډیر ارزښت لري:« موږ په طبعي ډول د سوله ساتو ځواکونو په توګه په نورو هیوادونو کي تجربي لاسته راوړي دي.» د پورته پریکړي پر اساس څلور افغانان بندیان شوی دي چي د لومړنیو تحقیقاتو وروسته د باستیون په کمپ کي د انګریزانو سره بندیان شوی دي. د عملیاتو د قوماندی د مرکز د معلوماتو له مخی دغه کسان تر تحقیقاتو وروسته خوشي شوی دي.

په ډنمارک کي د دفاع وزارت د عملیاتو د مرکز قوماندانی د بل قدم د اوچتولو له پاره په تیاری بوخت وو. هر وخت یو پلان شتون درلودي چي هلمند ته نور سرتیري ولیږل شي. لوی درستیز، یسپر هیلسیو غوښتنه درلوده چي ډنمارک یو مسقل کنډک ولري. د پوځ مشرتابه پلان درلودي چي سپما وکړي نو ځکه په افغانستان کي ډنمارکي سرتیري یو ځای سره راټول کړي او نور یي په کوچنیو ګروپونه مختلفو ځایونو ته تیت نه کړي. په هلمند کي د ډنمارک د اساسي پوځ برسیره ډنمارکي سرتیري په فیض اباد، چخچران، کابل او کندهار کي هم میشت وو. د ترانسپورټ ټوله لګښتونه کمیري که سرتیري په څو محدودو ځایونو کي ځای پر ځای وي. د ځانګړو کارپوهانو د کمښت ستونزه هم حل کیږي. دا مهمه نه ده چي څومره لږ سرتیري یو ځای ته ولیږل شي، خو بیا هم میخانیکانو، د مخابري ګروپ او د ناروغانو (ټیپانو) د درملني او لومړنیو مرستو له پاره پرسونل ته اړتیا شته. خو د سرتیرو د راټولولو علت سیاسي او پوځي اصلي دلایل دي. که چیری ډنمارک یو وخت په هلمند کي پوځي کنډک، غونډ او یا جګړایزه فعالیتونو له پاره یو ګروپ جوړ کړي، او د یوې سیمې مسولیت ور په غاړه وي لکه په عراق او کوسوو کي، نو پوځي مشران به په مسقلانه توګه د اجرأتو ښه قوت ولري. دا اړتیا به هم لیری شي چي د انګریزانو تر لاس لاندي یوه څانګه واوسو. ډنمارکیان هم غواړي چي په مرکزي قرارګاه کي پوځي مشران ولري. کله چي تیم سلوت ینسن د ایساف په مرکزي قرارګاه کي د جګړې د عمومي معلوماتو په غونډه کي ګډون وکړی، په ډیرو نقشو کي د ډنمارک بیرغ نه و. د ډنمارک پوځي واحدونه واړه وو او په مختلفو ځایونو کي تیت وو چي د انګریزانو او یا جرمنانو تر مشرتابه لاندې جګړه کوله. په چخچران کي ډنمارکي پوځیان د لیتوانیا د پوځ تر مشرتابه لاندې وو نو ځکه په نقشه کي د لیتوانیا بیرغ ښکاریدي. د ناروي او سویډن پوځیان د افغانستان په شمال کي په ارامه سیمه کي وو چي د دوي بیرغونه په نقشه کي ښکاریدل. یو لوی جګړه ایزه ګروپ تر وړو ګروپونو ډیر اغیزناکه دي. تیم ینسن وایي چي زموږ شتون به څرګند شي.

نور وړاندیزونه او پلانونه وو چي د ډنمارکیانو د فعالیتونو څرنګوالی په افغانستان کي وښیي خو دغه وړاندیزونو سیاسي حسیاسیتونه پاړول. کله چي په ۲۰۰۳ زکال د البورک ښکاري پوځیانو ته اعلان شول چي تاسو نه شي کولای چي پر عراق باندې په لومړی بریدونو کي برخه واخلي، د دغه پوځي واحد په مینځ کي اندیښني راوپارول شوي. یو کال وروسته دغه

پوځي واحد ته څو میلیونه کرونه اضافه بودجه منظور شي. د پنځو کلونو په جریان کي باید ۳۴۴ میلیونه کرونه اضافه سرمایه ګذاري وشي چي د ډنمارک ځانګړي پوځونو ته اضافه نفر ورکول شي، زده کړې یي ښې شي، نوي وسلې او نوي موټران ورته رانیول شي. پلان و چي ښکاري او د شنا پوځونه پراخ او د لوړ قابلیت درلودونکي شي چي د مستقل پوځي واحد په توګه د ډنمارک په استازیتوب په نړیوالو لویو عملیاتو کي برخه واخیستلای شي. دغه پریکړه پرته د اندیښني په څرګنده توګه د ډنمارکي ځانګړو پوځیانو د پرمختګ له پاره وه. بیا هم د ۲۰۰۳ زکال څخه تر ۲۰۰۶ کال پوري د دغو دوو پوځي ډلو پر شاوخوا څه پیښ نه شول. د ځانګړو پوځیانو کارونه مخفي وو خو بیا هم څرګنده وه چي د دغو دوو پوځي ډلو څخه د یوې اغیزناکې پوځي ډلي په توګه کار وانه خیستل شوو. په بدل کي د دي دوو پوځي ډلو څخه د ډیپلوماتانو او لوړپوړو چاراواکو د سفرونو په وخت کي بغداد او افغانستان ته د باډیګارډانو کار اخیستل کی دي. په بغداد کي څو کلونه یو دلګۍ ډنمارکي پوځیان د سفارت او لوړپوړو چارواکو د امنیت له پاره موظف شوی وو. یوه بله ډله د ځانګړو پوځیانو د هغو ډنمارکي پوځیانو ساتنه کول چي عراقي افسرانو ته یي زده کړې ورکولي. مګر پوځي مشرتابه او د ځانګړو سرتیرو ډلي غوښتل چي دوي د یوې مجموعي په توګه د یو پوځي قوت په ډول ولیږل شي تر څو خپل نوی زور وازمایي. کله چي ځانګړی پوځیان په ۲۰۰۲ زکال د افغانستان څخه راستون شول، ډیرې هڅې وکړي چي د مجموعي پوځي قوت په توګه ولیږل شي. د ښکاري پوځیانو قوماندان، هینریک فریس [۱۰۸] او د هغه مرستیال، لارس روبل [۱۰۹] نه غوښتل چي د پوځ قابلیت او نړیوال باور د پوځیانو د دندو د اجرأ کولو په تړاو په افغانستان کي په اهسته ډول له مینځه ولاړ شي. د دوي غوښتني او وړاندیزونه د پوځ د مشرتابه د پوهیدلو وړ وګرځیدلي خو نور څه ونه شوه. د پوځ د قوماندې مرکز نظر دا وو چي پوځ ته د ټولي پانګي اچوني څخه په کافی اندازه دوو ویشل شوو ډلو ته څه ونه رسیدل. دا کوم نوی نظر نه و. په ۱۹۹۹

۱۰۸ - Henrik Friis
۱۰۹ - Lars Robl

زکال دغه ډول وړاندیز وشوو خو د پوځ او د بحري قوتونو د مقاومت سره مخامخ شول. د بحري قواو د قوماندې مرکز ته د پوځ د لوی درستیز ډېر غصه ناکه لیک ولیکل شوو خو موضوع د میز په جعبه کې وساتل شول. کله چې په ۲۰۰۵ زکال لارس روبل د پوځ د قوماندې مرکز ته راوستل شو، دنده ورته وسپارل شوه چې یو ځل بیا د ځانګړو پوځیانو د تنظیم موضوع وڅیړي. پریکړه وشوه چې په پیل کې دی دغه دوې ډلې نژدې کار د ځانګړو عملیاتونو نوم لاندې سره وکړي چې مشري به یې د پوځ په پورته مشرانو اړه ولري. دا ډول جوړښت په ډېرو کوچنیو هیوادونو کې ازمویل شوی دي چې وروسته د مختلفو پوځي ډلو و یوځایوالي ته پرمختګ کوي. د دغې نظریې فلسفي اړخ دادي چې په موډرنو جګړو کې ځانګړي پوځي ډلې د یوې مجمومې ځانګړي وسایل دي چې باید د دفاع وزارت تر امر لاندې وي نه دا چې مشرتوب یې د وړو قوماندانانو په لاس کې وي. برسیره پر دی دا ډول تکړه سرتیري هغه وخت ډېره اړتیا ده چې نړیواله ټولنه د یو نړیدلي او ګډوډ هیواد سره پوځي مرستې کوي. خو دا ځل هم وړاندیز د ډېر مقاومت سره مخامخ شو چې د هیریدلو بکس ته وسپارل شو. لارس روبل وایي: دغه ډول احساس چې شتون درلودي، هر ډول دلایل بی ارزښته وو. داسې ښکاریده چې هیڅ شی باید بدلون و نه کړي. نو ځکه لارس روبل ته نوی دنده ورکړه شوه.

د ۲۰۰۶ زکال د اکتوبر د میاشتې په نیمايي کې د انګریزانو ځانګړي سرتیري د کندهار ولایت په یوه لیري ولسوالي کې د شپې لخوا پټ پراته وو. دوي ته ویل شوی وو چې یوه کلي ته ننوزي او د بمب جوړولو یو کارپوه طالب ونیسي او یا یې ووژني. د یوې چورلکې څخه چې د ختیئو کورونو پر شاوخوا راڅرخیدل، انګریزي سرتیرو ته خبر ورکړي چې څو ناپیژانده کسان ستاسو پر لوری در روان دي. د انګریزي سرتیرو قوماندان یوه بیړنی پریکړه وکړه. قوماندان امر وکړی چې پر دغه کسانو چې په قوی باور تیښتي، ډزي پری وکړي. د چورلکې د قوي ډزو څخه د کورونو چتونه والوتل، ریګ او ډبري د چورلکې د قوي باد په واسطه هر لوری ته تیت شوې او ناڅاپه د چورلکې څخه ږغونه وشوه، صبر، صبر، صبر! ښځې او واړه ماشومان دي. په پیل کې د چورلکې مسول شک نه درلودي چې څه ویني ځکه قوي دوربین ورسره و، سره د دي چې سیمه څو ساعته مخکې تر برید څخه تر قوي څار لاندې وه. خو بیا هم د ایساف ځواکونه متوجه نه شول چې ملکي وګړي شتون لري. د یو بمب جوړونکي طالب کارپوه د نیولو څخه یوه غمیزه رامینځته شوه. (ژ: که پوځیان وحشي نه وي، هرڅوک چې د دوي لوري ته را روان وي، کیدلای شي د دریدلو امر ورته وکړي. که بیا هم ونه دریږي نو کیدلای شي، ډزي وربانديې وکړي. په نیمه شپه کې پر کورونو بمبار چې چتونه یې والوزي، یو احمق هم پوهیږي چې په کورونو کې ښځې او ماشومان شته. بله هره پلمه یوازې د وحشت ښکارندویې کوي او بس.) خو مځکنیو عملیاتو دوام وکړي. انګریزي پوځونه یو کور ته ننوتل او په پلټنو یې پیل وکړي. په دغه لوي کور کې پوځیانو ولیدل چې یو سپین ږیري سړی ځان په دیوال پوری ټینګ نیولی دي او دوه زلمیان (واړه ځوانان) یې په سینه پوري مښلولي دي. پر مځکه د دریو ښځو جسدونه پراته وه کوم چې د چورلکې په ډزو وژل شوې وې. یو سرتیري پر سپین ږیري او دوو هلکانو باندې څارنه کوله او نورو سرتیرو تلاښې ته دوام ورکړي. ناڅاپه یو ځوان راپورته شو. نوموړی لاسونه تر بړستن لاندې پټ کړی وو، خو دا ناممکنه وه چې سړی وپوهیږي چې ځوان تر بړستن لاندې وسله پټه کړی ده که یا؟ په یوه شیبه کې انګریزي سرتیري ډزي وربانديې وکړې او ځوان یې دري ځایه وویشتي خو معلومه شوه چې دغه ځوان بی وسلې و. (ژ: د دغه جملو د ژباړولو په وخت کې مې سترګې لندې شوې او د انګریزانو وحشت ته ګوته په غاښ شوم.) د چورلکې څخه بیا خبر راغي چې نامعلوم شمیر خلک د کور پر لوري در روان دي. په همدغه وخت کې د چورلکې تیل د خلاصیدو په حالت کې و، نو باید بیرته خپل مرکز ته ګرځیدلي واي. انګریزي سرتیرو په بیړه د کور تلاښې پای ته ورسول، پرته د دي چې بمب جوړونکي کارپوه طالب پیدا او یا یې ووژني. برتانوي رسنیو د عملیاتو په تړاو څه خپاره نه کړه خو په افغانستان کې ډېر بحثونه وربانديې کیدل. د کلي اوسیدونکي والي ته ورغلل او غوښتنه یې ورڅخه وکړه چې د موضوع په تړاو باید ژورې څیړنې وشي. په هغه وخت کې د ډنمارکي پوځونو مرستیال، لارس روبل د کاناډايي پوځیانو سره په ګډه تلاښونه او هڅې وکړي چې په راتلونکي کې داسې تراژیدې پیښه رامینځته نه شي. څو کلونه وروسته د ډنمارک د پوځ د قوماندې مرکز، لارس روبل د ناټو پوځونو سره بیا افغانستان ته واستول شو. نوموړي یو ځای د انګریزي پوځیانو سره د

افغانستان په جنوب کې د ځانګړو عملیاتو [۱۱۰] د پلان جوړولو او تنظیمولو له پاره موظف شو. د اسنادو له مخې او د لارس روبل د خبرو څخه چې د انګریزي پوځیانو سره کړی وي، څرګندیږي چې عملیات باید د قوانیو او مقرراتو له مخې وشي. د طالبانو د بمب جوړولو کار پوه په لست کې شامل و چې یا ونیول شي او که اړتیا وي، ووژل شي. کله چې د نوموړی طالب استوګنځي مشخص شو، نو د څار دلګی ته دنده وسپارل شوه، باید هڅه وکړی، چې په شاوخوا کې ملکي وګړي شتون ونه لري چې زیان ورته ورسیږي. لارس روبل وایي چې په دغه تړاو څرګندو مقرراتو شتون درلودي چې موږ څه کولای شوو او څه باید و نه کړو.

ولسمشر حامد کرزي موږ ته دولس څومادېې لست راکړی وو چې د دغه ډول ځانګړو عملیاتو (ونیسه او یا یې ووژنه) په وخت کې د ایساف ځواکونه باید هغه عملي کړي. په ځانګړو حالاتو کې د ځینو پیښو په تړاو باید د ولسمشر تایید واخیستل

[۱۱۰] - SOCE South, Special Operation Control Element South

شي، او همدا ډول د ځينو ځانګړو عملياتو په تړاو هم ولسمشر ته معلومات ورکول کيدي. د لارس روبل په قول دغه کارپوه طالب د کندهار اوسيدونکي و او د يوې موخې په توګه تاييد اخيستل شوی و.

انګريزانو د تراژيدي په تړاو د څلورو ملکي وګړو د مرګ خبر ورکړي خو د سيمې خلکو دا شميره نهه (۹) تنه ښودل. مرکزي ستونزه دا وه چې د کور په دننه کې اوسيدونکي کسان د کشف له خوا ليدل شوی نه وو. په کندهار کې د الوتکې څخه د برېښنايي کشفي وسايلو او د بی پيلوټه الوتکو کمښت وو. د وسايلو د کمښت په وجه څارونکو و نه کولای شوای چې د ودانۍ څخه (۲۴) ساعته څارنه وکړي. دوهمه لويه غلطی دا وه چې د وسايلو کمښت په اسنادو کې ذکر شوی نه وو کله چې لارس روبل، د نوموړی پوځي همکارانو او لوړپوړو چارواکو عمليات تاييدول. او وروستی خبره داده چې د الوتکې او د پوځيانو تر مينځ چې پر مځکه وو، مخابروي اړيکو تخنيکي ستونزه پيدا کړی وه. څېړني بايد په ژوره توګه شوی واي خو لارس روبل اړتيا درلودل چې د څیړونو تر پای ته رسيدو مخکی بايد هغه کسان چې برید پر شوي وو، بيان يې واوري.

دا هغه موضوع و چې د ژوندي پاته کيدلو له پاره لاره ولټوي. دا سيمه داسې يو ځای نه وه چې د ايساف سرتيري ازادانه وګرځيدلای شي. روبل ته څرګنده شوه چې سپين ږيري او هغه دوه واړه زلميان کندهار ته نژدې په يو روغتون کې بستري دي. سپين ږيري سړی، کريم نوميدي چې د خوځيدلو نه و خو نوموړی اړ و چې د ناروغې په کټ کې د بريد ناتار بيان کړي. دا يو ډير خطرناکه حالت و، بايد يو منظم پلان ورته جوړ شوی وای. لارس بايد باوري وای چې کريم په روغتون کې پاته شي. د دی چارې له پاره اړتيا و چې لارس د روغتون د مشر سره خبري وکړي. لارس روبل وايي چې د روغتون مشر خبر و چې موږ راغلي يوو او غواړو نوموړی د موضوع څخه خبر کړو. مخکې له دی چې لارس حرکت وکړي، سوچ ورته پيدا شو. « موږ بايد د ښار بلې سيمې ته ولاړ شوو. زه نه پوهيږم چې پر چا باور وکړم، احتمالاً بايد پر ټيپي شوو طالبانو چې په روغتون کې دي، باور وکړم. دا هغه ښه تجربه نه وه چې زه بايد ور سره مخامخ شم. د کريم غبرګون به څه وي؟» څو ورځې وروسته لارس روبل د چورلکې په واسطه پرواز وکړي او د الوتکې د کښته کولو په ځای کې کاناډايان د نوموړي د ساتنې له پاره منتظر وو. دوي پر يوه لويه لار د موټر په ذريعه ولاړل تر څو روغتون ته ورسيدل. لارس روبل او يو باوری ژباړن د يو افغان بزګر د ليدلو له پاره ورغلل. د روغتون بهر او د روغتون پر لارو د ساتنې له پاره سرتيري تيار ولاړ وو. لارس يوه پټه وسله د ځان سره درلوده. د روغتون په کټ کې يو سپين ږيری دهقان پرت و چې زوی يې ورته ناست و خو په پښه کې ټپي و. کريم د سينې پر شاوخوا بنداژ تړلي و او همدا ډول پر لاس او پښه ويشتل شوی وو خو خبري کولای شوای. د افغانانو له پاره دا ډيره مهمه وه چې ډنمارکي د افغان ځوان عيادت وکړي. لارس د دود مطابق ښه ارام کښينستي او د ټپي له پاره يې يوه وړه ډالی راوړی وه. بيا هم چاپيريال داسې نه وه چې ما يې انتظار ايستی. زه د داسې ارامي منتظر نه وم چې ورسره مخامخ شوم. فکر وکړی چې موږ به په داسې حالت کې څنګه غبرګون ښيوو. طبعی ده چې د نوموړی احساس تر سخت تاثير لاندې و خو هيڅ ډول قهر او غضب يې د ايساف د سرتيرو په وړاندې و نه ښودې. (ژ: ډنمارکيان د افغانانو احساسات درک کولای نه شی. هغه سپين ږيری د افغاني غيرت په وجه د ټپنو د درد څخه غبرګون ښودلی نه دی.) د کريم بيان په بشپړه توګه د نورومعلوماتو سره برابر وو. د روژې مياشت و. کريم د خپلې کورنی سره د شپې پر دوی ـ دري بجي (ژ: پيشلمې) د ډوډی خوړولو له پاره را پاڅيدلي و او وروسته د خوب کولو له پاره بسترو ته تللي وو. په دغه وخت کې بمبارد پيل کيږي. کريم د خپلو زامنو سره بهر ته ځغلي. زوی مې وويشتل شو او زه بيرته سرای ته ننوتلم چې د خپلې ميرمنې او دوو لوڼو مړي مې وليدل.زما بل زوی پر اوږه ويشتل شوی و، پر هغه مې برستن واچاوه چې تود شي. زه د دوو نورو زلميانو سره ديوال ته نژدې کښينستلم. په يو وخت کې انګريزان کوټې ته راننوتل. انګريزي سرتيرو سپين ږيری اړ ايستي چې ځان ونه ښوروي نو ځکه سپين ږيري سړی هيڅ کولای نه شواي، کله چې ځوان سړی د بړستن څخه پورته شو په لنډ واټن کې ډز پر وکړي. کريم نه منل چې د طالب دېمونو کارپوه او يا نور طالبان د دوي په کور کې پټ دي. سپين ږيري کريم ورته ويلي و چې موږ طالبان پټ کړی نه دي. او موږ د طالبانو سره هيڅ کار نه لرو. که موږ وسله درلوداي نو اوس به مو د ځانونو څخه دفاع کړی واي. لارس روبل اوس هم شک نه لري چې طالبان به په دغه کور کې نه وو خو زموږ څخه وتښتيدل. ولې روبل باور لري چې حتمي نه ده چې کريم او د دوي کورنۍ به د طالبانو سره مرسته کړی وي. دا نورماله خبره ده چې طالبان د کلي اوسيدونکي اړ باسي چې د اوسيدلو او پټولو ځای ورکړي. لارس روبل د کريم څخه پوښتنه وکړه چې بل څه غواړي؟ کريم ورته وويل چې زه عدالت او د حکومت مرسته غواړم. کريم ته تاوان ورکړل شو خو د کورنی ډير غړي د لاسه ورکړه. د ملکي تلفاتو د دقيقي شميرې اټکل ستونزمن کار دي خو کريم وويل چې د درو کلنو په جريان کې يو سړی، يو ماشوم او دوی ښځې هم وژل شوی دي. دغه معلوماتونه د الوتکو پرسونل د واقعيتونو د پيدا کولو له پاره کارول. د طالبانو د بمب جوړولو کارپوه وروسته د پاکستان د سرحد څخه د تيريدو په حال کې ووژل شو. د ۲۰۰۶ زکال په جريان کې د ناټو عمليات چې د طالب مشرانو د پيداکولو له پاره وو، په بدل کې د سيمه ايزو طالبانو سره د ناټو د جګړې ستراتيژي بدله شوه. تلاښ دا وو چې د طالبانو د قوماندې مرکز فلج کړي. دويکی ليکس د معلوماتو پر اساس د عملياتو په جريان کې په زرګونو طالبان ووژل او يا بنديان شول. په کندهار کې د ملکي وګړو وژل او د عملياتو ناکامي لومړی ځل نه و. د امريکايانو ځانګړو ځواکونو د عملياتو په جريان کې په ځانګړی ډول د شپې په عملياتو کې ملکي تلفات درلودل. هر ځل به چې غلطي پيښه شوه، ځانګړي ځواکونه او د ايساف پوځيان به تر فشار لاندې راغلل. د افغانانو په نظر غټه ستونزه د بهرني پوځونو د شپې عمليات وو.

ستونزه یوازې د ملکي تلفاتو موضوع نه وه. د شپې لخوا بې خبره د افغانانو کورونو ته د بهرنیو پوځیانو ننوتل هم لویه ستونزه وه. ښځو او پیغلو لونو امکان نه درلودي چې ګوښه شوی وای، په دغه صورت اسلامي او د پښتونوالی قوانین تر پښو لاندې کیدل.

د ۲۰۰۶ زکال په منی کې بیا د ډنمارکي ښکاري او د شنا پوځیانو ته امکان پیدا شوو چې د یو واحد پوځي قوت په توګه فعالیت وکړي. پلان ډیر څرګند خو غیري نورمال و: د افغانستان په جنوب کې تر سلو تنو ډنمارکي سرتیرو پورې د ښکاري او شنا پوځونو څخه باید د ایساف په پټو عملیاتو کې ګډون وکړي. دغه نابېرې جګړې ناټو حیران کړل. په دغه جګړه کې بیړنی مرستو(ریزرفي پوځونو) ته اړتیا و. ډنمارکیان ځکه باید ور سره وای چې د ایساف ځواکونو تر کنترول لاندې سیمې پراخه کړی وای. خو نورې دندې هم وې د بیلګې په توګه د طالبانو د مشرانو پیداکول او نیول. ډنمارکیانو باید د امریکایانو د ځانګړو پوځونو ټاسک فورس ۳۷۳ [۱۱۱]، یا د انګریزانو د ساس [۱۱۲] او اس بی اس [۱۱۳] د ډلو سره په ټاسک فورس ۴۲ [۱۱٤] کې ګډ کار کړی وای. د ډنمارک حکومت او پارلمان ډنمارکي پوځیانو ته د ډیرو شیانو اجازه ورکړه خو ځنې حالتونه یې استثنایي کړل. کله چې ډنمارکي جنرال د ۲۰۰۶ زکال د نومبر په میاشت کې خپل سرتیري په کندهار کې ملاقات کړل، لارس روبل خپل مشر، پاول کیاسکوو ته د پلان څخه خبر ورکړي. پاول کیاسکوو سوچ وکړی چې دا پوځي اړتیا ده. د ایساف مشر موږ غواړي. دا به موږ ته په نړیواله کچه مثبته نمره راکړي او دا به د ښکاري پوځیانو د پاره هم ښه وي. په پیل کې لارس روبل ولیدل چې پلان د لوړو پوړو پوځیانو له خوا ښه استقبال شوو. په پلان کې ډیرې غلطي او حساس ټکو شتون درلودي، چې باید د دفاع وزارت او سیاستوالو ورته د حل لار پیدا کړی وای. کله چې ایساف د طالبانو د مشرانو په لټه کې وې، باید ځانګړي پوځونه د حامد کرزي (۱۲) ټکي تعقیب کړي. سره د دې چې په پرنسیپ کې (۱۲) ټکي عملي شوی وو خو حامد کرزي کله کله ویل چې عملي شوی نه دي. کیدای شي چې موخه د کرزي کورنی او یا قوم ته نژدې وه یا کیدای شي د نورو دلایلو له مخې وي. د امریکایانو او انګریزانو د قهر سبب شول چې عېملیات یې په وروستی شیبه کې متوقف کړل. کله چې سرتیرو د طالبانو یو ارزښت لرونکي شخص ونیوي وروسته یې د افغان حکومت ته تسلیم کړي. څو ځله (تر یوه ځل اضافه) داسې پیښې شوي دي چې نن به بندي افغان حکومت ته تسلیم شو، بله ورځ به ازاد شوی و. دلیل یې رشوت ورکول او یا دا چې د لوړو مقاماتو سره به یې نژدې اړیکې درلودي. امریکایانو او انګریزانو د ستونزې د حل له پاره یوه ثابته لار غوره کړی وه. په ډیرو حالاتو کې به دوي پرته د اجازې څخه موخه (نیول شوی بندي) مړ کړي. وروسته به یې دلیل دا و چې په جګړه کې پیښه شوه او د دې امکان نه و چې ژوندی یې ونیسو.(ژ: څومره د تاسف ځای دي چې په ډیره بیشرمی اعتراف کوي چې موږ اګاهانه نیول شوی کسان وژل او پلمه مو دا وه چې په جګړه کې ووژل شو. دوي د یو انسان وژنه پرته د یوې محکمې فقط د چاړواکو د فساد وجه بولي چې طالبان خوشې نه شي خو په عیني وخت کې ځانونه نړیوالو بشري قوانینو ته ژمن ګڼي.) د وژلو د امر څخه استفاده هلته کیدل چه د نیولو امکان یې نه وای او یا که د بندي کولو څخه یې د تیښتې امکان وای. په داسې حالاتو کې ځانګړو پوځونو د حل سخته لار ټاکل نو د پیل څخه به یې د بم غورځونکو او یا وسله لرونکو چورلکو څخه کار واخیستې. د ۲۰۰۶ زکال په ژمي په کابل کې ناست ډنمارکي مشرو پوځیانو د لوی درستیز، یسپر هیلسیو څخه د ځانګړو پوځیانو په تړاو یوه رسمي غوښتنه وکړه.

نوموړې پر ځانګړو پوځیانو د زیات لګښت په تړاو سوچ وکړي. نوموړی دا سوچ هم وکړی چې کله ناکله اړتیا شته چې دغه پوځونه ټول واستول شي. یسپر اوس وایې که موږ دوي لیږلي نه واي، نوموړو خپل قوت د لاسه ورکاوه او سخته وه چې بیا مو نوی نفر را ټول کړي واي. پوځي دلایل هم وو چې چې په یوه ځل ډیرسرتیري (د مخکښانو او شنا ډلې) ولیږل شي. په هر ډول چې وی پوځ کولای نه شي چې تر شپږ میاشتو هلته پاته شي. لږ شمیر تربیه شوی ځانګړي سرتیري وو او په یو ټاکلي وخت نه باید ډیرو سرتیرو ته د عملیاتو دنده ور کړل شي. یوازې د شپږو میاشتو له پاره د سرتیرو استول د پوځ د عمومي غوښتنې سره چې پر نړیوالو دندو باندې ټینګار وکړی، کوم چې ډنمارک د هوکي ورته ویلي وو، برابره نه وو. سره د دې هم د دفاع وزارت باید په کابل کې د جنرالانو غوښتنې ته مثبت ځواب ویلای وای، خو یسپر هیلسیو وویل چې حتمي نه ده چې ډنمارکی سرتیري باید د ایساف په عملیاتو کې د طالبانو د مشرانو د نیولو له پاره په نیغه ګډون وکړي. هیڅوخت دغه سرتیري ونه لیږل شول. علت یې دا و چې د حکومت لوړپوړو چارواکو د ارزونې له مخې د مخکښانو او شنا ډلو د سرتیرو یوځای لیږل حساسه سیاسي موضوع ده. سوسیال ډموکراټان منفي ځواب راکوي. د یسپر هیلسیو شخصي ارزونه دا وه چې دی کولای شي چې د یو کوچنې ډیره کې په پریکړه سره سرتیري د افغانستان سوله ایزو سیمو یانی شمال ته ولیږي، همدا کاریې په ۲۰۰۳ زکال کې عراق د یوې تحت البحري کښتۍ په لیږلو سره کړی و. خو د پارلمان په کوچنې اکثریت د سرتیرو لیږل جګړې ته ستونزمنه چاره وه ځکه په هلمند کې جګړه ده.

---

۱۱۱ - Task Force 373

۱۱۲ - SAS

۱۱۳ - SBS

۱۱٤ - Task Force 42

پلان یو ځل بیا د دفاع وزارت د میزونو په جعبو کې پاته شو. د پلان جوړونکو پاملرنه همیشه دی ته وه چې د ډنمارکي پوځیانو څخه یو مستقل او خود کفاء جنګي ډله چې تر (۶۰۰) تنو زیات پوځیان ودرلودلای شي، جوړه کړي. په یو شرط دا کیدلای شواي چې د ډنمارک پارلمان تایید کړی وای نو به د ۲۰۰۷ زکال په مني کې تیاریدل. لویه پوښتنه دا وه چې په هلمند کې کومه سیمه د ډنمارکیانومسولیت شي؟ دلته د اقتصاد موضوع ډیره اغیزه درلوده. په هلمند کې د عملیاتو له پاره درې مهمې سیمې وې: د ولایت شمالي، منځنی او جنوبي سیمې. شمالي سیمې د ډنمارکیانو له پاره ناممکنه وې. دا سیمه غرنی وه او خلک یې یا د طالبانو ملاتړي او یا هم د هلمند د پخواني والی ملا شیرمحمد اخند د قوم څخه وو. د هلمند جنوبي سیمې د ډنمارکیانو له پاره ښې وې، پوځیان به تلاښ وکړي چې د وسلو، مرمیو او نشه ای توکو د وړلو او راوړلو ترافیک د افغانستان او پاکستان د سرحدونو تر مینځ بند کړي. همدارنګه ډنمارکیان به خپل مرکز(بیس) د ګرمسیر په ښار کې جوړ کړي. یوازې د ګرمسیر څخه د ایساف تر بیس، کمپ باستیون پورې د (۲۴ - ۳۰) ساعتو د موټر لاره د لوژیستیکو اکمالاتو له پاره لویه اندیښنه وه. (ژ: فکر کوم چې د لارې واټن ډیر زیات ویل شویدي ځکه د ګرمسیر څخه دومره زیاته لار نه ده.) شک نه و چې د ګرشک تجارتي ښار چې د کمپ باستیون څخه (۲۰ -۳۰) کیلومتره واټن درلودي او بیا هم ډیره لارېې اسفالټ و، د ټولو د خوښولو سیمه وه. د ګرشک څخه بهر کمپ پریس واقع و. امریکایانو او انګریزانو هغه ودانۍ دوباره ورغولي چې (۲۰) کاله مخکې شورویانو د خپلو پوځیانو د عمومي مرکز په توګه ګټه ور څخه اخیستې وه. دغه کمپ د ډنمارکي جنګي ګروپ پوځیانود پاره یو خیالي ودانۍ وه. برسیره پر دې د ګرشک ولسوالي د اقتصاد او تجارت مرکز و. دغه ښار تجارتي مرکز و چې د افغانستان په جنوب کې پرلویه لارپروت و. په سیمه کې خلک نژدې سره اوسیدل چې لاسرسي ورته اسانه وو. دا ښار د ډنمارکیانو د نظامي او ملکي هیلو سره برابر وو. د ۲۰۰۷ زکال په پسرلي کې ډنمارکي استازي وکولای شواي چې د انګریزانو موافقه تر لاسه کړي. ډنمارک په رسمي توګه د هلمند د منځنۍ برخې د امنیت مسولیت پر غاړه درلودي. سیمه ډیره لویه وه. د ګرشک جنوبي برخه پراخه سیمه وه چې ځمکې او دښتونه وو. په حقیت کې باید د ډنمارکي پوځیانو ژوره پاملرنه د ګرشک ښار او د هلمند د سیند پرغاړه د شنو کښتونو ځمکو او بیا تر سنګین پورې (سنګین د انګریزانو د مسولیت سیمه وه) کړې واي. د جنوب لورې ته په (۳۰) کیلومترۍ کې د ولایت مرکز، لښکرګاه واقع ده. ډنمارکیانو د هلمند زړه د ګرشک د سیمې مسولیت واخیستې. دا هغه سیمه وه چې یو کال مخکې ډیویډ ریچاردس پریکړه وکړه چې د ګرشک سیمه دناټو پوځیانو اساسي سیمه وټاکي. اوس نو اړینه وه چې پریکړه د پارلمان د ډیرکي لخوا ومنل شي. د ب - ۱۶۱ پریکړه چې د ډنمارک پوځیان باید د نوی امنیتي دندو د ترسره کولو په خاطر د ایساف سره مرسته وکړي، لومړی ځل په ۲۰۰۷ زکال د می پر (۱۵) نیټه په پارلمان کې بحث وربانديې وشو. دا هغه ورځ وه چې د ډنمارک حکومت پارلمان ته وړاندیز وکړي چې باید د ډنمارک پوځونه د عراق څخه تر شپږو میاشتو وروسته ووځي. دوه کاله تیر شوی وو چې د ډنمارک د پوځیانو مشرتابه په ۲۰۰۵ زکال کې غونډه وکړه او خپلې غوښتنې داسې بیان کړې: ډنمارکي پوځیان باید د سختې او غیرې اړینې ناخوښې جګړې څخه را ووزې. د شپږو میاشتو تلاښونو او هڅو څخه وروسته باید د ډنمارک پوځیان په بدل کې د افغانستان په یوه سخت ولایت کې ځای پر ځای شي. د ډنمارک پوځیان باید په هلمند کې د ناټود پاتې شونو سرتیرو سره په خطرناکه جګړه کې ګډون وکړي. مګر دا ځل به «ښه جګړه وي» په دې مانا چې د پارلمان د ډیرکي سیاسي ملاتړ ورسره دي. د ډنمارک پوځیانو باید ډنمارکیانو او د ناټو ملاتړو هیوادونو ته ښودلې واې چې د دوي پوځ د څه شي وړتیا لري. په همدې ډول صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن باید د مشر په توګه د خپل مخکښ رول څخه خوند اخیستې وای چې د امریکا د ډیر باور وړتیا لري او نژدې دوست یې دي. څو میاشتې وروسته د دفاع وزیر، سیون ګیده خپل پلان جوړ کړي چې د عراق څخه پوځیان وباسي او د افغانستان په موضوع کې پوځیان په ژوره توګه ورګډ کړي. د پوځ لوی مشر، تیم سلوت ډیره اندیښنه درلوده که د عراق څخه سرتیري وباسي، ممکنه به وي چې د تیښتې نوم ور کړل شي؟ اوس د نوموړي او دفاع وزارت ټولې غوښتنې تر سره شوې خو یوه هیله یې چې پوځ ته شپږ میاشتې رخصتي ورکړي، تر سره نه شو. دوي ځکه استراحت غوښتي چې پوځ د عراق په سخته جګړه کې روحي او فزیکي ستړیا زغملې وه. د ب - ۱۶۱ پریکړه د وروستي ځل له پاره دپارلمان د بحث له پاره وړاندې شوه. دا ځل په وړاندیزونو کې د خبرداری ډیر ټکي لیدل کیدل: « امنیتي حالات د افغانستان په جنوب او ختیزو سیمو کې ډیر خطرناک دي، طالبان د جګړې په بهیر کې ډیر برلاسي دي...» د پوځ څارګرې اداری پارلمان ته ولیکل: ډیر امکان لري چې د طالبانو او ترهګرو بریدونه د ۲۰۰۷ زکال په پسرلي کې دومره زیات شي لکه د ۲۰۰۶ زکال د وړې په موسم کې چې وو. او د موسې قلعه د بیلګې یادونه هم شوی وه. یوه ورځ مخکې چې پارلمان د هلمند په تړاو بحث کولو، د یو ډنمارکي سرتیري د جنازې مراسم و کوم چې په ولایت کې وژل شوی و. د دفاع وزیر، سیون ګیده، تیم سلوت او یسپر هیلسیو په مراسمو کې ګډون کړی وو. لومړی بریدمن او د درنو وسلو ویشتونکی (۲۴) کلن، سټین ریون سیونسن [115] د هلمند د شنه زون په سیمه، د سیند په اوږدوالي کې د عملیاتو په جریان کې ویشتل شوی و. د نوموړي ټپونه ډیر ژور وو، څو ورځې وروسته د کوپنهاګن مرکزي روغتون ته را انتقال شو خو روغتیایي حالت یې د قناعت وړ نه و. نوموړی د می په (۲) نیټه مړ شو. په ډیر خراب وخت کې پیښه وشوه. په هلمند کې د عملیاتو څخه پارلمان د ملاتړ موضوع اندیښمنه شوه. شپږمیاشتې مخکې په موسی قلعه کې وضع ډیر خرابه وه، د دفاع وزیر اړ شو چې د سختو ګذارونو ورکولو عملیات پیل کړي. خو د ډنمارک سیاستوالو پالیسي ته بدلون ور نه کړي.

[115] - Steen Rønn Sørensen

دا څرګنده وه چې د سوسیال ډموکراټانو مشري، هیله تورنینګ سمیت د سوسیال ډموکراټانو په استازیتوب د خپلو خاطراتو په کتابچه کې لیکلي و: کله چې زه د بهرنیو چارو د اړیکو د کمسیون سره یوځای په ۲۰۰۶ زکال د منی په موسم کې په هلمند کې وم، حالات مې خپله ولیدل او ستین ریونه سیونسن د سرتیرو د میراني اتل و. « زه پوهیږم چې د سرتیرو د ژوند شرایط ډیر ستونزمن دي او دندې ستري دي. خو دومره پوهیږم چې که د دغو دندو د عهدو څخه څوک وتلای شي دا به د ډنمارک سرتیري وي.» د حکومت د مخالف لوی ګوند دغه بیان د ډیر ارزښت وړ و. د پریکړې په تړاو د پخوا په څیر بحثونو دوام وکړي، یوازې سوسیالیست او یو موټې ګوندونو مخالفې رایې ورکړي او د نورو سرتیرو د لیږلو سره همږغي نه وو. د سوسیالیست ګوند لوړپوړي، هولګر نیلسن حالات داسې وارزول: « د یو هیواد څخه ناخوښه انځور دا دي چې مرکزي حکومت پر هیڅ شي باندې حاکمیت نه لري او په ټولو برخو کې پراخ اداري فساد شتون لري. یو هیواد چې طالبان یې یوازنی ستونزه نه ده خو محلي جګړه مار، د نشه ای توکو کار و باریان، په فساد ککړ سیاستوال او په فساد ککړ دولتي لوړپوړي چارواکي یې هم غټې ستونزې دي.» د سوسیالیست ګوند مشرانو خبرداري ورکړې چې ډنمارکي جنګي پوځیان هلته ځي او کیدلای شي چې د ځینو سیاستوالو سره د طالبانو پر ضد مرسته وکړي، چې همدغه سیاستوال د طالبانو په ډول په فساد ککړ او مجرمین دي. هیڅوک نه پوهیږي چې د مجرمینو تر مینځ توپیر وکړي او څرګنده کړي چې څوک، څوک دي؟ د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر بیا هم غوښتل چې کین اړخه ګوندونه په بشپړ باور د نورو سرتیرو د لیږلو سره همږغي شي.نوموړي په ټینګار وویل چې په ملکي برخه کې به کارونه ډیر پرمختګ وکړي او هلمند ته به د دغو کارو د پاره ښې پیسې ورکړل شي. موږ پوهیږو چې په افغانستان کې کارکول اسانه نه دي، دندې درنې او سختې دي خو زه فکر کوم چې موږ یې د اجرأ کولو وړتیا لرو. نوموړی علاوه کوي چې زما په آند پوځ د دندې د اجرأ له پاره تیار دي. د سوسیال ډموکراټانو لوړپوړی، پیر کاولوند [۱۱۶] په ټینګار سره خپل د ګوند په استازیتوب د حکومت د وړاندیز څخه ملاتړ اعلان کړي. پیرکاولوند د کین اړخې ګوندونو تر لفظي برید لاندې راغلي خو هغه په ټینګار سره د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړي او تاکید یې وکړي چې په لیري راتلونکې کې خیالي موخو ته رسیدلای شوو. په بحث کې د عتراف نوم یاد نه شو. ولې د عراق څخه د ډنمارکي پوځیانو وتل غټ رول ولوبولو، دا رول په لویه کچه د سوسیال ډموکراټانو سره غټه مرسته وه چې په سختو شرایطو کې وو: که چیري د عراق څخه د سرتیرو تر وتلو وروسته، سوسیال ډموکراټانو په افغانستان کې جګړې ته د رد ځواب ویلای وای چې په حقیقت کې د ملل متحد په بشپړ ملاتړ پیل شوې وه، نو په دی مانا به وای چې د سوسیال ډموکراټانو سیاست د اتیایمو کلوونو په څیر پر شاه تګ کړي دي. اندریس فوک عاسموسن په بشپړه توګه د موضوع په حساسیت پوهیدي او باور یې درلودي چې سوسیال ډموکراټان یې ملاتړ کوي. د سوسیال ډموکراټانو پخوانی د بهرنیو چارو وزیر، موګنس لویکه ټافټ بیا هم ناخوښه وه. نوموړی علاوه کوي چې موږ تقریباً اړ ایستل شوو چې په دغه قانوني جګړه کې برخه واخلو.

ډګروال کیم کریستنسن [۱۱۷] دغه سیاسي لوبه خوښه نه شوه. نوموړی یوازې (۴۲) کلن و چې د څلورم ګروپ ډنمارکي سرتیرو مشر وټاکل شو، چې باید هلمند ته د اګست په میاشت کې ولاړ شي. ډګروال کیم کریستنسن فکر کولو چې عراق ته به ولیږل شي، نوموړي مخکې په بالکان کې دنده اجرأ کړی وه. خو د ۲۰۰۶ زکال په منی کې د نوموړې دنده په هلمند کې وټاکل شوه. یسپر هیلسیو نظر درلودي چې نوموړی ډګروال په هلمند کې د هغې دندې له پاره چې د لومړی ځل له پاره ډنمارکي پوځیان د خپل مسولست د سیمې امنیت په مسقلانه ډول په غاړه اخلي، مناسب پوځي دي. نوموړي د شاهي ګارډ پوځیان د نژدې څخه پیژندل. کیم کریستنسن د فزیکي فورم په لحاظ تکړه، د ژبې د فصاحت درلوونکي، خندان او د پیښو په وړاندوینه کې ماهر پوځي و. مګر نوموړي یو ټیپیک پوځي مشر نه و. د بالکان د جګړې د نورو پوځیانو په ډول کیم کریستنسن هم د ډیرو بدو حالاتو د معلوماتو تجربه درلوده. نارینه او ښځې راتللي او د ستونزو بیان یې کاوه خو د واک نشتوالي پلمه وه. کیم کریستنسن د ملل متحد تر بیرغ لاندې د (۱۵۰) ډنمارکي او لیتوانیایې سرتیرو مشر و چې د کروشیا، کریجبیننکلیوه [۱۱۸] سیمه کې چې د سربیانو په واک کې و، میشت وو. کیم کریستنسن او سرتیر یې غیري فعال وو په داسې حال کې چې سربیانو او کروشیایانو پر ملکي وګړو سخت بریدونه کول. علت یې دا و چې دوی د ملل متحد تر بیرغ لاندې یوازې د ځانونو د دفاع واک درلودي. دغو پیښو پر ډنمارکیانو ژوره اغیزه درلوده خو کیم کریستنسن تلاښ کولو چې سرتیري پریږدي چې د پیښو په تړاو ازادي خبري سره وکړي. نوموړی خپل د احساس د څرګندولو څخه ډار نه درلودي. د بالکان پیښې هیڅ وخت د کیم کریستنسن څخه نه هیریدلې. نوموړی شهرت درلودي چې په لوړه کچه خپل احساس مني کوم چې د سرتیرو ورځنی واقعیت وو. په شخصي ډول دغه پیښو دري کاله وخت د کیم کریستنسن څخه وغوښتې چې د نژدې ملګرو په مرسته هغه د خپل احساس په یوه برخه کې ځای پرځای کړي. د کیم کریستنسن په پوځي ژوند کې دغه پیښې د یو طوفان غوندې وي چې هیڅکله بیا داسې دندې ته اړ نه شي چې د مجبوریت له مخې غیري فعال رول ولري. اوس موضوع د

---

۱۱۶ - Per Kaalund

۱۱۷ - Kim Kristensen

۱۱۸ - Krajinaenklave

جګړې او زیات تلاښ و. نوموړي په څرګنده توګه په بشپړ صداقت د هغو خطرونو د پیښیدو د احتمال په اړوند و ډنمارکي سرتیرو ته د هلمند په سیمه کې وړاندوینه درلوده. لومړی بریدمن ستین ریون سیونسن د ډنمارک په مرکزي روغتون کې مړ شو، کیم کریستنسن خپل سرتیري راټول کړل او تر لیږولو مخکې سخت تمرینونه وکړل. کیم کریستنسن اوپوځیان یې د می په (۳) نیټه د پنجشنبې ورځ د ورځې پر (۱۲:۴۵) بجې د خپل مړی همکار د درناوي په خاطر راټول شول. وروسته پوځیانو خپل تمرین ته دوام ورکړي. کیم کریستنسن فکر کولو چې د نوموړی پوځي مرګ به سرتیري وهڅوي چې ټریینګ څخه په لوړه کچه ګټه پورته کړي. اوس موږ پوهیدلو چې د خپل ملګری سرتیري څخه یو څه فاصله لیری وځغلو تر څو دغه عملیات څو ځله تمرین کړو. نوموړی سوچ وکړی هر څومره چې موږ په بیړه وځغلو د ژوندي پاته کیدو چانس مو زیات دي. کیم کریستنسن د فبوري په میاشت کې پوه شو چې دی لومړی کس دي چې د ډنمارکي پوځ د مشرتوب مسولیت به په هلمند کې ولري. خو نوموړی خبر نه و چې سرتیري یې په کومه سیمه کې ځای پر ځای کیږي. دا د ډنمارکیانو څلوروم ګروپ وو چې هلمند ته استول کیدي. کیم کریستنسن باوری و چې دا ډنمارکیانو له پاره مناسبه ده چې ډنمارکي سرتیري د استوګنی په سیمه کې عملیات وکړي. ډنمارکي سرتیرو ته یو تجربه ده چې پوه شی چې د خلکو له پاره د دوي شتون ارزښت لري. کیم کریستنسن او د نوموړی مرستیال دا امکانات ولیدل چې کولای یی شوای د ګرشک په باره کې ډنمارکیانو ته معلومات ورکړي. ډنمارکیان به زموږ د سرتیرو په پرمختګ او د خلکو سره په مرسته ونازیږي.

کیم کریستنسن فوراً احساس کړل چې نوموړی باید یو څه ژور نفس وکاږي. نوموړی د ځان څخه وپوښتل چې په ډنمارک کې به لږ تر لږه څوک وپوهیږي چې موږ د څه په کولو لګیاه یوو. د ۲۰۰۷ زکال د اګست په میاشت کې کیم کریستنسن د انګریزانو کمپ فارورد اپریشن بیس[119] چې لس کیلومتره د شمال ختیز لوری ته د ګرشک څخه لیري و، راغلي. نوموړي د خپل قرارګاه د ځینو افسرانو سره په ګډه باید د کمپ حالت ارزولي واي ځکه یوه میاشت وروسته مسولیت د دوي پر غاړه وو. کمپ چې تقریباً څلور مترو جګو ختینو د یوالو چاپیر کړي وو، حالت یي ډنمارکیانو ته حیرت اوره شوو. په کمپ کې بریښنا او اوبه نه وي. د لرګو پر اوږد دهلیز ډوله ځای کې لوي، لوي سوري جوړ شوی وو چې د تشنابونو کار ورڅخه اخیستل کیدي او د حاجت د رفع کولو له پاره که په یوه ځل څو تنه وای باید د یو بل څنګ ته ناست ته وای. هر لوري ریګ پراته وو. د پرتو ریګو پنډوالي (۳۰) سانتی مترو ته رسیدي. کله چې به سړی حرکت کولو داسي ښکاریدل چې په واوره کې تګ کیږي. تودوخه د ودانی په هر لوری کې ډیره درنه احساسیدل. که په جزیاتو بیان شي، د تعجب وړ دي. اساسی ودانی یي ښه رنګ شوی وه او د لرګو چت یي درلودي. ودانی پر لوړه څوکه موقعیت درلودي چې ټوله سیمه ورڅخه ښکاریده. د لوړې نقطې څخه کیم کریستنسن شین زون لیدلای شوای، پر بله برخه د شهیدانو قبرونه وو چې شینه بیرغونه ورباندې رپیدل. د جوارو تقریباً دري متره جګ کښتونه هم ښکاریدل. دکښتونو په مینځ واړه د اوبو لښتي وو چې کښتونه په خړوبیدل. په کښتونو کې د دښمن له پاره ښه پټن ځایونه وو. په لیري واټن کې د سیند څنګ ختیز لورته پلن ګڼ کښتونه ښکاریدل چې د واټن اټکل کول یي ګران کار وو. تقریباً شنه سیمه د درو کیلومترو په واټن اټکل کیدای شوای. جنوبي برخي ته د ۳۰۰ مترو په واټن د رحیم کلی پروت و.

کورونو لوی دیوالونه او جګي اوسپنیزې شیني او ابي دروازي درلودي. دا چې په دغه ګرمه توده هوا کې د کورنیو تر مینځ د کورونو د دیوالو تر شاه څه تیریدل، زموږ د پوهیدو د پاره یوازې اټکلونه وو، نور مو هیڅ نه لیدل. د انګریزي سرتیرو کیسي ډارونکي وي. په اپریل کې ۱۲۰ سرتیري وو چې دغه کمپ یي ساتي. اوس (۴۰ ـ ۵۰) تنه پاته وو. نهه تنه مړه، (۱۷) تنه ټپیان او نور ناروغه وه. یوه لویه برخه سرتیري چې د روخصتی له پاره تللي وو، نه یي غوښتل چې بیرته د انګلیستان څخه راوګرځي. سرتیري ناتوانه، ډنګر او ستړي وو. پوځي ډسپلین ښه نه و. کثافت دومره ډیر وو چې ډنمارکي پوځیانو یي بوی احساسولو. کله چې کیم کریستنس د اګست پر (۲۰) نیټه باستون کمپ ته راوګرځیدي، دا ځل د پوځي ډلي امر، اندری ستوروډس غوښتل چې ولاړ شي هغه کمپ او شنه سیمه تر نظر تیره کړي. دا ځکه چې دغه پوځي ډله د ګارډ نفر وو او په نوموړی افسر پورې اړه درلوده. دوي باید هلته اوسیدلي وای او دنده یي اجرأ کړی وای. تر یوې کچې یې ګزمې هم کړی وای. اندریس ستوروډ او سرتیرو یې د انګریزانو سره په ګډه د ګزمې امکانات وموندل. په کمپ کې هوا وچه او سوځوونکي تودوخه وه. د جوارو د کښتونو د اړخونو سره مرطوبه او خپه کوونکي هوا وه. کانال او نور د اوبو لښتي ژور وو او اوبه یي څرخندوکي وې. انګریزانو اندریس ستوروډ ته معلومات ورکړي چې د جبهې لومړی کرښه په څه ډول د طالبانو سره د کمپ په ۲۵۰ متري کې د جوارو د کښت بلې خواته جوړه شوه. یو ډنمارکي پوځي رحیم کلی ته د سپین ږیرو په شورا کې د ګډون له پاره ولاړې ځکه انګریزانو د کلی سپین ږیري راغوښتی وو چې د طالبانو د راکټونو د برید په اړوند خبري ورسره وکړي. اول راکټ د کمپ د دیوال څخه دباندې ولګیدي، دوهم په داخل کې ولګیدي او یو ډنمارکي سرتیري ټپي یي کړي. کله چې اندریس ستوروډ بیرته د باستیون کمپ ته راغلی، سرتیرو د پیښې کیسه ورته وکړه چې موږ ته د ویټنام د جګړې د فلمونو په څیر ښکاریدل.د سرتیرو غبرګون د باوری او ژورو اندیښنو سره مل وو خو په عینی وخت

[119] - Forward operational Base(FOB)

کې د بالمثل غبرګون سره يې علاقه درلودل مخکی له دې څخه چې عمليات پيل شي. اندريس ستورود پوهيدي چې دا عمليات بايد جګړه ايزه وي.

اندريس ستورود سوچ وکړی چې زموږ سرتيري لوړې زده کړې لري او ښه ټريننګ يې کړي دي خو په داسې يوه جګړه کې راښکيل دي چې د نړۍ خرابترينه او سخترينه سيمه ده.

دغه ډول جګړه کوم چې څلورم ګروپ پوځيان ورته موظف شوی وو، په دريم پړاو کې وو کله چې کيم کريستنسن د ۲۰۰۷ زکال په ورې کې هلمند ته راغلی. د (۱۶) مياشتو په جريان کې دري انګريزي پوځي مشرانو په درو ډولونو هڅه کړې وه چې د وسلوالو سره جګړه وکړی او د ولايت حالت نورمال کړي. هر ځل ډنمارکي پوځيانو د (۳۰۰) سرتيرو په درلودلو د ټاکل شوي جنګی ستراتيژي سره ځانونه عيارول پرته له دې چې د ستراتيژي په جوړولو کې پر انګريزانو کومه اغيزه ولري. د انګليستان يو پيژندل شوي څيرونکي، پرفيسور تيو فاريل د لندن د ګينګ کالج [۱۲۰] څخه د جګړې انځور په لاندې ډول ترسيم کړی دي: هر نوي ګروپ خپله جنګي ستراتيژي پياده کول کوم چې د نوموړی ګروپ د پوځي قابليت او زده کړو زيرنده وه پرته له دی چې د هلمند د حالاتو واقعيتونه په نظر کې ونيسي. لومړی پوځي ګروپ د انګريزي پراشوټي سرتيرو يو ډله وه. ايد بوټلر د نوموړو پوځيانو جنګي قابليت څخه دا ډول ګټه اخيستل چې د هوا څخه يې په ټاکلي ځای کې راکوزول. خو پايله به دا وه چې پوځيان به په کمپ کې بند وو او د ژوندي پاته کيدلو له پاره به يې تلاښونه کول. دوهمه انګريزي پوځي ډله چې د رويال [۱۲۱] ګروپ څخه وه. د دغه ډلې مشر بريد جنرال جيري ټامس [۱۲۲] و. نوموړی کوښښ وکړي چې د تيري پوځي ډلې په ډول په يو ټاکلي ځای کې بند پاته نه شي. دغې ډلې ته يو ځای د ډنمارکي پوځيانو سره دنده وسپارل شول چې د نوزاد او موسی قلعه ولسواليو امنيت خونديَ کړي. دغه نوی ګروپ غوښتل جګړه په دښتونو کې وکړي. جيري ټامس داسې نظر درلودي چې په هغو سيمو کې د طالبانو پر ضد جګړه بايد پيل شي چې جګړه ملکي وګړي ډار نه کړي. موخه جګړه نه وه بلکې د امنيت ټينګول وو. دغه ستراتيژي د ډنمارکي مخکښانو سرتيرو د راتلونکي ډلې له پاره مناسبه وه خو د جيري ټامس په وينا طالبانو هروخت زموږ انګريزي پوځيان د ناڅاپي پيښنو سره مخامخ کول. د جيري ټامس تر مشرتابه لاندې د بريدونو کچه د (۵۳۷) ځله څخه (۸۲۱) ځلو ته جګه شوه. په دښتونو کې جګړه (کمين نيول) دومره ډير شوه چې پوځيان هميشه د خوځښت په حال کې وو چې پايله يې د لښکرګاه او ګرشک د خلکو د امنيت په خرابولو تمامه شوه. کله چې د ډنمارکيانو جنګي ډله ګرشک ته راغلل، د انګريزانو د پوځونو نوي ډله د ۲۰۰۷ زکال څخه همدلته مصروفه وه. د انګريزانو د پوځونو دغه نوی ډله د بريد جنرال جان لوريمير [۱۲۳] تر مشري لاندې د مخکنيو انګريزي پوځيانو په پرتله په درنو وسلو سمبال وو، زری داره وسايل يې درلودل، دوي راکټونه او د ليري واټن ويشتونکي وسايل هم په واک کې درلودل. د جان لوريمير پوځي ډله د درنو تخنيکي جګړه ايزو فعاليتونو له پاره وه چې نوموړی همدغه وسايل استعمالول. د نوموړي پوځونو څلور ځله ډير سخت عمليات د هلمند د سيند په اوږدو کې چې ډير خلک اوسيږي، تر سره کړه. انګريزانو هڅه وکړه چې طالبان پر شاه کړي تر څو خلک پر امنيت باندې باوري کړي. د کيم کريستنسن پوځي ډلې بايد د جان لوريمير په پنځم او وروستی عملياتو کې ونډه اخيستي واې. د کيم کريستنسن پوځي ډله د شاهي ګارد سرتيري وو چې درني وسلې، زرې وسايط يې په واک کې درلودل. د ډنمارک پوځي ډله د جان لوريمير تر انګريزي سرتيرو ډيره د نوموړی جنرال د ستراتيژي د پياده کولو له پاره مناسبه وه. د جان لوريمير، د نوموړی مشر پوځيان او کيم کريستنسن په ګډه غونډه کې ډنمارکي څلورم واحد ته د ګرشک جنوبي برخې د امنيتي د سيمې پراخوالی دنده وسپارل شوه. کيم کريستنسن ته د ډنمارکي څلورم واحد سربيره، د ډنمارکيانو په شمير انګريزي سرتيري او يو کوچنی ګروپ افغاني سرتيري هم ورکړل شول. جنګي ګروپ بايد ګرشک شمال برخې ته ليږل شوی واي چې تقريباً (۲۰) کيلومتره ليري وو. ليري پلان داسې و چې بايد انګريزي سرتيري د سنګين سيمه تر کنترول لاندې راولي او په راتلونکي کې د جنوب لوری ته پوځونه وغځوي تر څو دغه دوې سيمې د طالبانو څخه پاکې کړي او د سيمو د ولسونو له پاره سوله او ثبات ټينګ کړي. که د امنيت سيمه د لښکرګاه څخه د ګرشک او وروسته د سنګين پر لور پراخه شي دا به اساسي موخې ته د رسيدلو له پاره لويه لاسته راوړنه وي. دا خبري د ايساف د ځواکونو قوماندان، جنرال ډيويډ ريچاردس په وخت کې بيان کړي وي. او په پايله کې به د هلمند هغه سيمې چې ډير وګړي استوګنه په کښې کوي د کندهار د ولايت سره پيوند شي. په همدې توګه به ايساف ټولو سيمو ته د بريښنا مزي وغځوي او د کجکي د بند بريښنا چې امريکايانو په (۱۹۵۰) کلونو کې د سنګين شمالي لوری ته جوړ کړی و، بشپړه ګټه پورته شي. دبريښنا توربينونه درست فعال نه وو او يوازې نژدې سيمو ته بريښنا ورکولای شوای. پلان و چې نوي توربين جوړ شي چې زياته بريښنا توليد کړي. د دې چارې په سرته رسولو به خلکو ته په اثبات ورسيږي چې د ناټو پوځونه او د کابل حکومت د خلکو د ګټو ساتونکي دي او د دوي د ارامي او هوسايي له پاره کار کوي. کله چې د

[۱۲۰] - Professor Theo Farell from King College i London

[۱۲۱] - Royal Marines

[۱۲۲] - Jerry Thoms

[۱۲۳] - John Lorimer

کیم کریستنسن سرتیرو د ګرشک سیمې تر کنټرول لاندې راوستلي نو باید نوی توربین او اړین مواد د کجکي بند ته انتقال شي او دغه ترانسپورت به د طالبانو او د لارې د غلو د بریدونو څخه په امان وي. په همدی توګه به پوځي عملیات د ګرشک په سیمو کې امنیت ټینګ کړي، د ګرشک سیمه د ډنمارکي پوځیانو د مسولیت برخه وه. ټولو عملیاتو ته افغاني نوم ورکول کېدل د دې له پاره چې وښودل شي، دا کار د افغان حکومت دی نه د لویدیزو. پلک وهل [۱۲۴] (ژ: زه نه پوهېږم چې دا د پښتو کوم لغات دی.) په پښتو کې ورته داسې برید چې د چکش په ډول وي، وایي. د پښتو ژبه د دوو افغاني ژبو څخه یو اساسي ژبه ده. د جان لوریمیرس [۱۲۵] خشنه جګړه ایزه فلسفي نظر د کیم کریستنسن د فکرونو سره برابره وو. کیم کریستنسن د بالکان په جګړه کې اړ شوی و چې د پیښو په وړاندې غیري فعال وي، نوموړی ځوان پوځیانو ته ورزده کړه چې د اړتیا او یا پلان شوی جګړې په وخت کې باید خشن او بریدکوونکي وي. کله چې کیم کریستنسن د افسرانو په ښوونځي کې ښوونکي و، راتلونکو افسرانو ته یې همدا ډول تدریس کولو. نوموړی تأکید کاوه: که غواړې جګړه وګټې، نو یوه لاره شته هغه دا چې باید برید وکړې. برید کول اهسته او په احتیاط سره کېدلای نه شي. کله چې سرتیرو ته د مخکې تلو قومانده ورکول کیږي، نو باید خپل ټوله قوت استعمال کړي. د ۲۰۰۷ زکال د سپټمبر (۱۷) داسې ورځ و چې پریکړې بدلون نه کولو. ډنمارکي پوځیان په نوی عصر کې د لومړی ځل له پاره بریدکوونکي جګړې ته واستول شول. کیم کریستنسن باید خپل ټوله پاملرنه د برید کولو قوت او شدت ته اړولې واې چې د نوموړي په نظر د بریالي برید کیلي ګڼل کېدل. د ډنمارک د سرتیرو څلورم ګروپ باید د هلمند د رود په اوږدو کې د ګرشک څخه څو کلیومتره لیری شمال ختیز لور ته ښه پوځي مانوره اجرأ کړی واي. د زرې وسایطو بریدونه به طالبان پر شاه کېدو ته اړ باسي چې د انګریزانو له پاره زمینه برابره شي چې په ناڅاپي ډول د دښت څخه پر طالبانو برید وکړي. په دغه ډول به طالبان د ډنمارکي او انګریزي سرتیرو په مینځ کې راګیر شي. په دغه ډول د شین زون ساحه ټینګه او پراخه شي. کیم کرسیتنسن او اندریس ستوروډ نه غوښتل چې انګریزانو ته اسانه دنده ورکړي. هر څه چې شوی وای څو اونۍ وروسته ډنمارکیانو په رسمي توګه د هلمند د مرکزي برخو مسولیت پر غاړه اخیستې.

د زرې وسایطو دریمه دلګۍ د جوارو د کښتونو او کورونو څخه په یو واټن پر لوړه برخه ځای پر ځای شوه چې د لومړی او دوهمې دلګۍ په مینځ کې بریدونه وکړي. د ټپې پر سر د پټولو د ځای پیدا کول ستونزمن و خو دا ډېره مهمه نقطه وه. د ټپې څخه دریمې دلګې کولای شوای کومکي ډزې وکړي تر څو لومړی او دویمه دلګۍ پرمختګ وکړای شي. لومړی او دوهمه دلګۍ د طالبانو سره په جګړه بوخت شوه ځکه د طالبانو یوې ډلې ځان ګوښه کړي او هڅه یې وکړه چې د ورته ټپې څخه مخامخ پر ډنمارکیانو بریدونه تر سره کړي. د جګړې په لومړی موج کې د ډنمارکیانو یو پوځي، جیمي بیګبیرګ پیټرسن [۱۲۶] وویشتل شو. نوموړي هڅه کول چې د ډزو له پاره مناسب موقعیت پیدا کړي چې وویشتل شو. مرمۍ یې پر هډوکی، ښۍ لاس غټه ګوته او وروسته تر زرې واسکټ ورتیره شوه او په سینه کې هم وویشتل شو. د سپټمبر د میاشتې (۱۷) د سهار (۸:۴۰) بجې وې چې د ډنمارک یو سرتیري د ګرشک په سیمه کې د لومړی ځل له پاره جدي ټپی شو. د سرتیري څیره سپینه شوه او سینه یې ډېره وپړسیدل. پرستارې مورفین ورکړه چې د درد د کمولو سره یې مرسته وکړه خو د داخلي خونریزي(وینې تویدنې) خطر و. ټپي باید دسیمې څخه ایستل شوی وای. اړتیا وه چې څلورو سرتیرو د مرمیو په مینځ کې د ټپي کټ تقریباً د (۲۰) مترو په واټن ځغلولی وای. د پټېدو ځای نه و او طالبانو د راکټ په ګډون هر څه یې چې درلودل، فیر کول. ډنمارکي پوځیانو د زرې وسایطو او نورو وسلو ډزې زیاتې کړې تر څو د طالبانو د لیدلو ساحه لږ شي او ډنمارکي سرتیري وکولای شي د خپل ټپي ملګري کټ د مرمیو په مینځ ټاکلی ځای ته ورسولای شي. سرتیري بریالی شول چې ټپي وباسي. نوموړی د چورلکې په واسطه د کمپ باستیون روغتون ته ورسول شو. د ورځې پر (۱۱:۱۸) بجې اوازه شوه چې د ټپي سرتیري روغتیایي حالت سم دی. جګړې شپږ ساعته دوام وکړي، دا موضوع (سبا موږ بیا برید کوو) [۱۲۷] په کتاب کې بیان شوی ده. لومړی او دویمه دلګۍ د زنبولي سیمې ته ننوتل او څو ځله د طالبانو سره په سخته جګړه کې راګیر شول. حالات ډېر خراب وو او تودوخه دومره زیاته وه چې هر سرتیري په ساعت کې درې لیتره اوبه ضایع کولې. ستونزه دا هم وه چې درانه زرې وسایط د جوارو په کښتونو او چمنونو کې حرکت نه شواي کولای. طالبانو بشپړه تیاری نیولې وه چې د جوارو د کښتونو، درختو او ختینو کورونو په مینځ کې پټ وو. تر ټولو د جوارو کښتونه لویه ستونزه وه. په ډنمارک کې د جوارو لوړوالی د انسان د جګوالی سره برابر وي خو په هلمند کې د جوارو جګوالي درې مترو ته رسیږي. د جوارو کښت لوړ دیوال جوړ کړی وو چې تر یوه متر زیات لیدل ناممکنه وو. په بدل کې د جوارو د کښت څخه د کوچنې خوځښت په صورت کې لوړ ږغ اوریدل کېدې. طالبانو د جوارو په کښت کې پټېدل او پر ډنمارکیانو یې ډزې

---

[۱۲۴] - Palk Wahel

[۱۲۵] - John Lorimers

[۱۲۶]- Jimmi Bøgebjerg Petersen

[۱۲۷] - I morgen angriber vi igen(Kim Hundevadt)

کولي. څو ځله داسي هم وشول چي ډنمارکيانو خپل دښمنان په نژدی واټن کي سترګو په سترګو وليدل. ريکی لوريتزن [۱۲۸] د زمبولي جګړه په (سبا موږ بيا بريد کوو) کتاب کي داسي بيانوي: زما د جوارو کښت خوښ نه دي، زما د جوارو څخه بد راځي، زه به په ژوند کي جوار خوښ نه کړم... ريکی لوريتزن د يوه کښت مخي ته څو دقيقي وچ ودريدي په داسي حال کي چي د مرميو باران وربانديِ چالانه وو او په دومداره توګه يي ډېل ږغونه اوريدل. اول ږغ به د مرمی و چي د سرتيرو د غوږونو څخه به تير شوو او وروسته به د مرمی د لويدلو يا مښتولو وچ اواز واوريدل شوو. هر ځل به چي د ډز ناڅاپي ږغ واوريدل شوو او وروسته به د جوارو کښهاری شوو، سرتيري به د ډار څخه لړزيدل. د جټ الوتکو او چورلکو د بمبارد او د سرتيرو د دومداره درنو وسلو ډزو د طالبانو پاملرنه را اړولی وه. د فرصت څخه په ګټه اخيستنه د پلان له مخي د شنه زون دننه ته پرمختګ کول او د کينان بيس يي تقويه کولو. د ماپښين پر (۱۳:۱۰) بجي دنده سرته ورسيدل او سرتيري د زنبولي پر شنه زون واکمن شول. ډنمارکي سرتيرو دوه ټپيان درلودل چي د چورلکو په واسطه د جګړې د ډګر حخه ويستل شول. د يوه سرتيري لړ ملا سوځيدلي وه ولي ډيرو سرتيرو د ګوليو سورې د اوږو په برخه کي پر جامو درلودل او يو تن پر اوسپنيزه خولی هم سوری درلودي. د طالبانو حال ډير تاريک وو. د پوځ مشرتابه هيڅ وخت د دښمن د تلفاتو شميره نه اعلانول. يو کال مخکي د موسی قلعه د عملياتو څخه راوروسته د دښمن د تلفاتو د شميرې اعلان منع شوو. د هر عملياتو څخه وروسته بايد ايساف د دښمن د تلفاتو شميره مقاماتو ته رپوټ ورکړی واي. دا معلومات ځکه مهم و چي د سرتيرو فعاليت او اغيزه ارزيابي کيدل او هم د دښمن د پوځي قوت په باره کي معلوماتونه تر لاسه کيدل. د سپتمبر د (۱۷) نيټي په عملياتو کي د کيم کريستنسن سرتيرو اټکل کولو چي طالبانو (۳۰) مړي او (۲۸) ټپيان درلودل. لکه په نورو عملياتونو کي که خوشبينانه قضاوت وشي هر ځل د ايساف د عملياتو پايله بريالی وه که بريالیتوب د دښمن د مړو لوړه شميره او وراني وټاکي. خو واقعيتونو وښودل چي هر ځل د طالبانو تلفات او پر شاه کيدل د دی مانا نه درلوده چي طالبانو جګړه بايللی ده. د پوځ د څارګرې اداري رپوټ د پرمختګونو په تړاو هم داسي نه وو چي ژر به په جګړه کي بريالی شوو. د ۲۰۰۷ زکال په پسرلي او ووړي کي طالبان په جنوبي ولايتونو کي د نړيوالو پوځي ځواکونو تر سخت فشار لاندې وو. طالبانو تر يوې کچي تلفات درلودل خو د عملياتو بشپړه اغيزه د طالبانو پر ځواکونو تر اوسه هم باوری نه وه. داسي څرګنديږي چي طالبان د نويو کسانو په جذبولو او د موادو په پيداکولو کي ستونزه نه لري. د زمبولي تر عملياتو وروسته پوځ د ارامی احساس وکړي. دنده پرته له تلفاتو پای ته ورسيده. کيم کريستنسن او د ډنمارکيانو پوځي مشرتابه د کمپ پريس د قوماندې په کوټه کي چي د شورويانو په وخت کي د کانکريټو څخه جوړه شوی وه، راټول شول او په لومړی دنده کي خپل بريالیتوب اعلان کړي. انګريزي پوځيانو ډيره علاقه درلوده، چي وپوهيږي، د دوي ډنمارکي پوځي ملګرو څنګه وکولای شواي په زنبولي کي پر طالبانو برلاسی شي. د اتو ساعتو جګړې په جريان کي د درنو موټري وسايطو څخه (۵۰۰۰۰) مرمی او ۱۲۰۰۰ مرمی د درنو ماشينګړو فير شولي. برسيره پر دي د الوتکو څخه يو زيات شمير لاسي بمونه او ۱۰۰۰ پونډه د الوتکو بمونه وغورځول شول. که په يوه اونی کي دغه مرمی مصرف شوی وای، بيا هم هغو کسانو ته چي خپله د زنبولی په جګړه کي نه وو، د پوهيدو وړ به نه واي. هر څه چي وو، دغه مرمی د يوې ورځي په جريان کي د هلمند د سيند پر غاړه، زنبولي کي مصرف شوي. خو دا يي يوازې پيل و. دغو درنو بمباريو منفي پايلي هم درلودي. د دښت له خوا څخه انګريزي پوځيانو د سيند په لور عمليات پيل کړی وو تر څو طالبان په مينځ کي راګير کړي. د عملياتو په جريان کي يو ډنمارکي پوځي، کريستن هنسپورټ [۱۲۹] وليدل يوه ځوانه ښځه چي ماشوم يي په غيږ کي دی، سرګردانه هر لوري ته ځغلي. ځوانه ښځه د هغي ودانۍ په نړيدلو ديوالونو کي ګرځيدل کوم چي انګريزانو د الوتکي په بمونو وران کړی وو. نوموړې د خپلي کورنی په پاتی شونو پسي ګرځيدل. د سيمي د خلکو، ژباړن، دري انګريزي سرتيرو په مرسته ډنمارکي پوځي د وراني شوې ودانی په لوټو او خاورو کي د درو لويانو او درو ماشومانو مړه جسدونه ومونڊل. دا مړي د ځواني ښځي خسر، خواښي، ميړه او دري ماشومان وو. د مړو څخه ډير بد بوی ولاړيدي نو ځکه سرتيرو پزې وتړلي تر څو دوي يي راويستل. دغه کورنی د بمنو په واسطه ټوټې ټوټې شوی نه وو بلکي د بمب د زيات فشار په واسطه وژل شوی وو. د انګريزانو د پوځ حقوقي مسول څرګنده نه کړه چي دغه پيښه څنګه شوی وه. طالبانو په کور کي ځای نيولی وو خو د کور غړي (مړه) وسلوال نه وو. دوه حالته اټکل کيږي: د کور اوسيدونکي به خپل د غريبانه کور د سامانونو د ساتلو له پاره په ودانی کي پاته شوی وی. يا کيدلای شي طالبانو دوي په جبر په ودانی کي ساتلي وي چي د دوي څخه د انساني سپر کار واخلي. هر څه چي وو، طالبان په معجزه اسا ډول سالم وتلی وو. لويه غلطي شوی وه چي انګريزي پوځيانو د الوتکو څخه غوښتي وو چي کور په بشپړه توګه وران کړي. د ملکي وګړو تلفات د ډنمارکي پوځيانو په وړاندې لويه ستونزه وه. په ۲۰۰۷ زکال کي د ملکي وګړو تلفاتو د افغانانو قهر او غضب راوپاراوه. ملکي تلفات په لويه کچه د الوتکو د بمباريو پايله وه. دوي مياشتي مخکي د زنبولي شمال ته د حيدراباد په سيمه کي (۴۵) عام وګړي ووژل شول. دا پيښه هغه وخت رامينځته شوه چي امريکايي پوځيان په يو کمين کي راګير شول نو هوايي مرسته يي راوغوښتله. ولسمشر کرزي د ناټو پر پوځي عملياتو ډيرې نيوکي وکړي، د زيات دقت او د درنو وسلو د نه استعمال غوښتنه يي وکړه. د کور د ورانولو غلطي دومره زياته د خلکو په خولو کي و نه لويده لکه د

---

[۱۲۸] - Ricky Lauritzen

[۱۲۹] - Christian Hansfort

حیدر اباد او پر واده باندې د بمبار په پایله کې تراژیدي چې د افغانستان ټولو سیمو ته یې خبرونه ورسیدل. په هر صورت د کور د ورانې د بمبار په پایله کې هم د سیمې د وګړو باور زیانمن شوو. د منې په موسم کې دا لومړی ځل و چې ډنمارکیانو د جګړې سرتیرو د سلګونو انګریزي پوځیانو سره په ګډه د سیند په دواړو خواو کې د شمال و لوری ته وخوځیدل. هغه سیمه چې د ډنمارکیانو تر ولکې لاندې وه، هره ورځ یې پر طالبانو برید کولو. کیم کریستنسن او اندریس سټوروډ نه غوښتل چې خپل بریدکوونکي نوښت پریږدي ځکه ورځنیو بریدونو طالبان په شمالی برخه کې تر فشار لاندې راوستلي وه. څو اونۍ وروسته د ډنمارکیانو بخت واوښت. د سپټمبر په (۲۶) ماښام د سندفورډ د کمپ څخه په (۱۵۰۰) متره واټن کې د ډنمارکیانو یوه پوسته وه چې ناڅاپه د شپې (۶ ـ ۷) راکټونه پرې ولګیدل او پوسته یې بشپړه ورانه کړه. (۲۲) کلن تور بیان اوله ریسی[١٣٠] او (۲۴) کلن میکایل کیل سیونسن[١٣١] ووژل شول او دریم سرتیري ټپي شو. په سرتیرو کې وارخطایي رامینځته شوه. پوځیان هیڅ نه پوهیدل چې طالبانو کومه مدرنه وسله استعمال کړه. خو سبا د وسلې ټوټې پیدا شوې نو څرګنده شوه چې د انګریزانو د پرمختللو راکټونو برید وو. انګریزان د سیند په بله غاړه کې وو غوښتل یې د طالبانو موخې په موډرنو راکټونو وولي خو په غلطی کې د ډنمارکیانو پوسته په نښه کړی وه. د انګریزانو څیړونو وښودل چې انګریزي پوځیانو راکټونه فیر کړي دي خو داسې شواهدو شتون نه درلودې چې مسول کسان تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي. د تراژیدې د پیښې سره سره د ډنمارکي او انګریزي پوځیانو تر مینځ اړیکې خرابې نه شوې. په جګړه کې دا ډول پیښې کیدونکې دي چې د خپلو ملګرو په واسطه وژنې وشي. په افغانستان کې د څیړنو له مخې څرګندیږي چې (۱۰ ـ ۲۰) سلنه لویدیز سرتیري د خپلو ملګرو په واسطه په سهوه کې وژل کیږي. ډنمارکیانو په شنه زون کې خپلو بریدونو ته دوام ورکړي. کیم کریستنسن د خپل مشر د هدایت سره سم چې په ډنمارک کې ویلي و، باید بریدونو ته دوام ورکړی وای: موږ باید پر دښمن دومداره ګذارونه وکړو. موږ همیشه باید مخته ولاړ شوو. موږ ټوله هغه کسان چې د هر لوري څخه برید کوي مات کړو او هر ډول وسله یې له مینځه یوسوو. موږ باید تیاري ولرو چې پر موږ هم برید کیدونکې دي. کله چې موږ وویشتل شوو نو به یو او بل ته ووایو: نن موږ غم ته تسلیت ورکوو، خو سبا موږ دوباره برید کوو.

د جګړې موجونه په هلمند کې په شدت روان وو خو په ډنمارک کې بله موضوع رامینځته شوه چې د ورځپاڼو پاملرنه یې د جګړې څخه واړوله.

کله چې لومړی ډله ډنمارکي سرتیري په موسی قلعه کې راګیر وو، غوښتنه یې درلوده چې باید درنې وسلې وکارول شي. ډنمارک د سړې جګړې څخه وروسته هم خپل موډرن زرې داره موټري وسایط وساتل هغه وسایط چې یو وخت یې د ختیز المان او شوروي اتحاد د برید د شاه تمبولو له پاره درلودل. خو اوس دغه وسلې د ډنمارک د وسلوال پوځ د پاره مناسبې نه وې، په اسانی سره کیدلای شوای چې د همدغو وسلو څخه په نړیوالو کړکیچونو کې کار واخلي. دغو درنو موټري وسایطو هغه وخت ډیر بریالیتوب په نصیب شوو کله چې ملل متحد په ۱۹۹۴ زکال د درنو وسلو په توګه د بوسنیا په عملیاتو کې کار ور څخه واخیستې چې د سربیانو ډیرې پوځې پوستې یې له مینځ یووړې. سربیانو د ملل متحد سویډنې بی دفاع سرتیرو ته ډیره د سر خوږی جوړ کړی وه. دا وسایط ډیر لګښت لرې ځکه د دوسوه مترو په واټن کې یو لیتر ډیزل مصرفوي. دغه وسایط د ګرځیدلو ښه قابلیت نه لرې نو ځکه په راتلونکو عملیاتو کې ښه راتلونکې نه لرې. د ډنمارک صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د ۲۰۰۷ زکال د مې د میاشتې پر (۱۸) نیټه د ډنمارکیانو دریم پوځې ګروپ په هلمند کې ولیدې. د پوځې ګروپ مشر جان ګریبیرګر[١٣٢] غوښتنه ورڅخه وکړه چې د عملیاتو له پاره درانه زرې موټري وسایط هلمند ته راولیږي. صدراعظم دغه غوښتنه د پوځ د قوماندې مرکز ته ولیږل. د ډنمارکي پوځ مشرتابه غوښتنه ونه منله او دلیل یې دا و چې د دغو درنو موټري زرې وسایطو استعمال د هلمند له پاره مناسب نه دي. د بل لوري دا یوه ډیره ګرانه د حل لار ده خو برسیره پر دې د هلمند خلکو ته د زیات تهدید سیګنال ورکوي. کله چې د برتانوي پوځیانو مشرتابه په هلمند او د برتانیې د دفاع وزارت کې د ډنمارک د پوځ د مشرتابه د نظر سره همږغي شوه، نو دا غوښتنه هیره شوه. سره د دې د هولستبرو[١٣٣] د ښار د پوځ اړوند غونډ پریکړه وکړه چې څلور همدغه درانه زرې موټري وسایط او یو هم د پورته کولو کرین د دښتونو په ډول رنګ کړي چې د اړتیا په وخت په لنډه موده کې د الوتکو په واسطه هلمند ته انتقال کړای شي. بیا هم د مې په میاشت درنو زرې موټري وسایطو د پوځ په دننه کې د بحثونو توده موضوع شول. ډیرو پوځیانو دلایل راوړل چې جان کرینبیرګر[١٣٤] د همدغو وسایطو د مشر په توګه ډیره سابقه لرې او د نوموړي رښتیانی غوښتنه وه چې د دغو وسایطو د استعمال په صورت کې به د وسایطو ارزښت ښکاره شي. د وسایطو د زیات لګښت او د زیاتو امنیتي تهدیدونو په خاطر د امکان څخه لیري نه وه چې د راتلونکې کال د بودجې د تصویب په دوران کې به پریکړه وشي چې دغه وسایط باید له مینځه یووړل شي.

[١٣٠] - Thorbjørn Ole Reese
[١٣١] - Mikkel Keil Sørnsen
[١٣٢] - Jan Grunberger
[١٣٣] - Holstebro
[١٣٤] - Jan Grunberger

دا لومړی ځل نه و چې مهم نړیوال پوځي عملیات د پوځ (هوایي ، سمندري او ځمکني ځواکونه) په دننه کې د یاد شوو پوځي ارګانونو تر مینځ د سیالی بحثونه تاوده کړي. په مقابل کې هوایي ځواکونو وړاندیز وکړې چې موږ به په بدل کې هلمند ته اف ـ ۱۶ جټ الوتکې ولیږو. په ځانګړی توګه هوایي ځواکونه د پوځ په دننه کې د سیالي په ډګر کې تر فشار لاندې وو، ځکه سیاسي ملاتړ ور سره نه وو، پیسې او د ظرفیت د کمښت سره هم مخامخ وو. کله چې د ۲۰۰۳ زکال د اکتوبر په میاشت کې جنګي الوتکې د افغانستان څخه راوګرځیدلې، بیا هیڅ نړیوالو عملیاتو ته لیږل شوی نه وې. د هوایي ځواکونو مشرتابه باوري وه چې اف ـ ۱۶ جټ زړې الوتکې به ژر په موډرنو ښکاري الوتکو بدلې شي که په عملیاتو کې څرګنده شي چې ډنمارکي پوځ نوو، موډرنو ښکاري الوتکو ته په نړیوالو عملیاتو کې اړتیا لري. د ۲۰۰۷ زکال د اګست پر (۲۸) نیټه د ډنمارک د پوځونو د قوماندې د مرکز مشر، پاول کیسکوو [١٣٥] ته د هلمند څخه زنګ راغې. کیم کریستنسن [١٣٦] د هلمند د حالتو لنډ ریپورټ وړاندې کړې او دا چې د نوموړي سرتیرو ته د ګرشک په سیمه کې څه انتظار باسي، بیان کړل. په ځانګړی توګه د ډیرو انګریزي سرتیرو وژنه او ټپي کیدلو پر پاول کیاسکوو ډیره اغیزه وکړه. نوموړي مشر چې د درنو زرې موټرې وسایطو د استعمال سابقه درلوده نو ځکه شک یې نه درلودې چې دغه وسایط د لیرې واټن د ویشتولو له پاره ډیر مناسب دي. که نوموړی وسایط د سیند په لوړه برخه کې ځای پر ځای شي نو ډیره پراخه سیمه تر کنترول لاندې راوستلای شي او هم د طالبانو د راکټ ویشتلو موقعیتونه تر اور لاندې نیولای شي چې هره ورځ پر ډنمارکیانو بریدونه کوي. دا هغه ارزونه وه چې د شوروي پوځ په همدغه موقعیت کې د خپلو زرې وسایطو څخه (۲۰) کاله مخکې کار اخیستې وو. دغو وسایطو برسیره پر درنو ویشتونو د معلوماتو راټولو وسایل درلودل چې کولای یې شواې د

ارزښت نه ډک معلوماتونه راټول کړي. دوې ورځې وروسته پاول کیاسکو په کوپنهاګن کې د پوځ د مشر، یسپر هیلسیو سره مخامخ کښینستې او د دغو درنو وسایطو د ګټو او زیانونو په اړوند یې بحث وکړې. دا ځل بحث د پوځ پر درنو، قیمتي او ډارونکو وسلو کیدې. د پوځ مشر د پاول کیاسکو په دلایلو او د کیم کریستنسن په غوښتنه پوه شو. د پوځ مشر، یسپر هیلسیو شخصاً د همدغو وسایطو د لیدلو له پاره د هولستبرو ښار ته ولاړې. وسایل په دښتي رنګ رنګ شوي وو، اضافه اړتیاوې لکه ایرکاندیشن او نور یې هم تیار شوی وې. دغه لیدنې جوته کړه چې وسایط هلمند ته د استولو له پاره اماده دي. د پوځ مشر پاول ته وویل چې ته اوس هیڅ شي نه لیږې.

د پوځ مشر پوهیدې چې د پوځ په دننه کې او هم د سیاسي پلوه دا یوه لویه جنجالي پریکړه ده، ځکه درې میاشتې مخکې د انګریزي پوځ مشرانو د همدغو وسایطو د استولو سره مخالفت ښکاره کړی وو. یسپر هیلسیو فکر وکړې چې د دغو وسایطو استول مورال لوړه وې او هم د جنګي قوې اضافه کول دي نو باید د سوسیال ډموکراټانو پخواني مشر، موګنس لویکه ټافټ راسره همږغي وي خو انګریزان د دغو وسایطو د وراستولو سره هیڅ علاقه نه لري. نوموړي پوهیدې چې دا پریکړه په دې خاطر نه کیږي چې د دفاع وزیر سیون ګیده د هولستبرو د ښار اوسیدونکي، هلته سرتیري و او د نوماندی سیمه یې همهغه وه. د دې پریکړې له پاره باید ژور فکر وشئ. د پوځ په دننه کې هوایي ځواکونو تلاښ کولو چې اف ـ ۱۶ جنګي الوتکې هلمند ته واستول شي خو دغه غوښتنه د پوځ مشر یسپر هیلسیو رد کړه. کله چې کیم کریستنسن د ګرشک د خطرناکه حالت په تړاو، پاول کیاسکوو ته ریپوټ وړاندې کړې، دوې ورځې وروسته ډنمارکي ورځپاڼې، یولند پوستن په یوه سر مقاله کې ولیکل چې ډنمارکي سرتیري د درنو زرې موټرې وسایطو غوښتنه لري. جان ګرینبیرګر یو ځل بیا خپله هغه غوښتنه چې درې میاشتې مخکې یې د ډنمارک د صدراعظم څخه د درنو وسایطو غوښتنه کړې وه په روښانه ټکو تکرار کړل. په همدغه وخت کې د عملیاتو مرکزي قوماندانې یو فورمولیټې وړاندیز د دفاع وزارت د قوماندی مرکز ته د موټرې وسایطو د استولو په تړاو وړاندې کړې. پاول کیاسکوو د یسپر هیلسیو شنه څراغ ته معطل نه شو، دا ډول چې هغه ورځخه غوښتې و. د پوځیانو له لورې یسپر هیسلسیو تر ډیر فشار لاندې راغې، نو ځکه اړ شو چې پاول کیاسکوو ته ګوت څنډنه وکړې چې په راتلونکې کې دغه ډول عمل تکرار نه کړي. د پوځ د مشر ځکه ډیر خوابدې شو چې د رسنیو په مخکې داسې ښکاریدل چې ګواکې نوموړی نه غواړي د سرتیرو د ژوند ساتلو ته ډیر پام وکړې خو د پوځ مشر د معطلی علت په حقیقت کې سیاسي ملاتړ ته اړتیا درلودل. تر څو اونیو سخت کار وروسته سوسیال ډموکراټان هم قانع شول چې وسایط هلمند ته ولیږل شي. د ټوربیان اوله ریسی [١٣٧] او میکل کیل سیونسن [١٣٨] مرینه د دې باعث ورګرځیدل چې د سرتیرو ساتلوته زیاته پاملرنه وشي. د یولند پوستن په ورځپاڼه کې د مړه شوی میکل کیل سیونسن پلار دی ته اشاره وکړه چې په راتلونکې کې باید د سرتیرو ډیره ساتنه وشي. برسیره پر دې د درنو موټرې وسایطو د لیږلو ملاتړو د لایل وړاندې کړل چې دغه وسایل د الوتکو د بمباریو په شان وحشتناکه نه دي، کوم چې په بدل کې

---

[١٣٥] - Poul Kiærskou

[١٣٦] - Kim Kristensen

[١٣٧] - Thorbjørn Olr Reese

[١٣٨] - Mikkel Keil Sørensen

وړانديز شوی دی. خو بايد دا هم ومنل شي چې څلور درانه زرې موټرې وسايط چې د ويشتلو لوړه ترينه کچه يي (۱۲۵ ـ ۱۷۵) کيلومترو په شعاع ده، په هيڅ وچه د جيټ جنگي الوتکو او يا د امريکا د (ب ـ ۵۲) الوتکي د بمبارد ځای نه شي ډکولی. د پارلمان په غونډه کې د همدغو وسايطو په تړاو چې د بی گناه ملکي تلفاتو ډير مخنيوي به وکړي، په بحث کې ډيره اغيزه وکړه. د پخوا په شان سوسيالست گوند [۱۳۹] او يو موټې گوند د وړانديز مخالف او نور گوندونه د وړانديز ملاتړي وو. پورته دوه مخالف گوندونه حيران شول چې د ډنمارک د پوځي قوماندې مرکز ولې په درو مياشتو کې خپل نظر ته بدلون ورکړي؟ په لندن کې د انگليستان د پوځ مشرانو خپل نظر ته داسې بدلون ورکړي چې ډنمارک مستقل هيواد دې، هره وسله چې لازمه گڼي هغه بايد استعمال کړي. لنډه دا چې پريکړه په لوی اکثريت سره تصويب شول. د هلستبرو د ښار څخه پوځيانو په وياړ سره وسايل د کاروپ [۱۴۰] هوايي ډگر ته واستول چې د روسيي انتونوف الوتکي په واسطه هلمند ته انتقال شول. د کرايي لگښت يي (۱۸) ميليونه کرونه شوو. هيڅ وخت په باور سره څرگنده نه شوه چې د دغو وسايطو استول هلمند ته گټوره يا ناکامه چاره وه؟ دغو وسايطو په ډيرو حالاتو کې د ډنمارکي سرتيرو ساتنه وکړای شوای او هم يي د ډنمارکيانو د مسوليت په ساحه کې د انگريزانو او امريکايانو سره په عملياتو کې ښې مرستې وکړې.خو دا ناممکنه ده چې ارزونه يي وشي چې د هلمند د خلکو نظر د همدغو وسايطو په استعمال سره منفي وو. يوه خبره پر ځای پاته شوه چې د درنو موټرو وسايطو د شتون سره سره ډنمارکي پوځيانو په دايمي توگه د الوتکو د بمباريو مرسته غوښته. د پوځ په مشرتابه کې ټيم سلوت يونسن په پيل کې د همدغو وسايطو د استعمال سره مخالفت درلودې. ټيم سلوت دا ډول دليل درلودې: «سرتيري هروخت نوي، قيمتي او درانه پوځي توکي د جټ الوتکو او درنو زرې وسايطو په څير غواړي. کله چې دغه درانه وسايط هلمند ته وليږل شي نو ستونزمنه ده چې د سيمې د خلکو پر پروژو او نورو غيري جگړه ايزو چارو سره گډ کاروشي.» اوس ټيم سلوت يونسن وايي چې دغه وسايط گټور وو خو په ځانگړی توگه هغه وخت چې طالبانو د ډنمارکيانو نوې جگړه ايزه وسلې نه پيژندلې. دغه (۶۲،۵) ټنه درونده، پنډ ليوپارډ ۲ الف ۵ [۱۴۱] موټري وسيله هم ماتيدونکي وه. د ۲۰۰۷ زکال په بحثونو کې د دغو درنو وسايطو په باب په لاندې توگه همږغي وو: دا وسايل دومره ښه جوړ شوی دي چې طالبان يي په ويشتلو ورانوالی نه شي. خو د ۲۰۱۱ زکال تر وړی پورې د همدغو وسايطو درې داني په بشپړه توگه د لارې پر سر دماينونو په واسطه رنگ او چلوونکي ووژل شول. کله چې د پورته وسايطو د دليلونو پر سر په پارلمان کې بحث جريان درلودې هم د انتظار څخه ليرې تراژيدي پيښه وشوه. د سيند فورد د پوځي گروپ مشر، جگړن انديرس سټوروډ، [۱۴۲] د اکتوبر پر (۱۵) نيټه د بمب په يوه ټوټه ټپي شو. طالبانو هغه وخت بريد وکړي چې ډنمارکي پوځيان د شنه زون څخه د وتلو په حال کې وو. ډنمارکي پوځيانو د خپلو زرې درنو وسايطو تر شاه پټ پټ په خوځښت کې وو چې د مرميو څخه ځانونه وساتي، په دغه شيبه کې جگړن انديرس سټوروډ پر يوه لوړه ولاړ و تر څو وروستی سرتيري را ووزي. ناڅاپه يو راکټ د هغه څنگ ته ولگيدي، د راکټ يوه ټوټه د هغه د اوسپنيزي خولی څخه ووتله چې نوموړی يي سخت ټپي کړی او د موټر په مينځ راپريوت. نور زيات راکټونه ډنمارکي پوځيانو ته نژدې ولگيدل خو پوځيان د دښت و لوری ته په تيښته بريالي شول. جگړن انديرس سټوروډ د چورلکي په واسطه د سيمې څخه ويستل شو. يوه ورځ وروسته جگړن انديرس سټوروډ مړ شو. ډنمارکي پوځيانو خپل داسې مشر د لاسه ورکړي چې ډير باور يي ورباندې درلودې. د نوموړي د مشرتوب په خاطر ډير پوځيان تيار شوی وو چې په هلمند کې دندې ته هوکړه وکړي.

په برېتانيا، امريکا او فرانسه کې ډيرې کورنی دود لري چې خپل زامن جگړو ته وليږي. په ډنمارک کې ورته دود نه شته. جگړن انديرس سټوروډ هغه بيلگه ده چې د دود خلاف په جگړه کې گډون کاوه. نوموړی نيم نارويجي اونيم ډنمارکي و. کورنی يي په کيڼ اړخه ايډيالوژي پورې تړاو درلودې او د کمونست گوند سره يي نژدې اړيکي درلودې خو عقيده يي درلودل چې د هيوادونو ستونزې بايد پرته د جگړې څخه حل شي. په ماشومتوب کې نوموړی ته د ساتيري هغه وسايل چې وسلو ته ورته وو، د استعمال اجازه نه درلوده. د نوموړی مور، ليو سټوروډ [۱۴۳] وايي چې زوی به يي په ماشومتوب کې د ساتيري جنگی وسايل نه کارول خو هيله يي دا وه چې مسلکي سرتيري شي. د سرتيري د مړينې وروسته يي مور د پوليټکن په ورځپانه کې د هغه د انتخاب په اړوند داسې وويل:« نوموړی هم دا ارزو درلودل لکه موږ نور خلک چې د يوې ښې نړۍ د جوړولو هيله لرو. خو نوموړي غوښتل دغه هيله په پوځ کې بشپړه کړي. نوموړی په عراق کې دلگی مشر و چې په مخاخ جگړه کې گډون کړی و. نوموړی ډير بدلون کړی و، ډير با احتياطه نارينه او د کورنی پلار ورڅخه جوړ شوی و کله چې کورته راوگرځيدي. د ډوډۍ پر ميز يي ځای ته بدلون ورکړي، نور به داسې ځای کښيناستې چې شاه يي ديوال او مخ يي د باغچې خواته وي.» نوموړی پوځي د هغه د مرگ تر نيټې پورې لومړی لوړپوړی پوځي دی چې د دوهمې نړيوالې جگړې

[۱۳۹] - SF

[۱۴۰] - Karup

[۱۴۱] - 62,5 ton Leopard 2A5

[۱۴۲] - Anders Storrud

[۱۴۳] - Liv Storrud

څخه را وروسته د ډنمارکیانو په پوځ کې ژوند د لاسه ورکوي. نوموړی میرمن او دوې لوڼې درلودې. د نوموړي لوړ مقام د هغه د ښخولو په مراسمو کې چې کوپنهاګن ته نژدې په یوه مړستون (قبرستان) د ۲۰۰۷ زکال د اکتوبر پر (۲۴) نیټه تر سره شوه، بیان شوو. په مراسمو کې د دفاع وزیر، د پوځ مشراو یو شمیر نورو لوړ پوړو پوځیانو د ناروې څخه هم لوړ پوړو پوځیانو ګډون کړی وو. نوموړي په ځانګړو پوځي مراسمو خاور ته وسپارل شو.

کله چې د وژل شوی سرتیري د ښخیدولو مراسم پیل شول په همهغه ورځ دوه کیلومتره لیرې د پارلمان په سالون کې صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن د ویناه کولو ځای ته پورته شو او د پارلمان لپاره یې نوی ټاکنې د ۲۰۰۷ زکال د نومبر پر (۱۳) اعلان کړې. کله چې د ډنمارک خلکو وټونه اچول، سرتیري یې په دوو هیوادو کې په جګړه بوخت وو. جګړې پر ټاکنو ځانګړی اغیزه ونه کړه نو ځکه اندریس فوک غاسموسن د ټاکنو څخه بیا هم بریالی ووتی.

په یوه کښته ودانۍ کې چې څو دوکانونه یې درلودل، یو دوکاندار پر غالیچه ناست و. مازدیګر و چې د رحیم کلي او سیند تر مینځ په کوچنی بازار کې لمر پر لویدو و. د تپې پر سره د مسلمانانو د قبرستان شاه ته د سند فورد په کمپ کې د ډنمارک بیرغ رپیدې. دوکاندار، رحمت الله د څو افغانانو سره د مازدیګر د شنو چایو په څښلو مصروف وو چې د ډنمارکیانو سرتیري د لارې څخه راغلل. سرتیرو لومړی ډله ډنمارکي ژورنالیستان تر جبهې بدرګه کول. د ژورنالیستانو سره یو عیسوي ملا هم په کلي کې تیرشوو په داسې حال کې چې کوکنار تازه را شنه شوی وو. هیڅ انتظار مو نه درلودې چې میلمانه ژورنالیستان به هم تر برید لاندې راشي. د همدې ځای څخه د طالبانو پوسته (۱۵۰۰) متره لیرې پرته وه. د راډیویي سیګنالو څخه ښکاریده چې په سیمه کې هیڅ ډول جګړه ایزه خوځښت نه شته. یوه ورځ مخکې طالبانو د لومړی ځل له پاره د دښت په څنډه کې د درنو زرې موټرې وسایطو سره جګړه وازمویل. د برید په وخت کې زرې ټانک د طالبانو پر موقعیت باندې یوه مرمی فیر کړه چې (۱۲۰) ملي متره غټوالي یې درلودې. د طالبانو موقعیت د ټانک د مرمی برسیره په ماشینګڼو هم وویشتل شو. ډزې ډیرې موثرې وی او طالبان وتښتیدل. ډنمارکیان باوري وو چې د ټانک او نورو ماشینګړو د فیرونو په پایله کې نیمایي طالبان وژل شوی وو. دا ورځ دیره ارمه ښکاریده ځکه هلکانو عادي ساتیري کولو او زموږ په میلمنو پسې د ښار په مینځ کې ځغاستل. سرتیرو، ژورنالیستانو میلمنو ته په باور سره وویل چې ځوانان پوهیږي چې طالبانو کمین نیولي وي، ځکه ځوانان د پیښې د ځای څخه ځانونه لیري کوي. دوکاندار رحمت الله تلاښ کړي و چې ډنمارکیانو ته موقع په لاس ورکړي چې د سیمې د خلکو سره نژدیکې اړیکې ودرلودلای شي. کپتان کریستین سکیولدهل [۱۴۴] بیره وکړه چې د چایو د مجلس څخه ګټه واخلي او د دوکاندار سره مرکه وکړي. کله چې دوکاندار به پر غالیچه کښینستې او د چایو پیاله به یې په لاس کې وه، د ډنمارکیانو له پاره د تبلیغ لویه سرچینه وه. نوموړي څو ورځې مخکې د سودا اخیستلو له پاره تللی و او اوس یې نوی شیان، غوړي، بوره، چای، خواږه او نور د اړتیا وړ شیان راوړی وو. نوموړی په ګرشک کې اوریدلي و چې ډنمارکیانو طالبان د رحیم کلی څخه پرشاه کړی دی نو ځکه دوکاندار ته شرایط برابر شوی دي چې کیدای شي دوکان دوباره خلاص کړي. د رحیم الله څنګ ته یو بل چا هم دوکان پرانیستي، داسې ښکاریدل چې په بازار کې څو نور دوکانونه هم کله ناکله فعال وو. کپتان کریستین سکیولدهل د رحیم الله څخه پوښتنه وکړه چې تاسې او نور په راتلونکي څه غواړئ؟ رحیم الله په بیره وویل: امنیت، نن امنیت او سبا هم امنیت. نوموړي په ټینګار وویل چې باید بهرني سرتیري سیمه یوازې پرې نږدي. دوکاندار وویل: که تاسې په رحیم کلی کې لنډه موده تیره کړی او بیا دا کلی پریږدي نو طالبان به بیرته کلی ته راوګرځي او ټولو هغو کسانو ته چې ستاسو د پوځونو سره یې مرسته کړی، سخته جزا به ورکړي. د سیمې خلک غواړي خپل هلکان ښوونځي ته ولیږي. داسې څرګنده شوه چې د کلي یوه هلک هم لوست او لیک کولای نه شواي. د رحیم کلی له پاره ښوونځي، ښوونکي او د مسجد له پاره یو لوډسپیکر ډیر اړین وو. رحیم الله او د کلی اوسیدونکو په دقیقه توګه تشریح کړل چې حکومت او د ایساف ځواکونه د خلکو او بزګرو کومې اړتیاوې رفع کړي تر څو خلک د ګرشک د حکومت د غړو سره چې د کلی څخه (۱۰) کیلومتره واټن لري، ملاتړ وکړي. دوي د مرکزي حکومت چې په کابل کې دي، نوم هم نه اخیستې. دوکاندار ډار درلودې چې ډنمارکیان به په لنډ وخت کې کلي پریږدي او خلک به خپل قسمت ته خوشي کړي. په ریښتیا هم انګریزانو د هلمند له پاره نوي ستراتیژي تر لاس لاندې نیولي وه. د ۲۰۰۷ زکال په اکتوبر کې د انګریزانو د (۵۲) پوځ مشر، جنرال اندریو مککی [۱۴۵] د هلمند مسولیت پر غاړه واخیستې. جنرال اندریو مککی په هلمند کې د جګړې له پاره نوی ستراتیژي معرفي کړل، په دوو کالو کې دا څلورم ځل و چې په هلمند کې د جګړې ستراتیژي بدلون کولو. د نوموړي په پلان کې یادونه شوی وه چې د ایساف د ځواکونو د عملیاتو مرکزي ټکی به دا وي چې د ملکي وګړو د امنیت ټینګولو او راتلونکي ته باید ډیر پام واړول شي. مانا دا ده چې جګړه او د طالبانو وژنه به لږ وي. د نوموړی جنرال په نظر که د ډیرو طالبانو تپې کول او وژل د جګړې د پرمختګ او بریالیتوب د اندازه ګیرې معیار وي، نو زه دا جګړه(د جګړې د نوم څخه ناوړه ګټه پورته کول) بریالیتوب ګڼم. نوموړي دوباره د جنرال ډیوید ریچاردس ستراتیژي ته په هلمند کې ور وګرځیدې. جنرال اندریو مککی اوس وایې:«زما له پاره د خلکو د پاره امنیت راوستل او پرمختګ درې مرحلې درلودې:

[۱۴۴] - Kristian Skyldahl

[۱۴۵] - Andrew Mackay

لومړی باید طالبان د سیمې څخه ویستل شي. باید د ایساف پوځیان د افغان پوځ سره په ګډه د سیمې امنیت تر کنترول لاندې ولري او ثبات ټینګ کړي او وروسته د اوږدې مودې د پرمختګ چارې پیل شي.» جنرال اندریو مککی خپل ستراتیژي په درو لغاتو کې رالنډه کړه: (چنل، ساتل او جوړونه). داسې ستراتیژي نه وه چې یوه سیمه ونیول شي او لږ موده امنیت ونیول شي خو بیرته خوشې شي. دا ډول عملیات هیڅ ښه پایله نه لري. ښه به دا وي چې سیمه په دوامداره توګه وساتل شي. د ۲۰۰۷ زکال په منی کې ناټو دوباره لومړی ستراتیژي ته وګرځیدل، کوم چې انګریزانو پلان کړی وه، مخکې له دې څخه چې دوي په ۲۰۰۶ زکال کې ولایت ته ننوزي، خو دري ورستني پوځي ګروپونو هغه ستراتیژي عملي نه کړل. جنرال اندریو مککی و نه توانیدي چې پر پالک واهیل [۱٤٦] عملیاتو باندې اغیزه وښندي. د کیم کریستنسن ټیم (ډنمارکیانو) د جنرال جان لوریمر [۱٤٧] قوماندہ تعقیبول. د جنرال جان لوریمر ډیره پاملرنه هغو سیمو ته وه چې د طالبانو تر ولکې لاندې وې. نوموړی علاقه درلودل چې د پوځي قوت په وسیله طالبان د سیمو څخه وشړي او سیمې د پوځ تر کنترول لاندې راولي. همدغه چاره یې په ګرشک کې تر سره کړه. جګړن اندیرس ستوورډ د مرستي له پاره پالک ویل هغه سیمې چې د ډنمارکیانو برخه وه، نښاني کړې. دا نقطې د ډنمارکیانو د مسولیت په سیمه کې پرتې وې. دلته شین زون ډیر عریض (برداره) نه وو. په ځانګړی توګه د یوې لوړې نقطې څخه د سیند په لویدیزه برخه کې د لیدلو ساحه ډیره وه او د سیند د یوې برخې څخه تر بلې برخې پورې هر څه لیدل کیدل. د سیند ختیز لورې ته د انګریزانو یو وړوکي پوځي مرکز و چې د ګیبرالټار [۱٤٨] په نوم یادیدي. که چیرې ډنمارکیان په لوړه برخه کې یو مرکز جوړ کړی، بله څنډه به یې تر ځار لاندې وې. دغه چاره داسې مانا لري چې د سورې خوله ور وتړي (لکه د بوتل سوري چې په کاک وتړل شي). د اندیرس ستوروډ په آند به طالبان و نه کولای شی چې د سیند لمنې ته راکښته شي چې د ګرشک امنیت ور خراب کړي. کیم کریستنسن او د ډنمارک جنګي ګروپ د جګړن ستوروډ نظر عملي کړي او د جګړن تر مړینې وروسته یې هم دوام ورکړي. کمپ ته د یو امریکایي حیوان نوم، ارماډیلو [۱٤٩] ورکړل شو. باید لومړی د سیند په ختیزه برخه کې د انګریزانو مرکز قوي او جوړ شي. ستونزه داسې حل شوه چې د انګریزانو هغه پوسته چې په دښت کې پرته وه، ډیره موثره نه وه، هغه پوسته د شنه زون د ګیبرالټار مرکز ته رانقل شوه. د ۲۰۰۷ زکال د نومبر په میاشت کې د کیم کریستنسن جنګي ګروپ بشپړ شوو. د مخکښانو (۱۰۱) سرتیري د کیم کریستنسن د زرې درنو وسایطو د سرتیرو سره یو ځای په ګرشک کې ځای پر ځای شول. خو د مخکښانو د سرتیرو راتلو څخه څو اونۍ وروسته همدغو سرتیرو ته جنجال پیښ شوو. د نومبر پر (۲۹) مخکښانو سرتیرو د ګیبرالټار د مرکز د تقویه کولو په توګه ګډون وکړي. د مخکښانو دري ګروپه سرتیري د جوارو کښت ته ننوتل کله چې ډزې پیل شوې د سیند د ختیزې برخې ودانۍ یې پرینښودل. طالبان بریالی شول چې ګروپونه سره بیل کړي، نو پاته سرتیرو په یو ټاکلی وخت کې خپلو ملګرو سرتیرو ته لاسرسی نه درلودي.د جګړې په جریان کې (۲۲) کلن مارک ویسهالم [۱۵۰] په سر کې سخت ټپي شو، وروسي د ماشینګړو په ډزو کې (۲۱) کلن کیسپر کرامر [۱۵۱] هم په سر کې سخت ټپي شو. مارک ویسهالم مخکې له دې څخه چې د جګړې دډګر څخه ویستل شي، مړ شو او د کیسپر کرامر روغتیایي حالت همداسې و چې د ژغورولو چانس یې نه درلودي. د نومبر په مازدیګر کیم کریستنسن دوه سرتیري د لاسه ورکړل. د ډنمارکیانو څلورم ګروپ په (۶۷) ورځو کې څلور سرتیري د لاسه ورکړل، په داسې حال کې چې مخکنیو درو ګروپونو په هلمند کې یو سرتیري د لاسه ورکړی وو. د موسی قلعه د جګړې څخه پرته، د مخکښانو ګروپ سرتیرو ډیرې ښې جنګي مانورې کړی وې، د موډرنې تکنالوژي او خپلو زده کړو څخه یې ښه ګټه پورته کړی وه. د ډنمارکیانو تلفات په نوي ټیپ جګړه کې چې د هلمند د شنه زون په دره کې تر سره کړه، ډیر زیات وو. کیم کریستنسن پوهیدي چې دا به څومره خطرناکه وي. کیم کریستنسن د اضافي تابوتانو او د مړو د ساتلو د یخچالونو تیاري نیولی وو تر څو وکولای شي د زیاتو مړو د چارو د عهدې څخه ووتلای شي. نوموړي هڅه کړی وه چې سرتیري د وصیت په ډول خپلې وروستی غوښتنې ولیکي تر څو ځوان سرتیري د خطر څخه په بشپړه توګه خبر شي.

ډنمارکیانو تیاري درلودي چې د جګړن اندیرس ستوورډ پلان عملي کړي تر څو سیند ته د طالبانو د ننوتلو مخه ونیسي، نو ایساف به په هلمند کې پوځي بریالي تر لاسه کړي. د ډسمبر په پیل کې انګریزانو، امریکایانو او افغان پوځ وکولای شوای، چې موسی قلعه ازاده کړي. لس میاشتي بهرنې ځواکونه تر فشار لاندې وو چې باید و یې مني چې یوازنۍ ولسوالي (موسی قلعه) په ټول هیواد کې د طالبانو تر ولکې لاندې ده. د طالبانو اکمالات د ښار څخه کیدل او هم د تریاکو په مرکز بدله شوی

[۱٤٦] - Palk Wahel
[۱٤٧] - John Lorimer
[۱٤٨]- Gibraltar
[۱٤٩] - Armadillo
[۱۵۰] - Mark Visholm
[۱۵۱] - Casper Cramer

وه، نو د ټول هلمند د ترياکو تجارت په موسی قلعه کې کيدي. موسی قلعه ځانګړی ستونزه وه چي په ټول افغانستان کي د ناټو د کمزوری له پاره سمبول ګڼل کيدي. کله چي په هلمند کي د بهرنيو پوځونو مشر، جنرال اندريو مککی ته امر وشو چي موسی قلعه بايد بيرته اشغال شي، ډير انديښمن شو. په يوه ښار کي خونړی جګړه د ډيرو ملکي تلفاتو سره به يو ځل بيا حالات دومره ترينګلی کړي چي په هلمند کي نورمال حالت ته بيرته راګرځيدل به ډير ستونزمن کړي. نوموړی جنرال د ځان سره پريکړه وکړه چي د موسی قلعه د بيا اشغال له پاره به دوو موضوعګانو ته ډيره پاملرنه کوي. لومړی بايد افغان پوځيان په عملياتو کي ګډون راسره وکړي تر څو د خلکو په سترګو کي بريالیتوب په افغان پوځيانو پوري وتړل شي. دوهم بايد طالبان تر ناڅاپي بريد لاندي را نه شي. نو ځکه جنرال اندريو مککی او د هلمند والي څو اونۍ مخکي د عملياتو خبرداري ورکړي. موخه دا وه چي د ښار او کلي اوسيدونکي چانس ولري چي د سيمو څخه ووزي. د عملياتو د پرمختګ پلان د موسی قلعه پر لوري داسي تنظيم شوو چي طالبان هم چانس ولري چي د سيمي څخه ووزي د دي پر ځای چي ووژل شي. جنرال اندريو مککی ښار کلابند نه کړي. نوموړی د ښار د شاه دروازه خلاصه پريښوده چي د درنی جګړي مخنيوی وکړي. د عملياتو شکل ډير ځانګړی و ځکه جنرال اندريو مککی نه غوښتل چي طالبان يو ځل بيا د هغو کورنيو ځوانان راجلب کړي کوم چي په جګړه کي ووژل شي. د جنرال اندريو مککی محتاطانه کړنو د ډنمارکي سرتيرو له پاره هم غبرګونونه درلودل. کله چي ډنمارکيانو د خپلو درنو زري موټري وسايطو د کاروان ورانديز وکړي، جنرال اندريو مککی په ځرګندو ټکو وړانديز رد کړي. اوس جنرال اندريو مککی وايي چي ډنمارکيانو ډير فشار راوړي خو ما ارزونه وکړه چي د درنو وسايطو رسول موسی قلعه ته اسانه چاره نه ده او د بل لوري د دغو وسايطو شتون د درني جګړي خبرتيا ورکوي. جنرال اندريو مککی د ډنمارکيانو د ډير فشار سره سره پر خپله پريکړه ټينګ شو. د ډنمارکيانو ټينګار هم په دی خاطر وو چي دغه وسايط په ځانګړي دلچسپي هلمند ته راوړل شوی وو. موسی قلعه ته درووند ګذار ور نه کړل شو. د جنرال اندريو مککی د پلان له مخي طالبان وتښتيدل او عام وګړي بيرته خپلو کورونو ته راستون شول. په عملياتو کي لويه لاسته راوړنه د ډيرو محلي طالبانو نيول او تقريباً (۳۰) د ترياکو محلي کښتونه ويجاړ ول وو.

د کرسمس په وخت کي د وژل شوي جګړن د پلان وروستی برخه چي طالبان بايد متوقف شي، عملي شوی وای. په هلمند کي د ډنمارکي پوځيانو د ځلورم ګروپ جګړه ايزه عمليات ډاراماټيک نه شول. (۱۵۰۰) تنه ډنمارکي او انګريزي سرتيري د سيند پر ښی لوری د غونډۍ ولوري ته په حرکت پيل وکړي. جګړه و نه شوه. د لويو افغاني کورنيو سره خبري وشوي چي موږ پريکړه کړی ده چي کمپ فعال کړو. افغانانو هم بل انتخاب نه درلودي. په پيل کي افغانان تيار نه وو چي کمپ ته ځای ورکړي خو د پيسو څخه بايد مننه وکړو چي هر څه يي جوړ کړل. د ارماډيلو [۱۵۲] عملياتي مرکز ډير اغيزناک و. ډنمارکي جنګي پوځيان په ګرشک کي دومره ډير مخته ولاړه چي انتظار يي نه کيدي او هم هر څه په لنډه موده کي تر سره شوه. خوشبيني دومره ډيره وه چي ايساف د ۲۰۰۸ زکال د جنوري په (۱۸) نيټه اعلان کړل چي طالبانو د ګرشک سيمي پريښودلي. کيم کريستنسن سوچ کولو چي طالبان وتښتيدل، ورک شول خو بيا هم په بشپړ باور سره قانع نه و. ايا هر څه په بيړه سرته ورسيدل؟ يو څه روښانه وه چي د هلمند د سيند خوړ (وادي) د طالبانو د تنظيم څخه پاکه شوه خو دا د پرمختګ لومړی قدم و. د ارزوني ګروپ د راتلونکي مرحلي څخه چي ثبات او پرمختګ وو، او يوه پيچلي پروسه وه، ډاريدل. بايد همدغه حالت وساتل شي. يوازي جنګي ډلي په دومداره توګه د سيند د خوړ حالت تر څارني لاندي نيولي وو. څومره ژر د پرمختګ د اوږدي مودي عمليات پيل کيږي؟ ايا د اوږدي مودي د پلانو له پاره ملکي مشاورين تيار وو چي د ژوند د خطر په قبلولو سره په هلمند کي کار پيل کړي؟ کيپتان کريستين سکيولډهل [۱۵۳] د دغو موضوعاتو له پاره پيسي نه درلودی، د نوموړي کسانو تجربه او پوهه هم په دغه تړاو نه درلوده. دوي کولای شوای چي وړی ملکي پرژی عملي کړي چي سمدستي يي د ډنمارکي پوځيانو د موخو سره مرسته کولای شوای. د پرمختيايي پروګرام عملي کول او پر محلي دولتي مقاماتو باندې د ولس باور پيدا کول د سرتيرو مسوليت نه وو. په هلمند کي د ملکي پروژو د پاره کارکول د پوځي عملياتو سره يو ځای نه عملي کيدل. د بهرنيو چارو وزارت ته لويه ستونزه دا وه چي درست خلک پيدا کړي تر څو هلمند ته يي وليږي. د ګرشک په ساحه کي د ثبات او بيا رغوني ستراتيژي هم شتون نه درلودي چي په څه ډول عملي شي؟ کيم کريستنسن د پوځي او ملکي چارو ترمينځ په ستونزو پوهيدي. کيم کريستنسن وايي: ما په ريپوټ کي وليکل بايد جدي پاملرنه وشي چي د پوځي پرمختګ څخه ښه ګټه اوچته شي. موږ د پوځيانو په توګه دا چاره تر سره کولای نه شوو. د ۲۰۰۸ زکال د فبوري په دوهمه نيټه د ارماډيلو پوځي کمپ په رسمي توګه پرانيستل شوو. د ډنمارکيانو د پوځ ځلورم ګروپ کور ته د تللو تياري نيوي. اوس بايد د پوځي ګروپ تجربي ټول پوځ ته خپري شي. د دفاع وزارت د معلوماتو په يوه غونډه کي ټولو لومړي درجه پوځي مشرانو ته د کيم کريستنسن د شپږ مياشتو د جګړي د تجربو په اړوند معلومات وړاندي کړي. ورکړل شوو معلوماتو پر جنرالانو ډيره اغيزه وښندله، هيڅ شک يي نه درلودي چي د کيم کريستنسن جګړه ايزه تجربي به د ټولو پوځ له پاره ډيري ګټوري نه وي.

---

[۱۵۲] - Armadillo

[۱۵۳] - Kristian Skyldahl

(۶۰ ـ ۷۰) تنه افسران د ډګرمني په رتبو د ۲۰۰۸ زکال د مارچ په میاشت کې په یوه پوځې ښوونځي کې سره راټول شول. په غونډه کې کیم کریستنسن د خپلو سرتیرو د تجربو په تړاو معلومات وړاندې کړل. د پوځ مشرتابه غوښتل چې پوځي مشران چې په راتلونکي کې باید په هلمند کې دندې اجرأ کړي، باید پوه وي چې چیري او کومو شرایطو ته لیږدول کیږي. د خښتو لخو دیوالونو په تیاره کوټه کې ډیر اغیزناک و.

په انځورونو او ویډیو کې : ډګروال کیم کریستنسن په پوځي جامو کې ولاړ و چې د ویر موزیک ږغیدي. کیم کریستنسن هغه انځورونه هم وښودل چې د سرتیرو پر څلورم ګروپ برید شوی و. وروسته سرتیري په منظمه توګه ولاړ وو، په داسې حال کې چې د دوي د ملګري سرتیري تابوت هغه چورلکي ته پورته کیدي چې د همدې موخې له پاره انتظار وو. د ډګروال کیم کریستنسن وینا ډیره اغیزه وښندله کله چې کیم کریستنسن د جګړن اندیرس د مړینې په تړاو معلومات وړاندې کړي. ډیرو اوریدونکو جګړن اندیرس په شخصي توګه پیژندي. کله چې کیم کریستنسن خپله وینا او د انځورونو په ښودنه پای ته ورسول، په سالون کې بشپړه چوپتیا وه. یو څو افسران ولاړ شول او چکچکې وکړي. نورو افسرانو هم چکچکې بدرګه کړي. کیم کریستنسن پخوا داسې څه تجربه کړی نه و. نوموړی اوس هم ستومانه وه او د هلمند د تجربو تر اغیزې لاندې و. دا یوازې کیم کریستنسن نه و چې ژړا یې په سترګو کې ښکاری ده. د سالون فضاء داسې نه وه چې پر پوځي مسایلو بحث پیل شي. د پوځ مشر پاول کیاسکو سوچ وکړي چې افسران پریښودل شي چې سوچونه ووهي، د نوموړي احساسات هم تر اغیزې لاندې راغلي وو. د پوځ مشر پاول کیاسکوو وویل: «موږ ډنمارکي سرتیري د پیل څخه د دوامداره برید له پاره چمتو کړي وو. دا ډول چمتووالي د ډنمارک د پوځ په نوی تاریخ کې ستر بدلون ګڼلای شوو. موږ د یو ډیر قوي او احساساتو ډک قوي بیان شاهدان یوو چې د سرتیرو هڅې او تلاښونه په څرګندو ټکو وستایل شوي او دوي یې وړتیا هم درلودل. دا وینا ډیر ښه استقبال شول خو د هغو کسانو له پاره چې د شرایطو څخه لیري وو، د پوهاوي وړ نه وه.» کله چې کیم کریستنسن د دویم ځل له پاره د وینا له پار چمتو شو، نو د پوځ مشر نور بحثونه وځنډول. په دغه ورځ د (۲۰۰۸) زکال د مارچ په میاشت کې د پوځي ښوونځي څخه هیڅوک نه پوهیدل چې د پوځ څلورم ګروپ ته غیري عادي دنده سپارل شوی وه، خو په هلمند کې دا د جګړې پیل و.

## ستومانونکې جګړه

د ۲۰۱۱ ـ ۲۰۱۲ زکال پورې

د ۲۰۰۸ زکال د مارچ (۱۷) نیټه: دوه ډنمارکي سرتیري د نورو ډېرو سرتیرو سره په ګرشک کې د ځانمرګي برید په واسطه ووژل شول.

د ۲۰۰۸ زکال د مارچ (۱۳) نیټه: یو ډنمارکي سرتیري د ارماډیلو کمپ په شمالي برخه کې په ډزو ووژل شو.

د ۲۰۰۸ زکال د جولای اتمه نیټه: ډنمارکي، انګریزي او افغان پوځي ځواکونو د اتل په نوم د اف، او، بی [۱۵٤]مرکز د طالبانو د اوسیدلو د ډیرمهم ځای څنګ ته جوړ کړی.

د ۲۰۰۸ زکال د جولای (۲۵) نیټه: ډنمارکي درنه زري موټري وسیله د اتل مرکز ته نژدې په مرسته کوونو عملیاتو کې د سړک د غاړې په مین ویجاړه شوه.

د ۲۰۰۸ زکال د اګست (۲۵) نیټه: د ډنمارکیانو یوه لاري موټر د اتل او د ارماډیلو د مرکزونو تر مینځ د سړک د غاړې د مین په واسطه منفجره شوه او ټو مسافرین ور په کبنې ووژل شول.

د ۲۰۰۸ زکال د سپټمبر (۲) نیټه: د کجکي د بریښنا بند نوی توربین انتقال شو. د انتقال په پروسه کې ډنمارکیانو ډیر ښه رول ولوبوي. طالبان یې تیر ایستل، طالبانو فکر کولو چې انتقالات به د ډنمارکیانو په ساحه کې د (۶۱۱) لارې له لارې وشي.

د ۲۰۰۸ زکال د اکتوبر (۱۷) نیټه: د اتل مرکز وتړل شو، کله چې افغان ځواکونو پریکړه وکړه چې د ډنمارکیانو د مسولیت د سیمې څخه ووزي.

د ۲۰۰۸ زکال د اکتوبر میاشت: طالبانو په ګرشک کې د جبهیې بریدونو تهدیدونه پیل کړل.

د ۲۰۰۸ زکال د ډسمبر (۴) نیټه: دوه ډنمارکي سرتیري د کمپ پرایس په جنوبي برخه کې د سړک د غاړې د ماین په واسطه ووژل شول.

د ۲۰۰۸ زکال د ډسمبر (۱۹) نیټه: یو زري پوش د اف، او، بی د مرکز او ګرشک تر مینځ د سړک د غاړې د مین په سخت انفجار کې ویجاړ شو او درې ډنمارکي سرتیرو ژوند د لاسه ورکړې.

سوني کاپیل یعقوبسن [۱۵۵] د صحرایي پوځي یونیفورم لستوني را وغښتل، رنګا رنګ پلنګي پوځي دریشي یي په تن کې و او په ټینګو ګامونو د ګرشک په بازار کې ګرځیدي. لاس یي د توپک د ماشې څخه نه لیري کولو خو ماشومانو او دوکاندارانو ته یي تبسم کولو. دغه (۴۵) کلن مشر سرجنټ د کپتان کریستین ډماهالټ [۱۵٦] سره ګزمه کول، دوي د عامو وګړو سره مرسته کوله چې د بیارغونې وړې پرژوې پیاده کړي. د دغو پروژو د پیاده کولو موخه دا وه چې پر بهرنیو سرتیرو یي باور زیات شي. د ډنمارکي پوځیانو مخې ته انګریزي پوځیان په بیړه د قوي وسلو سره مختته روان وو، تر څو امنیتي فضاء باوري کړي. دوي په بازار کې د ډلو ډلو افغانانو په مینځ کې تیریدل، موټرانو او موټرسایکلانو هرنګونه کول چې لار ورته خلاصه شي. سرتیري په اعظمي توګه لس متره سره لیري کیدل. کله کله به ډنمارکیان

ودریدل، د دوکاندارانو څخه به یي د ښار د حالت په اړوند پوښتنې کولې. ځوابونه لنډ وو خو بیا هم د ځوابونو څخه د ښار د حالت ارزونه کیدای شوای. ماشومان هم متجسس وو. یو ماشوم په انګلیسي وپوښتله: تاسې د کوم ځای څخه یاست؟ پوښتنه او ځواب لنډ او خو بحث پیل شوو. د همدغې ګزمې جریان د ۲۰۰۸ زکال د مارچ په لسمه نیټه د پوځ په بریښنایي پاڼه کې خپور شوو چې سرلیک یي «په تبسم سره په ګرشک کې». د نانوایي مخې ته یو کوچنی ماشوم ولاړ

---

[۱۵٤] -FOB

[۱۵۵] - Sonny Kappel Jakobsen

[۱۵٦] - Christian Damholt

و. په نصواري غټو سترګو يي په ډيره علاقه ګزمه کوونکو ته کتل. ماشوم په تجسس او حيرت ولاړ و. يوه سرتيري تبسم ورته وکړي. د سرتيرو د تورو عينکو لاندې ماشوم تبسم وليدي او ماشوم هم ورته تبسم وکړي. بيا هم حيران و خوپه خوشالي يې ګزمه کوونکو ته کتل. که څه هم ږوږ ډير و خو د ماشوم د «سلام» کلمه سرتيرو واوريدل، سرتيرو هم د سلام په ويلو ځواب ورکړي. ماشوم وشرميدي او ځان يې د پلار تر پټو لاندې پټ کړي خو د پټن ځای څخه يې بيا هم تبسم وکړي. د ماشومانو د کړونو څخه د ښار امنيت ارزول کيدای شوای. د ګزمې پر لار زياتره دوکانداران او د دوي ماشومان وو. د ارامي او امنيت علامه ماشومان دي. کله چې ماشومان په کوڅو کې ساتيري کوي، د انګريزي او ډنمارکي سرتيرو سره خبري کوي، مانا يې داده چې ارامي ده. سونی کيپل (۴۵) کلن، کريستن ډمهالټ (۳۳) کلن د خپلو نورو ډيرو همکارانو په پرتله مشران وو. دا د ملکي وګړو د پاره پوځيان وو چې [١٥٧] په نوم ياديدل او د ملکي پروژو په پياده کولو کې مرسته کوله. په دغه ګروپ کې د عمر په لحاظ مشرانو سرتيرو ته اړتيا وه، چې ارامش وساتي، د سيمې د خلکو سره په درناوي چلند وکړی تر څو د خلکو و ژوند ته د ننوتلو امکان پيدا کړي. سوني کيپل يعقوبسن ډير هوښيار و چې خلکو ژر باور ورباندې پيدا کولای شواي. مخکې له دې څخه چې سوني کيپل يعقوبسن افغانستان ته حرکت وکړي، د خپلې ميرمنې سره بانک ته ولاړي تر څو د کورنۍ اقتصادي چارې منظمې کړي چې د احتمالي وژلو کيدو په وخت کې کورنی ستونزې ونه لري. سره د دې چې کريستن ډمهالټ (۱۹۴) سانتي متره ځوان و، مخکې تر سفر يې په ښاروالي کې واده وکړي. نوموړي د خپلې ميرمنې سره پلان جوړ کړي چې په کليسا کې به د افغانستان د راتګ څخه وروسته د ۲۰۰۸ زکال په وړي کې واده وکړي. د ګرشک د بازار تر ګزمې يوه اونۍ وروسته يو سهار د وخته دوي دواړه بيا ګزمې ته ووتل. دوي د ګرشک تر بازار نه مخکې د کانال پر غاړه د دوکاندارانو سره په خبرو اخته شول. دوي د ښځو يو مرکز ته د ورتللو په حال کې وو چې ډنمارکي پوځيانو نوښت کړي وو. د ښځو په مرکز کې د ليک لوست، د ښځينه کميسانو او د سر دستمالانو ګنډل ورزده کول تر څو ښځې پيسې وګټي. دغه دوه سرتيري خوشال وو چې د ښځو مرکز يوه ښځينه سرتيره د ځانونو سره بوزي. دغه ښځينه سرتيره په نورمال ډول په کمپ پرايس کې اوسيدل خو هيله يې درلوده چې ښار په خپلو سترګو ووينې. د ډنمارکيانو چکي ساتونکي سرتيري تيت شول خو په بازار کې د موټرانو او بايسکلانو د بيرو بار څخه يې د پياده خلکو حالات تر کنترول لاندې نه وو. يو سړه د پلان له مخې د چکي ساتونکو څخه تير شو، دډنمارکي سرتيرو او ورسره ژباړن پر لوري ور روان و. کله چې څو قدمه ځيني ليري و، بمب ته يې انفلاق ورکړي. انفجار ډير ډارونکي او سخت و. د لومړي ځل له پاره پر ډنمارکي سرتيرو ځانمرګی بريد وشوو. کله چې دوړی او خاوري ليري شوي، وليدل شول چې شپږ کسان مړه او دري ټپيان وو. سونی کيپل ، کريستن ډمهالټ، ژباړن کاظم او د چکي سرتيرو قوماندان، (۳۵) کلن ميلان ستربا [١٥٨] مړه وه. همدا ډول ځانمرګ کوونکي او يو دوکاندار مړه وه. ښځينه ډنمارکي سرتيره د بمب د فشار په واسطه ټپي شوی وه او هم يې پر مخ ټپونه درلودل، خو ژوندی وه. د نوموړې سرتيري زري واسکټ د بمې ټوټو مخه نيولي وو مخکې له دې څخه چې په ستوني کې ولګيږي. څو کيلومتره ليري په کمپ پرايس کې يو سرتيري په منډه د عملياتو د قوماندې کوټې ته ځان رسولی و. د ګرشک په بازار کې پر ګزمې ځانمرګی بريد شوي دی. سرتيري وپوښتل چې تاسو ته اطلاع رسيدلی ده؟ موږ ته اطلاع رسيدلې نه ده. د ځانمرګي بريد ژوندي انځورونه چې د وړې بی بيلوټه اکتشافي الوتکي (راوين) [١٥٩] په واسطه اخيستل کيدل، د کمپيوټر پر پرده ښکاره شوه. د انفجار ځاي په وضاحت ښکاريدي خو بيروبار نه وو. خلک ارام او په پټه خوله ګرځيدل. د عملياتو په کوټه کې اميدونه وپاريدل. کيدای شي چې خطرناکه پيښه نه وه. ټليفون زنګ وواهه، نوکريوال په لوړ ږغ خبري کولې خو هغه يې ليکلې. همدا شيبه د يوه چيکي، يوه انګريزي او يوه ډنمارکي د ويشتلو خبر راورسيدې. نور معلومات نه و. ښځينه ټپي سرتيرې د کمپ پرايس روغتون ته انتقال شوه او تر معالجې لاندې ونيول شوه. نوموړې ټپي ښځينه سرتيري وويل چې کريستن ډمهالټ او سوني کيپل يعقوبسن و نه کولای شواي چې د انفجار طاقت راوړي. سرتيرو خپلو کورونو ته په پوځي کمپ کې د وړې او لويې پيښې په تړاو معلومات استول. په نورمال ډول يې خنداورې کيسې کورنيو ته استولې. خو د ځانمرګي بريد څخه ځلور ورځې وروسته حالات غيري عادي و. د دوو ډنمارکي سرتيرو د وژنې جزييات د دوي ملګرو بيان کړل چې په هغه سهار دوي څه ډول وو. د سرتيرو په خبري ليک کې ليکل شوی وو: « د مارچ (۱۷) نيټه د دوشنبې سهار هغه ورځ وه چې موږ به يې د هميش له پاره په ياد وساتو. د مارچ (۱۷) نيټه د دوشنبې سهار موږ يوه شولو چې په يوه شيبه په نړۍ کې څنګه بدلون راتلای شي. دغه پيښې پر موږ ټولو ډيره اغيزه وکړه. تر ځانمرګي بريد وروسته ډنمارکيانو د بازار په ګنه ګوڼه لارو کې ګزمه پريښودل.

د کريستين ډامهالټ مړي په ځانګړو پوځي مراسمو سره په داسې حال کې چې د دفاع وزير، سيون ګيده او د پوځ لوی درستيز، يسپر هيلسيو ګدون درلودي، د مارچ په (۲۶) نيټه د فيون [١٦٠] په جزيره کې خاورو ته وسپارل شو. په همدغه

[١٥٧] - CIMIC
[١٥٨] - Milan Sterba
[١٥٩] - Raven
[١٦٠] - Fyn

ورځ د دفاع وزیر او د پوځ لوی درستیز خبر تر لاسه کړي چي بیا هم یو سرتیري، اندیرس [١٦١] بیان د ارمادیلو د کمپ په شنه زون کي د سړک د غاړې په ماین وژل شوی او یو بل هم ټپي دي. په ګرشک کي ځانمرګي برید او د ارمادیلو د کمپ په شنه زون کي د سړک د غاړې ماین وښودل چي طالبانو د جګړې ډول د ډنمارکیانو په مقابل کي بدل شوی دي. د لومړی ځل له پار ډنمارکیانو د طالبانو د خوښ کړي وسلو (ځانمرګی او د سړک د غاړي ماینونه) څخه تلفات لیدل. د دغه وسلو لاسته راوړل ډیر اسانه چاره وه او اړتیا یي نه درلوده چي د قوي دښمن سره مخامخ جګړه وکړي. د سړک د غاړې بمونه موثر او هم یې روحي اغیزه پر ډنمارکیانو ډیره وه. د بل بم د چاودلو سوچونه د ډنمارکي پوځیانو له پاره ډارونکي وو. د ډنمارکیانو پنځمه پوځي ډله د فبوري په میاشت کي هلمند ته راغلل. د نوي پوځي ډلي دنده د پخوا په شان د هغي سیمي ساتل او په ګرشک کي د امنیت ټینګول و. طالبنو د مخکني پوځي ډلې بریدونه په شاه تمبولي وو او د بریدونو ځواب یي ورکاوه. د اندیرس بیان تر مرګ پنځه ورځي وروسته د جګړې په جریان کي د ارماډیلو د کمپ په شمالي برخه کي کریستین روشو [١٦٢] وویشتل شو. ډګروال ینس لیون بورګ [١٦٣] د جګړې معلومات داسي وړاندې کړي: په دوو اونیو کي څلور سرتیري ووژل شول او پنځه ټپیان شول. کله چي ډنمارکي پوځي مشران په هلمند کي سره راټول شول او ډګروال ینس لیون بورګ د دوي لوري ته وکتل، سوچ یي وکړي، که جګړه دغه ډول دوام وکړي، په څه ډول به یې تر عهدی ووزو. مګر اندیښنه نه وه ځکه د نوموړي سرتیرو په بیره د ډار حالت څخه ځانونه ایستل.

په ډنمارک کي حکومت د هلمند د عملیاتو څخه د ګوندونو د نه ملاتړ موضوع جدي نه وه.مګر د ٢٠٠٦ زکال په منی کي د موسی قلعه سختو جګړو د ګوندونو د ډیره کیو د ملاتړ په تړاو اندیښني را پورته کړي، مګر د ٢٠٠٨ زکال د مارچ په میاشت کي هیڅ اندیښنه نه وه.

سره د دي چي تر یوه کال په لږ موده کي (١١) ډنمارکي سرتیري ووژل شول. عامو ډنمارکیانو هم د عملیاتو په تړاو ډیرې نیوکي نه کولي. هر څومره چي ډیر سرتیري مړه کیدل، هغومره سیاستوال او عام وګړي ټینګ ولاړ وو. د دفاع وزیر د پولیټکن په ورځپاڼه کي د مهربانیو په احساساتو یوه وینا خپره کړه: «د یوه سرتیري د لاسه ورکول د اضافه تلفاتو په مانا دي، خو د جګړې د ډګر څخه نه تیښتوو. زموږ د عملیاتو موخي ګډوډې شوی نه دي.» صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن په ډیر تأثر وویل: «په خواشیني باید ووایم چي په وروستیو اونیو کي موږ تر سختو بریدونو لاندې راغلي یوو خو تر ټولومهمه دا ده چي ولس د خپلو پوځیانو ټینګ ملاتړ وکړي.»

په بدل کي د ډنمارک حکومت او ګوندونو د نیوکو تیره څوکه د ناټو هغو غړو هیوادونو ته وه چي افغانستان ته یي سرتیري استولی نه دی او یا هم هغو هیوادونو ته چي سرتیري لیږلي خو هڅه یي کړي چي پوځیان یي د افغانستان په ارامو سیمو یاني شمالي او لویدیزو برخو کي ځای پرځای کړي. صدراعظم وویل چي ما انتظار درلودي چي د ناټو د مشرانو په غونډه کي چي د ٢٠٠٨ زکال د اپریل په میاشت کي جوړه شوه، د ډیرو سرتیرو استول به افغانستان ته وعده وشي خو دا چاره تر سره نه شوه. د امریکا د پوځ مشر قوماندان، دان مک نیل [١٦٤] د (١٠٠٠٠) اضافه سرتیرو غوښتنه وکړه خو یوازې د (٢٠٠٠) سرتیرو وعده یي تر لاسه کړه. د پوځ د قوماندې په مرکز کي، یسپر هیلسیو او تیم سلوت یونسن ارزونه کوله چي د ډنمارک خلک به څومره تلفات وزغملای شي. د پوځ مشر وویل چي د ډنمارک خلک ډیر تلفات زغملای شي که یوه شي عملیات د یوې ښې موخي د بریالیتوب له پاره کیږي. د پوځ د مشر مرستیال، تیم سلوت یونسن وویل چي هیڅ ډول منطقي ځواب نه شو پیدا کولای چي کوم وخت وواېو چي اوس نو کافي دي. د مړو د تابوتونو راليږل نه متوقف کیدل، کله یو تابوت، کله دوه تابوتونه رارسیدل. د تابوتونو سرحد څومره دي؟ ٧، ١٤، او که (٨٩) ؟ تیم سلوت یونسن وویل: پس دغه یي اخیري سرحد دي؟ مګر موږ په رښتیا نه پوهیدلو چي څو تنه مړي نو وروستی سرحد دي.

د دفاع وزارت مشرتابه ډیر اندیښمن و. د میډیا ستراتیژي یي د کاري لست په سر کي ځای کړل او ډیر کسان یي مقرر کړل. مشرتابه یو دقیق پلان جوړ کړي چي د ډیرې ناوړه پیښي د پیښیدو په صورت کي باید د عامه خلکو د خبرتیا په تړاو څه ډول غبرګون وښيي. تر ټولو لویه اندیښنه د ترانسپورتي الوتکي (ث ـ ١٣٠) راغورځیدنه وه چي هر ځل یي (٩٠) سرتیري د رخصتیو له پاره انتقالول. سره د دي چي الوتکه د راکټ ضد وسایلو باندې مجهزه وه، او ډیره بیړنی او ناڅاپي ناسته یي کولای شوای خو بیا هم د پورته کیدلو په وخت کي خطر و. د خوښي ځای دا و چي هغه امریکایي توغندي چي د جهاد په وخت د مجاهدینو په واک کي ورکړل شوی وي او ډیر شورویان یي په ووژل نور د فعالیت څخه لویدلي وي. یسپر هیلسیو یو بله لویه اندیښنه درلوده: « نوموړي په خپل دفتر کي د یوې مشاورې څخه وپوښتل، ایا د وژل شوو سرتیرو له پاره په کافي کچه مدالونه شته؟» دا یو معمول و چي هر وژل شوي سرتیري ته یو مدال ورکول کیدي. مګر د ډیرو سرتیرو

١٦١ - Anders Bjørn

١٦٢ - Christian Raachou

١٦٣ - Jens Lønborg

١٦٤ -Dan McNeill

د وژل کیدو په خاطر په هلمند کي یوازي دوه مدالونه پاته وو. یسپر هیلسیو امر وکړي چي په کافي کچه مدالونه رانیسي او په یوه تړلي بکس کي واچوي تر څو په هلمند کي شتون ولري او د سرتیرو د وژل کیدو په وخت کي ورکړل شي. پوځي مشرانو سوچ وکړي چي ایا ممکنه ده د رواني خونړي جګړې څخه څه زده کړه وشي؟ هر ځل به چي یو سرتیري ووژل شو او یا به ټپي شو، یو بشپړ رپوټ برابریدي. په څه ډول سرتیرو عملیات کول، کومي وسلي یې درلودې او په کومو وسلو وویشتل شول؟ په ځانګړی توګه د سړک د غاړې د ماینونو په خاطر د ډګروال لیون بورګ د پنځمي ډلي سرتیرو په سیمه کي ګزمه کول ودرول. سرتیرو د ډیر احتیاط څخه کار اخیستي که به پیاده او یا په موټر کي وو، د ډیرې معمولي لارې څخه یې کار اخیستي. سرتیري د دي پر ځای چي پر سړکانو او لارو ولاړ شي، په کروندو کي تلل. دوي به د ویالو او کانالو څخه ټوپ اچولو، د دي پر ځای چي د پلونو او یا د معمولي لار څخه تیر شي. د پوځ د قوماندې د مرکز په آند د وړو تاکتیکونو بدلون کافي نه وو. په ۲۰۰۸ زکال کي چي زیات انساني تلفات مو ورکړل، اړینه وه چي د ډنمارک خلکو او سرتیرو ته عملي اجرأت او ښه تدابیر وښودل شي. نور باید کورنی په اندیښنو کي ډوبي نه وي، باید موږ اضافه څه وکړو.

د موګنس لویکه ټافټ ټلیفون د اپریل په (۷) نیټه د یکشنبي په ورځ زنګ وواهه. د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر غوښتل چي د سوسیال ډموکراټانو د بهرنیو اړیکو د کمسیون مشر په هلمند کي د یوبل جګړه ایز اقدام له پاره اماده کړي. حکومت غواړي څلور د څار چورلکي هلمند ته واستوي. دا چورلکي به په اسمان کي د سرتیرو سترګي وي او پر مځکه به د سرتیرو امنیت وساتي. وروسته د بهرنیو چارو وزیر د ډنمارک د خلکو ګوند او کیڼ اړخه لیبرال ګوند مشرانو ته زنګ وواهه. ټول ګوندونه په هلمند کي د عملیاتو سره د نوو مرستو د جریان څخه خبر کړل شول. د چورلکو استولو او په ټولیزه توګه د (۵۰) نفرو پیلوټانو، میخانیکانو او مرستندویه عملي سره پر پریکړې به وروسته د پارلمان تایید واخیستل شي. د پورته تجهیزاتو استولو لګښت د څلورو او یا شپږو میاشتو له پاره (۳۰) میلیونه کرونه کیدي.

کله چي ګوندونو وړاندیز ته د هوکي سر ښوراوه نو موګنس لویکه ټافټ د یولند پوسټن ورځپاڼي ته وویل: « د وروستیو خواشینونکو انساني تلفاتو په پایله کي د پوځ مشرانو دغه وړاندیز وکړي. دا یوه بیړني غوښتنه وه.» موګنس لویکه ټافټ وویل چي ډیره ستونزمنه وه چي وړاندیز رد کړو ځکه د سرتیرو د امنیت ساتلو موضوع و او علاوه یې کړل: « موږ نور جنګي پرسونل افغانستان ته نه لیږو. موږ بی وسلي د څار الوتکي لیږو.» خو نوموړی غلط پوهیدلي و چي چورلکي بی وسلي دي. چورلکي په ماشینګړو مجهزې وي تر څو د سرتیرو سره د هوا څخه مرسته وکړي. چورلکي شپه او ورځ باید د دښمن فعالیتونه، پلان جوړونه او د سړک د غاړې ماینونو د ښخولو څار وکړي. چورلکي باید په بیړه او باوري توګه ډنمارکي پوځیان او مهم میلمانه تر کمپ پوري انتقال کړي. شپږ میاشتي مخکي ډنمارک په هلمند کي خپل پوځیان په درنو زرې موټرې وسایطو سمبال کړل په هغه وخت کي هم پلان و چي د سرتیرو د مرستي له پاره چورلکي هم ولیږل شي. په هغه وخت کي ستونزه سیاسي وه ځکه حکومت په یوه ځل د پارلمان څخه د اضافي مرستو غوښتنه کولای نه شوای. داسي به ښکاره شوی واي چي د چورلکو لیږل د حالاتو د خرابولي پایله ده. بل دلیل هم دا و چي کیدلای شوای د افغانستان د جګړې څخه د ډیره کیو ملاتړ رنګ شوی واي، ځکه هر ځل چي د جګړه ایزو توکو د لیږلو بحث کیږي دا خطر شتون لري. خو اوس د موجودو ستونزو سره سره پوځ او حکومت د څلورو چورلکو د استولو غوښتنه وکړه. د پوځ له پاره ډیره مهمه وه چي د جدي اجرأتو سیګنال تر ډیرو مرګ ژوبلو وروسته ورکړل شي. بله ستونزه دا هم وه چي د ډنمارکیانو پنځمي پوځي ډلي هیڅوخت د چورلکو غوښتنه کړی نه وه. دا سیاسي پریکړه وه، خو کومه پوځي مسلکي پریکړه نه وه.

په پارلمان کي د چورلکو استولو تر پریکړې یوه ورځ مخکي د پولیټکن ورځپاڼي د ورځپاڼي پر مخ ولیکل چي وړو چورلکو ته په هلمند کي اړتیا نه شته. «ډګروال ینس لینبورګ [۱۶۵] د کمپ پرایس څخه تایید کړه چي نوموړي چورلکي غوښتي نه دي. وروسته یې علاوه کړه چي د چورلکو رالیږل بده چاره نه ده او لږ تر لږه روحي اغیزه لري.» د پوځي ښوونځي مشر، ډګروال لارس میولر [۱۶۶] په نیغه وویل «چي زه داسي پوهیدلي یم چي پوځ دغه چورلکي غوښتي نه دي نو ولي لیږل کیږي؟ نوموړی وویل چي موږ باور لرو چي زموږ چارې په افغانستان کي په دقیقه توګه تحلیل شوی دي.» د ډګروال لارس میولر خبرو د دفاع وزیر او د پوځ مشر ډیر خوابدي کړل ځکه چي نوموړي د پوځي ښوونځي د مشر په توګه په افغانستان کي د سرتیرو د تلفاتو د ارزوني په جریان کي نژدې سړي و چي د هر څه څخه یې معلومات درلودل. کله چي تلفات ارزول کیدل چي سرتیري باید د تلفاتو څخه زده کړه وکړي چي نور تلفات و نه ویني هم نوموړي ناست و. د نوموړي دغه بیان په پارلمان کي د سوسیالیست ګوند لوړ پوړی هولګر نیلسن وهڅاوه چي دغه وړاندیز وکړي: ( د چورلکو د استولو پریکړه باید تر هغه وخته پورې وځنډیږي چي د پارلمان دفاعي کمسیون موضوع نوره هم ژوره وڅیړي.) د هولګر نیلسن وړاندیز د سوسیال ډموکراټانو او کیڼ لیبرال ګوند ملاتړ هم تر لاسه کړي. د دفاع وزیر چي ډیر قهر شوی و، اړ شو چي وړاندیز د پارلمان غونډې ته د دوهم ځل له پاره ولیږي. د دفاع وزیر وویل چي په ټول درناوي ینس لیونبورګ ، لارس میولر او نور ټولو کارپوه افسرانو ته ، خو زما وړاندیز او مشوره د دفاع وزارت د لوړو مشرانو څخه چي د جنرالانو په سویه دي،

---

[۱۶۵] - Jens Lønborg

[۱۶۶] - Lars Møller

سرچینه اخیستي وه. ماته د انتظار څخه لیري وه چې زه د ولس په مخ کې ناکامه شم. د چورلکو د استولو موضوع ډېره جنجالي شول. په عادي توګه د استول شوي پوځ سره د اضافه مرستو او یا د نویو موادو د استولو وړاندیز د عملیاتو د قوماندې د مرکز څخه کیږي چې په نیغه په هلمند کې د سرتیرو مسولیت لري. ولې پوځ هیڅوخت د چورلکو د استولو غوښتنه نه وه کړې. دا ځل د دفاع وزارت د قوماندې مرکز وروسته تر هغه چې د ۲۰۰۸ زکال د مارچ په میاشت کې سرتیرو ته درانه تلفات واوښتل، د چورلکو استولو وړاندیز یې د بیړنی موضوع په ډول وړاندې کړې. د پوځ مشر، یسپر هیلسیو وویل چې ما د هلمند څخه د لیدلو پر محال مخامخ د ډنمارکي پوځیانو د څلورمې ډلې د مرستیال قوماندان د خولې څخه دغه غوښتنه واوریدله. د پوځ د عملیاتو د قوماندې مرکز هم د وړاندیز څخه ملاتړ وکړې او همدا ډول د ځارونکو چورلکو غوښتنه د ډنمارکي پوځ د څلورمې ډلې په وروستي رپوټ کې بیان شوی وه. پوځ بیان نه کړل چې د حالاتو د ښه کولو له پار د څو وړاندیزونو څخه یوه غوښتنه وه خو د وړاندیزونو په سر کې قرار نه درلودې.

کله چې د چورلکو د لیږلو موضوع د پارلمان د دوهم ځلي بحث له پاره وځنډیدل، کارپوهانو خبرداري ورکړې چې دغه وړې چورلکې د هلمند په توده او باریکه هوا کې مناسب انتخاب نه دي نو په همدغه دلیل چورلکې نه شي کولای چې ډیر بار او یا مسافر انتقال کړي. بیا هم دغه خبرداری د سیاستوالو نظر ته بدلون ور نه کړې. د جون پر لسمه نیټه وړاندیز تصویب شو. سیاستوالو نه غوښتل چې د چورلکو په نه لیږلو د یوه سرتیري د مړینې مسولیت واخلي. لږ موده وروسته ډګروال لارس میولر د نوموړی د غوښتنې پرته د پوځ د قوماندې د عملیاتي مرکز یو دندې ته تبدیل شوو تر څو ونه کولای شي پرته د خپل امر څخه دا ډول ویناوې وکړي. چورلکې هلمند ته ولیږل شوې. خو ټولو چورلکو هغه تخنیکي ستونزې پیدا کړې کوم چې کارپوهانو خبرداري ورکړی وو. دغه وړوکې موتور په دغه توده او باریکه هوا کې نه شوای کولای چې یوه ماشینګړی په هوا کې د چورلکې او پر مځکه د سرتیرو د ساتلو له پاره انتقال کړي. نو اړتیا وه چې چورلکه په ډیره لوړه ارتفاع الوتنه وکړی. په لوړه ارتفاع کې کامرو د دښمن او دوست تر مینځ تشخیص کولای نه شوو. د چورلکو بله ستونزه د انتقالاتو په برخه کې وه چې د سرتیرو او میلمنو د ژر انتقال قابلیت یې نه درلودې.

د اکتوبر په میاشت کې د چورلکو قوماندان، ډګرمن ستین اولریک د پولیټکن ورځپاڼې ته وویل: « موږ کولای شوو چې کښته د جوارو کښتونه ووینو خو نه پوهیږو چې د جوارو په کښت کې یوه غوا ده یا یو بزګر په کار لګیاه دی او که وسلوال طالب دي. خو پر مځکه سرتیرو ته معلومات ورکوو چې یو څه شته. نو بیا دوي د خپلو مقرراتو له مخې کړنه کوي. خو نوموړی د چورلکو (۳۰) میلیونه کرونه لګښت یوه ضایعه نه ګڼي خو کیدلای شوای چې ښه کار ورڅخه اخیستل شوی وای.» د ۲۰۰۹ زکال د مارچ په (۲۳) نیټه د دفاع وزارت د قوماندې د مرکز څخه د یو رپوټ په طرز کې ټولې ستونزې پارلماني دفاعي کمسیون ته خبر ورکړل شوو چې ارزونه یې وشي. په رسمي ژبه داسي ولیکل شول: « د هوایي ځواک د قابلیت نه درلودل عملیاتي امکانات محدود کړی دي.» خو بیا هم د دفاع وزارت د قوماندې مرکز او د دفاع وزیر، سیون ګیده د چورلکو لیږل مثبت ارزیابي کړل.» خو اوس یسپر هیلسیو وایي چې د دفاع وزارت دقوماندې مرکز ارزونه مستنده نه وه. بیا هم یسپر هیلسیو وایي چې په پوځې ژوند کې پریکړه پر (۴۰) سلنه پوهې او (۶۰) سلنه اټکلونو چې د ګیډې محصول وي، کیږي.

کله چې ډنمارکي سرتیري په ګرشک کې په ګزمه لګیاه وو، دوي هغه کوله چې د بزګرانو د ترياکو غيري قانوني کښت چې تازه یې ګلان غوړیدلي وو، ورته ویجاړ نه کړي. د ۲۰۰۸ زکال د اپریل په میاشت کې د ترياکو حاصل ته یوه میاشت پاته وه. اندرسی فوک غاسموسن تر تونی بلیر ډیر احتیاط کولو چې د ډنمارکي سرتیرو ګډون د هلمند په امنیتي حالت کې د ترياکو په کښت او کر پوري وتړي. ډنمارکیان باید ځانونو ته د ترياکو د کښتونو په ویجاړولو چې ګلان یې غوړیدلي دي، نور دښمنان پیدا نه کړي. د ګزمې پر وخت سرتیرو ته ویل شوی وو چې د تاریکو کښتونو ته زیاته پاملرنه وکړي.

په ۲۰۰۷ ز کال کې تقریباً د نړۍ (۹۵) سلنه ترياک په افغانستان کې کرل کیدل. د ملل متحد د احصایي له مخې تقریباً د نړۍ نیمایي ترياک د هلمند په شنه زون کې تولیدیږي. ترياک د سیند په اوږدو کې کرل کیدل او د سیند څخه څو کانالونه و دښت ته کښل شوی دي چې دښتې مځکې یې د کښت له پاره اماده کړي دي. همدغه دلیل دي چې د ترياکو کښتونه په ریګې مځکو کې ښه حاصل ورکوي. د کجکي بند د اوبو د ذخیره کولو لوی مرکز دي چې د هندوکش د غرونو څخه سرچینه اخلي. د هلمند سیند شمالي برخو ته په اوږدوالی دوام کوي. د باور وړ نه ده چې د لویدیز ملاتړي شاهي کورنی پریکړه وکړه چې د اوبو رسولو یو کانال وکاږي تر څو وکولای شي د کابل څخه بهر په کلیوالي سیمو کې پرمختګونه رامینځته کړي. تر ټولو لویه او ارزښتناکه پروژه د هلمند او ارغنداب وه چې د هلمند د سیند او د ارغنداب د کوچني سیند په نوم ونومول شول. د اوبو د سیستم په جوړولو سره یې غوښتل چې د هلمند ولایت د افغانستان د غنمو په ګدام بدل کړي. د تمویل پیسي یې د امریکا د انکشافي بودجې ۱۶۷ څخه راتللي. د دغه نوښت مفکوره د امریکا د اوبو رسولو د سیستمونود جوړولو د یوې لویې

۱۶۷ - USAID

موسیسي، هوورډم [۱۶۸] له خوا چې د اریزونا[۱۶۹] او نیوادا [۱۷۰] پر سرحد پرته ده او هم د بندونو جوړولو د موسیسي لخوا چې تینیسي[۱۷۱] کې پرته ده، رامینځته شوه. په تخنیکي لحاظ د پروژې ډیره برخه عملي شوه خو په مځکه کې د زیاتي مالګې پیدا کیدل ستونزه جوړه کړه. کله چې زیات کوچیان اړ ایستل شول چې دغه مځکې تر لاسه کړي یوه ټولنیزه ستونزه یې رامینځته کړه. کله چې په اوبایمو کلونو کې کمونستان واک ته ورسیدل، پروژه د ناکامي سره مخامخ شول. د امریکایي او د لوړ کلاس د کورنیو اوسیدل د هلمند د لښکرګاه پر ښار باندې اغیز ښندلی وه. کله چې په ۲۰۰۶ زکال د لومړی ځل له پاره ډنمارکیان د لښکرګاه ښار ته ورسیدل، ویې لیدل چې ښار منظم سړکونه لري که څه هم قیر یې له مینځه تللی وو. کورونه او د ښار څلور لارې د امریکایانو د هغه وخت د پلانګذاري بیلګې وې چې د امریکایی انجنیرانو او کارکوونکو له پاره یې د استوګنې بلاکونه وه. د لښکرګاه ښار سینما درلودل. ودانی پاته وې خو ټول د امریکایي کارپوهانو ځانګړتیاوې له مینځه تللي وې. د اوبو رسولو بشپړ سیستم پاته و. طبعي ده چې د تریاکو کښت د پروژې د پرمختګ یوه برخه نه وه. په پرنسیپ کې د تریاکو کښت او د نورو نشه ای توکو استعمال په اسلام کې منع دي. خو بیا هم ډیر بزګران تریاک کري ځکه حاصل یې ډیر دي نو کولای شي زیاتي پیسې لاسته راوړي. کوکنار داسې نبات دي چې زیات زغم لري او کښت یې اسانه دي خو بیه یې لوړه ده. سره د دي چې بزګران د کوکنارو د کښت د حاصل د ارزښت څخه یوازې (۱۰) سلنه لاسته راوړي خو بیا یې هم د غنمو په پرتله ګټه (۳ ـ ۱۰) برابره زیاته ده. په هلمند کې ډیر بزګران د مځکې د خاوندانو پوره وړي دي نو ځکه اړ دي چې کوکنار وکري تر څو خپل پور دوباره ورکړلای شي. د تریاکو کرل په ناارامو سیمو کې عادی بڼه لري. تخم یې د مځکې د خاوند او یا د نشه ای توکو د قاچاق وړونکو له خوا بزګرانو ته ورکول کیږي او همدغه کسان د تریاکو د انتقال بارجامه (کځوړې) ورته برابره وي کله چې تریاک د کوکنارو څخه وتوږل شي. په دغه ډول بزګران د تریاکو د پلورلو د خطر څخه چې لوی ښارونو ته به یې انتقالوي، خلاصیږي. د تریاکو د کښت په خاطر د هلمند ولایت په افغانستان کې ډیر بډای ولایت دي. دا غیري عادي خبره نه ده چې په هلمند کې د منځني کلاس خلک د زوی په واده کې د (۱۵ ـ ۲۰۰۰۰) زره امریکایي ډالره لګوي. د تریاکو ارزښت هغه وخت ډیر زیاتیږي چې په هیروینو بدل شي. دا هغه پیسې دی چې نه یې بزګران او نه یې هلمندیان لیدلای شي. د نشه ای توکو لوي کاروباریان د پیسو یوه برخه په کابل کې پانګه اچونه کوي. لوی لوي ودانی او بلاکونه یې جوړ کړی دي چې د اروپا سره پرتله کیدلای شي. د نشه ای توکو لوی قاچاق وړونکو په کابل کې د پاکستان په ډول دري ـ څلور پوړیزه ښکلي بنګلي جوړې کړی دي. د همدغو پیسو زیاته برخه عربي هیوادونو، امریکا او برتانیا ته د پانګې اچونې په خاطر انتقالیږي. څرګنده نه ده چې طالبان د تریاکو څخه څومره عواید په لاس راوړي. وسله وال مخالفین د سعودي عربستان او نورو عربي هیوادونو د اسلام پالو او بنسټپالو ډلو څخه هم ډیري پیسې لاسته راوړي. د ملل متحد د معلوماتو له مخې طالبان د عوایدو لسمه برخه د زکات او یا هم د مرستې په بڼه تر لاسه کوي. دغه عواید چې ملا عمر د مالیې په ډول د (۲۰۰۲ ـ ۲۰۰۶) زکلونو کې په لاس راوړي دي، (۵۰۰) میلیونه کرونه اټکل کیږي. تر (۲۰۰۶) زکال وروسته د تریاکو کښت زیات شوو نو ځکه طالبانو هم د جګړه ایز ماشین د فعال ساتلو له پاره ډیره مالیه ټوله کړی ده. کله چې په (۲۰۰۸) زکال کې د کوکنارو حاصل ټول شوو، طالبانو بیا په بریدونو کې زیاتوالی راوستي. د تریاکو د حاصل ټولولو په وخت کې محلي بزګران ډیر بوخت وي چې اومه تریاک راټول کړي. کله چې د طالبان تریاکو شیره (اومه تریاک) ټول شي نو په زرګونو غریب بزګران وزګار شي. د همدغو وزګارو بزګرانو څخه ښه ګټه پورته کوي. دغو بزګرانو ته د ورځې لس ډالره معاش ورکوي چې د لس ډالري طالبانو په نوم یادیږي.

ډنمارکي پوځیانو تر ولکې لاندې سیمه ټینګه ساتلي وه او د انتظار څخه لیري یوه مرسته ورکړه شوه. په عادي توګه څو سوه محدود افغاني پوځیان یاني د ملي اردو سرتیري د ډنمارکیانو د مسولیت په ساحه کې وو. مګر د ۲۰۰۸ زکال د پیل څخه د ملي اردو یو غونډ چې اضافه تر (۵۰۰) سرتیري درلودل، سیمې ته راولیږل شول. ناڅاپه نور افغاني سرتیري هم سیمې ته راغلل چې د افغاني سرتیرو شمیر (۱۰۰۰) تنو ته ورسیدي. دا مرسته د ډنمارکي پوځیانو د انتظار څخه لیري وه خو ډیر ورباندې خوښ شول. سره د دي چې افغاني پوځیان د ایساف تر قومانده لاندې نه وو، خو بیا هم کومکي قوت وو. ینس لیونبورګ غوښتل چې د افغاني پوځیانو په مرسته د هلمند سیند په اړخ کې یو نوي مرکز د ارماډیلو د لویدیز لورې او ګیبرالټار د ختیز برخې ترمینځ جوړ کړي.دغه مرکز به نور هم طالبانو ته ستونزمنه کړي چې د سهیل له لورې په شیله کې (د سیند پر غاړه) ګرشک ته ننوزي. خو داسې ونه شوه.پلان د افغانانو د لورې په زړه پورې نه وو.افغانانو غوښتل مخته ولاړ شي او یو دایمي مرکز د ارماډیلو په سهیل لورې کې جوړ کړي پرته له دي نه دا به طالبانو ته ډیر نژدې وې. ینس لیونبورګ د پورته پلان سره علاقه نه درلودل. همدا شیبه موږ د سیند په (۱۵) کیلومتري اوږدوالي کې د ګرشک او ارماډیلو ترمینځ امنیتي ستونزې درلودې خو اوس افغانانو غوښتل چې د سهیل لورې ته نور پنځه کیلومتره امنیتي ساحه پراخه کړي. بله خبره دا وه چې افغان پوځ زموږ د ډګروال تر قوماندې لاندې نه و نو ځکه د دوي پلان یې شنډ کولای نه شوای. څو سوه

[۱۶۸] - Hoover Dam

[۱۶۹] - Arizona

[۱۷۰] - Nevada

[۱۷۱] - Tennessee

افغان سرتيري د سيند سهيل لوري ته وخوځيدل او د لومړي ځل له پاره ډنمارکي پوځيانو مرسته کوونکي رول ولوبولو. افغاني سرتيري په سيمه کي کور پر کور ګرځيدل خو ډنمارکي سرتيرو د شنه زون د ځنډو څخه مرسته ورسره کول. افغان ځواکونو تر څو ورځو پرمختګ وروسته د ۲۰۰۸ زکال د می په مياشت کي د اتل په نوم پوځي مرکز پرانيستي. خو ډنمارکيانو بيا هم د افغاني پوځي مرکز د ټينګيدلو په تړاو شک درلودي. د افغاني پوځي ځواکونو پرمختګ د يوې لوی بريا په توګه په هلمند کي ونمانځل شو.

د افغان پوځ په ويپانه کي دغه بريالیتوب بی قيد او شرط څخه يو لوي برياليتوب وګڼل شول. د افغاني پوځ مشرانو وويل چي پوځي مرکز يوه ښه بيلګه ده چي افغانان د امنيت ساتلو د عهدي څخه وتلای شي، دليل يي همدا دي چي خلکو زموږ افغاني سرتيرو ته تود هرکلي ووايه. د اتل پوځي مرکز قوماندان هم يو ملا و نو ځکه د پوځي مرکز د لوډسپيکر په مټ يي پنځه وخته اذان او لمونځ کولو. د پوځ د بريښنايي پاڼي د معلوماتو پر بنسټ محلي خلک د افغان پوځ د راتلو څخه ډير خوښ وو چي اوس يي خپل سرتيري د طالبانو په مقابل امنيت ساتي. په حقيقت کي د اتل پوځي مرکز ډنمارکيانو ته د برياليتوب په بدل کي انديښني وزيږولي. مرکز د دښمن په مينځ کي پروت و. دغه سيمه د اسحاقزو د قوم ترولکي لاندې وه چي د کلونو په اوږدو کي د نورو قومونوسره دښمني درلودي. طالبانو د قومونو د خپل منځي اختلافاتو څخه ګټه پورته کړه او د اسحاقزو د قوم ملاتړ يي کاوه. کله چي ډنمارکيانو د ارماډيلو کمپ د بارکزو په سيمه کي پرانيستي و، نو داسي تعبير شول چي ګواکي ډنمارکيان داسحاقزو د قوم پر ضد د بارکزو د قوم ملاتړي دي. د مخکني ډنمارکي ګروپ قوماندان، کيم کريستنسن په وينا ډنمارکي سرتيري د قومي جوړښت د پيچلي حالت څخه خبر وو خو بيا هم د ژور اختلاف او د قومونو تر مينځ تريخ حالت ډنمارکيان حيران کړل. په هر صورت محلي خلکو د اتل کمپ تقويه کړي او ډنمارکي پوځ د افغاني سرتيرو او يو شمير انګريزي کارپوهانو سره چي د افغان پوځ سره ملګري وو د اکمالاتو او مرستو مسوليت درلودي. په هلمند کي د افغان پوځ جنرال ښه پوهيدي چي د اتل پوځي مرکز ليري پروت دي. کله چي افغاني جنرال د ينس ليون بورګ سره په کمپ کي ناست و، داسي ورته وويل: «موږ ډير ليري پراته يوو، کله چي سړي د سيند غاړې ته ور کښته شي نو د خلکو سره خبري کوي، کوم چي په شنه زون کي ژوند کوي، ستاسي په هيواد کي هم (۴۰۰) کاله مخکي همداسي وو.»

د فوټبال دسيالي لوبه د ايټاليا او رومانيا تر مينځ په کندهار کي چي (۱۲۵) کيلومتره د ډنمارکيانو څخه ليري ختيزي خواته پروت دي، د هغوي په کمپ کي د تلويزيون پر لويه پرده ښکاره کيدله. دکاناډا، انګليستان، هالنډ او نورو ډيرو هيوادونو سرتيرو د لوبي ننداره کول. د ۲۰۰۸ زکال د مي د مياشتي (۱۳) نيټه وه چي د اروپا د سياليو لوبو جريان درلودي. ناڅاپه الارم وږغيدي چي د کندهار د سرپوزې پر زندان بريد شوی دي. د حرکت امر صادر شوو، چورلکي اسمان ته پورته شوي او سرتيري د کمپ څخه ووتل. د شپي پر (۲۱:۲۰) بجي د تيلو يو ټانک چي د انفجاري موادو څخه ډک وو، د کندهار د لوي زندان په عمومي دروازه کي انفلاق وکړي. پهرداراتو دومره وليدل چي څه پيښ شول. د مخ د دروازې ټولې برخې والوتلي. د بريد په دوهم پړاو کي (۳۰) وسلوال طالبان پر موټر سايکلونو سپاره زندان ته ننوتل، هر ژوندي پهردار يي په ډزو وژي. په همزمانه توګه د زندان پر ديوالونو د راکټونو بريد جريان درلودي. يو ځانمرګي د زندان په دننه کي په منډه ځان والوزاوه او د شاه په ديوال کي يو سوري جوړ کړي. بريد کوونکو وکولای شواي چي د زندان کلياني لاسته راوړي او په زندان کي ننيت شول. دوي د زندان په دهليز کي په منډه د زندان کوټي خلاصي کړي او بنديان يي راويستل. دوی وتښتيدل، طالبانو د ميني بوسانو يو قطار جوړ کړي وو چي يو شمير بنديان يي ور په کښي وتښتول. د طالبانو ويناد، قاري يوسف احمدي نړيوالو رسنيو ته وويل: «زموږ نن برياليتوب په نصيب شوو، بنديان په بشپړ امنيت کي خپل کورونو ته روان دي.» کله چي نړيوال ځواکونه د زندان غټي دروازې ته ورسيدل، سيمه يي کلابنده کړه خو ډيربنديان په تيښته بريالي شوي وو. په ټوليزه توګه (۱۱۰۰) بنديان تښتيدلي وو. د دوي په مينځ کي (۴۰۰) طالبان وو. د طالبانو هغه مشران چي د افغانستان په جنوب کي تنظيم په غاړه درلوده هم په تښتيدلو بنديانو کي شامل وو. دغه ډراماتيکه تيښته د جګړو د پيل د موسم سره سمون خوري. په افغانستان ي د ۲۰۰۸زکال د جون مياشت يوه ستړی کيدونکي مياشت وه. په ټوليزه توګه (۴۶) لويديز سرتيري ووژل شول او هم (۱۷۲) ملکي افغانان شهيدان (ژ: د شهيدانو کمه ما کار کړی ده.) شول.

په افغانستان کي د ډنمارکيانو د جګړې څخه شپږ کاله تير شوی وو. په افغانستان کي ناټو تر دغي شيبې پوري يوه ټوليزه ستراتيژي نه درلودل، ډنمارکيانو هم يو تصويب شوی سياسي پلان د پوځي او ملکي عملياتو او فعاليتونو له پاره نه درلودي. ډنمارکيانو دغه کمبودي اصلاح کړل. د پارلمان د بهرنيو اړيکو کمسيون د جون پر (۱۸) نيټه (۳۹) پاڼي ستراتيژيک پلان وړاندي کړي. په ټوليزه توګه بايد (۷۵۰) ډنمارکي سرتيري په افغانستان کي ميشت شي چي (۱۰۰) سرتيري د پخوا په پرتله زيات وو. د ملکي پرژو د پرمختګ، د فساد سره د مبارزې او د يوې سالمي اداري د جوړولو له پاره تر اوسني حالت دوه برابره زياته پانګونه وشول. په راتلونکي کي بايد افغانستان ته په کال کي (۴۰۰) ميليونه کرونه مرسته ورکړل شي. په پلان کي د لنډ وخت له پاره د ځانګړو ځواکونو ليږل او سيار پوځي روغتون هم په نظر کي ونيول شوو. د يوې ترانسپورتي الوتکي او چورلکو ليږل هم يو احتمال و. په پايله کي بايد ډنمارکي پوځيان په اهسته ډول د جګړې د ډګر څخه تر شاه شي او زياتره افغان پوځيانوته د لارښوونو ، تعليم او تربيې دندې مخته يوسي. د وخت په تيريدو سره بايد افغان پوځيان د جګړه ايزو جبهو خطرونه قبول کړي. تر غونډې وروسته د دفاع وزير سيون ګيده او د بهرنيو چارو وزير، پير ستي ميولر راضي

وو. پلان چي د سوسیال ډموکراټانو، کيڼ لیبرال ګوند او د ډنمارک د خلکو د ګوند سره په ګډه جوړشوی وو، بنه استقبال شو. ستراتیژي باید د پارلمان له لوري په منی کي تصویب شي. په وروستي کال کي دوه ځله اړتیا پیدا شوه چي ډنمارکي پوځیان تقویه شي. لومړی ځل درانه زرې موټري وسایط او دوهم ځل څلور چورلکي ور ولیږل شوي.دواړه ځله باید پریکړې د پارلمان له لوري تصویب شوي واي. دواړه ځله خطر وو چي د افغانستان د جګړې څخه د ګوندونو ملاتړ مات شي. کله به چي د بیړنی تقویې له پاره اړتیا نه وه چي پریکړه وشي نو د سوسیال ډموکراټانو او کيڼ لیبرال ګوند له پاره ستونزمنه وه چي د ډیره کي (اکثریت) د لیکو څخه ځانونه وباسي. د سوسیال ډموکراټانو مشرې، هیله تورنینګ سمیت [۱۷۲] وروستي اندیښنه لیري کړه او داسي وویل:« موږ یوه شیبه هم باید شک ونه لرو چي زموږ پوځي شتون د بیا رغوني د چارو د پیل له پاره شرایط برابروي.دغه دوه شیان لاس په لاس سره مخته ځي، زه راضي یم چي موږ پوځي فعالیتونو ته دوام ورکړو او په عیني وخت کي ملکي مرستي دوه برابره کړو. دا دوې ګډې چارې دومره اړیني دي چي موږ سولې ته رسولای شي.» نوموړی د سوسیال ډموکراټانو موقعیت داسي وټاکي چي د پخواني سیاست څخه يې لیري کړ چي د امنیتي ستونزو د حل لاره يي د پوځ په واسطه نه غوښتل. په همدي خاطر حکومت د موګنس لویکه ټافټ نیوکي چي څو ورځي وروسته يي د پولیټکن ورځپاڼي سره په یوه مرکه کي وکړې، ډیره پاملرنه ورته ونه کړه. د موګنس لویه ټافټ مرکه د ګوند په دننه کي څرګند مخالفت نه و، بلکي نوموړي هڅه کول چي سیاسي لوری بدل کړي چي ډنمارک دوباره د هغه هیواد په څیر شي چي تر شخړو ډیالوګ او خبرو ته ترجیح ورکړي. د ډنمارک مرستي او سوله ایزه عملیات باید د جګړې ځای ونیسي.

د ډنمارکیانو اندیښني د سویل پوځي مرکز (اتل) په تړاو د ۲۰۰۸ زکال د جولای پر (۲۵) نیټه په واقعیت بدلي شوې. افغان پوځیان او د دوې مرستندوي انګریزي پوځیان په ګزمه وتلي وو، چي سهار پر (۷) بجي يي اطلاع راکړه چي د طالبانو سره په جګړه کي ښکیل شوي دي. دوې هوایي مرسته وغوښتله نو دوې انګریزي الوتکي هوا ته پورته شوې او ډنمارکي زرې موټري وسایط د نوموړي سیمي په لور په حرکت راغلل. (۲۸)کلن یسپر ګیلپرټ یوه زرې وسیله چلول. نوموړی د جګړې سره عادت د و. مخکي دری ځله د نوموړي زرې وسیله د سړک د غاړې د ماین ښکار شوی وه، خو د لیدلو وړ زیان وراوښتي نه و. پر نوموړي د راکټ برید هم شوی و خو زرې موټري وسیله يي ویشتل شوی نه وه. کله چي سیمي ته ورسیدل، تر ډزو لاندي راغلل نو موټري زرې وسیلي هم د مقابلو ډزو له پاره موقعیت ونیوی. د موقعیت نیولو په وخت کي وسیله د سړک د غاړې د مین سره برابره شوه. زرې وسیله (۲۰۰) متره نور هم مخته ولاړه او وروسته ودریدل. وروسته څیرونو وښودل چي مین د یسپر ګیلپرټ د چوکې پر برابر انفلاق کړی و. نوموړي ځای پر ځای ووژل شو. دري نور کارکوونکي ټپیان شول. د ورځي په وروستی وخت کي یوه بله زرې موټري وسیله هم د یو انفلاق په پایله کي زیانمنه شوه، دټپیانو د ایستولو له پاره د زیاتو سرتیرو مرستي ته اړتیا وه. د دفاع وزارت مشرتابه او حکومت انتظار درلودي که په هلمند کي حالات هر څومره ډیر ترینګلي شي نو د عراق حالت ته به ورته وي. د ډنمارکیانو څلورمي پوځي ډلي د ډګروال کیم کریستنسن تر مشرتابه لاندي په تعرضي برید پیل وکړې. پنځه ډنمارکي پوځیان ووژل شول، خو د ډنمارکیانو له پاره ډیر غیري عادي عملیات وو. ډنمارکي پنځم پوځي ګروپ باید تعرضي عملیات کړی نه واي، دنده يي یوازې دفاع او امنیت ساتل وو. پوځي وضعیت د عراق حالاتو ته ورته ښکاری ده خو پر دغه حال پاته نه شو. ینس لیونبورګ تر مخکني پوځي ګروپ ډیر سرتیري د لاسه ورکړل. شپږ سرتیري مړه او (۲۰) سرتیري ټپیان شول. یسپر ګیلبریټ د پنځم پوځي ګروپ وروستنی سرتیري و چي ووژل شو. د سیمي یو شمیر خلکو ډنمارکیان اشغالګر پوځیان ګڼل نو ځکه يي په ګوریلایي جګړې پیل وکړې. مانا دا چي ډنمارکیانو دوست او دښمن نه سره پیژندل. طالبانو کمینونه نیول، پر لارو او سړکونو يي ماینونه ښخول. دغه حالت هم د تعرضي جګړې په ډول خطرناکه وه. د ډنمارکي پوځیانو راتلونکي ډلي هم په هلمند کي یو بنه پیل ونه کړی. د افغانانو د اتل پر پوځي مرکز درانه ګذارونه کیدل چي لویه ستونزه يي جوړه کړی وه. د اګست پر (۲۵) نیټه (۲۹) کلن مشر سرجنټ، هینریک کریستین کریتینسن [۱۷۳] د لاري موټر د مسافرینو پر سیټ کښینستي. د ډنمارکیانو درانه زرې وسایط هم د افغان پوځیانو د مرستي له پاره چي د اتل پوځي مرکز کي و، په حرکت شول. لاري موټر اکمالات کول، د مرستي کاروان حرکت وکړې. سرجنټ، هینریک کریستین کریتینسن ځان قهرمان کړي خو د نوموړي دغه څلورم ځل عملیاتي خوځښت د هغه وروستی ځل شو. تر لاري موټر لاندي د سړک د غاړې ماین وچاودیدی. د موټرد سیټ کینه خوا سره قلف شول او دغه دروند غټ (۱۱۵) کیلوګرامه سرجنټ، هینریک کریستین کریتینسن يي سره کښیښې. موټروان چي په ښی خوا کي ناست و، تقریباً سالم پاته شو. په ټول افغانستان کي د طالبانو د بریدونو په پایله کي د ۲۰۰۸ زکال د (مارچ ـ اګست) په میاشتو کي (۱۷۹) بهرني سرتیري ووژل شول. دا شمیره د تیرکال د عیني وخت په پرتله (۳۷) تنه زیاته وه.

زیاتو ځاني تلفاتو او د کندهار د زندان څخه د بندیانو تښتیدل د کابل، لندن او واشنګټن په حکومتي دفترونو کي اندیښني زیاتي کړې. په هلمند کي د حیثیت او پرستیژ دغه لویې پروژې په ناڅاپي توګه بنه بدله کړه. ولسمشر حامد کرزي او نړیوالو ځواکونو د بریالیتوب له پاره ډیره اړتیا درلودل تر څو په ولایتونو کي په دقیق ډول بنه والي رامینځته کړي. او څرګنده کړې

[۱۷۲] - Hele Thorning - Schmidt

[۱۷۳] - Henrik Christian Christiansen

چې د طالبانو خونړي جګړې د پرمختګ مخنیوي کولای نه شي. دا ټولې هڅې د دې له لپاره وې چې (۱۰۰) ټنه چیناېي توربین د کجکي بند ته انتقال کړای شي. لاري موټران چې په ځانګړو زرې داره کانتینرونو بار وو، باید د هلمند د سیند په اوږدو کې د دښمن په مینځ کې تیر شي او وروسته باید د توربین ټولې ټوټې سره یوځای شي چې نوي توربین نصب شي.

موخه دا وه چې نوي توربین د دوو زړو توربینانو په ګډون چې ترمیم شوی وو، په ټولیزه توګه د (۱۰۸) میلیونه افغانانو له پاره په جنوب ـ ختیزه برخه کې بریښنا تولید کړي. ولسمشر حامد کرزي او لویدیزومشرانو باور درلودي چې د منظمې بریښنا تولید به  د پرمختګ او ثبات له پاره په سیمه کې لار پرانیزي، د کرزي ملاتړی به زیات شي تر څو په ۲۰۰۹ زکال کې د ولسمشري ټاکنو ښه زمینه برابره شي. د توربین د خطر څخه ډک ترانسپورتي چارې د طالبانو د نفوذ په سیمه کې باید هغه وخت تر سره شوی واي چې افغان حکومت او بهرنیانو په سیمه کې بشپړ کنترول او نفوذ پیدا کړې واي، مګر نور انتظار پای ته ورسیدې. د دغې دندې تر سره کول ډیره خطرناکه او ډارونکې وه. انګریزي پوځیانو یوازې د کجکي پر بند او نژدې سیمو کنترول درلودې. تر بند کښته سیمو کې د سیمې د خلکو سخت مقاومت شتون درلودې. په دغه سیمه کې د هلمند د پخواني والي ملا شیرمحمد اخند قومیان اوسیدل. کله چې انګریزانو ملاشیرمحمد اخند په ۲۰۰۵ زکال د ډسمبر په میاشت کې د ولایت د چوکۍ څخه لیرې کړې نو د کجکي په شاوخوا کې هیڅ شی د پخوا په ډول نه وو. دغه قوم د طالبانو سره اړیکې درلودې، په سیمه کې د بهرنیانو سره مخالفت او پر ضد یې مقاومت کول تر پخوا څو برابره زیات شوی وو. توربین د اګست پر (۲۷) نیټه د کندهار په هوایې ډګر کې تسلیم شو. کاناډایي سرتیرو د توربین ترانسپورتي موټران په دښت کې تر ټاکلي ځای بدرګه کړل، وروسته انګریزي پوځیانو ته تسلیم او مسولیت یې واخیستې. کاروان څلور کیلومتره اوږد و. تر (۱۰۰) پوځي موټران زیات وو. د کاروان په بدرګه کولو کې (۴۰۰۰) سرتیرو ګډون درلودې چې امریکایان، انګریزان، کاناډایان، ډنمارکیان او د استرالیا سرتیري وو. کاروان په حرکت پیل وکړې چې سرعت یې په ساعت کې (۱۰) کیلومتره وو او چورلکو د فضاء څخه بدرګه کولو. د حرکت ټاکلي جهت ته بدلون ورکړل شو. تقریباً (۲۰۰) ډنمارکي سرتیرو د طالبانو د تیرایستلو له پاره د کاروان په خط السیر کې څرګند رول ولوبولو. ډنمارکیانو د طالبانو د پام اړولو په عملیاتو کې ګډون وکړې. کجکي ته عادي لار د ګرشک څخه د ریګو او خاورو په مینځ کې چې (۶۱۱) نمبر سړک دې د سهیل پر لور غځیدلي او د هلمند د سیند په ختیزه څنډه کې تیریږي. د کلو په اوږو کې طالبانو د انګریزانو او ډنمارکیانو سره د همدغه سړک د کنترول له پاره جګړې کړې وې، خو یوه لورې هم پر دغه سړک بشپړ کنترول نه درلودې. د کاروان تر حرکت وروسته طالبانو ته داسې وبریښول شول چې بهرني پوځونه یو مهم کاروان پر (۶۱۱) سړک تیروي. په همدغه خاطر ډنمارکي سرتیرو پر سړک ګزمې  ډیر کړې. طالبانو اټکل وکړې چې پر سړک کوم مهم پیښنه جریان لرې نو ځکه طالبانو همدغه سړک ته ډیر پاملرنه وکړه، د سړک په غاړه کې ماینونه ښخ کړل او کمینونه یې ونیول. خو بهرني سرتیرو د دغه سړک په بدل کې بله سخته او د ستونزو ډکه لار د کندهار څخه د دښت په مینځ کې د کاروان د تیریدلو له پاره وټاکل. په همدغه وخت کې د ډنمارکي سرتیرو یو کاروان چې انګریزانو یې مرسته کوله، د (۶۱۱) نمبر سړک څخه په تیریدلو پیل وکړې. د طالبانو تیر ایستلو ته تر ممکنې کچې دوام ورکړل شوو. د پنځو ورځو په جریان کې توربین کجکي ته ورسیدې. د طالبانو ډیر لږ بریدونه وشوه. یو انګریزي سرتیري کجکي ته نژدې په ترافیکي پیښنه کې ټپي شو، خو یو کاناډایي سرتیري ووژل شو، (۷) سرتیري ټپیان شول کله چې د دوي موټر د سړک د غاړې د ماین سره برابر شو. وروسته انګریزي پوځ معلومات ورکړې چې په عملیاتو کې تقریباً (۲۰۰) طالبان ووژل شول. په هلمند کې د انګریزانو مشر جنرال، مارک کارلیټون سمیټ [۱۷٤] وویل چې د ډنمارکیانو د تیر ایستلو پوځې مانوره هغه اصلي دلیل و چې طالبانو ونه کولای شوای چې دغه مهم کاروان ته زیان واړوي. جنرال د ټایمز مجلې ته وویل چې د بریالیتوب کیلي د طالبانو د پام اړول وبل لورې ته وه. د ډنمارکي پوځ د قوماندې مرکز هم وویل: «د ډنمارکیانو پوځې واحد د ۲۰۰۵ زکال راوروسته په مهمه پوځې دنده کې برخه واخیسته او یو لوی بریالیتوب یې په نصیب شوو. د پولیټیکن په ورځپانه کې د شپږم ډنمارکي پوځې ګروپ مرستیال قوماندان، ډګرمن بیانه هایګورد ینسن تر پورتنیو عملیاتو څو ورځې مخکې د بریالیتوب جشن ونیوي او هم یې د وژلو شوو سرتیرو یادونه ژوندې کړه.

ډګرمن بیانه هایګورد ینسن وویل: سره د دې چې څو ورځې مخکې موږ سرجنټ هینریک کریستین کریستینسن د لاسه ورکړې خو بیا هم دا عملیات یو ښه پیل و. هروخت د تلفاتو ورکول سخت دي، خو دا هم مهمه ده چې مخته ولاړ شوو. ډیرې ستونزې په مخکې پرتې وې مخکې له دې څخه چې د کجکي د بریښنا بند فعال شي تر څو په هلمند او کندهار کې د پرمختګ له پاره لاره هواره شي. د بند د بیا رغولو له پاره تعمیراتي مواد یانې یو زیات مقدار سمنټ په کار وو چې د دښمن د لارو په مینځ کې باید هلته ورسیږي. په هلمند کې د ډنمارکي پوځیانو امر، جنرال مارک کارلیټون سمیټ ډیر خوشبینه نه وه هغه انګلیسي رسنیو ته وویل: «کجکي ډیره پانګه اچونه او زیات وخت غواړي. که موږ وروستي بریالي پایله وړاندې نه کړو نو موږ ته تر شاه یوه ضربه ده. که د کجکي پروژه بریالی نه شي نو افغانان منفي غبرګون ښیي.» تر عملیاتو وروسته

---

[۱۷٤] - Mark Carleton - Smit

د شیرم ګروپ قوماندان، ډګروال کیلډ کریستینسن [۱۷۵] باید ټولي ویجاړې چارې رغولي وای. تقریباً د ډنمارکیانو ټوله قوه د طالبانو د تیر ایستلو په خاطر لګیدلي وه. په دی مانا چې هغه سیمي چې په معمول ډول ډنمارکیانو ګزمه کوله د یوې مودې له پاره یې ګزمه پریښوده. په حقیقت کې کافي سرتیري نه وو. ډګروال کیلډ کریستینسن وویل: «موږ اړ وو چې د سیمي د کنترول له پاره دوباره ګزمه وکړو. موږ باید طالبانو ته څرګنده کړو چې موږ شتون لرو.» خو اوس ستونزې پیل شوي.

د مني د موسم په پیل کې ټول افغان ځواکونه د ډنمارکیانود مسولیت د سیمو څخه ووتل. په رسمي توګه دلیل دا و چې افغان ځواکونه باید د راتلونکي کال د تریاکو کر کښت ته ځانونه تیار کړي. په لنډه موده کې افغان سرتیري د (۱۰۰۰) تنو څخه (۱۰۰) تنو ته را لږ شول. د انګلیسانو د مرکزې پوځې اډې څخه هم د مرستې اخیستلو امکان شتون نه درلودې نو ډګروال کیلډ کریستینسن مهمو چارو ته ترجیح ورکړل. کله چې افغان ځواکونه د سیمي څخه ولاړل، نور داسي ځواک نه وو چې د اتل د پوځې مرکز څخه دفاع وکړي. په همدې خاطر د اتل پوځې مرکز د ۲۰۰۸ زکال د اکتوبر پر (۱۸) نیټه وتړل شو. دا کمپ یوازې دري میاشتي پرانیستي و خو تر درو میاشتو وروسته وتړل شو. د همدغه کمپ د سرتیرو د ساتلو او د کمپ د اکمالاتو دندې د یسپر ګیلبیرټ او هینریک کریستین ژوند ورڅخه واخیست. د ډنمارکینو جګړه ایزه ګروپ اړ شوو چې د اتل او ارماډیلو د پوځې کمپونو تر مینځ سیمي پریږدي نو ځکه دغه سیمي دوباره طالبانو او د اسحاق زیو قوم چې زموږ دښمنان وو، تر ولکې لاندې راوستي. د پوځ د قوماندې مرکز د اتل کمپ د تړلو په تړاو رسنیو ته خبر ور نه کړي. خو بیا هم د اتل کمپ د تړلو موضوع تررسنیو ورسیدل، ځکه چې په همدغه وخت کې یوه ډله ډنمارکي ژورنالیستان د هلمند ولایت د لیدلو له پاره راغلي وو. باټال جون او کیلډ کریستنسن په ښکاره د اتل کمپ د تړلو اړتیا بیان کړل. خو نوموړې د اتل کمپ پر جوړیدو نیوکه ونه کړه. نوموړي د پولیټکن ورځپاڼي ته وویل:« د اتل کمپ جوړیدل په خپل وخت کې غلطي نه وه خو وروسته لازمه نه ده د داسي یو کمپ پر دوام ټینګار وشي چې دوام یې کوم ارزښت ونه لري. موږ باید خپل ټول پام د ګرشک امنیت ته راوګرزوو ځکه چې زموږ مهمه دنده ده او پرمختګ یې مثبت لوري ته په خوځښت کې دي.» که د ایساف پوځیان د سیمي څخه ووزي د خلکو افکار به څنګه وي، موږ د خلکو په غبرګون نه پوهیدلو. ځکه په وروستیو وختونو کې د ډنمارکي پوځیانو اړیکي د عام ولس سره ډیري لږ وي. هر ځل چې سرتیري به د اتل کمپ په شاوخوا کې په ګزمه ووتل، د جګړې او بریدونو سره به مخامخ شول. د څارګرو ادارو د معلوماتو له مخې د افغان او ډنمارکي پوځ تر وتلو وروسته د اتل کمپ په سیمو کې ارامي وه. دا چې د سیمي خلکو نه غوښتل چې د بهرني پوځیانو سره مرسته وکړي د ډنمارکي پوځ له پاره خواشینونکي او دښمنانه کړني ښکاریدې. زموږ وتل په ځانګړې توګه د بزګرانو له پاره ګټور ثابت شول ځکه د طالبانو د دښمنانه غبرګون او کسات اخیستلو څخه خلاص شول. د ډنمارکیانو پاملرنه بیرته ګرشک ته را واوښتل.

شیږ تور لونګوټیان چوپ کسان د موټرانو کیني لورې ته پر بام ولاړ دي. دوي خپلي ماشینګړې د تیار سي په حال کې پر اوږو ایښي دي او د ګرشک پر لویه لار ټرافیک څاري. د دوي څخه یو نفر نژدي دي چې راکټ پورته او فیر یې کړي. د انګریزانو د بهرنیو چارو د وزارت د ګارد د امنیتي کمپني، ارمور ګروپ [۱۷۶] مشر چې په درنو وسلو سمبال و، د مخابري له لاري داسي وویل: «شیږ کسان ښی لورې ته پر چت ښکاري. موږ همدا شیبه په بیړه حرکت کوو» اواز ارام و او په دقت یې خبري کولي. د موټرو قطار چې دري ټویټا لنډ کروزر موټران وو، په ځانګړي توګه جوړ شوي وو، حرکت یې وکړي. د پښیماني وخت نه وه چې دوباره په اطمینان کمپ پرایس ته راوګرځي. د دغو دري موټرانو دروازې د سمنټو په واسطه ټینګي شوي وي، هینداري زری وي، هیندارو د یوې مرمی په مقابل کې (۳۰) ثانیې مقاومت کولای شوای ولي د بم په مقابل کې بشپړ مقاوت نه درلودې. د مینځ په موټر کې د بهرنیو چارو د وزارت نوي مشاوره، انه کترینه ریبنیټ زیسکي [۱۷۷] ناسته وه. نوموړي د یو ژورنالیست او یو عکاس سره په موټر کې ناسته وه، موخه یې دا وه چې د یوې غیرې عادې ښځې ملاقات ته ولاړه شي. ګلالی شیرزاد په ګرشک کې د ښځو د مرکز مشره وه. دا د ۲۰۰۸ زکال د اکتوبر میاشت وه. د هغه ځانمرګي برید څخه چې سوني کپل یعقوبسن او کریستین ډمهالټ یې وژلي و، شپږ میاشتي تیري شوي وي خو پورتني دري نفره د ښځو مرکز ته روان وو. دا ډیره مهمه وه چې رسنی یوه داسي بیلګه وویني چې ډنمارکیانو ګرشک ته راوړي وي. دا هغه ښځه وه چې سرتیرو او سیاستوالو ویل چې ډنمارکیانو نوي حالت رامینځته کړي دي. نو ځکه د انه کترینه ریبنیټ زیسکي له پاره د یو ویاړلي سمبول په توګه ارزښتناکه وه، ځکه طالبانو دغه ورځ د زور ازمویلو له پاره ټاکلي وه. د شبنامو او راډیو له لاري د دښمن له خوا اعلان شوی و چې پر ښار به برید وکړي. یوه ورځ مخکي یو امریکایي سرتیري د سړک د غاړي د ماین په واسطه ووژل شو. ماین د سیند په ختیزه څنډه کې ښار ته په نژدې واټن ځای پر ځای شوی وو. شرایط ډیر حساس وو، دوکاندارانو خپل دوکانونه تړلی وو. د ښار د ښوونځي ماشومان کورونو ته لیږل شوی وو. ډګروال کیلډ کریستین زړه نازړه و چې په دا ډول ورځ رسنیو ته اجازه ورکړي چې د ښار څخه لیدنه وکړي. خو د انه کترینه ریبنیټ زیسکي ټلیفون ته زنګ راغي. د ښځو د مرکز مشري ګلالی وپوښتل چې تاسو چیري یاست؟ چای تیاري دي. سره د دي

[۱۷۵] - Keld R. Christiansen
[۱۷۶] - Armor Group
[۱۷۷] - Anne-Cathrine Riebnitzsky

چې د امنيتي مقاماتو لخوا ښځو ته ويل شوي و چې کورونه ته ولاړې شي خو بيا هم يو ګروپ ښځې غواړي چې د خپلو کارونو په باب معلومات درکړي. د ارمور ګروپ امنيتي ډلې يوازې غوښتل چې د ښځو تر مرکز ولاړ شي، ځکه د ډنمارکيانو دوې دلګې پوځيان په ښار کې وو چې د بريد د پيښيدو په صورت کې مداخله وکړي. د ملاقات وخت يو ساعت و نو بيرته موټران ښار ته را وتل. د ملاقات اوږد وخت کولای شوای چې ځانمرګي بريدکوونکو ته وخت مساعد کړي چې بريد پلان کړي. کله چې موټران د ښځو مرکز ته ننوتل، تودې چاې تياري وې. په ښايسته ګيلاسونو کې شنې چاې اچول شوی وې. د معمول په ډول د ميوې په لوښي کې شنه افغاني کشمش، بادام او نور خواږه پراته وو. ګلالۍ شيرزاد بيلې بيلې برخې را ته وښودلې او د پروژو په اړوند يې معلومات راکړې. ګلالۍ شيرزاد لکه د يو نندارتون په ډول انه کترينه ريبنيټ زيسکې ته معلومات ورکاوه. دغه ښځه (ګلالۍ) داسې ښکاريده چې (۵۰) کلنه وي خو تر (۴۰) کالو پورته عمر يې نه درلودې. په افغانستان کې خلک د خلکو د اټکل څخه لس کاله لږ عمر يادوي. ګلالۍ ښوونکې وه او د کمونستانو په وخت کې په ګرشک تدريس کاوه. کله چې مجاهدينو او وروسته طالبانو واک تر لاسه کړی، ځان يې يوې ګوښې ته پټ کړې وه. طالبانو د ګلالۍ ميړه وژلی وه، نو ګلالۍ د حالاتو سره په مبارزه کې خپل ژوند د پرستارې او دايې په ډول سمبالاوه. کله چې ډنمارکيان ګرشک ته راغلل، پرته د وخت د ضايع کولو څخه ګلالۍ د چانس څخه ګټه پورته کړه. کله چې د ملاقات يو ساعت بشپړ شو د ارمور امنيتي ګروپ د غونډې کوټې ته راننوت. نوموړې د وتلو ږغ وکړې. وروسته خبرې ډيرې شوې، د امنيتي مشر د خبرو په اړوند غلط فهمي شوې نه وه. وروستی يو لوړ ږغ واوريدل شوو چې د وچې ميوې لوښې پر مځکه نسکور شو او امنيتي ګاډ د وارخطايي څخه خپله وسله د تيارسی په حال کې کړه. ګلالۍ وويل چې نوموړې هم تهديد شوی ده. ګلالۍ په همدغه سهار په ګرځنده ږغ ليږد (موبايل ټيليفون) کې ويل شوی و چې نن به د لمر لويدل په سترګوو ونه ويني. نوموړې د دوو وارخطا پوليسو لخوا ساتل کيدل ولې نوموړې د ځان ساتلو له پاره خپل نوښت درلودې. د ګلالۍ مشر زوی د خپلې مور ساتنه کوله. ګلالۍ په عادي ډول هيڅوخت پرته د بوقرې څخه بهر ته نه وتله. بوقره د طالبانو هغه سمبول دی چې ښځې د ازاديو څخه بې برخې کوي. (ژ: وروستی جمله د بهرنيانو اټکل دی.) د ګلالۍ د بوقرې د اغوستلو دليل روښانه وه:«ژ: بوقرې نوموړې د پيژندلو څخه ساتله چې په ښار کې ونه وژل شي.» ګلالۍ علاوه کړه: «زه هر وخت خپل بوټونه بدلوم چې څوک مې ونه پيژني.» کله چې نوموړې په څو جملو کې د ښځو حالت بيان کړی، موږ د ډنمارک سياستوالو سوچ وکړی، چې موږ به نوی افغانستان څه ډول جوړ کړو. کله چې د موټرانو قطار دوباره د کمپ پرايس ولورې ته حرکت وکړې، د کمپ دروازه دوباره خلاصه شوه.

طالبان د پرمختګ په حال کې وو او د ګرشک په ښار کې د ډار چاپيريال مسلط و. خو ځينې دوکانونه خلاص وو، ولسوال او ښاروال د خلکو د مراجعې په صورت کې وړې چارې پرمخ بيولې، لږ تر لږه د دولت اداره د خلکو پر مخ پرانيستي وه. په هلمند کې د انګريزانو د پوځ پخواني مشر، جان لوريمير [١٧٨] د طالبانو سره جګړه د چمن(مرغه، شنه واښه) د ريبلو سره پرتله کوې، ځکه دا جګړه بيا او بيا بايد وشي. ډنمارکيانو څو ځلې جګړه وکړه چې د ګرشک په دباندې سيمو کې امنيت تر کنترول لاندې ولري، خو اړ به شول چې د نورو دندو د اجرأ په خاطر سيمه پريږدې. لنډه خبره دا وه چې کيلد کريستنسن کافي سرتيري نه درلودل او نوموړي هيڅوخت په ډنمارک کې د عملياتو مرکز ته د نورو سرتيرو د غوښتلو له پاره زنګ نه واهه. نوموړي د ګرشک د حالاتو څخه راضي و ځکه ډنمارکيانو د ګرشک امنيت د خپلو دندو په سر کې ځای کړې وو. په اهسته توګه جګړه د اکتوبر په مياشت کې لږ شوه، ځکه ژمي په راتلو و، هوا سړه کيدل، د باران اوريدلو وخت و نو ځکه مځکه خټې وه. داسې څرګنديدل چې پرمختګ اهسته و خو د سرتيرو تلفات هم لږ وه. په دغه حالت کې د ډنمارک پارلمان د نومبر پر (۴) نيټه بايد په افغانستان کې د نوي پوځي ستراتيژي او سرتيرو په تړاو پريکړه کړې واي. کله چې وړانديز د جون په مياشت کې د پارلمان د بهرنيو چارو کمسيون ته وليږل شو، دا څرګنده وه چې دغه وړانديز د سياسي پلوه منلی شوی دی چې تر (۴۰) تنو پورې ځانګړې پوځيان هلمند ته وليږل شي او يو شمير نور کسان چې نوښتونه رامينځته کړي. دغه شميره بايد په ټوليزه توګه (۷۵۰) تنو ته رسيدلې وای چې افغانستان ته بايد ليږل شوی واي. په بحثونو کې د پخوا په شان سوسياليت ګوند او يو موټي لست د وړانديز په مخالفت کې وو خو د پارلمان نورو ګوندونو وړاندې شوی پوځي ستراتيژي د تاييد وړ وه. دا ځل په بحثونو کې نوي موضوع راپورته شوه. په هلمند کې د ډنمارکی او انګريزي پوځيانو انګريزي مشر کور ته روان و خو نوموړي لومړي لندن ته ولاړې. نوموړې مشر، جنرال مارک کارليټن سميت [١٧٩] يکشنبه د اکتوبر پر (۵) نيټه د انګريزي ورځپاڼې، سونډی ټايمز [١٨٠] سره مرکه وکړه. دغه مرکه د يو بمب په شان وه چې فير يې کړه. جنرال وويل: « موږ دا جګړه نه شو ګټلای، په حقيقت کې موږ تلاښ کوو چې مخالفين دومره وتکوو چې په راتلونکې کې افغان پوځ وکولای شي د طالبانو سره مقابله وکړي.» په حقيقت کې نوموړي جنرال څرګنده کړه چې څومره پوځيان د هلمند سره په جګړه کې دا تجربه لري چې دغه جګړه پوځي ګټونکې نه لري. د افغانستان د جګړې له پاره بايد سياسي حل ولټول شي

[١٧٨] - John Lorimer
[١٧٩] - Mark Carleton-Smith
[١٨٠] - Sunday Times

چې د طالبانو د جنبش يوه برخه په حکومت کې ګډون وکړي. د ډنمارک د پارلمان د نوي پوځي ستراتيژي په بحثونو کې د جنرال څرګندوني د بحث مهمه نوي موضوع شوه. د ډنمارک د خلکو د ګوند يو مشر غړي، سيون يسپرسن [۱۸۱] په کلکه سره د جګړې پر برياليتوب ټينګار کولو او د انګريزي جنرال تحليل يې په بشپړه توګه ردولو. سيون يسپرسن وويل:«نوموړي په بشپړه توګه غلط تحليل کوي. زه فکر کوم چې د جنرال خبري ډيري بې ارزښته دي اوغلطې دي.» د پارلمان نورو ګوندونو د سيون يسپرسن د خبرو او دلايلو ملاتړ ونه کړي. د ځان ساتو (کانسرويټوو) او ښې ليبرال ګوند نظر همدا شوو چې بايد د افغانستان موضوع ته سياسي حل ولټول شي. د ډسمبر پر (۹) نيټه د ډنمارک پارلمان په هلمند کې د ډنمارکي پوځيانو ستراتيژي تصويب کړل. خو تر پريکړې مخکې دوه نور ډنمارکي سرتيري هم ووژل شول. تر پريکړې پنځه ورځې مخکې ډنمارکيان په ګرشک کې د طالبانو سره په جګړه کې ښکيل شول. (۲۲) کلن يعقوب ګريون ګورډ [۱۸۲] د لاري د سر په بمب جدي ټپي شو. (۲۹) کلنه پرستاره، دان ګيوده[۱۸۳] په منډه ورغله چې د ټپي سره مرسته وکړي خو د سړک د غاړې بل بمب پر پرستارې وچاوديدي. موږ ته غيري عادي نه وه چې طالبان په يوه سيمه کې څو بمونه ځای پر ځای کوي نو ځکه د لومړی قرباني سره د مرسته کوونکي ژوند ته هم ګواښ وي. په هغو ځايونو کې چې سرتيري د بريد پر محال ځانونه پټوي، هم د بمونو د پټولو ډير احتمال وي. دريم احتمال دا دي، په هغه سيمه کې چې د ټپيانو د ايستلو په وخت کې چورلکه د مرستي او ټپيانو د انتقال له پاره راکوزيږي، د بمونو د پټولو امکان وي. د طالبانو د جګړي نوی ميتود د دوي له پاره ښې پايلې درلودي. موږ و نه کولای شوای چې د پورته دوو ټپيانو ژوند وژغورو. تر مرګ شيږ اونۍ مخکې ډان ګيوده ناوخته کورته، غانس (ژ:غانس په ډنمارک کې د يو ښار نوم دي) [۱۸٤] راغلي. نوموړې ونه کولای شوای چې د خپل ماشوم زيريدنه وليدلای شي ولې وروسته يې دوې اونۍ وخت پيدا کړي چې د نوی ماشوم او کورنۍ سره واوسي. تراژيدي د ډنمارکي پوځيانو روحي حالت ډير ورخراب کړي. ډيرو ته دا مهمه وه چې وروستی دوي مياشتې په امنيت او اطمينان سره تيري شي. خو درو نورو سرتيرو هم ونه کولای شوای چې ژوندي کورونو ته ورسيږي. د ډسمبر (۱۹) نيټه ګرد او غبار و، نو ځکه وارزول شول چې د کريسمس د موادو رسولو کاروان د باسټون د کمپ څخه و پرايس، سنفورډ او ارماډيلو کمپونو ته و نه ليږل شي. د کاروان د رسولو او ګزمې کولو په وخت کې پلان جوړ شوی وه چې د بريد په صورت کې بايد په څه ډول ټپي سرتيري د جګړې د ډګر څخه ويستل شي. په دغه ورځ ستونزه دا وه چې د ګرد او غبار په حالت کې چورلکې نه شي کولای چې مرسته وکړي. د ورځې په جريان کې ګرد او غبار لږ شو، نو ځکه قطار لومړی د پرايس کمپ پر لوري سنډفورډ او وروسته ارماډيلو کمپونو ته حرکت وکړي. دوباره د ګرد او غبار ډيريدلو د قطار د بيرته راتلو په وخت کې قطار وځنډاوه خو بيا هم په تياره دښته کې قطار پرايس کمپ ته رانژدي شوو. د کمپ څخه په پنځه کيلومتري واټن کې د يوه زاړه نړيدلي کور څنګ ته د سړک پر غاړه پر يوه موټري وسيله بمب انفلاق وکړي چې (۳۰) کيلوګرامه انفجاري مواد يې درلودل. دغه بمب ډير پرمختللي او موډرن و، داسې عيار شوی و چې پر چينداره وسيلې انفلاق وکړي، خو پر لاري موټر او يا سرويس باندې انفلاق نه کولو. ډيره هيښتناکه اغيزه يې وښندله. د چينداره وسيلې لاندې او پاسنې برخې ويجاړې او ټوټې يې ليري وغورځول شوي. د وسيلې په مينځ کې مرميو اور واخيست او مينځ يې په دوږخ بدل کړي. دري سرتيري، سيبيستين لا کورهولم [۱۸٥]، يعقوب موی ينسن [۱۸٦]، او بينيامين ډاوی سالا راسموسن [۱۸۷] په همدغه ځای مړه مړه شوه. په معجزه اسا ډول د وسيلې چلونکي د اور په مينځ کې ژوندی پاته شو، ټوله وسيله داسې سره کړوپه شوه چې د يوې اوسپنې ښه يې درلوده. دغه تراژيدي وښودل چې د موادو رسول نورو کمپونو ته څومره خطرناکه دي. د ډسمبر په دوو اونيو کې پنځه ډنمارکيان ووژل شول. د ډنمارکيانو د شپږم ګروپ څخه په ټوليزه توګه (۶) سرتيري مړه او (۱۳) سرتيري ټپيان شول.

په امريکا کې ولسمشريزې ټاکنې پای ته رسيدلي وي، پلان و چې نوی ولسمشر به د ۲۰۰۹ زکال د جنوري په (۲۰) نيټه لوړه کوي. نوی ولسمشر، بارک اوباما د افغانستان جګړه يوه اړينه جګړه وګڼله. نوموړي د نړۍ د سوپر پوځي قوت د مشر په توګه د نړۍ د پوځي دندو د تر سره کولو له پاره تياری نيول. د ټاکنو د کمپاين په جريان کې بارک اوباما وعده کړی وه چې د جورج بوش په پرتله به په لوړه کچه مشورو ته غوږ ونيسي. خو د دې خبري مانا دا نه وه چې د وسلو سره به مخه ښه وکړي. بارک اوباما وعده وکړه چې افغانستان ته به نور زيات پوځيان وليږي. نوموړی ويل چې د افغانستان جګړې ته د لومړی مهمې دندې په سترګه کتل شوی نه دي. د امريکايانو پوځيان بايد ډير قوي شي، مخکې له دې څخه چې موږ د

[۱۸۱] - Søren Espersen
[۱۸۲] - Jacob Grønnegaard
[۱۸۳] - Dan Gyde
[۱۸٤] - Randers
[۱۸٥] - Sebastian La Cour Holm
[۱۸٦] - Jacob Moe Jensen
[۱۸۷] - Benjamin Davi Sala Rasmussen

ستونزې د حل شیبې ته ورسیږو. اوباما وویل چې تر (۲۰۰۰۰) تنو پورې نور سرتیري به افغانستان ته ولیږي تر څو جګړه وګټي.

## د اوباما جګړه

د ۲۰۱۱ ز کال څخه تر ۲۰۱۲ زکال پوري

د ۲۰۰۹ زکال، فبوري: د لومړی ځل له پاره په ګرشک ک ملکي کارپوهان د پرمختايي پروژو او ثبات له پاره مقرر شول.

د ۲۰۰۹ زکال، مارچ: ایساف د کجکي د بریښنایي پروژي څخه په شاه شول.

د ۲۰۰۹ زکال، وړي: ډنمارکي پوځیانو ته هدایت وشوو چي د ګرشک د سهيلي سيمو پر ځای پاملرنه د لښکرګاه او ګرشک تر مينځ سيمو ته راواړوي.

د ۲۰۰۹ زکال، د جون د میاشتي لسمه: سټانلی مک کریستال [۱۸۸] د ایساف مشرتوب پر غاړه واخيستي.

د ۲۰۰۹ زکال، د جون د میاشتي (۱۲): د ګرشک په بازار کي دوه ځانمرګي بريدونه او او يو د سړک د غاړي ماين د پرایس کمپ سره نژدي وښودل چي د طالبانو نوي ستراتيژي د ځانمرګو بريدونو او د سړک د غاړي د ماينونو ښخونو دوام لري.

د ۲۰۰۹ زکال، د جون د میاشتي (۱۷): دوه سرتيري هغه وخت ووژل شول چي د سړک د غاړي ماين يي د ګرشک د ښار څخه بهر پر موټر وچاوديدي.

د ۲۰۰۹ زکال، جون: انګريزي پوځيانو د ګيبرالټار د کمپ مسوليت واخيستي. هغه موانع (د اوږده لرګي په واسطه د لاري او یا دروازې بندول) چي د هلمند د سيند پر پل باندې د ارماډيلو او ګيبرالټار تر مينځ جوړه شوی وه، ليري کړه شوه.

د ۲۰۰۹ زکال، جون ـ جولای: (۶۰) تنه ښکاري پوځيان د سيمه ايزو طالبانو د نيولو له پاره موظف شول خو بريالی نه شول.

د ۲۰۰۹ زکال، د اګست (۲۰): په ولسمشريزو ټاکنو کي پراخي درغلي وشوي.

د ۲۰۰۹ زکال، سپټمبر: د امریکایانو ځانګړو ځواکونو د ګرشک مقتدره سړی، حاجي خان محمد بندي کړي.

د ۲۰۰۹ زکال، اکتوبر ـ نومبر: د بارکزو سره سختي نوې جګړې.

د ۲۰۰۹ زکال، د نومبر لومړی نيټه: حامد کرزي د ولسمشر په توګه اعلان شو او مخالف کانديد (ژ:عبدالله عبدالله) تر شاه شو.

د ۲۰۰۹ زکال، د نومبر (۱۶) نیټه: په ډنمارک کې جنرال کنود بارټيلس [۱۸۹] د نوي لوي درستيز په توګه مقرر شو.

د ۲۰۰۹ زکال، د ډسمبر لومړی نيټه: بارک اوباما په ځانګړي توګه د افغانستان جنوب ته (۳۳۰۰۰) اضافي پوځيان وليږل.

د ۲۰۰۹ زکال، فبوري: ډنمارکي او انګريزي پوځيانو د ګولډ [۱۹۰] او بهادر[۱۹۱] پوځي مرکزونه پرانيستل. دا يو تلاښ و چي د هلمند د سيند پر پل باندې موانع ایجاد کړي.

د اوباما په څرګندونو کي مبهم ټکي نه وو. جوسف بايډن [۱۹۲] د امريکا د راتلونکي ولسمشر مرستيال د ۲۰۰۹ زکال د جنوري د میاشتي پر (۹) نيټه چي د بارک اوباما د لوړې مراسمو ته (۱۱) ورځي پاته وي د پاکستان په پلازمينه اسلام اباد کي د پاکستان ولسمشر، اصف زرداري ته وويل: «افغانستان به د اوباما جګړه وي» موخه دا وه چي پاکستان وهڅوي تر څو د امریکا سره نور هم زيات ګډ کار وکړي. دا به بی فايدې چاره وه چي افغانستان ته نور امريکايي سرتيري په داسي

[۱۸۸] - Stanly McChrystal

[۱۸۹] - Knud Bartels

[۱۹۰] - Gold

[۱۹۱] - Bahdur

[۱۹۲] - Joseph Biden

حال کې ولیږل شي چې د افغانستان ګاونډي (پاکستان) طالبان او القاعده جنګیالي د خپلو سرحداتو د لارې افغانستان ته د بریدونو له پاره لیږي. جوسف بایډن ولسمشر بارک اوباما ته وویل چې موږ پرته د پاکستان د مرستې څخه د افغانستان تر عهده وتلای نه شوو. وروسته جوسف بایډن د ای اس ای بدنامې ادارې پر لورې ورودانګل او جوته یې کړه: «امریکا به په هیڅ ډول شرایطو دا ونه مني چې د پاکستان ځارګره اداره، ای اس ای د طالبانو ملاتړ وکړي.» د بایډن د نیوکو تر باران وروسته اصف زرداري ورته وویل چې د پاکستان ولس په لویه کچه امریکایي ضد احساسات لري. که زه د امریکا لاسپوڅې شم نو ولس به ډېره کرکه راڅخه وکړي خو د نورو مرستو غوښتنه یې ورڅخه وکړه. د خبرو څخه څرګنده شوه چې مفت څه نه شته، شي په شي دي. د جوسف بایډن او اصف زرداري د خبرو انعکاس د باب وډ ورډ [193] په کتاب (د اوباما جګړه) [194] کې بیان شوی دي. په کتاب کې تشریح شوی ده چې د اوباما د ستراتیژي پیاده کول به د افغانستان او پاکستان په اړوند څنګه وي. پوښتنه دا وه چې د افغانستان د جګړې موخه څه ده او څنګه باید بریالی شي؟ کوم ډول فشار پر پاکستان او افغانستان وارد شي؟ د جوسف بایډن او د جمهوري غوښتونکي سناتور، لنډسی ګراهمس [195] بل تم ځای افغانستان و چې د ولسمشر حامد کرزي سره خبري وکړي. د افغانستان ولسمشر څو ځله د امریکایانو نیوکې د اداري فساد په تړاو رد کړی وي او دا چې په فعال ډول د جورج بوش سره ګډ کار نه کوي هم ورته د منلو وړ نه و. دا تقریباً په عادت بدل شوی و چې په هرو (۱۴) ورځو کې ولسمشر کرزي او جورج بوش د ویډیو غونډې له لارې پر حالاتو بحث کولو. د باب وډ ورډ د کتاب په حواله په دغه ماښامنۍ کې جوسف بایډن په نیغه بحث کولو او کرزي ته یې وویل: « ښاغلي ولسمشره! باید بدلون راشئ. راتلونکي ولسمشر به ډیر همکاره وي خو دا چې د بوش په وخت کې مو ټلیفون ورته کولو دا به د بارک اوباما په وخت کې پای ته رسیږي.» ولسمشر کرزي ځواب ورکړي چې وپوهیدلم. لږ وروسته غونډه جدي شوه ځکه امریکایي لورې نیوکې سختې کړي. جوبایډن ورته وویل: «تاسو د کابل والي یاست» ځکه په کابل کې محاصره ناست یې. جوبایډن ولسمشر کرزي تورن کړي چې د والیانو چوکۍ یې خپلو نژدې سیاسي ملاتړو ته ویشلی دي. وروسته بحثونه ډیر جدي شول چې په لفظي شخړه بدل شول. ولسمشر کرزي د امریکا پوځ تورن کړي، چې د امریکایانو د عملیاتو په پایله کې ډیر ملکي تلفات رامینځته کیږي. د غونډې په پای کې د امریکا سفیر مینځګړیتوب وکړي.

د امریکا سفیر ورته وویل: «زه فکر کوم چې دا ښه بحث دي ځکه د دواړو لورو غوښتنې او ستونزې رابرسیره کوي.» حامد کرزي په ځواب کې ورته وویل: « موږ غریب افغانان یوو او زه پوهیږم چې زموږ په تړاو د چا سره اندیښنه نه شته...» کرزي یې پرې نښودي چې خبرو ته دوام ورکړي. جوبایډن خپل دستمال پر میز وغورزاوه او ویې ویل: «دا خبره ستا د شان سره وړ نه وه. ښاغلي ولسمشره!» په ارګ کې ماښامنۍ داسې وه چې په ډیپلوماتیک ژوند کې [196] نه هیریږي. لږ وروسته ماښامنۍ پای ته ورسیده. کله چې میلمانه د امریکا سفارت ته راورسیدل، دحامد کرزي وزیرانو په ټلیفوفونو پیل وکړي او د سفیر څخه یې د ولسمشر او جوبایډن د مشاجرې معلومات غوښتې. دا پیښه دکارد پیل له پاره د خوند څکل و، کرزي ته یې څرګنده کړه چې بارک اوباما د جورج بوش په پرتله د افغان ولسمشر په مقابل کې د پراخ زغم خاوند نه دي. وروسته جوبایډن د امریکایي پوځ د مشر قوماندان، جنرال ډیوډ مک کیرنان [197] سره ولیدل. جوبایډن د جنرال څخه وپوښتل چې د موثرو بریدونو له پاره څه ته اړتیا لري؟ جنرال ورته وویل چې زه زیاتو سرتیرو ته اړتیا لرم. د جورج بوش د حکومت څخه مې (۳۰۰۰۰) نور سرتیري وغوښتل خو د بوش حکومت زما غوښتنې ته مثبت ځواب ونه وایه. جوبایډن جنرال وپوښتی: په افغانستان کې د القاعده حالت څنګه دي؟ جنرال په ځواب کې ورته وویل: موږ په وروسته دوو کلنو کې په افغانستان کې عربان لیدلي نه دي. دا خبري د جوبایډن اندیښنه تایید کړه. القاعده په حقیقت کې د پاکستان ستونزه وه او ده. په دغه جریان کې جوبایډن د ټولو امریکایي سرتیرو څخه وپوښتل: په افغانستان کې د جګړې موخه څه ده؟ ځوابونه مختلف وو. د القاعدې د له مینځه وړولو څخه د افغانستان تر بیا رغونې پورې ځوابونه وویل شول. ډیرو سرتیرو ځواب دا وو چې موږ نه پوهیږو. د دغه لویې جګړې موخه څرګنده نه وه. همدغه دلیل و چې بارک اوباما غوښتل د افغانستان په جګړه کې خپله ستراتیژي عملي کړي او هم به د پاکستان رول د افغانستان په جګړه کې عیار کړي. د جوبایډن سفرونه پاکستان او افغانستان ته په سپینه ماڼۍ کې د بحثونو له پاره نوي چاپیریال رامینځته کړي: په افغانستان کې د جګړې موخه څه ده او څنګه باید د ټاکلي موخې بریالیتوب ته ورسیږو؟ کله چې جوسیف بایډن او سناتور، لینډسی ګراهم د سفر څخه امریکا ته وګرځیدل، د ۲۰۰۹ زکال د جنوري په (۱۴) نیټه یې د بارک اوباما سره وکتل. دوي بارک اوباما ته وویل کله چې موږ د

[193] - Bob Woodwards
[194] - Obamas Wars
[195] - Lindsey Grahams

[197] - David McKiernan

خپلو سرتیرو څخه د افغانستان د جګړې د موخې په باب پوښتنه کوو، لس مختلف ځوابونه اورو. امریکا د افغانستان په جګړه کې د اتومات پیلوټ په څیر دي. اوباما وویل چې موږ نه شو کولای د اتومات پیلوټ په توګه وچلیږو، خو په ټینګه یې وویل چې زه باید لومړي حالات قابو کړم. د مارچ پر (۲۷) نیټه د امریکا نوی ولسمشر، بارک اوباما خپل د ای اف پک [۱۹۸] (دا هغه ستراتیژي وه چې د افغانستان او پاکستان له پاره جوړه شوی وه.) ستراتیژي معرفي کړل. د ستراتیژي د جوړولو له پاره (۸۰) تنو په میاشتو میاشتو کار کړی وو. ډیرو کسانو په امریکا او ملاتړو هیوادونو کې چې ډیري قرباني یې ورکړی وي، یوه ساده پوښتنه یې درلوده: زموږ موخه په افغانستان کې څه ده؟ ډیر کلونه دا پوښتنه کیږي چې ولې زموږ نارینه او ښځې هلته جګړه کوي او وژل کیږي؟ بارک اوباما وویل چې خلک د یو درست ځواب د پیداکولو حق لري او علاوه یې کړه: « زماهیله داده چې د امریکا خلک وپوهیږي چې موږ یوه څرګنده موخه لرو: موږ باید په پاکستان او افغانستان کې پر القاعده بریالي شوو او د دوي د بیرته راګرځیدلو، پاکستان او افغانستان ته په راتلونکي کې مخه ونیسو.» بارک اوباما د لویدیزو هیوادونو د جګړې کولو موخه روښانه کړه چې جګړه د القاعدې سره ده نه د طالبانو سره.

په همدغه وخت کې د ډنمارکیانو هڅې د لومړی ځل له پاره په هلمند کې یو ډول ازموینه وه. کله چې ډنمارکي سیاسي ګوندونو یو کال مخکې د حکومت د ۲۰۰۸ زکال هلمند پلان تصویب کړي وو، پریکړه شوی وه چې د دغه پلان پایلې یو کال وروسته وارزول شي او پارلمان ته وړاندې شي. ملکي او پوځي کارپوهانو ډیره اندیښنه درلوده چې موخه د ۲۰۰۸ زکال له پاره ډیره دقیقه او ځانګړې ده. کارپوهانو ارزونه وکړه چې د کار پایلې د مختلفو کارپوهانو مرکزي اداري [۱۹۹] او د بهرنیو چارو وزارت ته یوه اړتیا ده، د دي پر ځای چې د پلان د عملي کولو عملي اغیزي او د حالاتو ثبات د جګړې په زون کې وارزول شي او وړاندې یوه شي. د ارزونې په لومړی رپوټ کې څرګنده شوه چې ډنمارک په روښانه توګه په هلمند کې خپلو موخو ته رسیدلي نه دي. د پولیټکن ورځپاڼې د ۲۰۰۹ زکال د فبوري په (۱۳) نیټه د دغه محرم رپوټ محتویات خپاره کړه. لوستل یې نا امیدي پارولې. په هلمند کې باید د کال په جریان کې (۲۰۰۰۰) نوی ماشومان ښوونځیو ته ولاړ شي. خو یوازې (۵۰۰۰) اضافه ماشومانو ښوونځي پیل کړل. باید د نجونو شمیره هم په ښوونځیو کې زیاته شي. خو بریالي نه شول. امنیتي شرایط د کال په جریان کې باید ښه شي، خو د معلوماتو له مخې حکومت پر کابل کنترول لري او لویدیز پوځیان د هلمند پر نیمایي برخه ولکه لري. په دی مانا چې د (۱۳) ولسوالیو او مهمو ښارو څخه نیمایي یې د دولت په لاس کې دي. د همدغو سیمو او ښارو خلک د حکومت قوانین مني. هغه سیمې چې د طالبانو تر ولکې لاندې دي، خلک یې په کمزوري ډول ملاتړ کوي. بزګرو ته د تریاکو د کښت په بدل کې نورمواد باید د کښت له پاره ورکول شوی وای. ولې په ۲۰۰۸ زکال کې د تریاکو کښت د نور افغانستان په پرتله زیات شوو. په همدي ډول په ۲۰۰۸ زکال کې د ډنمارکیانو د جګړې لګښت یو میلیارد کرونو ته ورسیدي. د همدغه رپوټ د لګښت اعداد د بهرنیو چارو وزارت، د پرمختایي چارو وزارت او د کورنیو چارو وزارت لخوا بحث ورباندې ونه شوو. موګنس لویکه ټافټ، کیڼ راډیکال او د ځان ساتو (کنسرویټیو) ګوندونو د ډنمارک د شتون او تلاښ څخه په هلمند کې ملاتړ وکړي. موګنس لویکه ټافټ وویل: «دا حالت ډیر خواشینونکي و خو په ۲۰۰۸ زکال کې د ټول افغانستان امنیتي وضعیت پر شاه تګ وکړي. موږ پر ته د دي چې غاښونه کښیکاږو بل څه کولای نه شوو. موږ د همدغه وضعیت څخه تښته کولای نه شوو.» د کیڼ راډیکال لوړ پوړي غړی، مورتن هیلویګ پیټرسن [۲۰۰] نظر درلودي چې: «ډنمارکیانو په حالاتو کې بدلون راوستلي دي. که ډنمارکی پوځیان هلته نه وای، حالت به څنګه وای؟ دا باید په یاد ولرو، او زه ترجیح ورکوم چې د موخو یوه برخه عملي شي.» د ځان ساتو یو لوړ پوړي غړی، ټوم بیهینکه [۲۰۱] اعلان کړل:«دا د ازادي بیه ده. څه شي چې دي، هغسي دي.» موږ اړ یو چې زغم ولرو تر څو باوري شوو چې حالات بیرته پخواني حالت ته نه ګرځي. ولې باید وویل شي چې د غوښتنو او موجودو واقعیتونو تر مینځ یو واټن شته. په ایډیال (خیالي غوښتنو) کې ستونزه نه شته، خو واقعیتونه بیانوي چې خیالونه به ژر په عمل کې پیاده نه شي. د سوسیال ډموکراټانو د بهرنیو چارو پخواني وزیر، موګنس لویکه ټافټ وویل: هلمند ته د ډنمارکیانو ورتلل د دي باعث وګرځیدل چې ډنمارکي سیاستوال اړ باسي چې یوه ستراتیژي جوړه کړي، لکه بارک اوباما چې په امریکا کې ورته کړنه وکړه. یوه اونی تیره شوه، وروسته حکومت پر پایلو باندې خبري وکړي. ځینې اعداد په وروستی شیبه کې ښه شوه، مخکې تر دي چې رپوټ د پارلمان د بهرنیو اړیکو کمسیون ته وړاندې شي. د بهرنیو چارو د وزارت مسولو لوړپوړو چارواکو په وروستی شیبه کې رپوټ په لاس راوړي چې د ۲۰۰۸ زکال په پیل کې د پخوا په پرتله لږ ماشومان ښوونځیو ته تللي دي کوم چې افغانانو یې شمیره ښوولي ده. په همدغه خاطر د (۵۰۰۰) زیاتو زده کوونکو تلل ښوونځیو ته د کال په پیل کې ښه پایله ګڼل شوی وه. د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمسیون تر غونډې وروسته ۲۰۰۸

۱۹۸ - AfPak

۱۹۹ - DJØF

۲۰۰ - Morten Helveg Petersen

۲۰۱ - Tom Behnke

زکال یو بریالي کال ونه ګاڼه. وزیر وویل: سږکال په افغانستان کې یو سخت کال و او موږ د ټولو هغو بریدونو ځواب ورکړو کوم چې پر موږ شوی دي. د دفاع وزیر، سیون ګیده علاوه کړه چې: موږ د حالاتو خرابوالی تجربه کړي.

جګړن حاجي اسمارایي د ۲۰۰۹ زکال په پسرلي کې د حالاتو څخه راضي نه و. یو ډیر شمیر افغانانو زیاتي ستونزې درلودې. نوموړي د ښار د شتمنو کسانو څخه و، مګر د تجارت کار نور سم نه و. دري کاله مخکي د لوی لارې د ساتلو ځانګړي پولیس د حامد کرزي د فرمان له مخي منحل شول. دا موضوع د حاجي اسمارایي له پاره یوه لویه ستونزه وه. د سړک د ساتلو د پولیسو د مشر په توګه نوموړی (۲۰۰) سرتیري درلودل چې د سړک په اوږدو کې په مختلفو پوستو کې ځای پر ځای شوی وو. د سړک د ساتلو د پولیسو د کړنو څخه په ټول هیواد کې شکایتونو شتون درلودې. څو ځله د لاریو موټرانو چلوونکو پراخ اعتراضونه وکړل، ځکه دوي د پولیسو د زیاتو بډو اخیستلو څخه چې د سړک د امنیتي پوستو څخه به تیریدل، شکایت درلودې. داسي خبري کیدلي چې د ټولو ستونزو سره سره همدغه حالت د طالبانو تر وخت ښه دي. دخلکو فشار حامد کرزي اړ ایستي چې د سړک د ساتلو د پولیسو ګروپ منحل کړي. د انګلیسانو د یو بی پری څیړنیز ګروپ [۲۰۲] هم روښانه کړه چې فساد او بډي اخیستل د زغم تر کچي زیات شوي دي. د پخوانیو جګړه مارو یو مشر د (۲۰۰۰۰۰ ـ ۳۰۰۰۰۰) ډالرو پوري د کورنیو چارو وزارت ته بډي ورکړی چې د همدغي لویي لارې امنیت د خپلو وسلوالو کسانو په واسطه وساتي، وروسته د نوموړي وسلوال کسان د پولیسو یوه برخه شوه. د جګړه مارو نوموړي مشر د بډو ورکولو په بدل کي انتظار درلودي چې د خپلو وسلوالو کسانو په واسطه چې په څو پوستو کي تنظیم کړي وو، د موټر چلونکو څخه د میاشتي تر (۴۰۰۰۰۰) ډالرو پوري عواید په لاس راوړي. حاجي اسمارایي د ولسمشر فرمان ته اعتناء ونه کړل او لومړی کال یې داسي دوام ورکړي لکه هیڅ چې پیښ شوی نه وي. د نوموړي نفر د پولیسو په یونیفورم کي ګرځیدل او په پوستو کي د موټرچلونکو څخه پیسي اخیستلي. انګریزي او ډنمارکي پوځیانو نه غوښتل چې د نوموړي په چارو کي لاسوهنه وکړي او د پیسو اخیستل یې متوقف کړي. د حاجي اسمارایي پولیسو ته د کابل څخه معاش نه ورکول کیدي او د چلوونکو څخه د پیسو اخیستل هم باوري سرچینه نه وه ځکه یو مقدار پیسي تر ګرشک پوري د موټرانو تر را راسیدلو مخکي د مابیني کسانو له خوا اخیستل کیدي. د پیسو اخیستلو مقدار په لوړه کچه په معاشونو پوري وتړل شوو. د ۲۰۰۸ زکال په مني کي د ولسمشر فرمان اغیزه وښندله او حاجي اسمارایي د پیسو اخیستلو څخه لاس پر سر شو. ستونزه همدا شان ډیره نه وه ځکه نوموړي د هرې اونی په امنیتي غونډو کي چي د امنیتي مشرانو [۲۰۳] لخوا په ګرشک کي جوړیدلي، برخه اخیستل. په غونډو کي نوموړي ګټور معلوماتونه تر لاسه کول چي د پټو مجرمینو په چاپیریال کي ښه ګټه ورڅخه پورته کیدل. د غونډو مشرتوب د ډنمارکیانو د جګړه ایزه ګروپ د مرستیال قوماندان پر غاړه و. د غونډې ډنمارکي مشر نه شوای کولای چې د حاجي (۲۰۰) وسلوال په یوه ځل د دروازې څخه وغورځوي. د دا ډول چارې پایله مخامخ جګړه وه، لومړي باید ډنمارکیان پوهیدلي واي چي د حاجي او د هغه د وسلوالو سره کومه کړنه وکړي. د ۲۰۰۹ زکال په پسرلي کي د امنیتي ګروپ لخوا پر حاجي فشار راوړل شوو. په لښکرګاه کي د مختلفو پلمو په واسطه مو وکولای شوای چي د حاجي وسلوال اړ باسو چي د (۶۰۱) لارې امنیت وساتي. د دغه سړک یوه برخه په دښت کي تیره شوی وه او لښکرګاه یې د عمومي قیر سړک سره تړل. په دغه سیمه کي ډیر طالبان وو، چي حاجي او د نوموړی وسلوال یې ډیرخفه کړه خو ډنمارکیانو ځکه اندیښنه نه درلوده چي یوه موده د حاجي څخه بیغمه شوه. د ډنمارکیانو د اومي ډلي پوځیانو مشر، ډګروال ینس اوله روسن یونسن [۲۰۴] د ۲۰۰۹ زکال د فبوري د میاشتي څخه د ډنمارکیانو په استازیتوب د افغان سیمه ایزو مقاماتو سره د اړیکو ټینګولو مسول و. پرته د حاجي د ګډون څخه د امنیتي ګروپ غونډه د ډنمارکیانو له پاره په زړه پوري وه. کله چي ډنمارکیانو په ۲۰۰۷ زکال کي د ګرشک د سیمي مسولیت واخیستي د دغه لنډې پولیسي جګړن څیره چي پیک داره خولي یې پر سر کول، د ډنمارکیانو د څارګرې اداري د هغه لست په سر کي ځای درلودي چي په فساد کي برلاسی ښکاریدي. د حاجي اسمارایي ستونزه د افغانستان د حالاتو په پرتله وړه خبره وه. کله چي په میلیاردو ډالرونه افغانستان ته د پرمختیایي پروژو او پوځ له پاره پانګونه وشوه، فساد هم په بیساري کچه پرمختګ وکړي. د ګرشک او کندهار تر مینځ د وړې امنیتي پوستي، سیمه ایزو واکدارانو او په کابل کي د واکدارانو تر مینځ د ملګرتوب لړی ټینګه وه چي موږ ډنمارکیانو ته یې پوهیدل او پیداکول ستونزمنه چاره وه. په ګرشک کي د ډنمارکیانو د څارګرې اداري عمومي څار د واکمنو اشخاصو پرکړونو، کورنیو اړیکو او د دوي اړیکي د پټو جنایتکارو شبکو سره د ډنمارکیانو د جګړه ایزه ګروپ له پاره یوه مهمه وسیله وه. په ګرشک کي د ډنمارکیانو د مسولیت په سیمه کي د لسو مقتدرو کسانو د اړیکو او کړونو تشریح د ډنمارکیانو له پاره ځانګړی دردونکي نه وه. د ښار د پولیسو قوماندان، فاروق ډیر کمزوري سړی و چي د پریکړو توان یې نه درلودي. د قوماندان مرستیال، عبدالرزاق د جنایي چاپیریال سره ستومانه کوونکي اړیکي درلودې خو نوموړی د جګړې په وخت کي یو فعال همکار ګڼل کیدي. دوه وړونه هم په لست کي وو. کله چي د ایساف ځواکونه هلمند ته راغلل، حاجي قدوس او ملا داود هر یوه په بیله توګه خپل سیمه ایز وسلوال تر

۲۰۲ - RUSI

۲۰۳ - Security Goup

۲۰۴ - Jens Ole Rossen-Jørgensen

کنترول لاندې درلودل. زموږ ارزونه داسې وه چې د دوی ګډ کار کول د مخالفت کولو پر ځای ګټوره چاره وه. موږ ته کافي وه چې د طالبانو، د نشه ای توکو د قاچاق وړونکو او نورو مخالفو ګروپونو سره وجنګیږو. دغه پالیسي په ټول افغانستان کې مخته وړل کیدل. ملا داود خپل د وسلوالو څخه شخصي امنیتي کمپنی جوړه کړه. انګریزانو د افغان امنیتي ګروپ ته د میاشتې (۱۸۰۰۰) ډالره ورکولې چې د پرایس کمپ امنیت وساتي. په حقیقت کې د همدغو وسلوالو خوله یې ور بنده کړه چې ځانونه ارام ونیسي. انګریزانو او ډنمارکیانو پر دوی باور نه درلودې نو ځکه هر څه یې خپله کنترولول. دغه افغان امنیتي ځواکونه همیشه د راتلو او تللو په وخت کې نشه ښکاریده، دوی به هیروین او یا چرس استعمال کړی وو. د دوی امنیتي پوسته چې د لاری پر سر وه، په نامنظمه توګه د لرګو، خاشو ټوټې، د ودانیو پاتې شونې او د ریګو کڅوړې یو پر بل سره پرتې وې. د ډنمارکیانو یوه لویه اندیښنه لیرې شوه چې ملا به د چا سره اړیکې نیسي او ګډ کار به ورسره کوي. عیني میتود د نوموړي د ورور حاجي قدوس سره وکارول شوو. د حاجي قدوس وسلوالو ته د پولیسو د همکارانو لقب ورکړل شوو او د ګرشک په جنوب کې څو پوستې ورکړه شوې. بیا هم همدغو وسلوالو ډنمارکیانو ته ستونزې جوړولې ځکه بزګران چې ښار ته د سودا رانیولو له پاره راتلل، پیسي یې ورڅخه اخیستلې. د سیمه ایزو واکدارانو په ډله کې یو بل د قدرت څښتن حاجي خان محمد و، چې موږ په خبرو کې اچ کی ام [٢٠٥] په نوم یادولو. نوموړی د ښورکي لورې ته ډیره مځکه درلوده چې بزګرانو د هغه په مځکه کې ترياک کرل. ځینې کسانو ویل چې نوموړی د هلمند ولایت په کچه د تریاکو لوی قاچاق وړونکي دي. حاجي خان محمد په کابل ښې اړیکې درلودې. کله به چې نوموړي په خپله ښکلې بنګله کې نه وه، په کابل کې یې ژوند کاوه. د حاجي خان محمد بنګله چې د قیر سړک په څنګ کې پرته وه، ډیره ښکلې او لوکسه وه. بیا هم ډنمارکیانو هغه شپږ میاشتې پر ارامه پرېښودې. دغه چاره زموږ د واقعي سیاست سره په ټکر کې وه. د ډنمارکیانو د شپږمې ډلې مشر، کیلډ کریستینسن مخکې ژورنالیستانو ته ویلې وو چې زه نه پوهیږم د حاجي خان محمد په ناڅاپي ورکیدو سره به د واک په بلانس کې څه بدلون راشي. د هرې تشې ځای به د نورو بازیګرانو په واسطه ډک شي او یا به خپل منځي جګړې پیل شي تر څو د نوموړي شتمني او تجارت په لاس کې واخلي. د دغو بازیګرانو په شتون کې کافي و چې موږ ینس اوله روسن یونسن یوازې پری نږدو. د افغان لوړ پوړو چارواکو سره په غونډو کې موږ هیڅکله په ښکاره د حاجي یسمارایي پر ضد بریدګره چاره نه تر سره کوله. هیڅوخت د ښکاره ټکر وړاندوینه نه وه شوې. د یوه کس د قدرت ښودلو د درناوي په خاطر موږ اړینه ګڼله چې غبرګون و نه ښیوو. د ښار د پوځي مسایلو د ارزونو په غونډه کې د لنډه کې جګړن په تراو ډیر معلوماتونه لاسته راغلل ځکه نوموړي زموږ د څارګرې اداري په لست کې شامل و. حاجي یسمارایي پوهیدې چې ستونزې لرې خو بیا هم د (۶۰۱) لمبر سړک د امنیت ساتلو ته یې دوام ورکاوه، تر څو د ۲۰۰۹ زکال په پسرلي کې د نوموړي پر امنیتي نفرو زیات فشار واچول شوو، یانې د دندې څخه وغوزول شول.

د ایټالیا صدراعظم، سیلوو بیرلوسکوني [٢٠٦] اړ و چې د ټلیفوني خبرو د اوریدلو له پاره په یوه غوږ کې ګوته ونیسي تر څو د جرمني د پوځي مارش موزیک د ګروپ د ساز په شتون کې خبرې واوري. د اپریل د (۳. او ۴.) نیټه د ناټو د جوړولو (۶۰) کالیزه نمانځل کیدل او د ایټالیا صدراعظم په دوهمه ورځ وینا اوروله نو ځکه یې په ټلیفون کې خبرې کولې. د جرمني صدراعظمه، انجیلا میرکل [٢٠٧] په قهرجنه لهجه د ایټالیا په تړاو ږغیدله خو سیلوو بیر لوسکوني د ناټو د بیرغ د یوې پایې (ستنې) څخه تر بلې تګ او راتګ کاوه او ټلیفوني خبرو ته یې دوام ورکړی وو. نورمشران پر (۳۸۷) متره اوږده پل د ستراسبورګ [٢٠٨] چې د فرانسې په برخه راهینین [٢٠٩] کې پروت دې. د پل په مینځ کې مشرانو د فرانسې د جمهور ریس، نیکولاس سرکوزي [٢١٠] سره ولیدل. غونډه تر دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د اروپایانو د وروړګلوي سمبول و، کوم چې د ناټو پوځي یکټ ترجګړې وروسته جوړ شوو. سیلوو بیر لوسکوني د نورو د اجرأتو د تحلیل په تړاو د لوړ فهم خاوند و او په هره موضوع کې د لاسوهنې شهرت درلودې خو د ډنمارک د صدراعظم، اندریس فوګ غاسموسن دا ډول کړنه نه خوښیدل. په دغه ورځ د ډنمارک صدراعظم یو دلیل درلودې چې د حالت څخه راضي واوسي. ځکه دوې ورځې مخکې د ناټو سفیر ورته ویلي و چې ته (د ډنمارک صدراعظم) د ناټو د عمومي مشر په توګه نوماند شوی یې. د اندریس فوګ غاسموسن په سیاسي ژوند کې دا یوه لویه پینه وه، لکه پر یخک چې ښویږي او د ځان کنترول نه لري. حالات داسې وو چې یوه شیبه به فکر کیدې چې د ډنمارک صدراعظم د ناټو مشر کیږي خو بله شیبه به ښکاریدل چې چانس یې د لاسه ورکړی دې. د پیغمبر د انځورونو (ژ: د محمد ص انځورونه چې ډنمارکیانو رسم کړی وو) تر چاپولو وروسته د ډنمارک بیرغ او د ډنمارک صدراعظم په اسلامي نړی کې محبوبیت د لاسه ورکړي وو، نو ځکه د ډنمارک لویه ستونزه د ترکیې

[٢٠٥] - HKM
[٢٠٦] - Silvio Berlusconi
[٢٠٧] - Angela Merkel
[٢٠٨] - Strasbourg
[٢٠٩] - Rahinen
[٢١٠] - Nicolas Sarkozy

سره وه. په ترکيه کې بنی اړخه ګوند [٢١١] واکمن و. (دغه ګوند اسلامي ريښې لرې خو دوي دا نه مني چې د اسلام پالو ملاتړ کوي). نور هيوادونه د نوي عمومي مشر په تړاو همږغي وو. د بل لوری ترکيه داسې وړوکی هيواد نه و چې امريکا، المان، انګليستان، فرانسي او ايټاليا پر ځای کښينولی وای. په پوځي لحاظه ترکيه دوهم غټ مقام په ناټو کې لري او د جغرافيايي موقعيت په لحاظ يوازنی هيواد دی چې د لويديزو او اسلامي نړی تر مينځ يې اړيکې ټينګې کړی دي. د ډنمارک د صدراعظم موقف د ترکيې غږيتوب په اروپايي ټولنه کې هم ستونزه جوړه کړی وه ځکه ډنمارک د ترکيې د غړيتوب سره په اروپايي ټولنه کې مخالفت درلودي. په ډنمارک کې د کردانو تلويزيوني چينل [٢١٢] هم د ترکيې د قهر سبب شوی و ځکه د دغه چينل مرکز په کوپنهاګن کې و کوم چې په کردي ژبه يې د ترکيې لړکيانو کردانو (ژ:خو په ترکيه کې تر نورو ټولو ځايونو کردان زيات دي) ته خپروني کولې. د ترکيه حکومت باور درلودي چې دغه تلويزيوني چينل د پ ک ک [٢١٣] ترهګريز ګوند قوي بازو دي. (ژ: دغه ګوند د کردانو د کار د ګوند په نوم ياديږي چې سياسي او پوځي جوړښت لري. په ١٩٧٨ زکال جوړ شوو، مشر يې عبدالله جولان و چې اوس په ابدي بند محکوم دي. نوموړی ګوند امريکا او ملاتړو لويديزو هيوادونو د ترهګرې په لست کې ځای کړي دي.) بيا هم اندريس فوک غاسموسن هڅه ونه کړه چې د ترهګرو تلويزيوني چينل بند کړي. صدراعظم د محمد ص د انځورونو د رسمولو د موضوع په ډول د تلويزيوني چينل موضوع هم د بيان په ازادی پورې تړلې وګڼل نو ځکه د ترکيې او ډنمارک اړيکې زيانمنې شوې. ټولې پورته يادې شوې موضوعګانې د ددې سبب شوې چې ترکيه په کلکه د ډنمارک د صدراعظم د نومولو سره د ناټو دغه مهم مقام ته مخالفت وکړي. د دود له مخې د کاري ورځې ماښامنۍ په لوکسترينه ځای، کورهاوس کزينو [٢١٤] کې د مشرانو د پياده ګښت څخه يوه ورځ مخکې جوړه شوی وه، د المان صدراعظمې، انجيلا ميرکل په عامه غونډه کې ويلي وه، زه په بشپړ باور انتظار لرم چې د ډنمارک صدراعظم د ناټو د عمومي منشي په توګه ووينم. د المان صدراعظمې دا ډول خپل نظر بيان کړي: « اندريس فوک غاسموسن يو ايډيال نوماند دي، هر هغه څه چې زما په توان کې وي، وبه يې کړم چې غړي هيوادونه نوموړی ته د هوکې وټ ورکړي. کله چې فوک غاسموسن د ناټو مشر شي، نوموړي به ډير قوي مشر وي.» د المان د صدراعظمې دغه قوي ملاتړ بيا هم ترکيه راضي نه کړه. ټوله شپه د اندريس فوک غاسموسن ملاتړو مشرانو د ترکيې د ولسمشر، عبدالله ګل سره خبرې وکړې خو هغه خپل پر پريکړه ټينګ و. د سيلوو بيرلوسکوني هغه ټليفوني خبرو چې نور مشران د رهين پر څنډه ګرځيدل خو بيرلسکوني په ټليفون کې خبرې کولې، ستونزه حل کړه. د سيلوو بيرلوسکوني سره د ترکيه قوي صدراعظم، ريسيپ تيپ اردوګان [٢١٥] په ټلفون کې ږغيدي. په حقيقت کې د اندريس فوک غاسموسن نصيب په انقره کې د ريسيپ تيپ اردوګان په لاسونو کې وو. دا څرګنده نه شوه چې سيلوو بيرلوسکوني د تيپ اردوګان سره پر کومو موضوعاتو خبرې وکړې خو شنونکې وايې چې سيلوو بيرلوسکوني اردوګان ته د ناټو د مرستيال د څوکۍ وړانديز وکړي. د مرستيال څوکې د ناټو د جوړيدو څخه راوروسته د ايټاليا وي. د دغه وړانديز بيه د اندريس فوک غاسموسن منل د ناټو د عمومي منشي په توګه و. کله چې د رهنين پر څنډه رسمي مراسم پای ته ورسيدل، پر ترکيه باندې فشار ته دوام ورکړل شو. کله چې د ناټو د غړو هيوادونو مشران د غونډې مرکز ته ورسيدل، بارک اوباما د (۴۵) دقيقو له پاره اندريس فوک غاسموسن او د ترکيه ولسمشر عبدالله ګل د ځان سره ګوښه کوټې ته بوتلل. د اوباما لخوا د ترکيه مشر ته وويل شول چې د اروپا لوی هيوادونه د ترکيې د مقاومت څخه ډير ناراضه دي او دغو هيوادونو غوښتل چې د ترکيې د شمول په تړاو د ګډ بازار د هيوادونو اتحاديې ته منفي رايه ورکړي او پر دغه موضوع روان بحثونه په ټپه ودروي. د ترکيې ولسمشر عبدالله ګل انقرې ته زنګ وواهه چې د ترکيې صدراعظم، تيپ اروګان د موضوع څخه خبر کړي، خو اردوګان بيا هم نه غوښتل چې تسليم شي. بيا نوي اوازې خپرې شوې او اندريس فوک غاسموسن د بايلونکي په رول کې راښکاره شو. د ماپښين لخوا څرګنده شوه چې مشرانو د موضوع برياليتوب ته دوام ورکوي. د ماپښين لخوا مشرانو بيا غونډه پرانيستله او د موضوع د برياليتوب له پاره يې نوی ګام اوچت کړي. ترکيې ته د بارک اوباما، انجيلا ميرکيل او نيکولاس سرکوزي لخوا په څرګنده ټکو داسې وويل شول: موږ به د مشرانو غونډه تر هغه وخت پورې پای ته ونه رسوو تر څو چې د ناټو نوي مشر ونه ټاکو. د ترکيې سره ډير مسايل طرح شول تر څو د لومړی ځل له پاره د شمالي اروپا څخه د ناټو عمومي مشر وټاکل شوو. تر غونډې وروسته اندريس فوک غاسموسن وويل:«تر هغه وخت پورې چې پريکړه کيده، ما فکر نه کاوه چې په دغه لويه ډرامه کې به زه د ناټو مشر وټاکل شم.» هيڅوخت داسې اړتيا رامينځته شوی نه وه چې د اتلانتيک هيوادو مشران مجبور شوی وی چې د ناټو د عمومي منشي د ټاکلو په تړاو ځانونه باوري کړي چې ټول غړي هيوادونه راضي دي. او هيڅوخت دا ډول مخالفتونه هم د منشي د ټاکلو په تړاو پيښ شوی نه وو. اندريس فوک غاسموسن ايډيال نظر درلودی چې د ناټو غړو هيوادونو له پاره نوښت وکړي.

---

[٢١١] - AK parti
[٢١٢] - ROJ - TV
[٢١٣] - PKK
[٢١٤] - Kurhaus Casino
[٢١٥] - Recep Tayyip Erdogan

اندریس فوک غاسموسن ته څرګنده وه چې د اروپا د اقتصادي بحران په وجه د پوځ له پاره پانګه اچونه یو چلینج و. د اندریس فوک غاسموسن نومول د ناټو د عومي منشي په توګه د ډنمارک له پاره د سیاسي او ډیپلوماسی په خاطر پرمختګ و. ولي د ښی لیبرال ګوند له پاره د ځانګړی خوښي سبب وګرځیدی. دغه مقام د پخوانیو دوو مخکښو سیاستوالو چې یو یې، تروکیل کریستنسن [٢١٦] د اقتصادي همکاریو د سازمان [٢١٧] مشر او دوهم یې، پاول هارتلینګ [٢١٨] د ملل متحد د کډوالو د کمیساري مشر و، یو ځانګړی ارمان و. دوي هم د اندریس فوک غاسموسن د ښی لیبرال ګوند غړي وو. پخوا د ښی لیبرال ګوند څخه د بهرنیو چارو وزیر، اوفه یله مین ینسن [٢١٩] او هنس هیکروپ [٢٢٠] د ناټو د دغه لوړ مقام له پاره د غوښتنلیک تر مرحلي پورې رسیدلي وو. خو دا ځل د امریکا د ځانګړي پاملرني له مخې دغه مقام اندریس فوک غاسموسن ته ځکه ورکړل شو چې یوه ګرانټي وی، چې ډنمارک په افغانستان او عراق کې د جګړه ایز هیواد په توګه د نورو سره ګډ شي. (ژ: ډنمارک په جګړو کې د شاملیدو اوږده سابقه نه لري.)

کله چې اندریس فوک غاسموسن د ناټو د عمومي منشي مقام تر لاسه کړي، ډنمارک په افغانستان او عراق کې پنځه میلیارده کرونه په جګړې کې ولګولي، (٣۴) سرتیري یې مړه او (١٠٠) تنه سرتیري یې ټپیان شول. اندریس فوک غاسموسن اسلامي نړۍ او طالبان ته یو سمبول و. د طالبانو په یوه بریښنایي پاڼه کې لیکل شوی وو چې اندریس فوک غاسموسن د محمد ص د رسمونو په خاطر د اسلام لوی دښمن دي نو ځکه د هغه ټاکل د ناټو د عمومي منشي په توګه به جګړه نوره هم توده کړي.

بیا هم امیدونه وپاریدل. د ډیرو میاشتو په جریان کې ډنمارکي پوځیانو تلفات نه درلودل. د ډنمارکي پوځیانو اومه (٧) ډله د ٢٠٠٩ زکال د فبوري په میاشت کې هلمند ته راغلل.

څلورنیمي میاشتي وروسته یاني د جون په میاشت کې ډنمارکي سرتیرو او افسرانو د احتمالي ورې معجزې په باره کې وراندوینه وکړه. دغه ډله پوځیان په هلمند کې لومړنی ډله وه چې تر شپږ میاشتو وروسته ډنمارک ته ورسیدل خو یو تابوت یې هم الوتکي ته پورته نه کړي.

مخکني ډنمارکي ډلې (۶) تنه تلفات ورکړی وو چې یوازې د ٢٠٠٨ زکال په ډسمبر کې (۵) تنه وژل شوی وو. نوي حالت د دي مانا نه درلودل چې طالبان کمزوري شوی دی نو ځکه ارام دي. د ٢٠٠٩ زکال د وړی په پیل کې (٣٠) افغان سرتیري، یو افغان ژباړن او (٢) انګریزي سرتیري په ګرشک کې د (۵) ځانمرګو بریدونو په جریان کې وژل شوی وو. انګریزانو په ټولیزه توګه د فبوري څخه تر جون پوری (٢۵) سرتیري تلفات ورکړی وو. د مني موسم د افغانستان په (٧) کلنی جګړه کې بدترین موسم و. د ملل متحد د شمیرې له مخې د بریدونو تعداد چې د ناټو او افغان پر پوځونو شوی وو، د تیر کال تر خرابي میاشتي زیات وو. د مي په میاشت کې (٧٠٠) بریدونه راجستر شوی وو چې شمیره نور هم د زیاتیدو په حال کې وه. د ډنمارک پوځیان د خپل ډنمارکي طالع په خاطر ژغورل شوی وو چې وروسته دغه اصطلاح په هلمند کې د نورو بهرنیو سرتیرو کې تر مینځ ډیره یادیدل. د ډنمارکي اوم ګروپ دنده د پخوانیو دوو ګروپونو په ډول وه. تر ټولو مهمه دنده یې په ګرشک کې د امنیت ټینګول وه. ډنمارکي او انګریزي سرتیرو د ګرشک په سهیل کې د ارماډیلو، سنډ فورډ او کین د پوځي کمپونو سره نژدې موقعیت اختیار کړی وو چې په ځانګړی توګه امنیتي حالت دلته جوړ شي تر څو طالبان ونه کولای شي د ګرشک په ښار کې نفوذ وکړي. خو بیا هم ډنمارکیانو ته نژدې د طالبانو بریدونه تر سره کیدله. د ٢٠٠٩ زکال د جون پر (١٢) نیټه یوه ډله ډنمارکي

ژورنالیستان د پرایس کمپ د لیدلو له پاره راغلي وو. دوي یو لوي ږغ واوریدي، وروسته یې ولیدل چې پر عمومي سړک د اور لمبي پورته کیږي. د اور لمبي د شپې په تیاره کې زیاتیدلي. یو افسر په انګریزي ژبه په لنډه توګه وویل چې ځانمرګي برید و. نوموړی افسر علاوه کړه: موږ تر اوس پورې نه پوهیږو چې ځانمرګي برید څومره خطرناکه دي، خو کیدلای شي چې زیاتو نفرو ته اړتیا وي. نو ځکه زه ستاسو څخه غوښتنه لرم، ټول هغه کسان چې بله دنده و نه لري، باید په بیړه روغتون ته ولاړ شي. پلاستیکي دستکښي په لاسو واغوندي او امر ته انتظار وباسي. یو بل هیبتناکه ږغ واوریدل شوو. ژر اوازه خپره شوه چې د تیلو یو ټانک اور اخیستي او اور ژر د تیلو نورو ټانکونو ته سرایت کړي دي نو ځکه یو په بل پسی انفلاق کوي. د تیلو کاروان د ناټو د ځواکونو له پاره وو چې د ملا داود د امنیتي کسانو څخه یې په شپه کې د امنیت غوښتنه کړی وه چې د لوي لارې پر سره یې امنیتي پوستې درلودي. د دوي امنیتي پوستې د کمپ پرایس څخه تر دوه کیلومتره لږواټن کې پرتې وي. سرتیري او ژورنالیستان پوځي روغتون ته ولاړل تر څو د ټپیانو سره مرسته وکړي. پوځي امبولانسونه، واړه پوځي روغتون ته چې د کانتینرانو څخه جوړ و، څنګ ته ودریدل. ټپي افغانان د نرسانو په واسطه سره بیل شول. سخت

[٢١٦] - Thorkil Kristensen

[٢١٧] - OECD

[٢١٨] - Poul Hartling

[٢١٩] - Uffe Ellemann Jensen

[٢٢٠] - Hans Hækkerup

ټيپيان ژر روغتون ته ورورل شول تر څو د سختو دردو د لږولو له پاره مورفين د خولې د لارې ورکړي. د اور لمبې اسمان ته پورته کيدلې. لومړنی چورلکه د باستون د کمپ څخه چې لږ واټن يې درلودي، هوا ته پورته شوه. هغه کسان چې ډير سوځول شوی وو، باستون کمپ ته انتقال شول. د شپې پر (۲۲) بجو نرسانو د روغتون مځکه پريولل، څلور افغانان شهيدان شول او تر لسو زيات افغانان ټپيان وو. يوه ډنمارکي ډاکټر ژورناليستانو ته وويل چې په روانه مياشت کې دا څلورم ځل دي چې دا ډول پيښې رامينځته کيږي. دوې ورځې وروسته ډګروال ينس اوله روس يونسن د دوو ناوړه حالتو سره مخامخ شول. ايا بايد نوموړي په ګرشک کې د امنيتي ګروپ غونډه وځنډوي؟ د مختلفو سرچينو څخه معلومات ورته رسيدلی وو چې په ګرشک کې به يو يا څو ځانمرګی بريدونه تر سره شي. طالبانو د وړي (دوبې) د بريدونو له پاره د ګرشک ښار د خپلو مهمو موخو مرکز ګڼلی و. د څارګرو ادارو د افسرانو د معلوماتو له مخې طالبانو پلان جوړ کړی و چې پر امنيتي غونډې ځانمرګی بريد تر سره کړي. د غونډې وخت د افغان پوليسو او پوځيانو له لوري د روسانو په زړه وداني کې چې د کنترول مرکز و، پر (۱۵) بجې ټاکل شوی و. په غونډه کې د ډګروال ينس اوله روس يونسن څخه علاوه څو نورو ډنمارکي افسرانو، ډنمارکي ژورناليستانو، د ښار د پوليسو مشر، ښاروال او ولسوال ګډون کولو. د کنترول مرکز د طالبانو د بريد له پاره ډير ستونزمن و. نوموړي د پهردارانو شمير زيات کړي. خو د افغانستان د نورو برخو څخه پيژندل شوی ميتود دا و چې د محلي امنيتي چارواکو څخه مرسته وغوښتل شي. ولې د جامو اغوستل هغه ګټوره چاره وه چې د طالبانو بريدګر د ناټو پوځيانو او د دولت استازو ته نژدې راتلل. بيا هم د ډګروال ينس اوله روس يونسن پريکړه ځانګړی نه وه. که ډګروال غونډه ځنډولې وای، د ډنمارکيانو کمزوري يې ښودل او څرګنديدل چې طالبانو د ډنمارکيانو د غونډې پر پلان جوړونه اغيزه لري. دا کړنې محلي چارواکو او امنيتي ځواکونو ته ور په ګوته کول چې د ډنمارکيانو د پوځيانو پر غښتلتوب بې باوره شي. په همدې ډول دا اوازې په ښار کې خپريدلې چې کيدلای شوای د ډنمارکيانو د کمزوري څرګندې نښانې شي او پر ډنمارکيانو يې هم د روحي لحاظه ناوړه اغيزه کوله. مسخره دا وه چې د څو ځانمرګو بريدونو تهديد پر مختلفو نقطو چې يوه نقطه يې د غونډې ځای و، اوازې وې. په ګرشک کې امنيتي ځواکونه د افغانستان د مختلفو سيمو څخه وو. طالبانو ډير لږ چانس درلودي چې د ايساف پر ډيرو او قوي سرتيرو مخامخ بريد تر سره کړي. نو ځکه يې په لوړه کچه د سړک پر غاړو مينونه ښخول او يا يې هم ځانمرګي بريدونه تر سره کول. ډګروال ينس اوله روس يونسن غونډه وځنډول. د ځانې تلفاتو خطر دومره زيات ښکاريدي نو بهتره وه چې د تهديد په مقابل کې انعطاف وښودل شي. پر (۱۷:۳۰) بجې د بازار څخه د يوه انفلاق رږغ واوريدل شو. ډګروال ينس اوله روس يونسن ارزونه دقيقه وه چې تهديد يې جدی ونيوي. دوو افغان پوليس پر يو موټرسايکل شکمن شوی و او غوښتل يې چې کنترول يې کړي. د موټرسايکل خاوند ځان ارام ونيوي. کله چې پوليس ورنژدې کيږي، هغه ځان ته انفجار ورکوي. ټانکی يې د تيلو څخه ډکه وه. د پرايس کمپ روغتون بيا تياري ونيوي چې د ټپيانو اخيستلو له پاره تيار وي. د انتظار په وخت کې يو انفجار پرايس کمپ ته نژدې واوريدل شوو. د کمپ څخه د يو کيلومتر په واټن د بغرا د کانال پر څنډه د سکرو په ډول تور دودونه پورته شول. يو سپين تويوټا پايکپ موټر په لوړ سرعت د ريګو په مينځ کې د کمپ د جنوب ختيزې دروازې په لور په حرکت کې و. د موټر د چټک سرعت څخه ډيري دوړې پورته کيدلې. د دروازې پهره دارانو موټر ته د دريدلو اشاره ورکړه خو موټر لا هم په چټکتيا پر مخ راروان و. سرتيري ورته ځنګون کيږ شول او په دی ګمان چې ځانمرګی بريدکوونکي به وي، نو يې غوښتل ډزې وربانډې وکړي. په وروستی شيبه کې موټر ودريدی او يو نفر يې پر کټ د موټر څخه راکښته کړي. افغانانو ته اجازه ورنه کړه شوه چې د کمپ دننه ته راشي، هلته امبولانس منتظر ولاړ و. پر کټ بانډې يو تور رنګه سړي چې سوځول شوی و، پروت و او په پښتو ژبه يې څه وويل چې موږ وربانډې پوه نه شوو. د نوموړي د ژوندې پاته کيدلو چانس ډير لږ و خو د باسټون د کمپ څخه الوتکه په همدغه شيبه راورسيدله. دوه حالته ممکن وو: کيدلای شوای نوموړي د سړک د غاړې د ماين د چاودنې له امله ټپي شوی و او يا هم کيدلای شوای چې خپله يې د سړک پر غاړه ماين ښخولو او انفجار يې وربانډې کړي وي. دا ډول ټپيان د (ځان د ميلمنو) په نوم ياديدل. په ندرت پيښيدل چې د بم ښخونکي چې دغه خطرناکه په کور کې جوړ شوي بمب په ښخولو کې له مينځ ولاړ شي. دغه خطر بزګرانو د څو ډالرو په مقابل کې اخيستي. د ټپي د ژوندې پاته کيدلو څخه خبرنه شولو خو د باسټون په کمپ کې هميشه پهره وربانډې کيدل ځکه څارګرو ادارو ته څرګنده نه وه چې ايا همدا ټپي خپله د بم ښخونکي وه که يا؟ د ډنمارکيانو اومې ډلې سرتيرو د انګريزانو سره يو ځای د سړک د غاړې د ماينونو په تړاو هڅې پيل کړي. پايله يې ښه وه. ډنمارکي سرتيرو د سړک پر غاړه ډير ماينونه وموندل او انفجار يې ورکړي. ستونزه دا وه چې طالبانو نور بمونه او حتي په موډرنه توګه ماينونه جوړول. دا ستونزه د ځغاستې سيالي ته ورته وه او ژر ډنمارکيان په سيالي کې پاتې راغلل.

څلور پوځي موټران د بغرا دکانال او هلمند سيند د پلونو څخه د ۲۰۰۹ زکال د جون پر (۱۷) نيټه تيريدل. د ډنمارکي پوځي ډلې مخکښانو سرتيرو غوښتل چې د بارکزو په واړه کمپ کې د خپلو ملګرو ځای ونيسي (ياني د پوستو بدلون وو). په لومړی موټر کې اندريس سيوګورد برو هوس [۲۲۱] ناست و. سره د دې چې نوموړی (۲۶) کلن و خو په نورو کې مشرو، په موټر کې د درو ناستو سرتيرو څخه نوموړی ډير ارام سړی و. نوموړي مخکې په عراق کې و او په خپله پوهه او مهارت بانډې د سرتيرو په مينځ کې ارام چاپيريال رامينځته کړی وو. نوموړي هيڅوخت نه په قهر کيدي او هميشه د خوښې د مزاج

[۲۲۱] - Andreas Søgaard Brohus

خاوند و. افغانستان ته تر راتګ مخکې نوموړي واده وکړي. د نوموړي (دوه ګونی) ورور هم په افغانستان کې د سرتیري دنده تر سره کړی وه. په وروستی میاشت کې د نوموړی نوبت راورسیدي چې په هلمند کې د سرتیري دنده تجربه کړي. په موټرکې (۲۳) کلن مارتین ابیلدګورد [٢٢٢] هم ناست و. نوموړي په پوځ کې لوی شوی و. پخواني لړ شرمندوک هلک چې په انټرنټ کې د زرګونو ځوانانو سره په نړی کې بازي کول، د قوي بازوګانو خاوند چې پر اوږو باندې خالونه او شکلونه هم رسم کړی وو. نوموړی د روحي لحاظه ډیر قوي و چې د نوموړی امر د هغه په ځان کې د مشرتوب طبعي استعداد لیدي. نوموړي څرګنده نظرنه درلودی او ملګرتوب ورته ډیر ارزښت درلودي خو هر وخت د خپلو ملګرو شاه ته دریدي. په موټر کې دریم سرتیري تر ټولو کشر و. هغه میدس لیرش غاسموسن [٢٢٣] و چې (۲۱) کاله یې عمر یي درلودي. ملګرو ورته وړوکی لیرش ویل ځکه د هغه جګوالي یوازې (۱۷۰) سانتي متره وو. نوموړي ډیر چابک و او د اوږده واټن ځغاستو په سیالیو کې د ماسټر لقب درلاسه کړی و. نوموړي مخکې هم افغانستان ته راغلي و او د یو بل ملګري په مرسته یي یو سرتیري د سوځول سوی زري پوښ څخه په داسې حال کې چې ور په کښي بند و او زري پوښ په راکټ ویشتل شوی و، را ایستلی و او نجات یي ورکړی و. نوموړی ته د مدال ورکولو وړاندیز شوی و خو هغه یي د اخیستلو څخه په مننه ډه ډه کړی وه. مګر یو کال وروسته نوموړی د لومړی ځل له پاره د یوې موټری زري وسیلې د چلولو ویاړ ور په برخه شو. د درو مخکښانو سرتیرو لړ زري بنز موټر په چټکتیا د سیند د لمنې څخه تیر شو. ښۍ لورې ته چې لړ مخته ولاړ شي، د تیلو وروستی ټانک شته، مخکې له دي چې قیر سړک د کندهار پر لورې په دښتو کې ورک کیږي. دوي هیڅوخت د ټانک څخه تیر نه شول. پر (۱۰:۴۵) د نورو سرتیرو د کاروان مخ ته یو لوي انفجار وشوو. د اوسپنې ټوټې، شګې، ډبرې او ریګ د باران په ډول پر نورو موټرانو را واوریدل. کله چې دوړي او خاورې لړ شوی، دوي وکولای شوای چې د نورو موټرانو د اوسپنې قات شوی ټوټې ووینې. دري سرتیري د بیهوشي (احتمالاً مرګوني) په حالت په یوه ژوره کنده کې پراته وو. مخکې له دی چې سرتیري خپلو ملګرو ته منډه ورواخلي باید مطمینه شوی وای چې د سړک د غاړې نور ماینونه نه شته او طالبان د سرایونو تر شاه د لاري په اوږدو کې په کمین کې پټ ناست نه دي. څو دقیقي وروسته دوې امریکایي چورلکې را ورسیدلي مګر په یوه چورلکه کې ناست ډاکټر هیڅ کولای نه شواي. دری واړه د مخکښانو سرتیري د انفجار په واسطه چې (۱۵۰) کیلوګرامه انفلاقي مواد یي درلودل، ځای پر ځای وژل شوی وو. یوه اونۍ وروسته د دفاع وزیر، سیون ګیده د روسکیلده [٢٢٤] (د ډنمارک د یو ښار نوم دي) په هوایي ډګر کې انتظار ایستي. نوموړی پوځي الوتکه کې ته ورغلي چې درې تابوتونه پراته وو. دا دري سرتیري، میدس لیرش غاسموسن، اندریس سیوګورد بروهوس او مارتین ابیلدګورد وو. وروسته پوځي مراسم پر ځای شول.

په پرنسیپ کې د هلمند قیر سړک باید تر فرعي ریګي لارې مطمین وای. طالبانو پر قیر لار باندې ماینونه ښخولای نه شوای. خو قیر شوی عمومي سړک چې (لومړی سړک په نوم یادیږي) د ټول ولایت په مینځ کې تیر شوی دي، ډیر زیات کوچني پلچکونه لري چې په ژمي کې د اوبو د جریان او د سړک د ورانولو د مخنیوی له پاره جوړ شوی دي. تر دغو وړو پلچکونو لاندې ښه زمینه برابره وه چې ماینونه پټ شي. د انفجاري موادو توان به ډیر قوي شوو ځکه په یو تونل کې چې پورتنۍ برخه یې کانکریټ وي، انفجاري مواد ښخیدل. کله چې دغه سړک د ملکي انجنیرانو لخوا جوړیدي او کانکریټ (یا قیر) وربانديې اچول کیدل، دغه موضوع ته یې سوچ نه وه کړي. د ډنمارکي اومې پوځي ډلې د همیش له پاره دغه پلچکونه تر څارنې لاندې نیولي وو. وروسته طالبانو نوی تاکتیک په کار واچولو، دوي به تر هغو پلچکونو لاندې ماینونه ښخول، کوم چې سرتیرو کنترول ول. د تخنیکي لحاظه ماین د فشار په پایله کې انفجار نه کولو. د بریښنایي ریموټ کنترول په واسطه هم یې انفجار ورکولای نه شوای ځکه ډنمارکیانو داسې بریښنایي وسایل درلودل چې نور بریښنایي امواج یې خنثی کولای شوای. نو د طالبانو یو تن د سړک پر غاړه ځان پټاوه او د بمب سره یې د برق لین مښلوي، تر هغه ټاکلي نفر تر ځای پورې په ریګو کې پټاوه. د پلچکانو کنترول د سرتیرو همیشنی دنده وه. کله چې ډنمارکیانو به پلچکان کنترولول، ټول ترافیک باید په ټپه دریدلی واي. د ځنډ په وخت کې به د لاریو چلونکي او د سرویسانو مسافرین پر سرتیرو سخت په غوصه وو. افغانانو دغه اهسته پروسه د وخت ضایع ګڼل ځکه طالبانو پر دوي باندې ماینونو ته انفجار نه ورکولو. ماینونه یې یوازې پر سرتیرو منفجر کول. هیڅ تشریح نه شته چې ولې د ډنمارکیانو د بخت ګرځیدلو په ورځ پلچکان کنترول شوی نه وو. خو یوه خبره روښانه ده چې د سیمې خلکو ونه غوښتل چې ډنمارکیانو ته د خطر خبرداري ورکړي او دا ممکنه نه ده چې د سیمې خلکو طالبان لیدلې نه وي چې (۱۵۰۰) کیلوګرامه انفلاقي مواد یې تر پولچک لاندې پر عمومي سړک ښخول. د څیرونو په وخت کې ډنمارکیانو (۴۰۰) متره برقي لین وموندي چې د طالب تر پټن ځای پورې غځیدلي و کوم چې د پټن ځای څخه یې ماین ته انفجار ورکړی و. په څو شیبو کې هغه خیال چې د ډنمارکیانو اومه ډله به ټول ژوندي کورونو ته ستانه شي، د خارو شومه شو.

٢٢٢ - Martin Abildgaard

٢٢٣ - Mads Lerch

٢٢٤ - Roskilde

د دفاع وزیر سیون ګیده په هلمند کې و چې دغه انفجار پیښ شو. نوموړي د سرتیرو د دوستانه لیدلو له پاره راغلی و. کله چې د دفاع وزارت د اړوندو چارو پریکړه په پارلمان کې پای ته ورسیدل نو د دفاع وزیر د سوسیالیست ګوند مهم غړي، هولګر نیلسن هم د ځان سره هلمند ته راوست. د انتظار څخه لیري و چې د سوسیالیت ګوند یو غړي د مرمې ضد واسکټ واغوندي او د سرتیرو د اوسپني خولي پر سر کړي. د دفاع وزیر غوښتل چې هولګر نیلسن ته په عمل کې د سرتیرو د ژوند حالت ور وښیي. دا ځکه مهمه وه چې د پریکړو په وخت کې یې د حالاتو اټکل کولای شوای. نوموړي په افغانستان کې د پولیټکن ورځپاڼې ته وویل: « دوي ډیر سره نژدي دي. ډیر ناوړه حالت دي. سرتیري ښه او مناسب خلک دي، ما د سرتیرو سره خبري وکړي او زه د دوي وځنګ ته ودریدلم. دا په سیاست پوري اړه لري.» کله چې د درو وژل شوو سرتیرو د ښخولو مراسم پای ته ورسیدل، سیون ګیده بیرته د پارلمان ودانی ته ولاړي. مخکې له دي څخه چې د دفاع وزارت په تړاو د همږغي وروستی غونډه د اړوند ګوندو سره جوړه شي، د دفاع وزیر د خپل ښی لیبرال ګوند په ګروپي غونډه کې ګډون وکړي او ټینګار یې وکړي چې د نورو اړوندو ګوندو سره د همږغي په غونډه کې باید سوسیالیست ګوند هم برخه واخلي. د دفاع وزیر نور ملګري د وړاندیز سره ډیر علاقمند نه وو. دوي پوښتنه درلوده چې ولي سوسیالیست ګوند ته اجازه ورکول کیږي چې د دفاعي چارو د توافق په خاطر د نورو همږغو ګوندونو په مینځ کې راګډ شي چې دا چاره سوسیالیست ګوند په حکومت کې د ګډون له پاره تیاروي؟ پنځه کاله پخوا د ډنمارک د خلکو ګوند د سوسیال ډموکراټانو، ښی لیبرال، ځان ساتو (کنسرویټیوو) او کیڼ راډیکال ګوندونو په مینځ کې ځای ورکړل شوو. د ۱۹۵۰ زکلونو څخه راوروسته سره د دي چې د پورته څلورو ګوندونو ترمینځ ډیر ایډیالوژیک اختلاف شته، خو بیا هم همږغي شوه چې د پوځ نوي جوړښت او اقتصاد یې ډیره مهمه موضوع شول چې باید د ټولو ګوندونو تر مینځ د اختلافونو سربیره ګډ سیاسي توافق وشي. د سیاسي لحاظه سوسیالیست ګوند ستونزمن نه و. سوسیالیست ګوند کولای شي چې په بحثونو ډیر مخته ولاړ شي تر څو د توافق یوه برخه شي. سوسیالیست ګوند پرته د تغیر څخه باید موافقه وکړي چې د سوسیال ډموکراټانو ګډ کار د حکومت د ګوندونو سره یو واقعیت دي. د دفاع وزارت په بریښنایي ویبپاڼه کې د دفاع وزیر، سیون ګیده لیکلي و، چې د ده موخه د سوسیالیست ګوند شریک کول په مسولیت کې بل څه ده. نوموړی غوښتل چې تر ممکنه کچې پوري په دفاعي چارو کې ډیر ګوندونه توافق ولري اساسي علت یې د سرتیرو او د دوي د کورنیو په خاطر وو. کله چې ډیر سرتیري سختې جګړې ته لیږل کیږي، د دفاع وزارت باید یو سیاسي توپ نه وي چې هر لوری ته وغورځول شي. سیون ګیده د ډنمارک د خلکو پر ګوند هم شکمن و چې دومره به مخته ولاړ شي چې ډنمارکي سرتیري ډیرو نړیوالو کشالو ته ولیږي. د ډنمارک د خلکو ګوند د ډنمارکیانو ځای پر ځای کولو سره په افریقا کې مخالفت درلودي او مخکې هم د ډنمارک ګډون د کوسوو په جګړې کې منفي رایه ورکړی وه. پوښتنه دا وه چې ایا د ډنمارک د خلکو ګوند به ملاتړ وکړی که مخالفین د بنسټپاله اسلام پالو سره اړیکه ولري او یا د ډنمارک د امنیت د دلچسپي موضوع وي؟ سیون ګیده د وروستیو دوو دلچسپیانو په خاطر باور درلودي چې سوسیالیست ګوند چې د نړیوالو اړیکو په تړاو ډیر معلومات او دلچسپي لري، راسره به وي. په حکومت کې د دفاع وزیر څخه د خپلو ملګرو له خوا په کلکه ملاتړ وشوو چې د افغانستان په جګړه کې فعاله ونډه ولري. د صدراعظم، لارس لویکه غاسموسن اساسي ملاتړ د ښی لیبرال ګوند ګروپ په پارلمان کې وهڅاوه د چې د سوسیالیست ګوند ګډون ومني.د دفاع وزارت ته د راتلونکو پنځو کلونو له پاره (۳) میلیارده کرونه اضافه تصویب شوي، سره د دي چې د جنګي الوتکو او زري وسایطو(ټانک او زرهدار) شمیره باید کمه شي. یو مقدار پیسي د اضافي امنیتي سامانونو له پاره په نظر کې ونیول شي. پریکړه وشوه چې د دفاع وزارت اقتصاد په ښه توګه مدیریت شي. د موافقي اساسي جهت دا و چې د ډنمارک پوځ دومره قوي کړي چې وکولای شي په نړیوالو کشالو او جګړو کې د ونډې اخیستلو پوځي توان ولري. د پیسو یوه برخه باید د هغو تیاریو له پاره ولګیږي چې د سړک د غاړي ماینونه خنثي کړای شي. د همدغو ماینونو په واسطه تر توافق یوه اونۍ مخکې دري سرتیري ووژل شول. ډنمارک د لومړي ځل له پاره وکولای شوای چې د ښی، کیڼ او منځنیو ګوندو په توافق سره د دفاع وزارت اقتصاد او پرمختګ په پارلمان کې تصویب کړي.

اوس د سوسیالیست ګوند لوړپوړی غړی، هولګر نیلسن [۲۲۵] وایي: « ما په دفاعي کمسیون کې ګډون درلودي او د تیاري کارونه مو وکړل چې سوسیالیت ګوند د نورو ګوندونو تر څنګ په بحث کې ګډون وکړای شي. زه لږ شکمن وم مګر موږ باید ورسره برخه واخلو، ځکه موږ باید په راتلونکي کې په حکومت کې ګډون وکړو.»

د ۲۰۰۹ زکال د ولسمشریزو ټاکنو څخه دوي میاشتي مخکې ډنمارکي پوځیانو ته د انګریزي پوځ د مشرتابه له لوری یو امر وشو چې ډنمارکي پوځي کنډک یې د خطرناکه حالت کې سره مخامخ کړي. امر شوی و چې ډنمارکي پوځ باید د دوبې ټوله موده د ګرشک جنوبي لوری ته جدي پاملرنه وکړي، دغه امریه د ډنمارکي پوځیانو د جوړ شوي پلان او په ډنمارک کې د غوښتنو سره په نیغه مخالفت درلودي. په اصل کې ډنمارکیانو همیشه د ګرشک سهیل ته پاملرنه کوله چې نوي پلان په بشپړه توګه د پخوا سره په مخالفت کې و. د انګلیستان ملکي او پوځي مشرانو پریکړه وکړه چې په هلمند کې پوځ د جنرال ډیویډ ریچاردس دري کاله پخواني ستراتیژي(مثلثي ستراتیژي) ته را وګرځي. د هغې ستراتیژي له مخی اوس باید د ایساف سرتیري

[۲۲۵] - Holger K. Nielsen

د هلمند ولایت د مرکز، لښکرګاه او تجارتي ښار، ګرشک تر مینځ امنیت ټینګ کړي. دا هغه پلان و چې د ملکي پرمختیايي پروژو مشاورینو يې همیشه غوښتنه کوله. ستونزه دا وه چې یو ځل بیا ستراتیژي بدله شوه. دلیل دا و چې چې څو زره امریکایي سرتیري د ۲۰۰۹ زکال په وړي کې هلمند ته راغلل. دا سرتیري د بارک اوباما د پلان له مخې چې پوځ به غښتلی کوي، لومړی برخه وه چې هلمند ته راورسیدل. امریکایي سرتیري د ګرمسیر ولسوالي د مرکز چې د هلمند په جنوب کې پرته ده، په شاوخوا کې ځای پر ځای شول. د امریکایانو دغه مرستې و کولای شواي چې ډیر انګلیسي پوځیان د ځان ساتنې د حالت څخه خلاص تر څو نورې دندې پر غاړه واخلي. په همدغه خاطر باید انګریزي پوځونه د درو میاشتو په جریان کې د لښکرګاه او ګرشک تر مینځ د (۲۵) کیلومترو په اوږدوالي او (۲ ـ ۳) کیلومترو په عرض سیمه ازاده او امنیت يې باوري کړي. ډنمارکی پوځونه هم باید مرسته وکړي او فقط اړین قوتونه د ګرشک په سهیل کې پریږدي. د ډنمارکي پوځیانو دوو مشرانو، فرانک لسنر [۲۲۶] او اوله روسن یونسن [۲۲۷] باید د پلان په عملي کولو کې خپلو پوځیانو ته لارښوونه کړي واي.
اوله روسن یونسن سوچ وکړی چې: «دا یو لږ عجیبه ده خو په عمومي انځور کې یو مفهوم لري.» هغه سیمه چې د دوو لویو ښارونو په مینځ کې وه د ډنمارکیانو د مسولیت د سیمې (د ګرشک سهیلی برخه چې نفوس يې لږ او د سیند پر غاړه پرته وه) په پرتله يې ډیر ارزښت درلودي.د ډنمارکي پوځ ډګروال لاندې اندیښنې درلودې: « یوازنی شی چې موږ يې ډیر اندیښمن کړی یوو، امکانات او سرچینې دي. ایا قوتونه دومره کافي دي چې د یوې مودې له پاره د دوو لویو ښارونو تر مینځ امنیت ټینګ کړي او د دښمن د نیولو او تعقیب څخه صرفنظر وکړي؟ موږ څو ځله ولیدل چې ایساف کولای شي هره سیمه چې وغواړي، مسولیت يې واخلي. که موږ و نه کولای شوو چې تر شاه يې واوسو، نو هیڅ ګټه نه لري. انګریزانو هم مخکی په عینې سیمه کې د سیند په اوږدو کې جګړه کوله مګر د دوي سرتیري کافي نه وو چې هلته واوسي او د سیمې کنترول په لاس کې واخلي.» د معلوماتو له پاره د طالبانو تر واک لاندې سیمو د ګرشک په جنوب کې یو ګروپ ورواستول شوو.
ډنمارکیانو ځینې سیمې د اوبو د لوي کانال (د بغرا کانال) بل لوری ته تر کنترول لاندې رواستلي او د طالبانو د پټن ځایونو او ډیپو ګانو په تړاو يې معلوماتونه لاسته راوړل. ډنمارکیانو، طالبان مصروف وساتل چې انګریزي پوځیانو د جنوب څخه ښه پرمختګ وکړي. پیاده پوځونه د چورلکو تر ساتنې لاندې وو. د ډنمارکي پوځیانو مشرتابه هیله درلوده چې طالبان خبر نه شي چې د ګرشک په سهیل کې د ډنمارکیانو سرتیري ډیر لږ دي. د ارماډیلو پوځي مرکز د امریکایانو او لوجستیکي پرسونل تر ساتنې لاندې وو، خو د پرایس کمپ د دفتر پرسونل د ډنمارکیانو د اساسي کمپ ساتلو ته موظف شول. په سیمه کې ګزمه کښته ترینې کچې ته ورسیده. د پوځي قانون له مخې چې د دښمن سره په جګړه کې وي، یو سرتیري او یا یو پولیس د (۲۵) تنو اوسیدونکو له پاره کافي دي. د ګرشک د (۵۰۰۰۰) اوسیدونکو او جمع هغه اوسیدونکي چې په شنه زون کې اوسیږي، له پاره د فرانک لیسنر او ینس اوله روسن یونسن په جنګي ډلو کې د (۲۵۰۰ ـ ۳۰۰۰) سرتیري او پولیس اړتیا وه. په ۲۰۰۹ زکال کې دوي یوازې (۷۰۰) ډنمارکي سرتیري او (۲۰۰) افغان پولیس درلودل. همدا ډول یو څو تنه افغان پولیس راغلل چې عمومي سړک وساتي او یو لږ شمیره انګریزي سرتیري وو چې د سیند په ختیزه برخه کې د کین پوځي کمپ ساتي. ډنمارکي جنګي پوځیانو په ښو ورځو کې تقریباً تر نیمایي شمیرې اضافه بلې ډلې چې توصیه شوی وه، درلودل. د سرتیرو د کمبود برسیره د سهیل څخه و جنوب ته د بدلون موضوع هم وه. په حقیقت کې بلې ډلې د سهیل سیمو د بیا کنترول له پاره وخت لګولو، ځکه د ډنمارکیانو وتل د جنوب لوری ته د دي باعث شول چې په سهیل کې مو کنترول د لاسه ورکړی وو. بیا هم ینس اوله روسن یونسن چاته د ملامتې ګوته نه نیول چې دندې بدلیږي او شرایط سختیږي. زموږ د پاملرنې سیمه چې مسولیت يې ډنمارکیانو درلودي، غوښتل مو چې د سهیل لوری ته امنیت پراخه شي، یو شمیر ستونزې را پورته کړي. نوموړی ډګروال وايي چې داسې مانا لري چې موږ د ټرین ټکټ رانیوي خو نه پوهیدلو چې چیرته سفر کوو.

د ایساف ځواکونو د لښکرګاه او ګرشک د سیمو تر مینځ یوازې تاکتیک بدل نه کړي. د ۲۰۰۹ زکال په پسرلي کې د افغانستان د جنوب له پاره ستراتیژي بدله شوه او د ستراتیژي دغه بدلون د ډنمارکیانو د مسولیت د سیمې په تړاو ډیره اغیزه درلوده. په ډیره ارامي سره جنرالانو د ډیرې مهمې ستراتیژیکي (کجکي پروژې) څخه ډډه وکړه. د کجکي د اوبو د بریښنا په واسطه سره د جنوب ډیرې لویې برخې تقریباً (۷۵) کیلومتره د ګرشک څخه بریښنا لاسته راوړله. د ۲۰۰۸ زکال په مني کې لکه پورته چې بیان شول د (۴۰۰۰) امریکایي، انګریزي، ډنمارکي، کاناډایي او استرالیایي سرتیرو په مرسته نوی توربین کجکي ته انتقال شو. دغه انتقال د یوی لوی بریالیتوب په ډول اعلان شو، خو د هغه وخت څخه وروسته هیڅ ونه شول. د طالبانو ځواک وکولای شوای چې د دغې لویې پروژې د جوړولو خنډ شي. داسې څرګنده شوه چې (۹۰۰) ټنه سمنټ او نورو تعمیراتي موادو انتقال د کجکي تر بند پوري ناممکنه دي. د ۲۰۰۹ زکال په فبوري ـ مارچ کې چینایي شرکت د قرار داد د تمدید څخه لاس پر سر شو نو ځکه توربین بیرته ټول او وتړل شوو. دغه ستونزمن خبر د انګریزي ګارډین د ورځپاڼې لخوا د ډسمبر په میاشت کې رسوا شو. عام خلک خبر نه شول چې د ډنمارکي او انګریزي پوځي مشرانو تر مینځ د اړوندې موضوع په تړاو ډیر دقیق او جدي بحثونه شوی وو، او څرګنده شوه چې د کجکي د پروژې څخه هیڅ جوړ نه شوه. د انګلیستان د پوځ لوی درستیز د سرتیرو موقعیت ته د سیند پر غاړه په ژوره توګه بدلون ورکړي. ټول پوځي قوتونه

---

[۲۲۶] - Frank Lissner

[۲۲۷] - Ole Rossen - Jørgensen

باید د لښکرګاه او ګرشک تر مینځ سیمي ته پاملرنه واړوي، په هغه ډول چي د ۲۰۰۹ زکال په دوبي کي وشول. انګریزانو عقیده درلودل چي د ډنمارکیانو د ارماډیلو پوځي مرکز باید وتړل شي. دغه پوځي مرکز د ډنمارکي پوځیانو د بریالیتوب سمبول و، کله چي د ډنمارکیانو ځلورمي ډلي د لویو عملیاتو د پایلو په پای کي د ارماډیلو کمپ جوړ کړي. دغه کمپ یوازي د پوځ په مینځ کي نه بلکي د سیاسیتوالو او هغو خلکو په مینځ کي چي د جګړي سره علاقه درلوده، د ارماډیلو کمپ جوړول د سرتیرو د هڅو او تلاښ سمبول و: سخته جګړه، د ډنمارکیانو بریالیتوب، تلفات او اتلولي. د هغه وخت د ډنمارک لوی درستیز، تیم سلوت ینسن د دغه مفکورې ځخه خوشاله نه وه چي د نړیوالو ځواکونو نوي ستراتیژي د دي مانا ولري چي د ارماډیلو پوځي کمپ د جوړیدو ځخه شپږ میاشتي وروسته وتړل شي. اوس تیم سلوت ینسن د خپل غبرګون په اړوند وایي:«زما په نظر دا به د ناکامي په توګه تعبیر شي. داسي نه چي موږ جګړه بایلول بلکي د شاه تګ په بڼه به تعبیر شي. د کمپ پر شاخوا مرموز حالت جریان درلودي، د جګړي خبري کیدلي. مخالفین به ځه وایي چي پوځي کمپ وتړل شي؟ ایا

بریالیتوب هغه ځه پلاس رانه کړه چي موږ هلته وربسي ولاړو او سرتیرو خپل ژوند ورته قرباني کړي؟» د دفاع وزارت واکمن هیت لندن ته ولیږي چي په بحث کي ګډون وکړي، په ۲۰۰۹ زکال کي بریالی شولو چي د ارماډیلو پوځي کمپ پر ځای پاته شي. انګریزانو د ډنمارکیانو د احساس له مخي دلایلو ته درناوي وښودي. پایله دا شوه چي ډنمارکي پوځي واحد ته د ۲۰۰۹ زکال په دوبي کي دوي دندي وسپارلي شوي. د ارماډیلو کمپ به پر ځای پاته وي خو د ډنمارک ډیر سرتیري د امکان تر سرحده جنوب برخي ته هم ډیره پاملرنه وکړي. موږ غوښتل چي هلته تلل و ازمویوو خو انګریزانو نه غوښتل چي را سره همږغي شي. ټوله پاملرنه باید د ګرشک د سهیل ځخه هغو سیمو ته واړول شي چي د لښکرګاه او ګرشک تر مینځ پرتي دي او ډیري ستونزي لري. موږ په خپلو لږو قوتونو پلان ویتو کولای نه شوای خو موږ په نوي ستراتیژي کي درست شیان لیدل که اغیزه وکړي. موږ دا هم غوښتل چي انګریزان باید د ډنمارکیانو د ملي ګټو دلچسپیاني په نظر کي ونیسي.» د ډنمارک پوځي مشرتابه کولای نه شوای چي د ۲۰۰۹ زکال د جون په میاشت کي د انګریزانو د کجکي د پروژې د عملي کولو مخه ونیسي ځکه دوی یي د عواقبو مسولیت پر غاړه اخیستي وو. انګریزي پوځیانو د ګیبرالټار پوځي مرکز چي د سیند په ختیزه برخه کي د ارماډیلو د کمپ پر مقابل پرت و، پریښودي. دغي چارې انګریزانو ته اسانتیاوي په برخه کولي. هر ځل چي دغه (۱۶۰) انګریزي سرتیري د کمپ ځخه بهر ګزمي ته وتل، ورباندې برید کیدي او سیمه د سړک د غاړې په مینونو فرش وه. په همدغه خاطر انګریزي سرتیرو د ګیبرالټار پوځي مرکز ته یو نوم ورکړی و: دوږخ ته لار. یوازي د ۲۰۰۸ زکال په وړی کي د پراشوټي سرتیرو ځخه تقریباً دریمه برخه د جګړي کولو ځخه ولویدل. پنځه سرتیري ووژل شول، (۱۴) سرتیري سخت او (۳۰) نور لږ ټپیان شول. په لومړی پړاو کي انګریزانو د کمپ تلفات وزغمل ځکه د پوځي کمپ ځخه وتل د پروپاګند له پاره ښه زمینه برابروله. په همزمانه توګه د جبهي لومړی لیکه د وروسته برید له پاره د کجکي پر لور تیاره شوه. کله چي د کجکي پروژه پاته شوه نو انګریزانو هم پوځي مرکز پریښودي. په همدی توګه د ارماډیلو د کمپ ساتلو دوهم لوي دلیل هم له مینځه ولاړي ځکه طالبانو کولای شوای د سیند د ختیز پلو له لوری پرته د ممانعت ځخه پرمختګ وکړي. د ګیبرالټار د کمپ تړل په دی مانا شول چي دفاعي لیکه نوره فعاله نه وه. د ډنمارکیانو د ارزښت نه ډکه موخه په افغانستان کي د ارماډیلو په کمپ کي له مینځه ولاړه مګر د دغه ارزښت ځخه ډیر لږ افسران خبر و. ډنمارکي سرتیري بیا هم د دغه کمپ د ارزښتناکه موخي له پاره وژل کیدل، ټپیان او معیوب کیدل. د اومي ډلي سرتیرو هم ځانګړې دنده درلوده، مخکي له دي ځخه چي د دوي په عوض نوي سرتیري راشي. د ۲۰۰۹ زکال د اګست پر (۲۰) نیټه په افغانستان کي ولسمشریزي ټاکني تر سره کیدلي. د بارک او باما د نوي ستراتیژي له پاره ولسمشریزي ټاکنو ډیر ارزښت درلودي. ډموکراتیک او بریالي ټاکني د پلان لومړي مرحله وه چي د افغانستان د امنیت مسولیت خپله افغانانو ته پریږدي. دغه بریالي ټاکنو داسي یو ولسمشر ته اړتیا درلودل چي د خلکو بشپړ باور ورسره وي. د ګرشک په شاوخوا کي د ډنمارکیانو دنده وه چي د ټاکنو شرایط یي برابر کړی وای. د ډنمارکیانو د پوځي ډلي مشر، ډګروال فرانک لیسنر مخکي هم په افغانستان کي دنده اجرا کړی وه. ډګروال فرانک لیسنر په ۲۰۰۲ زکال د ښکاري او شنا ډلو پوځیانو مشر و، کوم چي د امریکایانو سره یي د اوساما بن لادن د نیولو له پاره په افغانستان کي ګډون کړی و. د ۲۰۰۹ زکال په وړی کي ښکاري پوځیانو یو ځل بیا د ډګروال فرانک لیسنر لاره تعقیب کړه تر څو د ایساف د ځواکونو سره یو ځای د ولسمشریزو ټاکنو امنیت تأمین کړي. د پوځ د لوړو چارواکو یوې سرچیني وویل چي دوه موډله شته: یا باید د مخکښانو سرتیري د مشترکو ځانګړو قواو یوه برخه د افغانستان په جنوب کي وي چي په قندهار کي د زون تر قوماندې لاندې وي. او یا د مخکښانو سرتیري د ډنمارکي جنګي ګروپ سره یو ځای وي. د مخکښیانو پوځي ګروپ ترجیح ورکړه چي د ایساف د ځانګړو قواو یوه برخه شي. په داسي عملیاتو کي به د مخکښانو پوځي قابلیت وازمویل شي او دوي به وکولای شي د نورو هیوادونو د ځانګړو سرتیرو سره د ۲۰۰۲ زکال په ځیر ګډ کار وکړي. په همدي توګه به د مخکښانو ګروپ سرتیري د چورلکو ځخه د ګټي اخیستني امکانات پیدا کړي چي په بیړه د موخي ځای د ځیرلو له پاره ورسول شي. کله چي ډنمارکي سرتیري به ټپیان شول، چورلکه یي په واک کي نه درلوده. مګر د ایساف ځواکونو د ډنمارکیانو ځانګړي سرتیرو ته اړتیا نه درلوده، ځکه ایساف د ځانګړو سرتیرو کمښت نه درلودي. په همدغه خاطر د ډنمارک مخکښانو سرتیرو ته په ځرګنده توګه منفي ځواب ورکړل شوو. که چیري د مخکښانو سرتیري افغانستان ته ولیږل شي، یوازني امکان یي دا و چي د ډنمارکي کنډک سره یوځای شي او د چورلکو د درلودلو ځخه صرفنظر وکړي. په همدي خاطر د مخکښانو ګروپ د ډنمارکیانو د جنګي ډلي سره د ډنمارکیانو په سیمه کي

يو ځاى شول. مګر د حالاتو په کتو سره دا ډير ښه امکان و. يو لوړ پوړي پوځي چي نه غوښتل نوم يې واخيستل شي، وويل: دا په طبعي توګه د دوي د مسلکي لحاظه ښه امکانات دي. کله چي د ۲۰۰۹ زکال د جون پر دوهمه نيټه په محرم ډول د پارلمان د بهرنيو چارو کمسيون ته اطلاع ورکړل شول چي د مخکښانو پوځي ګروپ د افسرانو او ځارګرو په ګډون چي (۶۰) تنه دي، بايد هلمند ته وليږل شي خو د بهرنيو چارو کمسيون ته يې د ايساف د منفي ځواب په اړوند معلومات ور نه کړي. د بهرنيو چارو د اړيکو کمسيون ته ويل شوى وو چي ډګروال فرانک ليسنر د مخکښانو ګروپ مرسته غوښتي ده. د مخکښانو پوځي ګروپ دنده درلوده چي د ډنمارکيانو د جګړه ايزې ډلې سره په ګډه د ولسمشريزو ټاکنو له پاره امنيتي شرايط برابر او هم د ډنمارکيانو امنيت په لوړه کچه خوندي کړي. د مخکښانو پوځي ډله بايد د سړک د غاړي د مينونو جوړولو د فابريکي د ورانولو دنده واخلي کوم چي ډنمارکيانو د دغي فابريکي موقعيت د ګرشک په شاوخوا کي تثبيت کړى وو. د مخکښانو پوځيانو بله دنده دا وه، هغه (۱۲) تنه چي د طالبانو د مشرانو په توګه پيژندل شوي وو، ونيسي. دا لومړى ځل و چي ډنمارکيانو د ټاکلو اشخاصو د نيولو عمليات تر سره کول. دغه لوړ پوړي طالبانو يا ونيول شي او يا بايد ووژل شي. دا د نيولو او يا وژلو امر و. کله چي په ۲۰۰۶ زکال کي ايساف د مخکښانو د ګروپ څخه د ورته عملياتو غوښتنه وکړه، د ډنمارک د هغه وخت لوى درستيز، جنرال يسپر هيلسيو د ډنمارکيانو ګډون په دغه ډول عملياتو کي رد کړي. خو دري کاله وروسته حالاتو بدلون وکړي. د طالبانو يو مشر چي د ميدګورد [۲۲۸] لقب (د کود نوم) يې ورکړى و، د لست په لومړى سر کي و. خو د مخکښانو پوځيان هيڅوخت د ميدګورد او يا د نورو طالب مشرانو ته نژدي ورنغلل. او دوي د مينونو جوړولو فابريکه هم پيدا نه کړه. مګر د پوځ د عملياتو د قوماندې د مرکز د مشر، ډګروال هينريک سومر په قول د ځانګړو سرتيرو عمليات د ۲۰۰۹ زکال د جون او جولاى په مياشتو کي يو برياليتوب و. موږ په هغو سيمو کي چي د مخکښانو پوځيان ځاى پر ځاى وو، څرګنده مثبتي اغيزې وليدي. دښمنان زموږ د عملياتو د نوى ميتود څخه په حيرت کي شول. ډګروال هينريک اضافه کوى: موږ به په هغو ځايونو کي وو، چي په عادي توګه نه ورتلوو، موږ په کوچنيو ګروپونو د عادي حالت څخه په بدلون بيرنى خوځښت کولو.

د ټاکنو د غونډې له پاره ټوله شپه تياري نيول کيدي. د اګست پر (۱۷) نيټه د لمر ختو سره سم هر څه تيار شول. چوکياني په منظمو قطارونو کښيښول شوي او لويه خيمه ودرول شوه، چي دهلمند خلک چي په غونډه کي ګډون کوي د تودوخي څخه وساتل شي. په لښکرګاه کي د کرزي سټېډيوم د نويو ميلمونو د راتلو له پاره تيار و. سيلانيانو په بيړه ځانونه راورسول. د ټولو مسايلو سره سره دا يوه عادي پيښه نه وه، چي ولسمشر کرزي چي بيا هم ټاکنو ته ولاړ دي، ښه د افغانستان په جنوب کي ږدي. کله چي نوموړي مخکي جنوب ته راغلي و، په معجزه اميزه توګه د يو بريد څخه ژوندى وتلى و خو د ښنتنو د ولايت ياني هلمنديانو وتونو د نوموړى له پاره ډير اغيزناکه وه، نو ځکه هلمند ته يې د راتلو زړه ښه کړي. د تيرو ټاکنو په پايله کي د ښاغلي کرزي د ټولو وټونو شپږ سلنه د هلمند څخه وه. ژورناليست، محمد الياس دايي هم په سټېډيوم کي حاضر و، که څه هم څو اونى پر ښار راکټونه فير شوى وو، خو بيا هم د خلکو ګڼه ګونه زياته وه. د يکشنبي د سهار (۹) بجو ته ټول خلک د خيمي تر سيوري لاندې سره راټول شول خو ښاغلي کرزي د ورځي تر (۱۰:۳۰) بجو پوري را ښکاره نه شو. په دغه وخت کي د خلکو په مينځ کي نا ارامي څرګنده شوه او ځينو هڅه وکړه چي د خيمي د وتلو دروازې ته ځانونه ورسوي. د ښاغلي کرزي د ټاکنو د کمپاين مسول، شير محمد اخندزاده هم نا ارامه شو. ولسمشر څه شو؟ په لومړى ليکه کي مشر ورور چي د ټاکنو مهم کليدي شخص و، ناست و. شيرمحمد اخندزاده د طالبانو تر سقوط وروسته د هلمند د والي په توګه وټاکل شو. د افغانانو په ياد کي پاته وه چي شيرمحمد اخندزاده په څه ډول د خپل قوم په مټ په هلمند کي د ۲۰۰۵ زکال تر ډسمبر پورې پرتليزه ارامي راوستلي وه، خو هغه وخت چي د ولايت په زيرخانو کي انګريزانو يو ډير مقدار ترياک وموندل، نو يې د شيرمحمد اخندزاده د ګوښه کولو پر موضوع ټينګار وکړي. شيرمحمد اخندزاده هيڅوخت په دغه موضوع باندې محکمه نه شو. د ولايت په بدل کي نوموړي د ښاغلي کرزي لخوا د يو بل مهم مقام په ورکولو ونازول شو. نو ځکه اوس د شيرمحمد اخندزاده کورنى بايد د حامدکرزي د ښکيني مجرا ورکړي واى چي هغه يو ځل بيا ولسمشر شي. ناڅاپه کشر ورور، امير ميکروفون واخيستي او اعلان يې کړل چي کرزي راتلاى نه شي. ترغونډې يوه ورځ مخکي د راکټونو فيرونه او ځانمرګي بريد ښاغلي کرزي هلمند ته د راتلو څخه پښيمانه کړى و. خلک د وتلو لارې په خوځښت شول. د خلکو نارضايتي د شيرمحمد اخندزاده له پاره د زغم وړ نه وه. نو ځکه کشر ورور، امير بيا په بيړه ولاړ شوو او خپل ګرځنده غږليږد (موبايل ټليفون) يې ميکرافون ته ونيوي چي خلک د ولسشمر حامد کرزي ږغ واوري: «د هلمند خويندو او وړونو، اسلام عليکم! زه ستاسو په دردونو خبر يم، ماته وټونه واچوي تر څو زه وکولاى شم د ولسمشر په توګه يو ځل بيا خپل کار ته دوام ورکړم. بيا زه پوهيږم چي موږ او تاسو په ګډه څنګه د روانو ستونزو څخه ووزو. د ولسمشر لنډې خبرې پاى ته ورسيدلي.» وروسته شيرمحمد اخندزاده ولاړ شو او په وينا يې پيل وکړي:«ولسشمر د ځينو امنيتي ستونزو په خاطر هلمند ته خپل سفر وځنډاوه خو زه به ولسمشر ته وټونه ټول کړم. موږ د دومداره جګړې څخه ستړى يوو. موږ زده کړې، امنيت او بيا رغونه غواړو. موږ د ولسمشر څخه غواړو چي موږ دهلمند خلکو ته لوړې چوکى راکړي، لکه چي ولسمشر همدغه کار د نورو ولايتونو سره کړى دي.» خلکو شيرمحمد اخندزاده ته غوږ نه نيوي او د خيمي څخه يې د وتلو پر لار دوام

---

۲۲۸ - Midgård

ورکولو. کله چې یوه اونۍ مخکې ژورنالیست محمد الیاس دایي د ټاکنو د کمسیون د مشر عبدالهادي څخه د ټاکنو د امنیت په تړاو پوښتنه کړې وه، هغه خوشبین و. په ټولیزه توګه (۲۲۲) مرکزونه د وټونو ورکولو له پاره تیار شوی وو. مګر د یکشنبې په ورځ چې د ښاغلي کرزي د راتللو ورځ وه، د وټونو ورکولو مرکزونه را لږ شول. هیله څرګنده شوه چې د ټاکنو په ورځ کیدای شي (۱۰۷) مرکزونه پرانیستي وي. خو دا هیڅوخت څرګنده نه وه چې په اطمینان به د ټاکنو په ورځ د هلمند په ولایت کې ټول څو مرکزونه پرانیستل شي. امنیتي حالت په کتلو سره د ټاکنو ورځ په ګرشک کې د انتظار څخه زیات ښه وه. داسې وعده کښیښودل شول چې د ډنمارکیانو اتمه پوځې ډله د رایه ورکولو د مرکز څخه په یو واټن کې موقعیت ولري. افغان پولیس او پوځیان د رایه ورکولو د مرکزونو سره د امنیت له پاره چې خلک یې ووینې، ولاړ وي. ځکه ټاکنې د افغانانو وي نه دا چې د ناټو وي. ډنمارکیانو د هغه راکټانو د موقعیت د ویشتلو سره کوم چې د ګرشک د ښار څخه بهر نصب شوی وو، ډیره ستونزه نه درلوده هغه چې د طالبانو لخوا د چینایي غیري دقیق راکټ ویشتلو د دستګاه په واسطه فیر کیدل. نور د ټاکنو په ورځ امنیت ښه وه مګر رایه ورکونکې په ډلو ډلو د رایو مرکزونو ته نه ورتلل. ډیرو مرکزونو ته هیڅوک د رایو ورکولو د پاره رانغلل. په رسمي توګه د رایو ورکونکو شمیره لوړه وښودل شول. خو شمیرې ربښتیا نه وي. په ګرشک کې ډنمارکیانو ته د ټاکنو د مسولینو لخوا معلومات ورکړل شوو چې (۲۴۱۰۲) تنو وټونه اچولي دي. مګر د وټونو د اچولو حق (۴۳۸۰۰) تنو درلودي خو د بهرنیانو د ټاکنو څارونکو وویل چې دا شمیرې درستې نه دي ځکه د دوي په نظر په اعظمي توګه د ټول هلمند څخه (۲۰) سلنه خلکو ګډون کړې وو. کله چې یو ژورنالیست دوي میاشتې وروسته د ګرشک د ولسوال څخه د رایه اچونکو د سلنې په تړاو وپوښتل، نوموړی رایه اچونکې (۸۰) سلنه وښودل. په وټونو ورکولو کې هم پراخې درغلې شوی وې. د وټونو ځینې بکسونه د رایو ورکولو د مرکزونو تر تړلو پورې تش وو، خو د تشو بکسونو وټونه په دا بله ورځ وشمیرل شول چې د شپې لخوا د وټونو ډک شوی وو. د ډنمارکیانو د اتمې پوځې ډلې مرستیال قوماندان، مایکل اینګهولم [229] په ګرشک کې د ټاکنو د ورځې د امنیت نیولو د پلان مسول و: «نوموړی وایي که د بیلګې په توګه د یخچال د رایو اچولو مرکز ته نظر واچوو، زموږ د معلوماتو له مخې هیڅوک د رایې اچونې له پاره حاضر شوی نه دي، خو چې ما ولیدل د دغه مرکز وټونه هم وشمیرل شول. ما فکر وکړې: د خدای له پاره، دا ډیره جالبه ده! څوک په څه اخته و، او څه یې کول؟ موږ هیڅ خبر نه وو.» په پیل کې نړیوال د ټاکنو د ورځې څخه راضي وو. په پیل کې بریدونه او وژنې وې، دا چې د اګست په میاشت (۱۱۰۰) غټو وسلوالو بریدونو او جګړو ریکارډ مات کړې وو نو ویلای شوو چې په پرتلیزه توګه د ټاکنو په ورځ کې ارامي وه. څو ورځې وروسته د پراخو درغلیو اوازې خپرې شوې. د وټونو ورکولو کارتونه پلورل شوی وو، رایه ورکوونکې تهدید او ډارول شوی وو او ښځینه رایه ورکوونکې پریښودل شوی نه وي. برسیره پر دې وروسته د وټونو تش بکسونه تر خولې پورې د وټونو څخه ډک شوی وو. په هلمند کې بیا هم ارزونه دا وه چې په اعظمي ډول (۲۰) سلنه خلکو وټونه اچولي دي. دا هیڅوخت څرګنده نه شوه چې ملاشیرمحد اخندزاده په څومره کچه په وټونو کې درغلې کړی وه او بکسونه یې ډک کړی وو، ځکه تر ټاکنو مخکې په هغه غونډه کې چې پورته یې یادونه وشوه، نوموړې وعده کړې وه چې وټونه به راټولوي. په پیل کې داسې څرګنده شوه چې حامدکرزي تر (۵۰) سلنه زیات وټونه خپل کړی دي یاني په لومړی رونډ کې ولسمشر دی. خو د نوموړی مخالف کاندید، عبدالله عبدالله په دوهم ځای کې قرار درلودي. خو (۳۰۰۰) شکایتونه چې د ټاکنو پر درغلیو یې دلالت کولو د ټاکنو د شکایاتو کمسیون ته راورسیدل. عبدالله عبدالله وغوښتل چې د ولسمشریزو ټاکنو دوهم رونډ هم باید تر سره شي. نوموړی نیم پښتون او نیم تاجک دي چې شمالي ټلوالي ملاتړ ورسره وو. (ژ: عبدالله په ختیه تاجک دي خو یوازې مور یې د عبدالله تر زیږیدنې وروسته د کندهار د یو پښتون سره د دوهم ځل له پاره واده کړې دي.) که عبدالله عبدالله د ټاکنو پایلې ګټلې وای نو په څرګنده توګه دا خطر و چې د افغانستان غټ ترینه قوم پښتانه به په ټاکنو کې غلاوي او درغلې د نوموړی د ګټلو علت ګڼلی وای. د افغانستان مشر هر وخت یو پښتون و. د ټاکنو د درغلیو تر شاه د توکمي بم د انفجار خطر زیات و چې مخکې یې هم افغانستان په خپل منځي خونړي جګړو کې ښکیل کړی وو. دغه خطر د امریکا ځانګړي استازي، ریچارد هولبروک [230] چې د افغانستان او پاکستان له پاره را لیږل شوی و، په ژوره توګه وربانديډ پوهیدي. نوموړی د ټاکنو د ورځې څخه یوه ورځ وروسته په ارګ کې د ولسمشر حامدکرزي سره غرمنۍ وخوړې. څو ورځې وروسته یوې سرچینې بی بی سی ته وویل چې ریچارد هولبروک د غرمنې په وخت کې څو ځله حامد کرزي ته وویل چې د ټاکنو دوهم رونډ هم باید تر سره شي. پرته له دې څخه به د افغانستان نوی ولسمشر په خلکو کې دومره اعتبار چې غوښتنه یې کیږي او جګړه ودرولای شي، تر لاسه نه کړي. حامدکرزي د امریکایانو دغه غوښتنه رد کړه نو ریچارد هولبروک ډیر په غوصه شو. د افغانستان ډموکراتیکې ټاکنې د اوباما د ملاتړ له پاره ډیر ارزښت درلودي چې نوموړي وکولای شي په نژدې راتلونکې کې نور زیات سرتیري افغانستان ته ولیږي. ډموکراتیکې او د باور وړ ټاکنې د لویدیزو د مرستو د دوام له پاره یو اساسي بنسټ وو خو ټاکنو د ناټو او امریکا له پاره شرایط سخت کړل. نور هم حالات دومره پیچلي شول چې په ملکي برخه کې د بیا رغونې چارې هم د ستونزو سره مخامخ شوې. د کوپنهاګن په اسیایي میدان کې د بهرنیو چارو د وزارت په ودانۍ کې ټوله هغه اسنادو ته چې په هلمند کې د ډنمارکي پوځیانو د عملیاتو او مرستو په باب تر اوس

[229] - Michael Engholm
[230] - Richard Holbrooke

پورې وو، معلوماتونه ور په کښې خوندی وو، ډنمارکي ، لارس یعقوبسن [۲۳۱] او کاناډایی ګلین سوانسون[۲۳۲] ته د کتلو اجازه ورکړل شول. د پورته دوو تنو مقرري په هلمند کې د ۲۰۰۹ زکال په پیل کې په دی مانا وه چې ډنمارکیان خپلو کړونو ته په هلمند ولایت کې بدلون ورکړي. د لومړی ځل له پاره د بهرنیو چارو وزارت داسې کسان وګومارل چې پوځې شالید یې نه درلودي. په بدل کې دغه کارپوهانو د جګړو په سیمو کې ډیره تجربه درلوده. اوس نو دغه دوه کارپوهان په ګډه د هلمند د پوځې ډنمارکي ډلې سره کار پیل کړي. د اسنادو ډیر کمښت پر لارس یعقوبسن او ګلین سونسون ډیره اغیزه وکړه او اسناد د کیفیت له لحاظه هم ډیر کمزوري وو. د اسنادو څیړنې دغه دوه کارپوهان وهڅول چې د جګړې په سیمه کې پر معلوماتي او پوستي برخه کار وکړي نه دا چې جګړې ځپلې سیمې ته پاملرنه وکړي. هغه وخت چې لارس یعقوبسن د دغه کار د اخیستلو له پاره غوښتنلیک وړاندې کړي، هغه وپوهیدي چې د کار دغه برخه داسې ښکاري چې انسان لاس په وهلې نه وي. د بهرنیو چارو په وزارت کې هغه داسې یو لوړپوړی چارواکي ونه موندي چې خپله کله هلمند ته تللی وي. دغو دوو ملکي کارپوهانو د جګړو په سیمو کې ډیرې تجربې درلودي. کاناډایی، شپږ کلونه په افغانستان کې په ترتیب سره د ملل متحد او د انګلیستان د بهرنیو چارو د وزارت په چوکاټونو کې کار کړی و. لارس یعقوبسن د نیپال په جګړه ځپلو سیمو کې چې تر ۲۰۰۵ زکال د ماهویستانو تر نفوذ لاندې د وخت د حکومت او شاهي کورنۍ سره په وسلوالو نښتو کې ښکیل وو، دنده تر سره کړی وه. په راتلونکو شپږو میاشتو کې لارس یعقوبسن ډیر کلتوري ټکرونه تجربه کړه. لارس یعقوبسن په هغو توپیرونو او ستونزو ښه پوهیدي چې د یوې خوا د پرمختایي پروژو کارپوهانو د اوږدې مودې پر پروژو کار کولو او باور یې ورباندې درلودي خو د بل لوری د بشري کارکونکو اداري د بیړنیو پیښو سره مرسته همدا اوس او ژر غوښتل. د پوځیانو څخه وروستی خاطره دا وه چې تر پخوا زیات پر هغو دندو چې تر اوس پورې لاینحله پاتې دي چې د الف نقطې څخه د بی نقطې ته پرمختګ وکړي، پاملرنه ور باندې وشي. د بهرنیو چارو وزارت لوړپوړو چارواکو عادت درلودي چې کارونه ډیر درانه او سخت وښیي او په محتوي کې واړه بدلونونه راوستل چې وروسته به یې یو دقیق شی ته ورسول. په هلمند کې باید دوي د هغو جنګي سرتیرو سره ګډ کار کړي واي چې د افغانستان په یوه ځانګړې بنسټپاله سیمه چې د پردو سره یې ډیره سخته دښمني درلوده او خونړي بریدونه یې ورباندې کول، قرار درلودي. د بهرنیو چارو د مسولینو او پوځیانو تر مینځ یو لږ غونډې جوړې شوي. کله چې د بهرنیو چارو د وزارت مسولینو به فکر وکړي چې د پوځیانو سره یې ډیره ښه غونډه درلوده، پوځیانو به په بشپړه توګه د غونډې څخه بل انځور درلودي. پوځیانو به په هره غونډه کې انتظار درلودي چې ورته وبه ویل شي چې کومه موخه باید تر سره شي او د بهرنیو چارو استازي به ورته ووایي چې ټاکلې موخې ته د رسیدلو د پاره باید څه وکړي. مګر په بدل کې پوځیانو یوه ازاده غونډه تجربه کوله کوم چې ګډونوالو به یو او بل ته ځانونه وروپیژندل او خپلې تجربې به یې یو او بل ته بیانولې. د ډنمارکیانو په اومه پوځې ډله کې ډګروال ینس اوله روسن یونسن د ملکي ـ پوځې ګډ کار مسولیت درلودي چې د بهرنیو چارو د وزارت د کارکوونکو سره یې په یو لړ غونډو کې ګډون کړی وو. ینس اوله روسن یونسن وایي چې «موږ فکر کولو: بلې، دغه ټولې ښې خبرې دي مګر! په دغه وخت کې زه دوه ځله په ګرشک کې پاتې شوی وم او پر مځکه په ټولو واقعیتونو پوهیدلم. ما ته ډیره ستونزمنه وه چې د بهرنیو چارو د وزارت د استازو هوایي خبرې زموږ د مسولیت په سیمو کې پیاده کړم. که غونډې د دغه له پاره وي او دوي فکر کوي چې زموږ سره مرسته کړي ده نو ښه دي چې ځانونو ته ارام چاپیریال ولټوي او هلته واوسئ. د ډنمارک لوی درستیز، یسپر هیلسیو دري کاله مخکې د پوځیانو او د بهرنیو چارو د وزارت د لوړپوړو سره د غونډو د جوړیدو په تړاو اندیښمن و کله به چې د پوځې او ملکي ګډو چارو په اړوند بحثونه کیدل. د ۲۰۰۶ زکال په پسرلي کې ډنمارکي پوځیانو د لویو پوځې عملیاتو له پاره د افغانستان په جنوب کې تیاري ونیوي، دلته وو چې اړتیا احساسیدل چې پوځې عملیات د ملکي پروژو سره عیار شي تر څو په افغانستان کې ثبات راشي. «باید چارې داسې تنظیم شي چې تر ممکنه کچې ډیرې ملکي پروژې عملي شي خو د ډیرې اړتیا په صورت کې پوځې اجرأت وشي.» یسپر هیلسیو د ملکي چارو تیاري نیولو ته متعجب نه شو. اندیښنې هغه وخت ډیر وپاریدلې کله چې د دفاع وزیر، سیون ګیده او د نوموړي د ګوند ملګری د پرمختیایي چارو وزیر، اولا تیرنیس [۲۳۳] تر مینځ د ۲۰۰۷ زکال د مارچ په (۲۱) نیټه غونډه وشوه. په غونډه کې د پرمختیایي چارو وزارت یو شمیر لوړپوړو او یسپر هیلسیو هم ګډون کړی وو. په غونډه کې پر لویو ټکو بحثونه وشول، په بغل کې د لګښتونو په باب چې د دواړو وزارتونو تر مینځ باید مساوي وویشل شي، بحث وشو. مګر د دفاع وزارت لخوا د پرمختیایي چارو وزیر ته وویل شول چې مهرباني وکړه، څومره پیسې چې لري راسره ګډې یې کړه. د دفاع وزیر او استازی یې په بحث کې ډیر مخته نه ولاړل. په یوه شیبه کې د دفاع وزیر خپل لوي درستیز تر مټ کلک ونیوي تر څو لوی درستیز هغه خبرې چې مخکې پلان شوی نه وي، ونه کړي. د بیلګې په توګه ملکي ـ پوځې ګډ کار، اجراییوي کارونه او د اقتصاد د مسولیت اخیستل. په پوځې اکاډمي کې د ملکي او پوځې ګډ کار په اړه وینا وشول. سیاستوالو په دغه اړوند ویناوې وکړي. وزیرانو او حتی د ډنمارک ملکي استازو دغه موضوع په خپلو خبرو کې یاده کړه. یسپرهیلسیو وایي: « لږ تر لږه شپږمیاشتې تیرې شوې چې نوموړی موضوع ته جدي پاملرنه وشوه. د موضوع

---

[۲۳۱] - Lars Jacobsen

[۲۳۲] - GlennSwanson

[۲۳۳] - Ulla Tørnæs

جدیت هغه وخت پیل شو چې د هلمند پلان جوړ شو.» نوموړی خپل مرستیال، تیم سلوت هنسن ته دنده ورکړه چې نوموړي شخصاً د دغه کډې پروسې مسولیت پر غاړه واخلي. په دغه ډول موضوع د یوځ لوړ پوړو چارواکو ته ورسیدل. دغه کډه پروژه د تیم سلوت هنسن له پاره یوه په زړه پورې موضوع وه خو وروسته د لړ جنجالونو سره مخامخ شو. د هر میاشتني ډوډۍ خوړولو پر وخت هر چا ویل چې موږ څومره ښه خبرې د موضوع په اړوند وکړې، موږ تر نورو ښه وو خو عالي نه وو. هیڅ هیواد دغه چارې له پاره ښه نه و. هیڅ هیواد نه غوښتل چې پر دغه کډه پروژه پیسې ولګوي، ځکه دوي فکر نه کولو چې د دغه چارې اصلي مسولین به دوي وي. نوموړي ویل چې همیشه نور باید پیسې ورکړي. تیم سلوت یونسن تلاښ وکړې چې بیړنۍ مرستې ورته وموميي. هغه خلک چې سیمې ته تر سرتیرو وروسته راځي او غواړي چې د خلکو د ژوند په حالت کې بدلون راولي، نو عام ولس یې باید ووینې چې دغه چارې ګټه کړې ده. تیم سلوت یونسن ډیر په غوصه وه ځکه د ډنمارکیانو په غټ پوځي مرکز، د پرایس په پوځي کمپ کې یوازې دوو ـ درو ملکي مشاورینو شتون درلودې. نوموړي فکر کولو چې لږ تر لږه (۲۰) ملکي مشاورینو ته اړتیا وه. کله چې لارس یعقوبسن او ګلین سونسوند ۲۰۰۹ زکال د فبوري په میاشت کې د پرایس کمپ ته راغلل، د ډنمارکیانو د جګړې د پیل څخه دوه نیم کاله تیر شوی وو، مګر د ملکي پروژو او مرستو په تړاو هیڅ معلومات شتون نه درلودې. ازاد پلانونه وو خو څرګنده نه وه چې ډنمارکیان کوم لوری وټاکې. لارس یعقوبسن داسې تشریح کړل:«موږ خپل پر شاوخوا ډیر کسان د یونیفورم سره لیدل خو هیڅ چا موږ ته ورته والی نه درلودې. نو ځکه موږ یو د بل سره کتل او د اولیت په ټاکلو مو پیل کولو. موږ تجربه کړه چې د وسایلو او موادو اخیستل د ملکي مرکز څخه په لښکرګاه کې څومره ستونزمنه چاره وه.» د ښار په دننه کې دوو ملکي مشاورینو د (۷) تنو محافظینو په درلودلو بسنه کوله چې د خپل امنیت ساتلو له پاره یې د ارمور امنیتي ګروپ څخه اخیستي وو. د ګرشک څخه بهر ملکي مشاورین د ډنمارکي پوځیانو په واسطه بدرګه کیدل. سره د دې چې د پوځ سره یو ځای د بشري او پرمختیایي پروژو چارې ګډې شوې، خو لارس یعقوبسن ژر ولیدل چې د نوموړی صداقت او پوهه د پوځ او سرتیرو سره ده. سرتیرو د نوموړي امنیت ساتې. د خرابو امنیتي شرایطو په وجه د ډنمارکیانو د مسولیت په سیمو کې د مرستو ورکولو سازمانونو شتون نه درلودې. نوځکه سرتیرو د پوځي دندې په څنګ کې تر خپل توان پورې مرستې هم کولې. د ملکي مشاورینو دنده د افغاني مقاماتو او ډنمارکي پوځي ډلې سره وه. لارس یعقوبسن د خپلې تجربې له مخې چې په نیپال کې د ماهویستي جنګیالیو سره درلوده، تعجب یې کولو چې ډنمارکیان په خپلو سیمو کې د ټولنیزو او توکمیزو اړیکو په تړاو ډیر لږ پوهیدل. هالنډي پوځیانو د اروزګان په ولایت کې د پیل څخه یو بشرپیژندونکي د ځان سره درلودې، کوم چې د سرتیرو سره یې مرسته کوله چې سیمه ایزه توکمیز جوړښت څه ډول دې او څوک ډیر واک لري. د پوځ معلومات دټولنیز جوړښت او د واک فکټور پیژندل د حیرت وړ و. سره د دې چې زموږ ډنمارکي پوځ په سیمه کې دوه نیم کاله تیر کړی وو خو بیا هم د هغې ټولنې په اړوند چې زموږ په شاوخوا کې وه، بنسټیز معلومات مو نه درلودې. زموږ زیاته پاملرنه دښمن ته وه، د دې پر ځای چې موږ په سیمه کې د خپلو دوستانو او ملاتړو په واک باندې په سمه توګه پوهیدلي وای. لارس یعقوبسن داسې یادېږي چې د سیمې د پیژندو په تړاو زموږ معلومات د ډیرو شکمنو سرچینو څخه وو او دا معلومات ډیر لږ هم وو. دوو ملکي مشاورینو ژر پریکړه وکړه چې د ډنمارکیانو ټوله پاملرنه یوازې د سړکانو د قیریزې، جادو د روښنانه کولو، د بیا رغونې د سیستم او نورو اړینو ښېګنو باندې نه وي. لارس یعقوبسن او ګلین سوانسون پوهیدل که غواړو چې ټول مسایل په اوږده موده کې پرمختګ وکړای شي نو اړینه ده چې یو اجرابیوي اداري سیستم جوړ کړو. دوي په پیل کې ترجیح ورکړه چې د ولسوال او ښاروال ګډ فعال اجرابیوي واک جوړ کړي. وروسته به په اهسته د محلي حکومت د استازو اغیزه د ګرشک هغه سیمو ته چې دوستانه اړیکې لري، وغزول شي. موږ بریالي شولو چې ولسوال څو ځله د رحیم کلي څخه لیدنه وکړي کوم چې د سنډ فورډ د پوځي مرکز څیرمه پروت و او د ګرشک شمال لوري ته په لس کیلومتري کې واقع و. د دغې سیمې مشرانو، ښوونځي او د پولیسو مرکز غوښتې. مهمه دا وه چې د کلي خلکو غوښتنې د خپلې اړتیا له مخې وړاندې کړی وي او دوي پوهیدلي وو چې ولسوال دا امکانات لري چې د دوي سره د پروژو په جوړولو کې مرسته وکړي. د دغه دلیل له مخې لارس یعقوبسن او ګلین سوانسون ډیره اندیښنه نه درلوده چې دغه خلک به په یوه ټاکلې شیبه کې د رحیم کلي پر ښوونځي ډزې وکړي. پرمختګ ډیر کرار مخ ته تلې. دا هم مهمه وه چې د سیمې خلک وپوهیدل چې دوي هم اغیزه لري. لارس یعقوبسن په ګرشک کې تر (۷) میاشتو استوګنې وروسته ډنمارک ته راغلي، مګر ګلین سوانسون یو کال هلته پاته شو. د دوي په عوض کې په لومړی سر کې ملکي کارپوهان نه وو بلکې پوځي کسان وټاکل شول. ډیره ستونزمنه وه چې ملکي کارپوه کسان پیدا شي چې د هلمند په خطرناکه ولایت کې کار وکړي. د دې مانا دا شول چې اهسته کار د سیمې د محلي اداري ارګان د سمون له پاره چې یو وخت پر پښو ودریږي نور د دندو د لست په لومړی سر کې قرار نه درلودې.

د پرایس کمپ په دننه کې یوازې یوه ساحه وه چې ډنمارکي سرتیرو د داخلیدو اجازه نه

درلوده. دا برخه د اوسپنیزو دیوالو په مینځ کې وه. په دغه ځای کې د امریکا ځانګړو سرتیرو استوګنه کوله. او دلته دوي دلګې سرتیري وو چې یوه دلګې یې د عملیاتو او بله دلګې یې د افغان ځواکونو د زدکړو مسولیت درلودې. په ټولیزه توګه په دغه پټ ځای کې (۱۰۰) تنو سرتیرو استوګنه کوله. ځانګړي ځواکونه د ناټو په جوړښت کې نه وو. دغه ځانګړي سرتیري

د امریکا د ځانګړی عملیاتي ګروپ [۲۳۴] یوه برخه وه چې ځانګړي دنده یې د القاعده او طالبانو د مشرانو نیول او له مینځه وړل وو خو د ډنمارکي سرتیرو دنده دا نه وه. د ډنمارک پارلمان بیا هم پریکړه وکړه چې ډنمارکي پوځیان باید د امریکا د ځانګړي عملیاتي ګروپ یوه برخه نه وي. دا غوښتنه د سوسیال ډموکراټانو او کیڼ لیبرال (راډیکال) وه چې تر خپلې غوښتنې نه تیریدل او حساسه موضوع وه. دا هم ستونزمنه وه چې شیان سره بیل کړه شي. د ډنمارکي پوځیانو جنګي ډلې څو ځله د امریکایي سرتیرو سره د عملیاتو ګډ پلان جوړ کړي وو او ګډ عملیات یې تر یو ځل زیات وو، مانا دا چې بیا هم د امریکایانو سره ګډ کار دوام درلودي. ډنمارکیانو د امریکایانو په پرتله د پورته کولو ښه او مجهز وسایل درلودل، نو کله چې امریکایي سرتیرو به ستونزې درلودې، ډنمارکیان یې د مرستې کولو له پاره تیار وو. داستونزې پرته د نورو د لاسوهنې څخه حلیدلې. کله چې په ۲۰۰۹ زکال د امریکایي ځانګړو سرتیرو موټري وسایل د عملیاتو په جریان کې د طالبانو په یوه سیمه کې چې د هلمند سیند او بغرا تر مینځ په ګرشک کې وو، بند پاتې شوه، همدا ډنمارکیان وه چې د دوي د موټرانو په را ایستلو کې مرسته وکړه. فکر وکړی که څلور امریکایي موټري وسایط د هغو د سپرلیو سره یو ځای د طالبانو له خوا له مینځه تللې وای او موږ لاس تر زنه ناست وای. (ژ: د دی جملې مانا داده که ډنمارکیان د خپل پوځ د مشرتابه د امر له مخې ناست وای نو هغه امریکایان وژل کیدل.) ینس اوله روسن یونسن وایي موږ د دغو اوامرو په اړوند ډیر فکر نه کولو، موږ فقط دوي د هغه ځای څخه راخلاص کړل. سره د دې چې د ناټو ـ ایساف عملیاتو د امریکایانو د ځانګړو سرتیرو د عملیاتو سره توپیر درلودي، بیا هم ډنمارکیانو او امریکایانو د څارګرو ادارو معلوماتونه سره تبادله کول. دا مرستې د هغه ملګرتوب په وجه کیدلې چې د ډنمارکي او امریکایي پوځیانو مشرتابه سره درلودل او د پارلمان د پریکړې فورملیټې په نظر کې نه نیول کیدل. امریکایانو ډنمارکیانو ته د ځانمرګو بریدونو او د لارې پر سر د مینونو ښخولو څخه هم خبر ورکولو.

ګډ کار برابر ارزښت نه درلودي. دا یو معمول و چې د امریکایانو قوماندان د ډنمارکیانو په سهارنۍ او یا ماښامنۍ غونډو کې برخه اخیستل، مګر ډنمارکیان د امریکایانو غونډو ته نه بلل کیدل. په ګرشک کې د نشه ای توکو د لوی قاچاق وړونکي، حاجي خان محمد کیسه یې ښه بیلګه ده چې دا روښانه شي چې امریکایانو د ډنمارکیانو په پرتله څه ډول دندې تر سره کولې. نوموړي په ټول هلمند کې د نشه ای توکو لوی مجرم و. مګر بیا هم د ډنمارکیانو هره نوې جنګې ډله به چې هلمند ته راغلل، د نوموړي په تړاو یې اقدام نه کولو. ډنمارکیانو ډار درلودي چې د حاجي خان په ورکیدو به څه پیښه شي؟ د نوموړي تشه کیدلای شي د دې سبب وګرځي چې د نورو قاچاق وړونکو تر مینځ د دغې تشې پر ډکولو شخړه رامینځته شي. د امریکایانو ځانګړي سرتیري چې د اوسپنیز دیوال تر شاه پټ اوسیدل، د موضوع په اړوند بل ډول ارزونه کوله. حاجي خان محمد د امریکانو سره د نشه ای توکو د کاروباریانو د لست په سر کې قرار درلودي چې یا باید ونیول شي او یا هم ووژل شي. حاجي خان په زیات احتمال پوهیدي چې شرایط د نوموړی له پاره خطرناکه دي. د ۲۰۰۹ زکال په پسرلي کې د ډنمارکیانو د څارګرې ادارې افسرانو ته یو غیري منتظره د ټلیفون زنګ راغلی. حاجي خان محمد قاچاق وړونکي د ټلیفون په غوږی کې و. نوموړی بیان کړل چې د د ده په تړاو ډیري غلط فهمي رامینځته شوی دي. نوموړی اجازه وغوښتل چې د پرایس کمپ ته راشي او ټول مسایل روښانه کړي. دا یو فوق العاده چانس و چې پرته د سرخوږي څخه حاجي خان محمد ونیول شي. خو دا خطر هم و چې دغه قوي سړي داسې شرایط رامینځته کړي چې ډنمارکیان او امریکایان یو د بل پر ضد استعمال کړي. دا به غیري طبعي او عجیبه وای چې داسې یو څوک ډنمارکیانو ته د لیدنې له پاره راغلی وای چې د امریکایي ځانګړو پوځیانو د لست په سر کې قرار درلودي. د ډنمارکیانو د قوماندانې څخه (۵۰) متره امریکان لیري هم اوسیدل. ینس اوله روسن یونسن د حاجي خان محمد وړاندیز د خپل امریکایي همکار سره شریک کړي. دوي دواړه همږغې شول چې حاجي خان محمد ته د رد ځواب ووایي. ینس اوله روسن یونسن په څرګند ډول حاجي خان محمد ته وویل چې ته د هغه لست په سر کې نوشته شوي یې چې باید ونیول شي، که دلته راشي، موږ اړ یو چې تا بندي کړو. په هم دغه خاطر حاجي خان محمد د یوې مودې له پاره د سیمې څخه ووت. په قوي احتمال نوموړي په کابل کې پټ شو. دوي میاشتې وروسته هغه دوباره خپلې هغه بنګلې ته راغلی چې د کمپ پرایس څخه څو کیلومتره واټن درلودي. دغه کانکریټي ودانې د لوې دیوال په واسطه چې تیز رنګ ورکول شوی و، احاطه شوی وه. هره ورځ ډنمارکیان د دغې بنګلې د څنګ څخه تیریدل چې تر تعقیب لاندې حاجي خان محمد ور په کښې و، خو برید یې نه ورباندې کولو. د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر په میاشت کې د امریکایانو زغم پای ته ورسیدې. د ډنمارکي پوځیانو د اتمې ډلې مرستیال قوماندان، مایکل اینګهولم [۲۳۵] ته یوه شپه ناوخته داسې معلومات ورکړل شو: اوس به حاجي خان محمد د شپې لخوا د عملیاتو په طرز کې ونیول شي. نوموړی هڅه وکړه چې وتښتي خو د څو ډزو څخه وروسته امریکایانو هغه ونیوي او زندان ته یې واچولو. لږ وخت وروسته هغه کابل ته انتقال شو. نن موږ نه پوهیږو چې د هغه سره څه وشول. (ژ: کله چې د بګرام زندان افغان لوري ته تسلیم شوو، حاجي خان محمد هم د نورو زندانیانو په څیر ازاد شوو او اوس په خپله ښکلې بنګله کې چې په ګرشک ې ده، ژوند کوي. می ۲۰۱۵» کله چې مایکل اینګهولم سبا ورځ د ګرشک رسمي مقاماتو ته په کمپ کې ښه راغلاست وایي، لویه اندیښنه د قاچاق وړونکو خوښې او خوابدی نه وه. کله چې واوریدل شول چې امریکایانو حاجي خان محمد نیولي دي، په بیړه د ګرشک ولسوال، ښاروال او د

۲۳۴ - Operation Enduring Freedom

۲۳۵ - Michael Engholm

پولسيو مشر د مايکل اينګهولم خيمې ته راغلل. دوې روښانه معلومات غوښتي چې څه پيښ شول. ولسوال د سلګونو انديښمنو ښاريانو لخوا د خوب څخه را ويښ شوی وو. ښاريانو پوښتنه کول چې دا پيښه څنګه رامينځته شوه او په راتلونکي کې به څه ورسره کيږي؟ مايکل اينګهولم د افغاني هيت سره يو ځای په کمپ کې د امريکايانو پوځي مشر ته ورغلل. د ډنمارکيانو ډګروال فکر وکړي چې د دغې پيښې علت بايد ژر روښانه شي. دا څرګنده وه چې د ګرشک ولسوال په غصه وه او هم ډاريدي. نوموړی اړتيا درلودل چې په ګرشک کې و خلکو ته د پيښې په تړاو د ويلو روښانه ستراتيژي ولري. د ولسوال لويه انديښنه دا وه چې حاجي خان محمد به د افغاني مقاماتو له خوا د شپې تر را رسيدو مخکې خوشي شي. دا به لومړی ځل نه وي چې دغومره لوی مجرم د خپلو اړيکو په واسطه د بند څخه ازاد شي. که حاجي خان محمد ازاد شي، څه به پيښ شي؟ نوموړی به خپل کسات واخلي؟ او کسات اخلي د چا څخه به يې اخلي؟ ولسوال ځکه خپه وه چې ولې تر پيښې مخکې معلومات ورکول شوی نه دي. مايکل اينګهولم ومنل چې د ولسوال دغه غوښتنه پر ځای ده. د امريکايانو د ځانګړو سرتيرو مشر وعده وکړه چې په راتلونکي کې به دا ډول مسايل په پام کې نيسي. دا چې مايکل اينګهولم د امريکايانو د دغه عملياتو په تړاو نور څه نظر درلودي، هغه يې د ځان سره تر نن ورځې پورې ساتلي دي. مايکل اينګهولم وايي: «زه نه غواړم د دغه عملياتو په تړاو بحث وکړم. دا د امريکايانو عمليات وو.» د مايکل اينګهولم انديښنې هيڅ وخت په واقعيت بدلې نه شوې. د حاجي خان محمد تر بندي کوولو وروسته هيڅ شخړه پيښه نه شوه. يا لږ تر لږه داسې شخړه چې ډنمارکيانو احساس کړی وي. همدا ډول د ولسوال اوتوريته د امريکايانو په دغو عملياتو باندې خرابه نه شوه.

د ۲۰۰۹ زکال د منې موسم به د افغانستان د جګړې له پاره رغنده اغيزه ولري. بارک اوباما د افغانستان جګړه خپله وګڼله. بارک اوباما په پسرلي کې (۲۰۰۰۰) نور سرتيري افغانستان ته وليږل خو دا له تولّه هغه څه نه وو، چې بارک اوباما په نظر کې درلودل. د امريکا ولسمشر د ايساف مشرقوماندان، ډيويډ مک کيرنان [۲۳۶] د دندې څخه ګوښه کړي. په دوهمه نړيوالې جګړه کې چې جنرال ماک ارتور [۲۳۷] د دندې څخه ګوښه شوی و، د هغه وخت څخه دا لومړي ځل و چې امريکا يو لوې پوړی قوماندان د دندې ګوښه کوي. جنرال ډيويډ مک کيرنان غوښتل چې جګړې ته بدلون ورکړي، د نوموړي ټول پاملرنه د خلکو سلامتيا او ارامي ته وه تر څو داسې شرايط رامينځته کړي چې خلک ځانونه په امن کې احساس کړي د دي پر ځای چې د طالبانو د وژلو پروسې ته دوام ورکړي. جنرال ډيويډ د يوې اړينې سياسي لوبې قرباني شو. سپينې ماڼۍ داسې جنرال ته اړتيا درلودل چې د اجراتو (جګړې سره علاقه) قوت يې ښودلي وای او په افغانستان کې د نوي مرحلې سيګنال ورکړی وای. ډيره اړتيا وه چې په افغانستان د پوځ په مشرتابه کې ژور بدلون راشي. يو سپورتي د قوي مړوند خاوند چې د ژوند ځانګړی ستايل يې درلودي، داخل ته راغي. دا جنرال ستانلی مک کريستال [۲۳۸] و چې په عراق کې د ځانګړو سرتيرو قوماندان و چې ډير برياليتوبونه يې نصيب شوی وو. همدا ډول ډيويډ پيټريوس [۲۳۹] چې د عراق اتل، په منځنې ختيځ او منځنې اسيا کې د امريکايي پوځونو عمومي قوماندان و او جنرال ستانلی مک کريستال يې د نظره څخه ښه پوځي ښکاری دي. نو ځکه اوس بايد هغه جنرال چې په يو وخت خوړو او لږ خوب کولو سره يې درنده دندې سرته رسولې، بايد په ټول افغانستان کې د ترهګرو په وړاندې جګړه کړي وای. جنرال ستانلی مک کريستال د وړي موسم د افغانستان د سيمو په پيژندلو تير کړل تر څو وکولای شي د ناټو ځواکونو له پاره د جګړې نوي ستراتيژي وټاکي. د منې په موسم کې بارک اوباما بايد خپله وروستۍ پريکړه وکړي چې څومره اضافه سرتيري افغانستان ته وليږي تر څو جګړه وګټي. د بارک اوباما پريکړه بيړنۍ نه وه. نوموړي بايد ټول امکانات ژور څيړلي وای تر څو خپله وروستۍ پريکړه يې اعلان کړی وای. په امريکا کې د غښتلي دفاع وزير، روبرت ګيټس، لوی درستيز، ميک مولن او د ولسمشر مرستيال، جوسيف بايډن، ملکي مشاور تر مينځ د نظرياتو لوې توپير شتون درلودي. جنرالانو او د دفاع وزير غوښتل چې ډير سرتيري افغانستان ته وليږي خو د ولسمشر مرستيال غوښتل چې په لږو سرتيرو د ترهګرو پر ضد هدفمنده جګړه وشي. جوسيف بايډن په نوی ستراتيژي کې بايلول. د بوب وډواردس [۲۴۰] د کتاب په اساس (د اوباما جګړه) [۲۴۱] بيا هم جوسيف بايډن وکولای شوای چې د ډيرو زياتو سرتيرو د ليږولو مخه ونيسي. جنرال ستانلی مک کريستال د ۲۰۰۹ زکال په سپټمبر کې د زياتو سرتيرو د راليږلو وړانديز واشنګټن ته وليږي. جنرال ستانلی مک کريستال دري امکانات وړاندې کړل په پيل کې (۱۰۰۰۰) سرتيري وغوښتل چې دا وړانديز د زاړه تاکتيک څخه ګټه اخيستنه او د خطا ايستلو يو چل و. دغه شميره لږ وه نو ځکه نوموړي کولای شوای چې موخې ته ورسيږي. او د (۸۵۰۰۰) سرتيرو وړانديز يې هم وکړي چې ډيره لويه شميره وه او منلو يې امکان نه درلودي. وروستۍ وړانديز يې د (۴۰۰۰۰) تنو سرتيرو غوښتنه وه. د دغې شميرې سره پنتاګون رضايت درلودي خو بيا هم جنرالانو

---

۲۳۶ - David McKiernan
۲۳۷ - MacArthur
۲۳۸ - Stanley McChrystal
۲۳۹ - David Petraus
۲۴۰ - Bob Woodwards
۲۴۱ - Obams War

فکر کولو چې شمیره د بارک اوباما د غوښتنې څخه یو لږ څه لوړه ده. دغو درو وړاندیزونو د بارک اوباما مشاورین پر جنرال باندې په غوصه کړه. دا ستونزمنه وه چې تر (۴۰۰۰۰) تنو سرتیرو څخه شمیره لږ کړي، ځکه ټول پوهیدل چې همدغه شمیره د پنتاګون غوښتنه هم وه. جنرال ستانلی مک کریستال دا ازادي هم واخیستل چې د ثی، بی ، اس [۲۴۲] په مشهوره تلویزیوني پروګرام کې په واژه خوله ووایي: « زه تعجب کوم چې ولسمشر بارک اوباما یوازې یو ځل زما سره کتلې دي، کله چې ما د ټولو پوځونو مسولیت په افغانستان کې اخیستي دي.» سپینه مانۍ د دا ډول نیوکې سره عادت نه وه. جوسیف بایډن او د نوموړي نژدې کسانو داسې احساس وکړي چې سپینه ماڼې د پنتاګون تر کلابندې لاندې ده. په داسې حال کې چې ولسمشر د جګړې په وخت کې د پوځ اعلی سر قوماندان دي.

اوباما پریکړه وکړه چې د خپل نوي جنرال سره ووینې. په دغه وخت کې بارک اوباما په ډنمارک کې و، تلاښ یې کولو چې د خپل زیږیدو ښار، شیکاګو د راتلونکو نړیوالو اولمپیایي لوبو کوربه کړي کوم چې په ۲۰۱۶ زکال جوړیدلې. په دغه وخت کې جنرال ستانلی مک کریستال په لندن کې و. دا ښه چانس و چې د بارک اوباما سره وګوري. جنرال ستانلی مک کریستال د بارک او با ما سره د هغه په ځانګړي الوتکه کې چې د کوپنهاګن په هوایي ډګر کې ناسته وه، ولیدل. دا کتنه د ۲۰۰۹ زکال د اکتوبر په دوهمه نیټه وشوه. دا غونډه د دې له پاره چې د ولسمشر او جنرال تر مینځ اړیکې دوباره دوستانه شي خو په (۲۵) دقیقې غونډه کې د غونډې ښه د رسمي حالت څخه د ملګرتوب حالت ته بدله نه شوه. یوه ورځ مخکې جنرال په لندن کې یو عجیبه وینا کړی وه. جنرال ستانلی مک کریستال دغه ډول ناکافي سرتیري د افغانستان له پاره رد کړه په داسې حال کې چې د جنرال لوړ امر تر دغه شیبې خپل وروستی پریکړه اعلان کړی نه وه. جنرال ستانلی مک کریستال په وارو وارو د زیاتو سرتیرو غوښتنه د لندن په غونډه کې تکرار کړل او علاوه یې کړل: دوي ماته ویلي وو چې خپل نظر په ازاده توګه بیان کړم، کیدلای شي دوي اوس خپل نظر ته بدلون ورکړي.

د جنرال ستانلی مک کریستال خبرو پر سپینې مانۍ ډیره بده اغیزه وښندله. بارک اوباما د کوپنهاګن پر لوري په هوا کې وه، چې د جنرال د خبرو په تړاو یې معلومات واخیستي. بارک اوباما وویل: دغه جنرال باید متوقف شي. داسې ویناوې بی فایدې دي.

ولسمشر بارک اوباما د جنرال ستانلی مک کریستال سره په غونډه کې سپینې خبرې نه کولې. دوي دواړو د لندن د غونډې په تړاو مخامخ څه نه ویل خو سړي پوهیدلای شوای چې د جنرال ستانلی مک کریستال څخه غوښتنه دا وه چې دا کارونه بس کړي.

کله چې جنرال ستانلی مک کریستال د نړیوالو ورځپاڼو تبصرې د نوموړي د وینا په اړوند ولوستې، سملاسې خپل مشر، جنرال ډیویډ پیټریوس ته یې ټلیفون وکړي.

جنرال ستانلی مک کریستال خپل مشر ته وویل: زه پوهیږم چې تر سرې لیکې تیر شوی یم خو زه به په راتلونکې کې احتیاط وکړم.

جنرال ستانلی مک کریستال ته د امریکا د بهرنیو چارو د پخواني وزیر کولین پاول لخوا هم یو ایمیل راورسیدي. کولین پاول د جنرال څخه غوښتې و چې د قدرت ښوولو لوبه دی ودروي.

بارک اوباما د خپل کار د پیل څخه شپږ میاشتې وروسته د یوه ناڅاپي حالت سره مخامخ شو. بارک اوباما (۲۰۰۰۰) اضافي سرتیري ومنل کوم چې د جورج بوش په وخت کې د افغانستان له پاره تیار شوی وو. اوس بارک اوباما د جنرالانو د فشار په پایله کې اړ شو چې (۴۰۰۰۰) نور سرتیري هم افغانستان ته ولیږي. وروستی میاشتې پر موضوع ډیر بحثونه وشول. پنتاګون پر خپله غوښتنه چې (۴۰۰۰۰) نوي سرتیري د خلکو د ښه امنیت په خاطر افغانستان ته ولیږي خو د ولسمشر مرستیال، جوبایډن ټینګار کولو چې د لږو سرتیرو لیږل هم ډیر څه کولای شي که امریکایان عملي او ریالیستکې موخې وټاکي. د ولسمشر بارک اوباما وروستی پریکړه د ۲۰۰۹ زکال د ډسمبر پر لومړي نیټه د امریکا په مشهوره پوځي اکاډمي، ویت پوینټ [۲۴۳] کې اعلان شوه. بارک اوباما خپل د حل منځنی لاره وړاندې کړه. جنرال ستانلی مک کریستال ته (۳۰۰۰۰) سرتیري ورکول کیږی که جنرال اړتیا احساس کړي لس سلنه نور سرتیري به هم ورکړل شي. برسیره پر دې نور د ناټو غړي هیوادونه هم باید (۱۰۰۰۰) سرتیري ورکړي. خو اوباما یو مهم شرط هم وړاندې کړي. دغه اضافه سرتیري به تر راتلونکې ۲۰۱۱ زکال تر وړې پورې هلته وي. وروسته باید د پوځونو ایستل د افغانستان څخه پیل شي. د پوځ د وتلو د نیټې ټاکل باید پر حامد کرزي زیات فشار راوړي. افغانستان یې باید زده کړي چې د خپلو مسولیتو بار یوسي. افغانان باید د امنیت په راوستلو کې کوښښ وکړي او د ښې حکومتداري په راوستلو او د اداري فساد په له منځه وړلو کې وروستی هڅې وکړي.

---

[۲۴۲] - CBS

[۲۴۳] - West Point

د افغانستان د جنجالونو ډکي ولسمشريزي ټاکني د لويديز له پاره ډيري مهمي او اغيزناکي وي چي پر حامد کرزي باندي باور او اطمينان لږ او د هيوادونو د نظرونو توپير يي رامينځته کړي. د رايو ورکونکو شميره د تيرو ټاکنو په پرتله نيمايي شوه، همدا ډول په ټاکنو کي د چل او فريب (٣٠٠٠) شکايتونه ثبت چي د ټاکنو او شکايتو کمسيونونو ته ورسيدل. په کمسيونونو کي د بهرنيانو د کميټي غړي اکثريت وو چي وروستي پريکړه يي په واک کي وه. نوموړي کميټي د رايو ډير صندوقونه شکمن ثبت کړل چي د دوهم ځل ټاکنو اړتيايي رامينځته کول. ولسمشر حامد کرزي وروستني تلاښونه وکړل چي د دوهم ځل ټاکنو مخنيوي وکړي نو ځکه د امريکايانو، انګريزانو او ملل متحد سره يي سخت ټکرونه او شخړي وکړي. وروسته حامد کرزي ومنل خو شخړو دومره زيات دوام وکړي چي سوړ ژمی را نژدي شو، او د ژمي څخه مخکي دوم روند ټاکني کيدلای نه شوای. په ژمي کي د ټاکنو لوژستيکي اکمالات ناممکنه بريښيده.عبدالله عبدالله باور نه درلودي چي د ټاکنو دوهم روند به تر لومړي ځل زيات شفاف وي. په ټاکنو کي پراخه درغلی انکار نه منونکي وه. دافغانستان دغه حالت داسي يو انځور ترسيمولای شوای چي هيواد کلونه په جګړو کي ښکيل و او وروسته تر ډيرو ازموينو غواړي چي يوه روښانه راتلونکي ولري. په اته کلنه سخته جګړه کي انساني تلفات او اقتصادي لګښتونه ډير څرګنده ليدل کيدل. دغه انديښني ډنمارک ته هم راورسيدلي چي اکثريت خلکو يي هميشه د افغانستان د جګړي څخه ملاتړ کولو. د بارک اوباما د وينا څخه چي په ويست پوينټ اکاډمي کي وکړه، يوه مياشت مخکي په ډنمارک کي په ډير وخت کي د لومړي ځل له پاره د بحثونو بني بدلون وموندي. د ٢٠٠٩ زکال د نومبر پر (۴) نيټه يولند پوستن ورځپاڼي يوه ليکنه خپره کړه چي سرليک يي: «ډنمارکي سرتيري د افغانستان د جګړي په اړوند شک لري.» و. په ليکنه کي د پوځ د لويي اتحاديي مشر، يسپر هينسن [٢٤٤] د افغانستان څخه د ډنمارکي سرتيرو د ايستلو ستراتيژي غوښتل: سرتيري په جګړه کي مهارت لري او موږ کولای شو د اوبو يو څاه هم وکينو او موږ ډيري ښوونځي جوړي کړي. خو بياهم پرمختګ نه ښکاري: موږ افغاني پوځيانو او پولسيو ته په کافي کچه زده کړي نه دي ورکړي. د نورو ملاتړو هيوادونو پوځونه انديښمن او نا باوره دي. خو موږ د ټاکنو په پروسه او د يو ناباوره ولسمشر سره ولاړ يوو. د افسرانو د اتحاديي مشر، بينټ فبريوکيوس [٢٤٥] چي په سخترين ځای کي اوسيدي د يسپر هينسن ملاتړ يي وکړي. د افسرانو د اتحاديي مشر، بينټ فبريوکيوس وايي: «ماته ډيره ستونزمنه ده چي د سرتيرو واليدينو ته دا تشريح کړم چي ولې د دوي زامن د افغانستان په جګړه کي وژل کيږي. کله چي زما د اتحاديي غړي(افسران) جګړي ته ليږل کيږي، يوازي امر ورته کيږي. زه د افسرانو د اتحاديي د مشر په توګه دغه پروژه په ټوليزه توګه تر پوښتني لاندي راولم او دا چاره همدا اوس کوم.» د دغو دوو مشرانو انديښنو او نيوکو ژوره اغيزه وکړه. دغو نيوکوهغه وخت ډير زور واخيست چي په همدغه ورځ يو بل ډنمارکي سرتيري ښخ کړل شو. د ورځي پر(١١) بجو د (٨٠٠) نفرو په شاوخوا کي د کوپنهګن په لويه کليسا کي سره راټول شول چي د (٢٣) کلن، ميکايل يبيرت [٢٤٦] د ښخولو مراسم پر ځای کړي. د عادت له مخي د دفاع وزير، سيون ګيده او د پوځ يو شمير لوړپوړي چارواکي هم د مراسمو د پر ځای کولو له پاره حاضر وو. ميکايل يبيرت ګرشک ته نژدي د اکتوبر پر (٢٣) په ډزو ووژل شو. نوموړي د اتمي ډلي دوهم سرتيري و چي ووژل شو. يوه مياشت مخکي (٢٣) کلن ستيپن بلوچ لارسن وژل شوی و. په پيل کي د ډنمارک صدراعظم، لارس لويکه غاسموسن [٢٤٧] او د بهرنيو چارو وزير، پيرستی ميلور[٢٤٨] تلاښ وکړي چي د پورته دوو مشرانو پرنيوکو د بحثونو مخنيوي وکړي. د بهرنيو چارو وزير ډير رډ او څرګند و. نوموړي د پورته دوو مشرانو پر خبرو څرګندي نيوکي وکړي او د دوي د خولو وازول يي د افغانستان په جګړه کي د ډنمارکي سرتيرو له پاره خطرناک وګڼل. د بهرنيو چارو وزير، پيرستی ميلور علاوه کړه:« دا ډول څرګندوني زموږ د سرتير له پاره ډيري خطرناکي دي. هر ځل چي موږ د وتلو خبري پيل کړو، هغومره د روڼ اندو افغانانو له پاره ستونزي زيږوو که څه هم موږ يوه ورځ تښتوو. هر ځل چي د وتلو د پلان خبري پيل شي، نوي طالبان زيږول کيږي. د ځان ساتو(کنسرويټيو) د دفاعي کمسيون مشر، هيلګه ادم ميلور [٢٤٩] نور هم نيوکي جدي کړي او ويې ويل:« که سړی يوه زړه کښتی ولري او سوري ولري نو ښه لار يي دا ده چي پينه (ترميم) شي. همدغه چاره ډنمارکي سرتيري په افغانستان کي تر سره کوي. دا چي د سرتيرو او پوځيانو د اتحاديو مشران په زړه کښتی کي نور سوري هم جوړوي، په طبعي ډول به کښتی غرقيږي او ټول ور په کښنې ناست کسان به مړه شي.» صدراعظم، لارس لويکه غاسموسن وويل: « ډنمارکيان به تر هغه وخت پوري په افغانستان کي وي چي اړتيا وي او خپله دنده به په بشپړه توګه سرته ورسوي.» د حکومت بريد اغيزه وکړه، په ځانګړي توګه په لومړی مرحله کي. د سرتيرو او پوځيانو د اتحاديو مشرانو ځانونه ارام ونيول او د افغانستان څخه ميکايل يلبريت څرګنده کړه چي موږ باور لرو چي د ډنمارکيانو شتون ګټور دي. د ډنمارکيانو پر

[٢٤٤] - Jesper K. Hansen

[٢٤٥] - Bent Fabricius

[٢٤٦] - Michael Ebert

[٢٤٧] - Lars Løkke Rasmussen

[٢٤٨] - Per stig Møller

[٢٤٩] - Helge Adam Møller

پلان د ۲۰۱۰ کال له پاره بحثونه تر هغه وخت وځنډېدل تر څو اوباما خپلې پرېکړې اعلان کړي. تر څو چې د امریکا نوي جنګي ستراتیژي څرګنده نه وي نو د ډنمارکیانو د پلان جوړول بې ګټې چاره وه. د سوسیال ډموکراټانو د بهرنیو اړیکو مسول، موګنس لویکه ټافټ د انتظار موده د نوي وړاندیز د بیانولو او د نورو د پوهاوي له پاره ولګول. د نوموړي وړاندیز دا و چې دا ځل په بحثونو کې باید د ډنمارکیانو د وتلو پر موضوع هم بحث وشي. د دغه نظر وړاندې کول نوی خبره وه. د ۲۰۰۸ زکال د اپریل په میاشت کې کېڼ راډیکال ګوند وړاندیز کړی و چې د ډنمارک پوځیان باید د افغانستان څخه د ۲۰۱۲زکال په پای کې ویستل شي. په هغه وخت کې د راډیکال ګوند یوازې پاته شو نو ځکه بحث وربانديې ونه شوو.

د بارک اوباما د وینا څخه څو ورځې مخکې چې په ویست پوینټ کې وکړه، د ډنمارک سوسیالیت ګوند هڅه وکړه چې د ۲۰۱۰ کال د پلان جوړولو په بحثونو کې فعاله ګډون وکړي او د هلمند له پاره لس مهم ټکي وړاندې کړي. او د دغو ټکو تر عملي کېدو وروسته د ۲۰۱۵ زکال په پای کې ډنمارکي پوځیان د افغانستان څخه ویستل شي. د جګړې سره د مخالف ګوند دا وړاندیزونه یو لوي قدم و چې دومره اوږده موده یې د جګړې مسولیت اخیستي خو سوسیال ډموکراټانو نه غوښتل چې د وروستي یاني د وتلو د نیټې پر ټاکلو څه واوري. موګنس لویکه ټافټ هم وروستی پرېکړه کړې نه وه چې سوسیالیست ګوند ته د هلمند په تړاو بحثونو کې ځای ورکړی او که نه؟ نوموړی وویل چې ټول باید دا پرېکړه وکړي چې سوسیالیست ګوند ور سره یو ځای شي. حکومت ته به خوندوره نه وي چې سوسیالیست ګوند د هلمند د ستراتیژي جوړولو په غونډو کې ګډون وکړي. کله چې په ۲۰۰۹ زکال سیون ګیده په خپله خوښه سوسیالیست ګوند غونډې ته رابللي و چې پایله یې لویه نا ارامي شوه، د هیڅا هیره شوی نه وه. د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر نه غوښتل چې د تیر ځل ډرامه بیا تکرار شي. پیر ستي میولر نن وایي:« زه دوي نه غواړم چې په غونډو کې ګډون وکړي. که د هلمند په تړاو د پوځ د راتلونکي په باره کې ګډون کوي، باید منظم پلان وړاندې کړي. زما نظر دا و، که سوسیالیست ګوند ته په غونډو کې د ګډون اجازه ورکړل شي، نو باید ټول وړاندیزونه یې ومنل شي، او هغه بدلونونه چې د دفاع وزارت وړاندیز کړی دي، هم ومنل شي. خو دوي د دغه چارې د منلو له پاره تیار نه وو.»

په هلمند کې د ډنمارکیانو اتمې پوځي ډلې نور نظرونه درلودل. د دوي پلان د ډنمارک له خوا دا وو چې د ګرشک د امنیت جوړولو چارو ته ادامه ورکړي او یا هم خپل ټول پام د ښار په سهیل کې د ارماډیلو د پوځي کمپ شاوخوا ته واړوي چې پرمختګ او ثبات راشي. د ګرشک او لښکرګاه تر مینځ بریالي عملیات وشول. خو بیا هم ستونزمنه وه چې د لښکرګاه او ګرشک د لاری امنیت باوري کړي ځکه محلي وسله وال او طالبان دوباره سیمې ته راغلل. په همدغه علت ډنمارکیانو ته خبرداري ورکړل شوو چې د سیند غاړه د سهیل خواته هیره کړي په بدل کې نیمایي پوځیان د ګرشک د جنوب لوري امنیت ته وګوماري. ډنمارکیانو د ګرشک په پورتنی برخه کې ګزمې پرېښودلې. ټوله پاملرنه یې بازار ته واړول نو طالبانو ته موقع په لاس ورغلل چې خپل قوتونه د سیند په غاړه کې راټول کړي. د ډنمارک د کولومبورګ [۲۵۰] د ښار اوسیدونکي (۲۲) کلن سرتیري د نوي پلان چې پاملرنه د ګرشک د سهیل څخه و جنوب ته شول، قرباني شو. رونی ویستی زاکاریس نیلسن [۲۵۱] د دوهمې دلګی د لومړي ګروپ ښکاري ویشتونکي و چې د ډنمارکي اتمې ډلې د جګړې نیمایي برخه یې مخته وړل. نوموړي د لیسې دورې تر پای ته رسولو وروسته، سمدلاسه پوځ ته شامل شو او ښه مخته ولاړي. کله چې نوموړي په ګزمه تلې، درنه ماشینګره یې درلودل. په پیاده ګزمه کې نوموړي همیشه د ګروپ تر شاه تلې. د دوي یوه دنده دا وه چې سیمې ته د ترافیک کنترول د وتلو او راتللو په وخت کې وڅاري. مخکښانو سرتیرو د تپې پر سره یو او بل بدلول، او د دوي دنده پر پله بندې د ترافیکو کنترول وو. دوي هغه بزګران تلاښي کول کوم چې د پل پر سر تیریدل چې وسلې ور سره پیدا کړي. رونی ویستی زاکاریس نیلسن او د نوموړی ګروپ نوټ اخیستي چې څومره انسانان، خره او موټر سایکل د پل څخه تیریږي. مخکې له دې څخه چې سرتیري تر شنه اسمان لاندې د خوب په کڅوړو (دا یو ډول د خوب کولو کڅوړه ده چې دواړې خواوې د تلتک په ډول پنډې دي او د ځینځر په واسطه تړل کیږي چې د یخني مخنیوی وشي.) ننوزي، رونی ویستی زاکاریس نیلسن د څو تنو ملګرو سره د خپلو پخوانیو سرتیرو ملګرو فلم په کمپیوټر کې ننداره کاوه. دوي د فلم په کتلو سره خوشحالي کول او یو بل ته یې سترګکونه وهل. د پولیټیکل ورځپاڼي ته رونی ویستی زاکاریس نیلسن ویلي و چې نوموړي څه ډول وپوهیدي چې دا یو نوښت رامینځته کوي. دغه اصطلاح (د کلمې مبارکي په ډول عیسویانو هم ورته څه لري) په افغانستان کې د سرتیرو تر مینځ استعمالیدل. زما له پاره ډیر ارزښت لري چې افغاني سرتیري زمونږ پر ځینو خوشالو کړونو تبسم پر شونډانو ولري. مونږ لویو مسایلو ته د بیلګې په توګه ټاکنې څنګه تیري شوي او ډموکراسی څنګه ده، پاملرنه نه کوو. دا ډیره مهمه ده چې ټاکلي کسان ښه ژوند ولري. رونی ویستی زاکاریس نیلسن ویل زه وړې ستونزې حلولای شم. نوموړي د ډار په تړاو ویل: «زه په واقعیت کې فکر نه کوم چې ډاریږم. کله چې یو څه پیښ شي ما ډار کړي، مونږ ټول مسلکي کسان یوو او هر څوک خپله چاره سرته رسوي. نو همدغه علت دي چې ډار ته وخت نه لرو. مغز یوازې د دندې په ښه سرته رسولو بوخت وي.» د ۲۰۰۹ زکال د اکتوبر (۳۱) نیټې ته څو ورځې پاته وې چې رسنی د افغانستان څخه د وتلو پر ستراتیژي

۲۵۰ - Kalundborg

۲۵۱۲۵۱ - Rune Westy Zacharias Nielsen

لګیاه وي. د روني ویستی زاکاریس نیلسن ګروپ بیا ګزمې پیل کړی وي. دوي دوباره خپل پخواني ځای د سیند سهیل ختیز لور ته د بارکزو پوځي مرکزته انتقال شوي وو، تر څو ډنمارکیان دوباره د واک انډول وساتي. د سیمې خلک د ډنمارکي پوځیانو د شتون څخه خوشاله نه وه. د تریاکو د کښت بزګرانو ځانونه خپله ساتل او د طالبانو سره يې نژدې اړیکې نه درلودې. دغه پوځي مرکز د ډنمارکیانو له پاره ډیر ارزښت درلودې ځکه د همدغه پوځي مرکز په واسطه د سهیل و لوري ته د کین لوي مرکز ښه ساتل کیدي. د ۲۰۰۹ زکال په منی کې د ډنمارکی پوځیانو اتمې ډلې داسې هیله درلوده چې د بارکزو پوځي مرکز د کین د لوي مرکز سره وصل کړي تر څو لویه سیمه امنیت شي چې د ډنمارکي پوځیانو درناوی کول هم زیات شي. د معمول سره سم دوي په تیت و پرک ډول مخته ولاړل تر څو د دښمن پاملرنه جلب نه کړي. روني ویستی د خپل ګروپ د یوه غړی سره نژدې حرکت کاوه. دوي یوې کندې ته ور وښویدل خو دوي شکمن شول چې دلته طالبانو ماین ښخ کړی دي. روني ویستی په یو ژور ځای کې کښینستي. کله چې نوموړی پښه وښورول، د لاری پر سر ښخ شوی ماین وچاودیدي. د ماین د چاودلو دودونه جګ شول. روني ویستی سخت ټپي شو. نوموړی دواړې پښې او یو لاس د لاسه ورکړي خو نور ټپونه يې هم درلودل. د وینو جریان زیات وو خو لا هم ژوندی و. ملګرو يې په بیړه لومړنی مرستي پیل کړي او د وینو ځینې سربیرن شریانونه يې وربند کړل او د مورفیونو یو پلمیټ (د خوړې ټوټه چې مورفین يې درلودل) يې ورکړي کوم چې ټولو سرتیرو د ځانونو سره درلودل. مورفین د خولې له لارې ژر په وجود کې جذبیږي او څو د درد ارامولو تابلیټونه يې هم ورکړل چې دردونه يې یو څه ورته ارام کړل. د مخابرې له لارې يې خبر ورکړي چې یو سرتیری سخت ټپي، اړتیا شته چې په بیړه د سیمې څخه ویستل شي. د باسټون د کمپ څخه چورلکه پر لاری وه. د ټولیدلو په ځای کې د روني ویستی نژدې ملګری هم راغلی. روني ویستی وویل چې زه غواړم ډنمارک ته خپلې معشوقې او کورنی ته ورسیږم. ملګری وعده ور سره وکړل چې حتماً به ډنمارک ته ورسول شي. ملګری غوښتل چې د روني ویستی لاس ونیسي خو دغه ځوان سرتیري دواړه لاسونه د لاسه ورکړی وو. روني ویستی په خپلو سرتیرو ملګرو کې یو ساعت تیر ځوان و. روني ویستی یو ډیر چالاکه سترګور سړی وه د اړتیا په وخت کې په بیړه غبرګون ښودي. نوموړي داسې یو ځوان و چې د خپل ګروپ ملګري ډیر سره نژدې کړي وه او مکلفیتونه يې په ګډه اجرأ کول چې په خرابو حالاتو کې د ژوندي پاته کیدلو سبب ګرځیدي. نورې نړۍ د بارک اوباما وروستی پریکړې ته د افغانستان په تړاو سترګې په لاره وه خو د ډنمارک حکومت د روني ویستی مبارزې ته د ژوندي پاته کیدلو له پاره د کوپنهاګن په مرکزي روغتون کې سترګې په لاره وه. نوموړی څو ځله عملیات شو. سربیره د لاسونو او پښو څخه د نوموړي وجود د انفجار د فشار په پایله کې ډیر ټپي شوی او سخته صدمه يې لیدلې وه. په ډیرو حالاتو کې سرتیري د انفجار د فشار په پایله کې دومره ټپي کیږي چې ژوند د لاسه ورکوي. روني ویستی زاکاریس نیلسن د کوپنهاګن په مرکزي روغتون کې د نومبر پر (۱۸) نیټه په داسې حال کې ساه ورکړه چې ټوله کورنی يې خوا کې ناست وو. روني ویستی زاکاریس نیلسن د دې امکان پیدا کړي چې د خپلې معشوقې او کورنۍ سره خبري وکړي او کله نا کله يې ټوکې هم ور سره کولې. روني ویستی زاکاریس نیلسن د نومبر پر (۲۷) نیټه د کولنبورګ د کلیسا په مړستون کې ښخ شوو. کلیسا دومره ډکه وه چې یو شمیر خلکو د کلیسا څخه بهر په هغه خیمه کې چې د همدې موخې له پاره درول شوی وه، ناست وو او د لوډسپیکر په واسطه يې د مراسمو جریان تعقیبولو. دغه ځوان سرتیري نن د خپل انا او نیکه (د پلار له خوا) و څنګ ته ښخ دي. ملګرو سرتیرو يې د روني ویستی زاکاریس نیلسن تابوت قبر ته کښته کړي تر پوځي سلام وروسته مراسم پای ته ورسیدل او ملګري په روخصتي کورونو ته ولاړل. د روني ویستی ترمرګ وروسته د بارکزو پوځي مرکز یو بد نوم خپل کړي. د جنازې تر مراسمو دوي ورځي مخکې د همهغه پوځي مرکز په خوا کې پر (۲۳) کلن، کینیت پاتریک نیلسن [252] د سرک د غاړې ماین وچاودیدي. نوموړي د کمپ روغتون ته د وړولو په وخت کې ساه ورکړه. سرتیرو د سیمې د پلټلو په وخت کې دري نور د انفجار ورکولو لینونه وموندل. د روني ویستی د ګروپ ټول سرتیري دوباره هلمند ته ور وګرځیدل خو دوي ډیر بدلون موندلی وو. د ټولو سرتیرو مزاج خراب وو. هیڅ سرتیري علاقه نه درلوده چې وروستي عملیات تر سره کړي که څه هم پوهیدل چې دا د دوي دنده ده. د د غې ډلې د سرتیرو څخه د یوه سرتیري روحي حالت دومره خراب و چې نورو سرتیرو پریکړه وکړه چې هغه باید ګزمې ته ولاړ نه شي. د همدغه نفر بیول و ګزمې ته د نورو ژوند ته ګواښ رامینځته کولو. قانون داسې و چې تر وخت څخه مخکې هیڅ سرتیري ډنمارک ته نه استول کیدي. نوموړي سرتیري هم نه غوښتل چې د خپلو ملګرو څخه بیل شي. خو وروسته هغه ته د پرایس کمپ په دننه کې دنده ور کړل شوه.

د ډنمارکیانو د اتمې ډلې څلور سرتیره مړه او (۱۹) تنه ټپیان شول. مخکې تر دې چې اتمه ډله سرتیري د ۲۰۱۰ په فبوري میاشت کې ډنمارک ته ولاړ شي، باید سرتیرو وروستې عملیات د ګرشک په سیمه کې د طالبانو پر ضد تر سره کړي وای. دغه خطرناکه برید د بارکزیو د پوځي کمپ پر شاوخوا د ډنمارکي پوځیانو د دندو یوه برخه وه خو ډګروال مایکل اینګهولم [253] اساسي پلان دا و چې یوه کربښه د سیند د لویدیز څخه ختیز ته وکاږي. برتانوي پوځیانو د ۲۰۰۹ زکال د جون په میاشت کې د ګیبرالټار پوځي مرکز چې د ډنمارکیانو د پوځي مرکز ارمادیلو په مقابل کې پروت و، وتړي. هغه فعالیت چې طالبا

[252] - Kennet Patrick Nielsen
[253] - Michael Engholm

متوقف کړي وو له مينځه ولاړي. د ډنمارکيانو د اتمي پوځي ډلي وروستۍ دنده همدغه وه. دا ځل د لويديز پر لور بايد امنيت تأمين شي. ډنمارکيانو دوه نوي پوځي مرکزونه، بهادور او ګولډ د کينان او سنډ فورډ د پوځي مرکزونو تر مينځ د سيند لويديزي لورى ته جوړ کړل. د مرکزي قوماندې د غوښتني سره سم بايد د ارمانډيلو د کمپ سهيل لوري ته که څه هم ارښت يي لږ و، مرکز جوړ شي. ډګروال مايکل اينګهولم نظر درلودي چي د ارمانډيلو پوځي کمپ بايد په وچه او سيند کي د سيند د غاړې د نوي کرښې په وړاندې بريدونه متوقف کړاى شي. ډنمارکيانو د ارمانډيلو پوځي کمپ څخه يوازې د طالبانو هغه ډلي تهديدولاى شواى کوم چي د لويديز پر لورى په خوځښت کي واى. دا هغه پلان و چي ډنمارکي پوځي ډلي د ملکي مشاورينو، لارس يعقوبسن، ګلين سوانسون، د ګرشک ولسوال او د حکومت د نورو استازو سره په ګډه د سيمي د ښه امنيت له پاره جوړ کړى وو. ولسوال د کينن او د سند فورډ د پوځي مرکزونو د نژدې سيمو څخه ليدنه وکړه. په دغه سطحه پوځي عمليات د ډنمارکي پوځيانو صلاحيت نه وو او نه يي هم توان درلودي. ډنمارکيانو د ۲۰۰۹ زکال د ډسمبر پر (۹) نيټه د عملياتو پلان د برتانوي ضربتي پوځي ډلي قوماندان، جنرال جيمزکاون [۲۵٤] ته د يوې غونډې په ترځ کي چي په باسټون کمپ کي جوړه شوى وه، تشريح کړي. جنرال جيمزکاون او مايکل اينګهولم پريکړه وکړه چي دوي به حالات د نژدې څخه وڅيري. د ډسمبر پر (۱۷) نيټه دوي د چورلکي په واسطه پرسيمه الوتنه وکړه چي جنرال جيمزکاون د ډنمارکيانو پلان تاييد کړي. په دغه وخت کي څو سوه افغان سرتيري هم ګرشک ته راغلل نو په دي ډول د ډنمارکيانو د مسوليت په سيمو کي د پوځيانو شميره زياته شوو. د ډنمارکيانو يو مهم پلان دا و چي افغان سرتيري په دوو نويوو پوځي مرکزونو کي ځاى پر ځاى کړي. عمليات بايد د نوي کال څخه وروسته پيل شي کله چي چورلکي وزګارې شي. ډنمارکيانو ته هم د الوتکو د مرستو وعده په کندهار کي د لوي پوځي مرکز لخوا ورکړل شوه. خو په وروستۍ شيبه کي هغه څه پيښ شوه چي وړاندوينه يي نه وه شوى. د افغان سرتيرو مشر اعلان کړل چي افغان سرتيري په عملياتو کي ونډه نه اخلي او هم نه غواړي چي د ډنمارکيانو په نويو پوځي مرکزونو کي ځاى پر ځاى شي. ايساف پريکړه وکړه چي ادامه ورکړى خو د دوو نويو پوځي مرکزونو ساتل د هميش له پاره بى مفهومه وه. د ۲۰۱۰ زکال د جنوري په دريمه نيټه عمليات پيل شول. د طالبانو د غولولو له پاره يو پوځي مانور د سهيل پر لورى اجرأ شوو. د ډنمارکيانو جنګي ډلي د طالبانو پام ځانته راواړولو. تر (۱۰۰) زيات ډنمارکي او برتانوي سرتيري د چورلکو په ملګرتوب په مرکزي برخه کي پياده شول خو د هيڅ مقاومت سره مخامخ نه شول. کله چي عمليات پاى ته ورسيدل، د عملياتو جريان د پوځ په بريښنايي پاڼه کي په ژوره توګه بيان شو:«ورځ تر بلي ورځي، شپه تر بلي شپي. د ډيرو اونيو په جريان کي ډنمارکي پوځيان په دښته او شنه زون کي وو کوم چي پر دښمن يي ډير فشار وارد کړى وو. مخکي د ډنمارکي پوځيانو اتمي ډلي زيات فشار د ډنمارکيانو د مسوليت په لويديزو سيمو کي اچولى وو. اوس د دي وخت را رسيدلي و چي د ګرشک په سهيل کي پر طالبانو فشار وارد شي. د اتمي پوځي ډلي مشر، ډګروال کارسټن کيا وايي:«موږ د سهيل پر لورى مخته ولاړو کوم چي ډنمارکي سرتيرو پخوا دا چاره تر سره کړى وه. موږ په خپلو پوځيانو دښمن متعجب کړي. عملياتو بايد طالبان د مختلفو لورو تر فشار لاندې راوستي واي او همدا ډول بايد د طالبانو د اکمالاتو لاري وتړل شي. دا چاره په برياليتوب سره سرته ورسيدل چي موږ يي تاثيرات د ډنمارکيانو د مسوليت په سيمه کي احساس کړل.» [۲۵۵] د عملياتو په پيل کي بيا هم د ډنمارکيانو يو سرتيري ووژل شو. سيمون ساير هوفمن [۲۵٦] (۲۳) کلن و چي د مخکښانو د دلګۍ يو موټر يي چلولو. په موټر کي دري تنه وو. کينيت پاتريک نيلسن د موټر څلورم سپرلي و چي څه موده مخکي د بارکزو د پوځي مرکز سره ووژل شو. سيمون ساير او ملګرو يي کينيت پاتريک په ډنمارک کي ښخ کړي، وروسته يي رخصتي تيره او دوباره هلمند ته د وروستۍ دندې د اجرأ له پاره راغلل. سيمون ساير د ډنمارک په هوايي ډګر کي خپل خور ته وويل: شپږ اونى وروسته به سره ووينوو. دغه دري کسان سره همږغي وو چي په موټر کي څلورم نفر نه غواړي. د جنوري په (۸) نيټه د مازديګر پر (۱۷:۴۵) بجې د سيمون د موټر تر کيڼ ټير لاندې د لارې پر سر ښخ شوى ماين وچاوديدي. دري واړه يي هوا ته ګذار کړل خو سيمون هوفمان سخت ټپي شو او ځاى پر ځاى مړ شو. د پوځ د عملياتي قوماندې مرکز دري ځله په خپله بريښنايي پاڼه کي وليکل چي دغه لوي عمليات څه ډول وو خو تر وروستۍ شيبې پورې عام خلک خبر نه شول چي وروسته څه پيښ شول. په ختيزه برخه کي د بهادر پوځي کمپ چي د کينان کمپ او سيند تر مينځ پروت و خو پرته د افغانانو د مرستي او وعدې څخه مو نه شواى کولاى چي په لويديزه برخه کي د ګولډ کمپ د هميش له پاره فعال وساتو. د پنځو مياشتو جګړو په جريان کي ډنمارکي پوځيان ستړي او ستومانه وه. هغه ډله چي د ارماډيلو د پوځي کمپ مسوليت يي درلودي او همدا ډول د ګولډ کمپ د فعال ساتلو له پاره سرتيري موظف کړى، درانه تاوانونه ور واوښتل. کله چي د ژمي موسم را ورسيدي ، د سرتيرو شميره د (۱۳۰) تنو څخه يوازې (۹۰) تنو ته را لږ شوو. د پوځي ډلي يو شمير سرتيري مړه، ټپيان او يو شمير يي ډنمارک ته وليږل شول ځکه يا يي کولاى نه شواى چي نور جګړه وکړي او يا يي هم کورنۍ ستونزې درلودي. ډنمارکيانو په ډيرو مشکلاتو ګولډ کمپ نورې دري اونۍ وساتي خو وروسته هر څه پاى ته ورسيدل. د ډګروال مايکل اينګهالم له پاره چي د عملياتو طراح و، دغه حالت ډير وزوراوه خو په اړتيا يي اعتراف وکړي.

[۲۵٤] - James Cowan
[۲۵۵] - Karsten E. Kjær
[۲۵٦] - Simon Sejer Hoffmann

مایکل اینګهالم وايي: «موږ په طبعي ډول ډېر خوابدي شولو چې ولې مو د نهمي ډلي تر راتلو پوري صبر ونه کړای شواي مګر په حقیقت کي نورنه کېدل. پرته د افغانانو د مرستي څخه موږ باید خپل غوښتني لږ کړو. موږ ډېر تلفات لیدلي وو چې دا یو څرګند واقعیت و. زموږ سر و کار د انسانانو سره وو او موږ د دغو انسانانو مسولیت درلودي. مګر په بدل کي د سیند په ختیزه برخه کي موږ ته بریالیتوب نصیب شوی وو، کوم چې خلکو ډېره مینه درلودل چې زموږ سره ګډ کاروکړي.» د ډنمارکیانو مشر قوماندان، کارستن کایر [۲۵۷] د انګریزانو جنرال، جمیز کارون ته د پریکړې خبر ورکړي. مایکل ایګهولم نه غوښتل ووایي چې ډنمارکیان د پیل څخه لږ شمیر وو. ستونزه د احتیاط سرتیرو کمښت وو. د ډنمارک د جګړې پوځیان پوهېدل چې د یو ځای نیول او بیرته پریښودل لویه ستونزه ده. د سیمي د خلکو په مینځ کي د ډنمارکیانو اعتبار له مینځه ځي. دا یوازې د شیلي پورتنۍ برخه نه وه، د کال بدلون ډېر ډراماټیک و. عبدالرازق ډېر کلونه د ګرشک د پولیسو مقتدره مرستیال قوماندان و. دا رازق او د نوموړي پخواني وسلوال وه چې په بیړنیو حالاتو کي تر ټولو مخکي حرکت کاوه کله به چې پر کومي پوستي برید شوی و. ډنمارکیان پوهېدل چې عبدالرازق پټي اړیکي لري خو وروسته څرګنده شوه چې نوموړي یوازې په قدرت او زور سره خلک پیدا کولای نه شي او ډېر سپین خلک هم نه پیدا کیږي چې تاریکه برخه و نه لري. خو سره د دغو ټولو خبرو موږ (ډنمارکیان) حیران شولو چې افغان پوځیانو د ۲۰۱۰ زکال د جنوري په میاشت کي عبدالرازق بندي او د هغه لاري موټرچي د اومو تریاکو څخه ډک وو، ضبط کړي. د ډنمارک د جګړې سرتیري اندیښمن وو چې د رازق پلویان به وسلي ته لاس واچوي او د دغه عمل پر ضد به وسله وال غبرګون وښیي. تقریباً سلو تنو پوځیانو پولیس کلابند کړل او رازق یې ونیوي. عبدالرازق یې د لښکرګاه محبس ته انتقال کړي خو لږ وخت وروسته یې باید کابل ته انتقال کړی واي ځکه نوموړي د یو پټ ګرځنده ټلیفون په مټ د خپلو ملاتړو پولیسو سره اړیکي ساتلي. دري میاشتي وروسته کله چې د ډنمارک ورځپاڼي، پولیټیکن د موضوع په تړاو معلومات خپور کړي، ډنمارکیانو ومنل چې موږ د رازق په پټو اړیکو خبر وو. مایکل ایګهولم وویل: « داسي نه ده چې د افغانانو مځکه وټکوي نو مسلکي، منظم او فعال پولیس، ور څخه رازیږي. نوموړي په تأکید وویل چې تر اوس پوري زموږ شناخت د ګرشک څخه سربیرن (سطحي) دي. کله چې ما ویل چې زما تر کنترول لاندې دي، مانا یې داده چې ممکن زما پیژندګلوي په سربیرنه توګه لسمه برخه وي خو موږ خپله ټوله هڅه کوو څه چې په واک کي لرو.» د رازق تر زنداني کېدلو وروسته د پولیسو په مشرتابه کي ډېر بدلون راغي. د قوماندان او مرستیال قوماندان مقامونه څو ځله لاس پر لاس شول. په دغه وخت کي د لویي لارې د ساتلو د پوستي د فساد څخه ډک مشر، حاجي اسمارایي خپل چانس ته انتظار ایستي. فقط یوازې په هلمند کي د پولیسو په مقامونو کي تغیر او تبدیل را نغلي. په ډنمارک لویه جنجالي موضوع دا وه چې پوځ ته پرمختګ ورکړل شي.

[۲۵۷] - Karsten Kjær

## په کور دننه کې ګډوډي

۲۰۱۱ ـ ۲۰۱۲ ز کلونه

د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر ۹ نیټه: د دفاع وزیر، سیون ګید د یولند پوست د ورځپاڼي سره په مرکه کې خبر شو چې د پخوانیو ښکاري سرتیرو څخه یو سرتیري، تاماس راتساک [۲۵۸] یو کتاب، د «د ښکاري سرتیرو پټ عملیات په افغانستان او عراق کې) تر عنوان لاندې لیکلی و.

د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر لسمه: د دفاع وزارت د قوماندې مرکز غوښتنه درلوده چې ډیرې برخې یې لیرې شي ځکه د دوي د ارزوني له مخې د ډنمارکي سرتیرو له پاره د ژوند ګواښ رامینځته کولای شي.

د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر ۱۴ نیټه: د دفاع وزارت د قوماندې مرکز د مطبعې [۲۵۹] سره تر ډیرو چنو وروسته غوښتنه وکړه چې د کتاب د منع کولو له پاره د محکمې پریکړه تر لاسه کړي.

د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر ۱۶ نیټه: د پولیټکن مطبعې د ښکارې سرتیرو د جګړې په تړاو څه اضافه مواد خپاره کړه.

د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر ۲۱ نیټه: محکمې د کتاب د بندولو پریکړه ونه کړه ځکه کتاب خپور شوی وه خو د دفاع وزارت سره یې ومنل چې کتاب د سرتیرو د ژوند له پاره ګواښ جوړولای شي.

د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر ۲۲ نیټه: د دفاع وزارت څارنوال د کتاب مولف، تاماس راتساک تورن کړي چې د محرمیت د راز قانون یې تر پښو لاندې کړی دي او پوځي محرم رازونه یې بربنډ کړی دي.

د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر ۲۴ نیټه: د دفاع وزارت د بریښنایي چارو مشر وایي چې نوموړي د همدغه کتاب عربي ژباړنه په انټرنیټ کې پیدا کړه. د دفاع وزیر، سیون ګیده د پارلمان د بهرنیو چارو شورا او د عامه پوهاوي له پاره د کتاب عربي ژباړنه د دلیل په توګه وړاندې کړه چې دغه کتاب سرتیرو له پاره خطرناکه دي.

د ۲۰۰۹ زکال د اکتوبر لومړی نیټه: د پوځ لوي درستیز، تیم سلوت یونسن وویل چې د بریښنایي چارو مشر ومنل چې ژباړنه یې د تخنیکي میتود په مرسته موندله.

د ۲۰۰۹ زکال د اکتوبر ۴ نیټه: تیم سلوت ینسن د لوی درستیز د مقام څخه استعفاء وکړه.

د ۲۰۱۰ زکال د فبوري ۲۲ نیټه: د دفاع وزیر، سیون ګیده استعفاء وکړه.

د ۲۰۱۰ زکال د اکتوبر ۲۰ نیټه: د دفاع وزارت څارنوال د کتاب د مولف د دوسیې څخه لاس په سر شو.

کله چې د ۲۰۰۹ زکال د سپټمبر پر (۹) نیټه ټلیفون زنګ وواهه، د دفاع وزارت د قوماندې په مرکز کې یو لړ غبرګونونه پیل شول. ټلیفون د دفاع وزارت څخه و، د مرکز مشر، بیان بیسروف [۲٦۰] ګوشي اوچته کړه. وروسته نوموړی لوی درستیز تیم سلوت ته خبر ورکړي. د خبر لنډیز، د ستونزو ډک کتاب د ښکاري سرتیري، تاماس راهک لخوا خپور شوی دي. لږ مخکې د دفاع وزیر، سیون ګیده د یولند پوسټن ورځپاڼي سره په مرکه کې همدا خبر تر لاسه کړی و. ورځپاڼه غواړي د کتاب په اړوند چې د افغانستان د ښکاري سرتیرو د پوځي عملیاتو پټ رازونه دي، بربنده وي، لیکنه وکړي. وزیر ډیر نا ارامه و او موضوع یې د دفاع وزارت د قوماندې مرکز ته ولیږل. خو په مرکز کې هیڅ چا د کتاب په تړاو معلومات نه درلودي. موضوع په چټکی د دفاع وزارت په مشرتابه کې خپره او اندیښنې یې وپارولي او څرګنده شوه چې د کتاب بریښنایي بڼه نه یوازې د یولند پوسټ بلکې د نورو رسنیو لاسونو ته هم لویدلي ده. په بیړه یې د کتاب یوه نسخه وموندله. د قوماندې د مرکز ډیرو کسانو د کتاب په لوستلو پیل وکړي خو تیم سلوت یونسن کتاب نه لوستی. نوموړی وویل دا یوازې یو کتاب دي او ځینې کسانو ته یې دنده ورکړه چې کتاب وڅیړي. نوموړی د کار د وخت وروسته کور ته ولاړي. په همدغه شپه د شپې پر (۲۳:۱۵) بجو د دفاع په وزارت کې د کتاب په تړاو غونډه جوړه شوه. په غونډه کې د دفاع وزارت، د قوماندې د مرکز،

[۲۵۸] - Thomas Rathsack

[۲۵۹] - Forlaget Peoples press

[۲٦۰] - Bjørn Bisserup

د څارګرۍ اداري مشرانو ګډون درلودي. همدارنګه د ښکاري سرتیرومشر، مایکل هیولډګورډ [٢٦١] هم په غونډه کې ګډون درلودي. نوموړي د هغو ښکاري پوځیانو څخه استازیتوب کولو، که سرتیرو ته خطر وي نو دوي د خطر په سر کې قرار لري. په غونډه کې ډیرو اندیښنو شتون نه درلودي. د اندیښنو په پرتله د کتاب په تړاو غوصه ډیره وه. هغه پوځیان چې افغانستان ته د لیږل شوو مخکښنو سرتیرو سره ډیر نژدي وو، ګومان یي نه کولو چې دوي ته به د امنیت په لحاظ ډیر ګواښ شتون ولري چې دوي دي په بیړه خپلې دندې ودروي. په دغه نظر سره د ښکاري پوځ او د عملیاتو د قوماندې د مرکز مشران همږغي وو. په غونډه کې د عملیاتو د مرکز کوم استازی ګډون نه درلودي خو د ټلیفون پر کرښه یي د غونډې د جریان معلومات ورکولو. د همدغې شپې په تړاو د راتلونکي شپې په غونډو کې د عملیاتو د قوماندې د مرکز مشرتابه په ټینګار ویل چې ټول هغه سرتیري چې فکر کیږي، ژوند ته یي د کتاپ د خپرولو په وجه ګواښ شته، کولای شي خپل ژوند په ارامي دوام ورکړي. که کتاب د محکمې په پریکړه منع اعلان شي، کتاب او سرتیرو ته ډیره پاملرنه اوړي. کله چې د پنجشنبې د شپې پر (٠١:٢١) بجې غونډه پای ته ورسیدل، د غونډې لنډیز د ایمیل په واسطه د پوځ او د دفاع وزارت ټولو کلیدي کسانو ته ولیږل شو. وروستی ارزونه داسې وه: سره د دې چې په کتاب کې مهم پټ رازونه بربنډ شوی دي، خو دومره هم موضوع جدي نه ده چې ټول توان د کتاب پر بندولو او لیکوال محکمې ته په سپارولو ولګول شي. دغه ارزونه د اوس وخت له پاره کافي وګڼل شول. د کتاب څخه ټول معلوماتونه ژور وڅیړل شي. د دفاع وزارت د څارګرۍ اداري استازي تیار نه وو چې د کتاب د خپرولو په وجه د احتمالي خطر د پیښیدو د جدي والي په تړاو ارزونه وړاندې کړي. څارګره اداره به دغه ارزونه وروسته وړاندې کړي. برسیره پر دغه د شپې په غونډه کې یو مهم سړی، ډګروال هنس ـ کریستین ماتیسین [٢٦٢] کم و. نوموړي د پوځ د عملیاتو د قوماندې په مرکز کې د یوې څانګې مشر و. تر اوه ساعته وروسته حالت بدل شو. د مرکزي سټاپ مشر، بیوان بیسروپ امر وکړي چې د سهار پر (٨:١٥) بجې د لوی درستیز، تیم سلوت یونسن په دفتر کې غونډه جوړیږي. د نوموړي سره ډګروال هنس ـ کریستین ماتیسین هم ملګری وو چې کتاب یې لوستي و. دواړو لوي درستیز ته وویل چې کتاب یوه جدي ستونزه ده خو دا یې ورته و نه ویل چې د مخکښانو مشر او عملیاتي مرکز قوماندانی نظر لري چې د ستونزې برسیره ګذاره ور سره کیږي. لوی درستیز اوس وایي:«چې هر څه ماته روښانه نه وو. ما چې څه واوریدل داسې یوه شوم چې ټول په یوه خوله وایي چې د کتاب خپریدل ستونزه ده.» لوي درستیز ته د کتاب بیلې برخې چې ګواښ یې رامینځته کولای شوای، بیان شوي خو په ځانګړې توګه څورلسم (١۴) څپرکی ډیر خطرناکه وه. دلته د کتاب لیکونکي یو پټ پوځي عملیات رسوا کړي وو، کوم چې لیکوال د خپلو پنځو پوځي ملګرو سره باید (پټ عملیات) [٢٦٣] د افغانانو سره په ګډه د یو پټ اجنټ سره مرسته وکړي او هغه وساتي. د اجنټ مستعار نوم ایریک [٢٦٤] و. خو نوموړي د اجنټ ملیت، د عملیاتو وخت او نیټه رسوا کړی نه وه. وروسته څرګنده شوه چې اجنټ د دفاع وزارت د څارګرۍ اداري یو تن و. لوي درستیز وپوښتل چې اوس څه وکړو؟ د لوي درستیز یو ښه عادت دا و چې د خپلو پوځیانو سره یې په زړه خلاصي خبري کولې او غوښتنه یې کوله چې د غونډې د ګډون کوونکو په نظریاتو وپوهیږي. هغه کسانو چې کتاب لوستي وو، نظر یې درلودي: که کتاب مخکې تر چاپ کیدلو زموږ لاس ته راغلي وای، اړتیا وه چې لیکوال ته مو ویلي واي چې ډیر ځایونه یې باید بدلون وکړي او مخکې تر چاپ باید د دفاع وزارات له خوا تایید شي. وروستی پایله دا شوه چې د کتاب خپریدل سخت امنیتي ګواښونه رامینځته کولای شي. دوهمه د بحث موضوع دا وه چې څومره انرژي مصرف شي چې د کتاب خپریدل منع شي. همدا شیبه کتاب د ډیرو رسنیو لاس ته ورغلي دي خو په بازار کې پلورلو ته وړاندې شوی نه دي. موږ دا ډول تحلیل وکړي که پریږدو چې د کتاب په خپریدلو هیڅ هم پیښ شوی نه دي، کیدلای شي د ستونزو ډک معلوماتو ته څوک پام هم و نه کړي. تیم سلوت یونسن وایي: زما مهمه دنده دا وه چې د استولو سرتیرو ژوند وساتم. که زه پوهیدلای چې د کتاب خپرول زما سرتیرو ته ګواښ رامینځته کولای شي، باید یو څه مې کړي وای. پوښتنه دا وه چې د پوځ مشر څه کولای شي. تیم سلوت وایي د محکمې د پریکړې په واسطه د کتاب پر منع کولو بحث وشو خو پریکړه و نه شوه. په بدل کې د پوځ مشرتابه د اړوندې مطبعې سره اړیکې ونیولې. تیم سلوت یونسن وایي چې موږ د مطبعې سره خبري وکړي چې د کتاب د چاپولو څخه صرفنظر وکړي او یا ځینې اړین بدلونونه ور په کښې راوړي. په همزمانه توګه بیوان بیسروف د عملیاتو د قوماندې مرکز او د ښکاري پوځ مشرتابه ته امر وکړي چې یو ځل بیا پر خپلې ارزونې مرور وکړي. په یو بله غونډه چې د ورځې پر (٩:۴٥) بجې د دفاع په وزارت کې جوړه شوه، بیان بیسروپ او د ډیپارټنټ امر، لارس فیدسن [٢٦٥] معلومات وړاندې کړل. لوی درستیز وروسته وویل چې په غونډه کې بحث و نه شوو. لارس فیدسن او نور مشران یوازې د دې له پاره غوښتل شوی وو چې لوي درستیز ورته ووایي چې کتاب خطرناکه دي. په همدغه سهار نوموړي کتاب د عامه خلکو تر مینځ توده

---

[٢٦١] - Michael Hyldgaard

[٢٦٢] - Hans – Christian Mathiesen

[٢٦٣] - Under Cover

[٢٦٤] - Eric

[٢٦٥] - Lars Findsen

موضوع شوه. د یولنډ پوستن ورځپاڼي په لومړي مخ کې یوه مقاله تر (د ډنمارک ځانګړي سرتیري پټ عملیات کوي) سرلیک لاندې خپره کړه. په مقاله کې بیان شوی وو چې د ډنمارک ښکاري سرتیري په افغانستان کې نور داسې عملیات کوي چې د ډنمارک خلک ورڅخه خبر نه دي. دغه معلوماتو سوسیال ډموکراټان، سوسیالیست او یو موټې ګوندونه وهڅول چې د دفاع د وزیر څخه توضیح وغواړي. د دفاع وزیر، سیون ګیده هغه غونډې ته چې مخکې د پوځې چارو په تړاو د ګوندونو تر مینځ جوړه شوې وه، د ورځې پر (۱۲) بجې شفاهي معلومات وړاندې کړي. په غونډه کې بیان بیسروپ هم شتون درلودې، د غونډې ګډونوالو ته یې خبرداري ورکړي چې نوموړي کتاب امنیتي خطرونه رامینځته کولای شي. مګر نوموړي دا و نه ویل چې په پوځ کې نورې ارزونې هم وې. ګوندونه د معلومات څخه راضي شول. وروسته بیان بیستروپ د پولیټکن ورځپاڼې ته وویل چې په غونډه کې د ګوندونو استازو پوښتنه و نه کړه چې پرته د رسمي نظر څخه په پوځ کې نور نظرونه هم وو که یا؟ نوموړی وایي که زما څخه پوښتنه شوی واي ما به حتماً ټول مسایل ورته بیانول. سره د دي چې د عملیاتو قوماندانی ډیر فشارراوړی خو بیا هم ډګروال هینرک سومر بل نظر درلودی. ډګروال هینرک سومر د ورځې پر (۱۳:۱۳) بجې یو سند د ایمیل په واسطه ماتینسن [٢٦٦] او مورټن ډانیلسون [٢٦٧] د عملیاتو د قوماندانۍ سکرترانو مشرانو ته ولیږي. اسناد په کار کې د ګټې اخیستلو له پاره ټاپه شوي وو او تاکید شوی وو چې خپور شوي کتاب د سرتیرو اوسنی او راتلونکي کارونو ته سخت زیان رسوونکي دي. د عملیاتو قوماندانۍ څرګنده کړه چې ډیر اصلي معلوماتونه یا زاړه دي او یا هم د فلم په ډول او یا د مخکښانو سرتیرو د کتابونو او یا هم زموږ خپل په مقالو کې بیان شوی دي. دا هم وویل شول چې د کتاب لیکونکی، ټامس راتهک په کتاب کې داسې معلومات خپاره کړي نه دي چې د راز پټولو قانون یې تر پښو لاندې کړی وی. نوموړي د راز پټولو هغه قانون تر پښو لاندې کړی دي کوم چې امنیت ګواښ جوړولای شي او نوموړی ته د مقرري په پیل کې بیان شوی وه. په اسنادو کې راغلي دی چې په کتاب کې ځانګړي معلوماتونه نه شته چې نوموړي د راز پټولو د قانون په ماتولو تورن شي. د عملیاتو قوماندانۍ نه پوهیدل چې ټامس راتهک د انګریزي پوځې تمریناتو په تړاو تشریح د راز پټولو د قانون ماتول په بر کې نیسي که یا؟ همدغه علت و چې د ټامس راتهک په وړاندې وظیفوی سزا او یا تر عدلي تعقیب لاندې نیول د پوځ په دننه اسنادو کې توصیه شوی نه وه. مګر بله ورځ (د سپټمبر ۱۱) د ځانښت پر وخت بالاخره د پوځ د څارګرې ادارې څخه یو معلومات راورسیدي. په کتاب کې یو ځانګړی پراګراف ستونزه نه وه. د پوځ د څارګرې ادارې ارزونه دا وه چې کتاب په ټولیزه توګه خطرناکه دي. نو ځکه دا نظر تر بحث لاندې ونیول شوو چې د کتاب ټاکلی ځایونه اصلاح شي او که ټول کتاب د پیل څخه بیا ولیکل شي. موضوع جدي پړاو ته ننوته.

یوه ورځ مخکې سهار د وخته ټامس راتهک د ګرځنده ږغ لیږد (موبل) ټلیفون په الارم را ویښ شو. نوموړي سمدلاسه د ټیوی ټو د خبرو [٢٦٨] چینل چالان کړي. د ټلویزون پرپرده د بیړني خبر علامه را څرګنده شوه او وروسته د تلویزیون پر پرده د نوموړي کتاب راښکاره شو. نوموړی خپل ګرځنده ټلیفون وکتي چې (۴۶) بې ځوابه زنګونه او (۲۷) اس ام اس (پیغامونه) د ژورنالیستانو له خوا راغلي وو. نوموړی تر دي وروسته یوازې یو سرتیري نه وه کوم چې یو کتاب یې لیکلي و. نوموړی هغه اساسي سړي و چې موضوع یې ډیره نا ارامي رامینځته کړی وه. د عملیاتي مرکز د اړیکو مشر، لارس سیونډرسکوو [٢٦٩] په دا بله ورځ رسنیو ته وویل چې د ښکاري پوځ پخواني سرتیري د رازپټولو قانون مات کړی دی. په کتاب کې داسې پراګرافونه شته چې د هیواد امنیت ته د پردیو په مقابل کې خطر رامینځته کوي، موږ د پوځ څارنوال د موضوع د څیړنې له پاره موظف کړی دي. د پولیټکن او بیرلینګس ټیدنه ورځپاڼو د کتاب د لیکونکی سره د کتاب د منځپاګې په تړاو مرکه وکړه. د پولیټکن ورځپاڼې سره د مخکښانو پخواني سرتیري، ټامس راتهک د پوځ د مشرتابه د شکایتونو او نیوکو په وړاندې دفاع وکړه. نوموړي وویل چې زما کتاب د هیواد امنیت ته د بهرنیو قدرتونو په وړاندې هیڅ خطر نه رامینځته کوي. او زه بشپړ باور لرم چې زما کتاب زما د سرتیرو ملګرو ژوند ته د مرګ ګواښ او یا امنیتي خطر نه رامینځته کوي. ډیرو زما ملګرو سرتیرو کتاب لوستلی دي او دوي کومه ستونزه نه ویني او دوي ځان د کتاب د خپرولو په وجه په بشپړ امنیت کې احساسوي. زه هیڅ داسې څه نه وینم چې زما کتاب د سرتیرو په مینځ یو تن ته او یا د پوځ په مینځ کې د نورو پوځیانو ژوند ته کوم خطرناکه ګواښ او تهدید رامینځته کړي. وروسته نوموړي هڅه وکړه چې د رسنیو سره پټه خوله واوسي تر څو خپل موضوع ویجاړه نه کړي. په دغه وخت کې د پوځ بحثونه د مطبعې سره کوم ګډ تفاهم ته و نه رسیدل. نوځکه پوځ د وکیل له لارې هڅه وکړه چې په قانوني ډول د کتاب خپرول بند کړي. لوی درستیز هم یو غیري عادي چلند وکړي، د مطبعو څو مشرانو ته یې د سپټمبر پر (۱۴) نیټه لیکونه ولیږل. د بیلګې په توګه د پولیټکن د مطبعې مشر، ټویه سیدین فیدن [٢٧٠] ته یې لیک داسې پیل کړي:«ګرانه ټویه! زموږ بشپړ باور داسې دي چې د کتاب منځپانګه په انفرادي

[٢٦٦] - H.C. Mathiesen

[٢٦٧] - Morten Danielsson

[٢٦٨] - TV 2 news

[٢٦٩] - Lars Sønderskov

[٢٧٠] - Tøger Seidenfaden

او ټولیزه توګه زموږ امنیت ته خطر رامینځته کولای شي که کتاب غلطو لاسونو ته ورسیږي. موږ کافي وخت درلودي چې د کتاب په اړوند ژور معلومات وړاندې کړو چې چیري او ولې موږ ستونزې وینو او عامو وګړو ته معلومات ورکړو چې زموږ د اندیښنو څخه په درست ډول وپوهیږي. مګر دغه ژور معلومات د ځینو څرګندو دلایلو په وجه اوس ممکن نه دي.»

لوی درستیز لیکنې ته داسې دوام ورکړي:« زه د اړتیا له مخې هیله کوم چې په رسنیو کې د کتاب د منځپاګې څخه د معلومات ورکولو څخه ډډه وکړي. لږ تر لږه تر هغه وخت پورې چې زموږ پر موضوع په محکمه کې پریکړه وشي.» هیله لرم چې د فهم وړ مو وګرځي. اوس لوی درستیز، تیم سلوت یونسن وایې چې زه امیدواره وم چې د رسنیو مشران به زما د لیک په مطابق عمل وکړي. هغه څه چې هره ورځ نه پیښیږي، کیدلای شي زما اړیکې نیول د لیک په واسطه پر رسنیو اغیزه وښندي. یوه ورځ وروسته د پولیټکن ورځپاڼې مشر، ټویه سیدین فیدن داسې ځواب ولیکي:« زه په بشپړه توګه پوهیږم چې کیدلای شي امنیتي دلایل شتون ولري چې رسنۍ هم باید درناوی ورته ولري چې دقیق معلوماتونه د ډنمارکي سرتیرو ژوند ته ګواښ جوړولای شي، باید د رسنیو لخوا خپاره نه شي. خو زه باور نه لرم چې دغه کتاب چې یو څه وخت کیږي د رسنیو له خوا بحثونه ور باندې جریان لري، داسې خطر رامینځته کړي. ما ته په ځانګړي توګه د پوښتنې او سوچ وهلو خبره ده، که پوځ په ټولیزه توګه د کتابونو د خپرولو د څار مسولیت پر غاړه اخلي پرته له دې چې ځانګړې برخه د دلایلو په وړاندې کولو را په ګوته کړي. خو دومره وایم چې دغه او یا هغه کتاب په ټولیزه توګه ملي امنیت ته خطر دي. نو ځکه وعده کولای نه شم چې موږ په دغه ټاکلي موضوع کې معلوماتونه د خپرولو څخه لیري کړو خو موږ د کتاب د منځپاګې د بشپړو خپرولو مسول یوو.» دغه ځواب لوی درستیز، تیم سلوت یونسن چې د ایمیل په واسطه یې تر لاسه کړی و، سخت په غوصه کړی و. تیم سلوت یونسن وایې چې ما فکر کولو چې زما لیک به پر هغه اغیزه وکړي. د سپټمبر پر (۱۶) نیټه د پولیټکن د ورځپاڼې سره یو ځای ټول کتاب خپور شو. موخه دا وه چې ټول خلک کتاب ولولې مخکې له دې څخه چې محکمه یې د نه خپریدلو پریکړه وکړي. ټویه سیدین فیدن وویل چې زه د پیپل پریس مطبعې د چلند څخه پوهیدلم چې کتاب یې خپور کړي او ځکه ما هم چاپ کړي چې نوموړي مطبعه یوازې پاته نه شي. دپیپل پریس مطبعې د پولیټکن وړاندې شوی دلیل ونه مني نو ځکه لیکلي او شفاهي شکایت یې وکړي خو وروسته د کتاب د عوایدو پر ویشلو سلاه شول. کله چې پولیټکن کتاب خپورکړي، تیم سلوت یونسن د لومړي ځل له پاره ټول کتاب ولوستي مخکې ځانګړې برخې لوستې وي. د کتاب لوستلو د لوی درستیز نظر ته بدلون ور نه کړي او ټینګار یې کولو چې د کتاب په خپرولو د هیواد امنیت ته ګواښ جوړیدلای شي نو ځکه د پولیټکن د ورځپاڼې څخه یې پولیسو ته شکایت وکړي. د سپټمبر پر (۲۱) نیټه محکمې د کتاب د بندولو غوښتنه رد کړه. د محکمې قاضیانو په همږغي پریکړه وکړه چې کیدلای شي د کتاب معلوماتونه امنیت ته ګواښ وي خو کتاب په پراخه کچه خپور شوي دي، بندول یې بې ګټې چاره ده. تیم سلوت یونسن اوس وایې چې د کتاب بندول به بې ګټې چاره وه خو موږ محکمې ته په اثبات ورسول چې د کتاب خپرول خطرناکه لوبه وه او زموږ د پاره یو بریالیتوب و چې د محکمې غړو زموږ دلایل ومنل. لږ وروسته د کتاب لیکونکي راز نه پټولو او پوځي اسنادو په بربنډولو تورن شو. دا یو سخت تهمت و. د پوځي جزایي قانون په اساس د راز نه پټولو جزا تر (۸) کاله پورې زندان دي که دا چاره عمدي شوی وي.

موضوع د مخکښانو سرتیري سره وویشل. صداقت، د راز ساتل او وروړګلوي د مخکښانو سرتیرو هغه ځانګړتیاوې وي چې د ۱۹۶۱ زکال را ورسته یې درناوي ورته کولو. پوښتنه دا ده چې ټامس راته هک د خپل کتاب په نوشته کولو سره د مخکښ سرتیرو د پټو عملیاتو څخه پرده پورته کړه؟ یا دا چې پوځ د ملي امنیت د اصطلاح څخه ناوړه ګټه پورته کړه او د پردیو څخه د خطر د ګواښ له پاره یې وکاروله؟ د مخکښانو د ګروپ پخوانیو سپین ږیرو سرتیرو یاد دي چې په ۱۹۶۰ زکلونو کې دوي په کومه کچه د څارګرو ادارو تر څار لاندې وو کله به چې په البورګ کې د موزیک او نڅاه د خوښیو له پاره تلل او بیر به یې څښل. یوه شپه په البورګ کې تر جشن وروسته په  بل سهار د مخکښانو ټول سرتیري د البورګ پوځي اډې ته را وغوښتل شول. دوي ته خبرداري ورکړل شوو چې د جشن په سالون کې د پوځ د څارګرې ادارې مسول کسان وو او د دوي سره یې شراب وڅښل تر څو پټ معلوماتونه د مخکښانو سرتیرو څخه په لاس راوړي. په پوځي ټولګي کې د شامليدو د پیل څخه په کراتو ورته ویل کیدل چې د خپلو عملیاتو په تړاو باید چوپه خوله وی او هیچا ته معلومات ور نه کړي. مخکې د مخکښانو سرتیرو څخه، کارستن میورک [۲۷۱]، ب.اس. کریستینسن [۲۷۲] او پاول ډهل [۲۷۳] کتابونه د مخکښانو د پوځ په اړوند لیکلي وو. خو لوی توپیر دا و چې په هغه وخت کې ډنمارک په دومره لوړه کچه په جګړو کې ښکیل نه و، کوم چې د ۲۰۱۱ زکال د سپټمبر تر (۱۱) نیټې څخه وروسته په جګړو کې ښکیل شو. په همدغه خاطر ټامس راته هک (۲۲۹) شمیره مخکښ سرتیري و چې د لومړي ځل له پاره یې د خپل پوځي ټولګې د پټو عملیاتونو څخه په عراق او افغانستان کې پرده پورته کړه. موضوع د پخواني او اوسني مخکښو سرتیرو تر مینځ لوی توپیر څرګند کړي. کیدلای شي نوموړی کمزوري او احمق وي چې د خپلو ملګرو سرتیرو ژوند یې د ګواښ سره مخامخ کړي. او یا هم کیدلای شي نوموړي یو اتل وي چې د پوځي ټولګې دننه حالت یې بیان کړي. د مخکښانو مخکني مشر، پاول داهل عامو خلکو ته په بیان کې د کتاب د

---

[۲۷۱] - Carsten Mørch

[۲۷۲] - B.S. Christiansen

[۲۷۳] - Poul Dahl

لیکونکي څخه دفاع وکړه. د نوموړي په آند د کتاب چاپول کوم امنیتي خطر نه رامینځته کوي. نوموړي د ټامس راته هاک د فیسبوک په پاڼه کې ولیکل:«مخته ولاړ شه ته ګټونکي یې» د مخکښانو سرتیرو څخه یو تن، ایریک یونسن [۲۷٤] په ۲۰۰۸ زکال دنده پرېښوده. نوموړی افغانستان او عراق ته لیږل شوی و او پر ټامس باندې د پوځ د مشرتابه په برید کولو نه پوهیدي. نوموړي د پولیټیکن ورځپاڼې ته وویل: «موږ د ځانګړو کار پوه مخکښو سرتیرو د کمبود په تړاو همیشه ږغیږو او دغه کتاب طلایي میوه ده چې د مخکښانو ټولګي له پاره نوي سرتیري پیدا کړو. موږ د هغه نفر په اړوند ږغیږو چې په ریښتیا یې خپل پوځي ټولګي خوښه ده. په حقیقت کې نوموړي کتاب د مخکښانو سرتیرو د پاره لوستي دي او دا کار یې په بشپړ صداقت کړی دي.» همدا ډول ټولو مخکښو سرتیرو چې په دنده کې وه، د کتاب د لیکونکي څخه ملاتړ کولو. د دغو معلوماتو ورکول عوامو ته ځکه کیدونکي نه وه چې د مخکښانو سرتیرو د مشرتابه نه خوښیدل. یوه سرتیري د کتاب د لیکونکي د فیسبوک پر پاڼه ولیکل: « زه به نور او نور زموږ د کار فرمایانو پر غبرګون ستا د کتاب په اړوند متعجب شم، خو هیله مې داده چې د ټولو تهمتونو په وړاندې بریالی شې.»

د پوځ د قوماندې په مرکز کې ډیرو فعالیتونو جریان درلودې. په ځانګړې ډول هغه وخت چې ټول کتاب د پولیټکن ورځپاڼې له لوري چاپ شو. د پوځ د قوماندې د مرکز مشر سکرتر، برید جنرال مورتین دیانیلسون وروسته د غمجن روحي حالت په تړاو ولیکل:«موږ د پولیټکن مشر چې په خپلو غوږو خبرو یې شخړه رامینځته کړي ده.» د سپټمبر پر (۱۲) او (۱۳) نیټو چې د اونۍ روخصتي ورځې دي، مورتین ډانیلسون خپل کمپیوټر ته کښیناست، هغه مفکور چې ورته پیدا شوی ده، تعقیب یې کړي. نوموړي تلاش وکړي چې د کتاب ژباړل شوی بڼه په عربي ژبه په انټرنټ کې ومومي. د دوشنبې په سهار مورتین ډانیلسون د پوځ د کمپیوترو مشر کار پوه، یسپر بریزی [۲۷۵] ته دنده وسپارل چې د کتاب عربي ژباړنه پیدا کړي. د مشر سکرتر د وینا له مخې د کمپیوترانو کار پوه څو ورځې وروسته خبر راکړي چې د کتاب عربي ژباړنه یې وموندل. د سپټمبر پر (۲۴) نیټه د کمپیوترانو کار پوه د کتاب عربي ژباړنه جنرال ته وسپارل. د کامپیوټر کارپوه جنرال ته وویل چې د عربي ژباړنې برخه یې د ځان سره پټه کړی ده. جنرال ورته وویل چې د کتاب د پټولو کوچنې اله (اوزبي) [۲۷٦] د اړیکو نیولو مشر، لارس سیونډر سکوو [۲۷۷] ته تسلیم کړي. دا چې کتاب په عربي ژبه ژباړل شوی و، نو دا یو سند و چې حکومت او د پوځ د قوماندې د مرکز مشرتابه دلیل راوړي چې د کتاب خپرول د ملي امنیت له پاره خطرناکه چاره وه. اوس نو د القاعدې ترهګر ګروپ کولای شي چې د کتاب جزییاتو باندې په بشپړه توګه وپوهیږي. دوي ته به څرګنده شي چې د ډنمارک سرتیري د جګړې په ډګر کې په څه ډول پټ عملیات تر سره کوي. په همدغه ورځ د ډنمارک د دفاع وزیر، سیون ګیده د پارلمان د بهرنیو چارو په کمسیون کې ونده اخیستل. د قرارګاه مشر د پوځ د دیپارتمنت مشر ته زنګ ووهې: «ما د دیپارتمنت مشر ته وویل چې زما د کتاب ژباړل شوي بڼه په لاس کې ده خو پري نه پوهیږم چې په لومړۍ او وروستۍ پاڼه کې څه لیکلي دي.نو ځکه نه پوهیږم چې د کتاب ژباړنه به درسته شوي وي که نه؟ نوموړي په ښارې محکمه کې وروسته وویل چې موږ د دې وخت پیدا نه کړي چې د کتاب ژباړنه د نژدې څخه وڅیړو.» د نوموړي پخواني پوځي اسیستانت، مورتن وګیلیوس [۲۷۸] د خپل مشر خبري واوریدلي نو نوموړي نوره تیاري هم ونیول کله چې په محکمه کې شاهدي ورکول. د قرارګاه مشر د دیپارتمنت مشر ته وویل چې د کتاب ژباړنه د دفاع وزیر ته مه ورښکاره کوه. د دیپارتمنت مشر، د قرارګاه د مشر سره په بله بڼه وږغیدي. نوموړي په ټینګار ورته وویل چې ژباړنه په انټرنټ کې پرته ده او کله چې ما دغه معلومات لاسته راوړي، دوه ځله تایید شوو. وروسته نوموړي د پارلمان د بهرنیو چارو کمسیون ته یو لیک واستوي او څرګنده یې کړه چې د کتاب عربي ژباړنه په انټرنټ کې شتون لري خو دا یې څرګنده نه کړه چې ژباړنه غیري مطمینه وه. د ورځې پر (۱۲) بجو د دفاع وزیر د بهرنیو اړیکو کمسیون ته ورغلي او د یو جنرال په ملګرتیا یې دغه پټ نا ارامه کوونکي معلومات غونډې ته وړاندې کړي. په دغه ډول موضوع پای ته ورسیدل. د بهرنیو اړیکو د کمسیون تر غونډې وروسته د دیپارتمنت مشر د ژورنالیستانو شاه ته پټ ولاړ و چې د دفاع وزیر سترګې پر ومښتي. تر لسو دقیقو وروسته یې یوه ژړه ورقه را ویستل چې پرې لیکلي و (عربي ژباړنه). موخه یې دا وه چې وزیر ته یې ور په زړه کړي چې رسنیو ته معلومات ورکړي. سیون ګیده رسنیو ته وویل: «زه غواړم تاسو ته خبر درکړم چې د کتاب عربي بڼه هم په انټرنټ کې شتون لري نو ځکه ځیني کسان ادعا کوي چې د کتاب لوستل د نورو له پاره په زړه پوري دي.» لوی درستیز، تیم سلوت یونسن د کتاب د عربي ژباړنې څخه خبر نه و خو د خبرونو د اوریدلو په وخت کې متوجه شو چې د دفاع وزیر رسنیو ته د کتاب د ژباړنې په تړاو معلومات ورکوي. د لوی درستیز له پاره هم دوسیه ترلې ګڼل کیدل. خو د دفاع وزیر بیان رسنیو ته دوباره دوسیه پرانیستل. دا معمول و چې د بهرنیو اړیکو کمسیون ته اطلاع ورکړل شي. لوی درستیز وایي «کله چې ما واوریدل چې د دفاع وزیر

[۲۷٤] - Erik B. Jørgensen

[۲۷۵] - Jesper Britze

[۲۷٦] - USB

[۲۷۷] - Lars Sønderskov

[۲۷۸] - Morten Vogelius

د کتاب د ژباړنې په تړاو معلومات ورکوي، پوه شوم چې دوسیه بیرته ژوندي کیږي. ما باید معلومات تر لاسه کړی وای چې ژباړنه د کوم ځای څخه پیدا شول او چا د دفاع وزیر ته اطلاع ورکړل.» د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمسیون تر غونډې لږ وروسته د پوځ څخه یو تن د کتاب عربي ژباړنه د ډنمارکي ورځپاڼې، ب ت [۲۷۹] په واک کې ورکړل او هغوی هم سمدلاسه په انټرنټ کې خپره کړه. خو لږ وروسته ورځپاڼې د کتاب ژباړل شوي بڼه د انټرنټ څخه لیرې کړه ځکه د ژباړنې بڼه درسته نه وه او د ګوګل په واسطه ژباړل شوي وه. خو لږ وروسته د منځني ختیز کارپوهانو د کتاب په ارزونې پیل وکړي. دوي نظر څرګند کړي چې د عربي ژباړنه به خامخا د القاعدې له پاره وه ځکه طالبان په پښتو ژبه خبري کوي. په دغه وخت کې د سیون ګیده شخصي مشاور، یعقوب وینټر [۲۸۰] هم د عربي ژباړنه د ډنمارک راډیو ته ولیږل. په همدغه شپه د پوځ د اړیکو نیولو مشر، لارس سیونډر سکوو د ډنمارک دوهم تلویزوني چینل [۲۸۱] ته په مرکه کې  وویل چې زه خبر نه یم چې چا په عربي ژبه خطرناکه ژباړل شوي بڼه رسنیو ته ورکړی ده؟ موږ په ډیره جدي توګه خپلو ټولو کارکوونکو ته خبرداري ورکړی وو چې داسي شیان باید د پوځ د قوماندې د مرکز څخه بهر ونه وزي. نوموړی وویل چې ساده دلیل یې دا دي چې موږ نه غواړو دا ډول شیان تیت شي. خو هیڅا دغه عربي ژباړنه په انټرنټ کې پیدا کولای نه شوای. پوښتنه پیدا شوه چې ایا د دغه کتاب ژباړنه په عربي ژبه رښتیا په انټرنټ کې شتون لري؟ د دفاع وزیر په ډیره مهرباني او خوږه ژبه په خبرو کې د ډنمارک راډیو- تلویزیون په دوهم چینل کې [۲۸۲] وویل: « زه به د ډیر شرم څخه ځان په اوبو کې غرق ووینم که څرګنده شي چې د پوځ څخه چا د دغه کتاب ژباړنه په عربي ژبه جوړه کړی وي. پوښتنه ورڅخه وشول که دا چاره شوي وي، مسولیت د چا دي؟ وزیر وویل: ټول مسولیت یې زما پر اوږو دي.» په دغه وخت کې لوی درستیز، تیم سلوت یونسن هڅه کوله چې دا څرګنده کړي چې د عربي ژباړنه د کوم ځای څخه راپیدا شوی ده؟ نوموړی ته څرګنده شوه چې په پوځ کې درو کسانو، یسپر بریتز، مورټن ډانیلسن او لارس سیونډر سکوو دغه ژباړنه لیدلي ده. دوي د سټاپ مشر بیون بیسه روف ته ویلي وو او هغه د ډیپارتمنت مشر، لارس فیندسن ته خبر ورکړي و. دا هغه ځینځیري تسلسل وو چې په ژباړنه خبر وه. لوي درستیز د هغو درو لومړیو تنو سره خبري وکړي چې ژباړنه یې درلوده. نوموړو وویل چې دوي په دی تړاو رسنیو ته خبر ورکړی نه دي. کله چې د دفاع وزیر شخصي مشاور ژباړنه لیږلي وه نو لوی درستیز فکر وکړی چې ګواکې هغه رسنیو ته خبر ورکړی دي. اوس تیم سلوت یونسن وایي: ولې چا اعتراف نه کاوه؟ یوازې داسي ویل شوی وو چې د ژباړنې رسوا کول به ښه چاره نه وي. بل څه نه پیښیږي. د نوموړی له پاره د ژباړنې د سرچینې ورکیدل لویه ستونزه وه. لوی درستیز وایي: دا عجیبه ده چې ژباړنه په انټرنټ کې نه پیدا کیږي. تر څو چې موضوع روښانه نه شي موږ دوسیه تړلای نه شوو. په پای کې د

کمپیوټرونو کارپوه، یسپر بریتز و بیای بیسه روف ته اعتراف وکړي چې د نوموړی کتاب ژباړنه یې په عربي ژبه کړی ده. وروسته لوی درستیز وویل چې د کمپیوټر کار پوه او د دغه څانګې مشر بیان کړل چې دا چاره مې ځکه تر سره کړه چې پوځ د دغې شخړې څخه وباسم. نوموړی کارپوه هغه وخت لوي درستیز ته زنګ وواهه چې لوي درستیز د یو ډنمارکي سرتیري د ښخولو په مراسمو کې ګډون درلودي. لوی درستیز په بیړه خپل دفتر ته راغي د کمپیوټري څانګې مشر، یسپر بریتز مخامخ ورته کښیناست او ویې ویل: دا ژباړنه جعلي وه. تیم سلوت یونسن وایي: ما ورته وویل چې زه تا د ډیر وخت څخه پیژنم او دا کار یوه لویه بیعقلي وه. ولې دی داسي یو کار وکړي؟ د کمپیوټري څانګې مشر، یسپر بریتز بیان کړل چې ما مشر سکرتر، مورټن ډانیلسون ته وویل چې د کتاب عربي ژباړنه مې تر سترګو شوه خو اوس یې موندلای نه شم. د دې له پاره چې خپل امر مایوسه نه کړم نو ځکه مې کتاب د ګوګل په مټ په عربي ژبه وژباړي. ما دغه ژباړنه خپل امر ته وښودله نو هغه فکر وکړي چې موضوع وتړل شول. تیم سلوت یونسن دوام ورکوي: نوموړی نه پوهیدي چې ولې موضوع وزارت ته ولیږل شول تر څو لویه جنجالي موضوع ورڅخه جوړه شوه. نوموړي داسي ښودل چې ګواکې هیڅ پیښ شوی نه دي خو موضوع ورځ تر بلې کړکیچنه کیدل او زه په پیښه کې بند شولم چې د ویلو جرآت مې د لاسه ورکړي.

لوي درستیز د ځان سره وویل چې ماته یې فریب را کړی دی. یوه ورځ مخکې تر هغه چې تیم سلوت یونسن پارلمان ته په غونډه کې د ګډون د پاره تلي د یسپر بریتز څخحه یې وپوښتل چې ژباړنه تا کړی ده؟ هغه انکار وکړی. خو اوس یې مني. لوي درستیز په لوړ اواز خبري ورسره وکړي. یسپر بریتز په محکمه کې وویل چې ژباړنه درسته شوی وه  کله چې رسنیو ته راووتل. نوموړي غوښتل چې حالات قابو کړي. زما پلان داسي و چې ژباړنه په انټرنیټ کې وموندل شي چې موضوع پای ته ورسیږي. همدغه دلیل و چې ما نه غوښتل وواېم چې دا ژباړنه ما کړي ده ځکه ډاریدلم چې د یوې بڼکې څخه پنځه چرګان جوړ نه شي. ما ګومان کولو چې دا یوه کوچنۍ تخنیکي غلطي ده او فکر مې نه کاوه چې د دفاع وزیر ته لوي

---

[۲۷۹] - B.T

[۲۸۰] - Jacob Winther

[۲۸۱] - TV2

[۲۸۲] - DR2

سرخوږي جوړ شي. دغه جعلي ژباړنه یوازني موضوع نه وه چې لوی درستیز یې حیران کړی و. سبا د پوځ د اړیکو مشر، لارس سیونډر سکوو ورته راغي. تیم سلوت ینسن وایي: هغه راته وویل چې کیدای شي دا به زه وم چې ژباړنه مې د بی تي ورځپاڼې ته لیږلي وي خو هیر مې دي او هغه ایمیل چې ژباړنه مې لیږلي ده پیدا کولای نه شم. لوي درستیز، تیم سلوت یونسن بیا حیران شو چې موضوع خو بربنډه شوه اوس څه اړتیا شته چې د اړیکو مشر درواغ وایي. د پوځ د قوماندې د مرکز دواړه لوړ پوړي مشران د دندو څخه ګوښه کړل شول. د دفاع وزیر، سیون ګیده له پاره په سیاسي ژوند کې لوی بریالیتوب دا و چې د پوځ په تاریخ کې ډیري لوي شخړې ته د پای ټکی کښیښودي. دا شخړه دومره لویه وه چې لوي درستیز د ډنمارک دوهم چینل تلویزیون ته په مرکه کې وویل چې دا موضوع داسي ډارونکي خوب و چې زه یې د شپې بیده کیدلوته نه پریښودلم. لوی درستیز وایي چې په مرکه کې ما باید داسي ویلي نه واي، اول ځل دي چې زه خپل د خبرو څخه پښیمانه یمه. ما ښه خوب کولو. خو بیا هم دا یوه سخته دوره وه. لوي درستیز پو هیدي چې شخړه دومره غټه شوه چې ځني کسان یې باید تاوان ورکړي. نوموړي داسي ارزونه وکړه چې باید څلور تنه استعفاء ورکړي چې ستونزه پای ته ورسیږي. پرته له لوي درستیز څخه، سیون ګیده، لارس فیندسن او بیان بسیه روف باید استعفاء ورکړي. بیان بسیه روف په موضوع کې ډیر شامل و نو ځکه لوي درستیز هغه د کار څخه ګوښه کړي. لوي درستیز وایي که زه د یو مشر په توګه داسي سوچ وکړم چې زما مرستیال، بیان بسیه روف ډیر ملامت و او ګناه د هغه وه نو دا پریکړه ماته ډیره بده ښکاري. زه به څنګه سهار په هینداره کې ګورم؟ شخړه دومره غټه شوه چې یوازې د بیان بسیه روف لیري کول کافي نه دي.

د دفاع وزیر سیون ګیده، سکاټلنډ ته د ښکار له پاره تللي و. کله چې هغه بیرته راوګرځیدي نو لوي درستیز، تیم سلوت یونسن د اکتوبر پر (۳) نیټه د شنبې په ورځ د هغه دفتر ته ورغلي. تیم سلوت وایي: «د دفاع وزیر راته وویل چې موضوع ډیره کړکیچنه وه او سیاسي فشار ډیر زیات دي. څه باید وکړو؟ لوی درستیز وایي: موږ ډیر خبري سره وکړي. ما ورته ونه ویل چې استعفاء وکړه خو سره د دي زموږ خبري په زړه پوري نه وي. د دفاع وزیر وویل چې زه به سیاسي فشار ته اوږه ورکړم نو ځکه باید څوک استعفاء ونه کړي. خو د دفاع وزیر وویل چې دا هم یو امکان دي چې زه او یا لارس فیندسن استعفاء وکړو. خو موږ وروستۍ پریکړې ته ونه رسیدلو.»

کله چې لوي درستیز کور ته راغلي نو کورنۍ غونډه یې جوړه کړه. په کور کې د هغه دوه لویان زامن او د میرمنې لوي زوی یې وو. زما کورنۍ د سختو حالاتو په تړاو خبري راسره وکړي او زما څخه یې ډیر ملاتړ وکړي چې ما دا ډول ملاتړ ته اړتیا درلودل. خو زه په سوچ کې ډوب وم چې استعفاء وکړم که نه؟ په همدغو سوچو کې ویده شوم.

کله چې سهار شو او لوي درستیز د خپل دفتر پر لوري ولاړي. دفتر ته د رسیدو سره سم یو ډیر په زړه پوری خبر ورته راورسیدي چې دی نیکه شو. زوي یې ورته زنګ وواهه چې ته د لویس [۲۸۳] نیکه شوي. نوموړي خپل نژدې همکاران دفتر ته را وغوښتل. په را غوښتلو کسانو کې بیان بیسه روف، مورتین ډانیلسن، مشاوره، پرنیله روهیدمیریه [۲۸٤]، سکرتر، موټروان او خانه سامان شامل وو. لوي درستیز غوښتل نور افسران هم غونډې ته را وبولي. لوي درستیز د دوي څخه وپوښتل چې دوسیه څه ډول وه. لوی درستیز وایي ماته ډیره مهمه وه چې د هغو خلکو څخه چې ما باور ورباندې درلودي، واورم چې موضوع یې څه ډول ارزول. لوی درستیز پوهیدي چې دوي ته به ډیره ستونزمنه وي چې را ته ووایي، استعفاء وکړه. د دوي په مینځ کې دوه نظرونه وو، ځینو ویل چې مبارزې ته دوام ورکړه خو ځینو ویل چې استعفاء وکړم. وروسته لوي درستیز یو ساعت یوازې کښینستي او سوچ یې وکړي. پایله دا شوه چې د دفاع وزیر ته یې استعفاء لیک ولیکئ:«تر دغه ځایه را ورسیدلم سره د دي چې هر وخت تر فوکس او توجه لاندې وم. که زه استعفاء وکړم، کیدلای شي د پوځ له پاره ستونزه حل شي. پرته له دي څخه چې څومره متأثره وم. که زه نور دوام ورکړم ، زما وړاندوینه دا ده چې زما شخصیت تر ډیرې پاملرنې لاندې راشي. زه نه غواړم چې وړه غلطي هم وکړم.»

تیم سلوت احساس درلودي چې دوو نژدي همکارانو، یسپر بریتز او لارس سکیونډرسکوو فریب ورکړی. خو بیا هم تیم سلوت یونسن د خپل مشرتابه پر میتود پښیمانه نه و چې د همکارانو سره ازاد او پر دوي یې باور درلودي. تیم سلوت یونسن علاوه کوی:« زه د کنترول او څار پر موډل باور نه لرم. که سړي پر خپلو همکارانو باور ولري د کار په چاپیریال کې خوځنده حالت رامینځته کیږي سره د دي چې کیدلای شي فریب درکړل شي.» تیم سلوت یونسن د دفاع وزیر ته په ټلیفون کې خپله پریکړه اعلان کړه. د دفاع وزیر خپل تأثر څرګند کړی. دا چې موضوع تر دی ځای راورسیدل، عادلانه نه ده. خو تیم سلوت ورته وویل چې دا زما خپله پریکړه ده. ډریور د تیم سلوت یونسن لیکل شوی استعفاء لیک د دفاع وزارت ته وروړي.

---

[۲۸۳] - Louis

[۲۸٤] - Pernille Rohdemeier

د دفاع وزیر د خپل پنځه کلني کاري دورې په جریان کې ځان په لوی بحران کې ولیدي. په پوځ کې درواغ او چوپ پاته کیدل د سیاسي مشر(د دفاع وزیر) د مسولیت په تړاو پوښتني راپورته کړي. ډیرو سیاسیونو باور درلودي چې سیون ګیده به د دغه شخړې څخه ځان سالم وباسي ځکه نوموړي یوه ځانګړی قابلیت درلودي چې د بیان ورکولو په وخت کې ډیر صادق او رښتیا ویونکي ښکاری دي. سیون ګیده داسي قابلیت درلودي چې هر نفر به فکر کولو چې زه یي د راز ویلو ملګری یم. نوموړی د تلویزیون پر پرده دومره ارام ښکاری، سړی به ویل چې د خپل کور په سالون کې ناست دي، چای چښي. د ۲۰۰۷ زکال د پارلمان په ټاکنو کې سیون ګیده (۲۳۹۹۳) شخصي وټونه تر لاسه کړی وو. د ښي لیبرال ګوند په ټولو کسانو کې صدراعظم، اندریس فوک غاسموسن ډیرې شخصي رایي ګټلي وي. د دومره شخصي وټونو ورکول د محبوبیت په مانا وو. سیون ګیده د ۲۰۰۴ زکال څخه راوروسته د ډنمارک د دفاع وزیر و چې په عراق او افغانستان کې جګړه روانه وه. سره د دي چې د ډنمارک د وګړو د شمیر په پرتله د ډنمارک ډیر سرتیري ووژل شول خو بیا هم سیون ګیده د اروپا د دفاع وزیرانو په پرتله ډیر محبوبیت درلودي. سره د دي چې د دفاع وزیر د چاپ شوي کتاب په خاطر په سختو حالاتو کې و، لوي درستیز او دوه نور لوړپوړي پوځیان یي د لاسه ورکړي وه خو بیا هم د نوموړي محبوبیت ته زیان نه وه رسیدلی. د اکتوبرد میاشتي په ورستیو کې د میګافون څیړنیزې سروې وښودله چې د ډنمارک د خلکو (۵۲) سلنه د دفاع پر وزیر باور او یا هم ډیر باور لري. بیا هم د سیون ګیده محبوبي ژبي اغیزه وښودله چې نوموړي بخښنه وغوښتله. نوموړی د ژبي په مهارت کې لکه د عراق کومیډن علي، نیوکې لیرې کړې. د دفاع د وزیر سیاسي مخالفینو په پارلمان کې هم د دي توان نه درلودي چې د نوموړي د شخصیت په وړاندې مقاومت وکړي. په حقیقت کې سیون ګیده پر دوي ګران وو، خو هر څه یو سرحد لري. د سوسیال ډموکراټانو د دفاعي کمسیون مشر، جان ډیربیو پاولسن [۲۸۵] د دفاع وزیر نژدې همرازه ملګري و. خو د نوموړي کتاب په تړاو یي د دفاع پر وزیر باور له مینځه ولاړي او ګومان یي کاوه چې رښتیا یي ورته ویلی نه دي. د ګوندونو د دفاعي کمیټو د مشرانو په غونډه کې چې د اکتوبر پر لومړی نیټه جوړه شوه، د دفاع وزیر نورو ته په اطمینان وویل چې د نوموړي مشاور، یعقوب وینتر [۲۸۶] د کتاب ژباړلی بڼه رسنیو ته ورکړی نه ده. وزیر وویل چې زه د کمپیوترانو د مشر کار پوه، یسپر بریتز چې د کتاب ژباړنه یي کړي وه، په واسطه وغولول شوم. د وزیر له نظره موضوع روښانه او پای ته رسیدلي وه. خو جان ډیربیو پاولسن او د نورو ګوندونو د دفاعي کمیټو مشران راضي نه وو. دوي غوښتل چې د دفاع وزارت ټول کمپیوترونه کنترول شي. دغه بحث ډیر لوی شو چې د دفاع وزیر او د وزارت نور لوړپوړي یي خوابدي کړل. د دفاع وزیر ورته وویل چې د یعقوب وینتر کمپیوتر مخکي کنترول شوی دي. تر ډیر فشار وروسته وزیر د کمپیوترونو نور کنترول ورسره ومنل. د کمپیوټرونو تر کنترول څو ساعتونه وروسته څرګنده شوه چې د دفاع وزیر مشاور، یعقوب وینتر د کتاب د عربي ژبي بڼه د ډنمارک راډیو ته لیږلي و. سره د دي چې د دفاع وزیر اطمینان ورکړي و چې د نوموړی مشاور هیڅکله کوم څه لیږلي نه دي.د خبر د اوریدو سره سم د سوسیال ډموکراټانو د دفاعي چارو د کمسیون مشر، جان ډیربیو پاولسن باور په بشپړه توګه له مینځه ولاړي. جان ډیربیو پاولسن رسنیو ته وویل چې نور د دفاع پر وزیر باور نه لري او د دغي رسوایي مسولیت او غبرګون باید ومني. په غیري مستقیمه توګه د جان ډیربیو پاولسن د خبرو مانا دا وه چې د دفاع وزیر باید استعفاء وکړي. دا ځکه چې د دفاع وزیر خپله ویلي و چې تر هغه به دندې ته دوام ورکوي چې د ګوندونو ملاتړ او باور د ځان سره ولري او په ځانګړی توګه د سوسیال ډموکراټانو ملاتړ ورسره وي. خو سیون ګیده نه غوښتل چې استعفاء وکړي ځکه دغه خپل سیاسي ژوند د لوی درستیز په استعفاء باندې ژغورلی و.

د ۲۰۰۹ زکال د ډسمبر په میاشت کې د پوځ څارنوال د لومړي ځل له پار د کتاب لیکونکي، ټامس راتک څخه تحقیق وکړي. نوموړي ښه تیاري درلودل. د کتاب لیکونکي او د مخکښانو پخواني سرتیري په یوه کارتن کې خپل اسناد غونډ کړی وو. د اسنادو څخه څرګندیدله چې د کتاب په محتویاتو کې د عراق او افغانستان د جګړو په تړاو معلوماتونه پخوا رسنیو ته رسوا شوی وو. نو په همدغه دلیل دا تور بی ځایه دي چې نوموړي سرتیري د راز ساتلو د قانون په ماتولو او ډنمارکي سرتیرو ته د ګواښ جوړولو په تور تورن شوی دي. مخکې د دي څخه چې ټامس راتک د تحقیق خوني ته ولاړ شي خپل ټول اسناد یي په یو بکس کې ځای پر ځای کړل. تحقیق د زړې ودانی په یوه وړه کوټه کې وشو. اوبه او قهوه پر میز پراته وه، د تحقیق جریان د ملکي مامورینو په ډول په ارام چاپیریال کې جریان درلودي. څارنوال د سرتیري ځوابونه په نیغه په خپل کمپیوتر کې ځارل. هر ځل چې د څارنوال له خوا به دکتاب یو پارګراف په نښه شو چې د رازپټولو قانون مات شوی دي، سمدلاسه ټامس راتک د خپل بکس څخه اړوند اسناد راویستل چې په دغه ټاکلي وخت کې پورته راز مخکي رسنیو ته بربنډ شوي دي. د نوموړی څخه پوښتنه وشوه چې ولې په کتاب کې لیکلي دی چې د سرتیري په توګه یي په خپل خولی کې ځانګړی څراغ درلودي. ټامس راتک شل ډوله د رانیولو اعلانونه ور وښودل چې هر څوک همدا ډول څراغ په بازار کې په (۵۰) ډالره رانیول شي او کوم پټ راز نه دی. تر اته ساعته وروسته تحقیق خلاص شو. ټامس راتک احساس وکړی چې تحقیق ښه تیر شو. د ۲۰۱۰ زکال د جنوري په میاشت کې چې ټامس راتک ورڅخه راضي و، بیا دوي ورځي وروسته تحقیق ورڅخه وشوو. د ۲۰۱۰ زکال د اکتوبر په میاشت کې پریکړه صادره شوه. د پوځ څارنوالي اعلان کړل چې پر ټامس راتک د دعوې

[۲۸۵] - John Dyrby Paulsen
[۲۸۶] - Jacob Winther

د اقامې څخه صرفنظر کوي سره د دې چې (۱۳) میاشتې یې څېړنې کړې وې. د پرېکړې سره مل دلایل غیري نورمال وو. د پوځ څارنوال لیکلي وو چې د کتاب په زیاته برخه کې ستونزه نه وه او هم پوځي مقامات د دفاع وزارت د قوماندې د مرکز په پرتله د کتاب خپرول په لږه کچه په اوس او راتلونکي کې د سرتیرو له پاره کواښ ګڼي. خو د پوځ څارنوال لیکلي وو چې د کتاب (۱۴) څپرکي د پوځي او ملکي جزايي قانون له مخې د قانون تر پښو لاندې کول را جوته کوي. خو بیا هم د پوځ څارنوالي نه شي کولای چې د راز ساتلو د قانون تر پښو لاندې کول په اسنادو ثابت کړي. د پوځ د څارنوالي ارزونه د سختو نیوکو سره مخامخ شوه. د جزايي قانون فروفیسور، یون ویسترګورد [۲۸۷] د پوځ د څارنوالی پریکړه بی مفهومه وګڼل څکه ټامس راتک هیڅ چانس و نه موند چې دفاع وکړي څکه څارنوال یې همیش پر سر ولاړ و. همدا ډول یسپر هینسن د سرتیرو د مرکزي اتحادیې مشر، د دفاع وزارت څخه وغوښتل چې د ټامس راتک څخه بخښنه وغواړي. خو ټامس راتک پر دغه غیري نورماله پریکړه په غوصه نه وه او د پوځ لخوا د بخښنې غوښتلو څخه تیر شو. ټامس راتک وویل: «زه وینم چې پوځي څارنوالي د دعوې اقامه نه کوي او زه ځان د تورن حالت څخه پاک ګڼم. نو دغه حالت زما قبول دی.»

په دغه وخت کې سیون ګیده ډیرې دغه دوسیې را واخیستلې. د دفاع وزارت د قوماندې مرکز او د دفاع وزارت ډیرې هلې ځلې وکړې چې د نوموړي کتاب د خپرولو مخه ونیسي څکه چې د هیواد ملي امنیت ته ګواښ و. موضوع هغه وخت د ډیرې پاملرنې وړ وګرځیده کله چې ژورنالیست اود مستندو فلمونو کارپوه، کریستوفر ګولډبراندسن [۲۸۸] د ۲۰۱۰ زکال د جنوري په میاشت په فیلمي مجله ایکو [۲۸۹] کې اعلان کړل چې د سیون ګیده مشاور، یعقوب وینتر دري کاله مخکې کله چې ښکاري سرتیري عراق ته ولاړل، پټ رازونه یې دوهم تلویزیوني چینل ته په واک کېورکړل. د ۲۰۰۷ زکال د اپریل په (۲۶) نیټه د دوهم تلویزیوني چینل [۲۹۰]، راسموس ټنټ هالټ[۲۹۱] یو ځای د سیون ګیده سره د عراق څخه په الوتکه کې ډنمارک ته راغلل. څو ساعتونه وروسته د دفاع وزیر مشاور، یعقوب وینتر د تلویزیون ژورنالیست، راسموس ټنټ هالټ ته زنګ وواهه چې زه ډیر پټ رازونه لرم غواړم چې ستاسو د تلویزیوني چینل سره یې شریک کړم. کریستوفر ګولډبراندسن په فیلمي مجله ایکو کې لیکلي و چې د دفاع وزیر مشاور معلومات ورکړي چې د دفاع وزیر پریکړه کړې ده چې د مخکښانو سرتیري عراق ته ولیږي. یعقوب وینتر دغه ادعا رد کړل. په همدې توګه راسموس ټینټ هالټ او تلویزوني چینل دا خبره رد کړل او ویې ویل چې موږ د راز پټولو مسولیت لرو. زموږ د مقرراتو له مخې که راز پټ شي مختلفي سرچینې د حکومت د مینځ څخه معلوماتونه راکوي. په دغه ډول موږ واکمن تر څار لاندې نیولای شوو نو څکه موږ د معلوماتو سرچینه نه په ګوته کوو. وروسته یعقوب وینتر پر کریستوفر ګولډبراندسن د دعوې اقامه وغوښتل. کریستوفر ګولډبراندسن تیار نه و چې ثبت شوی اواز پولیسو ته تحویل کړي. خو نوموړي وروسته د کوپنهاګن پولیسو ته یو ایمیل ولیږي. په ایمیل کې د ثبت شوی اواز محتویات بیان کړل. د دغو معلوماتو پر بنسټ پولیسو، یعقوب وینتر د مهمو پټو رازونو د رسوا کولو په تور تورن کړي. خو ثبت شوي اواز چې کریستوفر یې ادعا کول د ډنمارک راډیو د پخواني ژورنالیست، نیلس ګیویرسن [۲۹۲] د راسموس سره یو ځای ثبت کړی وو. وروسته نیلس کیویرسن د خپل کار فرما سره په همږغي د ډنمارک په راډیو کې دنده پریښوده څکه مشرتابه فکر کولو چې ژورنالیست د راډیو استیشن څخه بهر خلکو ته دغه پټ رازونه افشاء کړی وو. د ډنمارک راډیو مشرتابه نه غوښتل چې ثبت شوی اواز پولیسو ته تحویل کړي. په وروستي پړاو کې موضوع سترې محکمې ته واستول شول. څارنوالی غوښتنه درلوده چې د دوهم تلویزیوني چینل ژورنالیست، راسموس ټنټ هالټ او د تلویزیون د خبرونو د څانګې مشر، مایکل ډیوربیو [۲۹۳] اړ باسي تر څو په محکمه کې شاهدي ورکړي او مشهور ثبت شوي اواز باید څارنوالی ته وسپاري. د موضوع په تړاو په ستره محکمه کې، کریستافر ګولډبراندسن وویل چې د ثبت شوي اواز په فیل کې راسموس ټنټ هالټ په تکرار ویلي وو چې اصلي سرچینه یعقوب وینتر و. د ۲۰۱۱ زکال د فبوري په میاشت کې سترې محکمې پریکړه وکړه چې پولیس حق نه لري چې د رسنیو څخه مرسته وغواړي چې موضوع روښانه کړي. د دوهم تلویزیوني چینل کارکنان اړتیا نه لري چې شاهدي ورکړي او د ډنمارک راډیو اړتیا نه لري چې د ثبت شوي اواز فیل پولیسو ته په واک کې ورکړي. مرکزي څارنوال، یون ستین سیونسن [۲۹٤] ومنل چې د سترې محکمې پریکړه په دې مانا ده چې دوسیه به هیڅوخت روښانه نه شي. په همدغه وجه پولیسو و نه غوښتل چې د کتاب پر لیکونکي د دعوې اقامه وکړي او

---

۲۸۷ - Jørn Vestergaard

۲۸۸ - Christoffer Guldbrandsen

۲۸۹ - Filmmagsinet **Ekko**

۲۹۰ - TV2

۲۹۱ - Rasmus Tantholdt

۲۹۲ - Nils Giversen

۲۹۳ - Michael Dyrby

۲۹٤ - Jørgen Steen Sørensen

همدا ډول د سیون ګیده مشاور خپل حقوقي دعوه د کریستافر ګولډبراندسن په مقابل کې پرېښودل. یعقوب وینټر، مشاور وویل چې زه پاک شوم خو کریستافر ګولډبراندسن رسنیوته وویل:« د وینټر حقوقي دعوه یو تش تهدید و، بل څه نه وو.» ادعا پر ادعا دوسیه پرته د روښانه کولو پای ته ورسیدل.

لس میاشتې وروسته بیا د دوسیې په تړاو هغه وخت غوغا پورته شوه چې یو نامعلوم کس د ثبت شوي اواز فیل د ایکسترا بلیدت [۲۹۵] ورځپاڼې ته وسپاري. ورځپاڼې د ۲۰۱۱ زکال د ډسمبر په (۱۳) نیټه د ثبت شوي اواز لویه برخه خپره کړه چې یعقوب وینټر او د دفاع وزیر، سیون ګیده ته متوجه وه. د اضافي معلوماتو په لړ کې د دفاع وزیر تګ و عراق ته د مخکښانو سرتیرو د لیږلو د پریکړی په تړاو په څرګنده ډول اورېدل کیدی. داسې ښکاریدل چې د دوهم تلویزیوني چینل ژورنالیست، راسموس ټینټ هالټ د مخکښانو سرتیرو لیږل عراق ته د ډنمارکیانو په کمپ او یا هم په الوتکه کې د دفاع وزیر څخه اریدلي وو. همدا ډول د ثبت شوی اواز پر بنسټ ژورنالیست همدغه معلومات د وزیر د مشاور، یعقوب وینټر څخه مخکې اوریدلي وو. د ۲۰۰۷ زکال د اپریل په میاشت کې د پوځ مشرتابه تیاری نیوي چې مخکښان سرتیري عراق ته ولیږي خو د دفاع وزیر لا هم د سرتیرو د لیږلو پریکړه نه وه کړې ځکه لومړی باید د دفاع وزیر په عراق کې د بصرې ښار ته د ډنمارکیانو د پوځي کمپ د لیدلو له پاره تللی واي. ډنمارکي او انګریزي سرتیري په سیمه کې د دفاع په حالت کې وو. زیاد وخت به سرتیري پر شاه تګ ته اړ شول ځکه د سیمې د مخالفینو تر دوامداره راکټي بریدونو لاندې وو. همدغه دلیل و چې د ډنمارکي پوځي کمپ مشر غوښتل چې مخکښان سرتیري دغه مخالفین چې د خلکو په کورونو کې پټ وو، ومومي ځکه دغو مخالفینو شپه او ورځ د ډنمارکیانو او انګریزانو پر پوځي کمپنو باندې راکټي بریدونه کول. د دی له پاره چې عملیات په بریالیتوب سره سره ته ورسیږي او د خطر کچه ډیره لږ وي نو باید د ځانګړو مخکښانو سرتیرو عملیات ډیر محرمانه تر سره شي. سره د دی هم د سیون ګیده، د کمپ د پوځیانو او د وزیر د نژدې کسانو تر مینځ د دغو پټو عملیاتو په تړاو بحث وشوو. د وزیر سره په سفر کې دوه ژورنالیستان ملګري وو. د راسموس ټینټ هالټ برسیره د ایکسترا بلیدت ژورنالیست، سنډي فرینش [۲۹۶] هم ملګري و. دغه معلومات خوله پر خوله تیت شول. د هغه وخت د دفاع وزارت د ځاګړې اداري مشر، یورن اولسن [۲۹۷] د پولیسو په یوه رپوټ کې لیکي و چې د یوې لنډې معلوماتي غونډې په جریان کې کوم چې د کنډک د مشر، کیم پیټرسن [۲۹۸] لخوا د ۲۰۰۷ زکال د اپریل په (۲۵) نیټه د ځانګړو سرتیرو په تړاو هیت ته معلومات ورکړل شوو، د مخکښانو د ځانګړو سرتیرو نوم هم یاد شوو. د کنډک د مشر او د سیون ګیده تر مینځ په نیغه د مخکښو سرتیرو د را استولو په اړوند بحث وشوو. یورن اولسن د یو تجربه لرونکي ځارګرې ادرې شخص شتون درلود خو د ژورنالیستانو په حضور کې د مخکښانو سرتیرو نوم یاد شوو. د شپې لخوا ددفاع وزیر د کمپ د پوځي مشرانو د مابښام ډوډی وخوړل. په همدغه ورځ د دفاع وزیر د مطبوعاتي سکرتر، هینریک لیوسیوهن [۲۹۹] د زوکړې د دیرشم تلین په ویاړ کیک تیار شوی و او د زیږیدنې سندره یې ورته وویل. مخکې له دې څخه چې میلمانه د کیک په خوړولو پیل وکړي، الارم وړغیدي. ټول د ستندرډ لاربښود سره سم پر مځکه پریوتل. سیون ګیده هم تر میز لاندې چارغاوک (پر سینه څکیدل) وخوځیدي. راسموس ټینټ هالټ د چانس څخه ګټه پورته کړه او د سیون ګیده سره یې مرکه وکړه او په همدغه وخت کې د ایکسترا بلیدت ژورنالیست تر میز لاندې د سیون ګیده انځورونه واخیستل. دغه انځورونه یو ښه ریکلام نه و ځکه د انځورونو څخه داسې څرګندیږي چې پوځ پر حالتو کنترول نه لري. چاته کوم زیان ونه رسیدي. دغه برید یوه ښه کیسه وه ځکه په همدغه وخت کې ډنمارکي سرتیرو پریکړه کوله چې خپل سرتیري د عراق څخه وباسي. دلیل دا و چې ډنمارکیانو ادعا کول چې د عراق پوځ دومره توانایي لري چې خپل امنیت وساتي. خو د دفاع وزیر په کلک سمنتي پوځي کمپ کې ځان مصون نه ګڼي. کله چې وزیر د ور سره مل هیت سره په الوتکه کې کښینستل، وزیر خپل مطبوعاتي سکرتر، هینریک لیوسیوهن ته وویل چې مخکښان سرتیري باید عراق ته ولیږل شي او موضوع باید د پارلمان د بهرنیو چارو په کمسیون کې راتلونکی ورځ وڅیړل شي. وزیر ورته وویل چې دا پټ معلوماتونه دي. همدا ډول د مخکښانو سرتیرو د استولو موضوع په الوتکه کې تر بحث لاندې ونیول شول. د ایکسترا بلیدت د ورځپاڼې له لوري چې د راسموس ټینټ هالټ او نیلس ګیوریسن اوازونه خپاره شوه، څرګندیږي چې په قوي باور په الوتکه کې د مخکښانو سرتیرو د لیږلو څخه خبر شوی دي. د یوې پوښتنې په ځواب کې چې ته څنګه خبر شوي؟ د راسموس ټینټ هالټ په ثبت شوی اواز کې ځواب ویل کیږي: « زه فکر کوم چې دوي د خپلو اجرأتو توانایي ښودل. خو دا په بشپړه توګه د هغه ناتواني ښیي. ګومان کوم چې د دفاع وزیر ډاریدلی و. موږ په الوتکه کې ناست و او دا ډول لږ څه مو په لاس راوړل.» په ثبت شوي اواز کې راسموس ټینټ هالټ د سیون ګیده د موخې په تړاو بږغیږي او په پوره باور د معلوماتو سرچینه د دفاع وزیر و. د دفاع وزیر مشاور، یعقوب وینټر ځکه نه وه چې هغه په الوتکه کې یاني په سفر کې نه

---

[۲۹۵] - Ekstra Bladet
[۲۹۶] - Sandy French
[۲۹۷] - Jørn Olsen
[۲۹۸] - Kim B. Petersen
[۲۹۹] - Henrik Levysohn

وه. په همدا ډول د تلویزیوني چینل ژورنالیست په ثبت شوي اواز کې وایي چې د دفاع وزیر مشاور د مخکښانو سرتیرو د عملیاتو په اړوند د ټلیفون پواسطه په یوه ټکسي کې معلومات راکړي، همدغه علت دي چې یعقوب وینتر زه په یو خراب حالت کې راوستلم. دغه معلومات د راسموس ټنټ هالټ د ګرځنده ټلیفون د خبرو څخه چې د هوایي ډګر څخه کورته روان و، اخیستل شوی دي. پوښتنه دا ده چې د یعقوب وینتر ټلیفوني معلومات د سیون ګیده د معلوماتو تایید و چې په پوځي کمپ او یا په الوتکه کې وړاندې کړی وو؟ راسموس ټنټ هالټ نه غوښتل چې د خپاره شوی ثبت شوي اواز په تړاو تبصره وکړي خو د دفاع وزیر، سیون ګیده په ټینګار ویل چې د پټو رازونو د رسوا کولو څخه خبر نه دي. خو مشاور، یعقوب وینتر د اواز په تړاو د پولیټکن ورځپاڼي سره یوه لنډه کی تبصره وکړه:«زه باید په ټینګار ووایم چې په دغه جنجالي سفر کې نه وم. دا چې دغه دوه ژورنالیستان په ټلیفون کې څه سره وایي او ولې داسې خبري کوي زما غرض ورسره نه شته خو زه د دغه راز د افشاء کولو سرچینه نه یم.» د ۲۰۰۷ زکال د اپریل په (۲۷) سهار د راسموس ټنټ هالټ کیسه د مخکښانو سرتیرو په تړاو د دوهم تلویزیوني چینل د مشرانو تر میځ غونډه وشوه. دا چې معلوماتونه د یوې مرکزې سرچینې څخه لاسته راغلي دي، نو دوي ژر سره همږغي شول چې دا یوه لویه کیسه ده. ځکه چې د حکومت رسمي موقف دا دی چې د عراق امنیتي حالت ښه دي. خو بیا هم د مخکښانو سرتیرو لیږل اړینه چاره ده چې د ډنمارکیانو پوځي کمپ وساتي. د پارلمان په ودانۍ کې د سوسیال ډموکراټانو د بهرنیو چارو پخوانی وزیر، موګنس لویکه ټافټ د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمسیون غونډې ته د تللو په حال کې و. د بهرنیو اړیکو کمسیون د بهرني پالیسي د مهمو موضوعاتو او پریکړو څخه خبریږي. خو د بهرنیو اړیکو د کمسیون غړي باید په جدي توګه د رازپټولو قانون مراعات کړي. غونډه پر (۱۲) بجې پیل شوه. موګنس لویکه ټافت غونډې ته پر لار د دوهم تلویزیوني چینل د ژورنالیست، جاني پیترسن [۳۰۰] سره مخامخ شو. ژورنالیست ورڅخه وپوښتل چې عراق ته د مخکښانو سرتیرو د لیږلو په تړاو څه تبصره لرې؟ موګنس لویکه ټافت د تبصرې څخه ډډه وکړه. نوموړي د موضوع څخه خبر نه و. کله چې د موګنس لویکه ټافټ څخه د موضوع پوښتنه د غونډې څخه مخکې وشوه نوموړي داسې وانګیرل لکه دقیق اسناد چې شتون ولري چې موضوع د بهرنیو اړیکو د کمسیون د غړو د خولې څخه وتلې نه ده. نوموړي په دغه تړاو وروسته د پولیټکن ورځپاڼي ته هم وویل. په غونډه کې د کمسیون غړو ته د مخکښانو سرتیرو د لیږلو په تړاو معلومات ورکړل شوو. وروسته د دوهم تلویزیوني چینل ژورنالیست، د دفاع وزیر ګوښې ته کړي او همدغه پوښتنه یې ورڅخه وکړه. سیون ګیده پرته له دې څخه چې کره معلومات ورکړي، معلوماتونه یې هم تایید نه کړل. د همدغې ورځې په ماپښین کې د یولند پوستن سیاسي مبصر ته داسې احساس پیدا شو چې د بهرنیو اړیکو کمسیون ته په غونډه کې د یوې مهمې موضوع په تړاو معلومات ورکړل شوی دي. ژورنالسیت مختلفو ارتباطي کسانو ته ټلیفونونه وکړ تر څو دوې سرچینې یې وموندلې داسې ورته تایید کړل:« د ډنمارک د مخکښانو سرتیري عراق ته استول کیږي.» د هغه وخت لوی درستیز، یسپر هیلسیو ته معلومات ورکړل شو چې د دوهم تلویزیوني چینل او د یولند پوستن ورځپاڼه د مخکښانو سرتیرو پر موضوع کار کوي. په همدغه خاطر لوي درستیز او همکارانو یې تلاښ وکړي چې دوي قانع کړي تر څو موضوع رسنیو ته را ونه باسي. خو بریالی نه شول. یعقوب وینتر دوهم تلویزیوني چینل ته ټلیفون وکړي چې د یولند پوست ورځپاڼه د خبرونو د خپرولو تیاري نیسي. دوهم تلویزیوني چینل پریکړه وکړه چې معلوماتونه په خپله بریښنایي پاڼه کې د سهار د نهو بجو په شاوخوا کې خپاره کړي. لږ وروسته یولند پوستن هم په خپل ډول معلوماتونه په انټرنټ کې خپاره کړه او سبا د ورځپاڼي پر مخ معلومات خپور شوو. د مخکښو سرتیرو مشر، ډګروال هینریک فریس وویل چې دوي موږ ته دنده ستونزمنه او خطرناکه کړه ځکه دښمن پوهیږي چې د مخکښانو ځانګړي سرتیري عراق ته را رسیږي. د ۲۰۰۷ زکال د اپریل په (۲۹) نیټه د بهرنیو چارو وزیر، پیر ستي میولر را ووتي او د همدغو پټو معلوماتو ایستل یې په کلکو ټکو وغندل. وزیر وویل چې د معلوماتو خپریدونکي د بهرنیو اړیکو د کمسیون غړي دي. موږ به ارزونه وکړو چې کوم معلوماتونه نوموړي کمسیون ته ورکړو که د دغه کمسیون څخه د پټو رازونو وتل دوام وکړي. وزیر وویل په نورمال ډول موږ په ازادانه توګه ټول معلوماتونه ور سره شریکوو خو کیدلای شي چې ځیني معلوماتونه پټ وساتوو. د دفاع وزارت هڅه وکړه چې هغه کسان ومومي چې دغه پټ راز یې افشاء کړي دي خو ارزونه په دي سره پای ته ورسیدل چې د (۲۰۰ ـ ۳۰۰) تنو په شاوخوا کې د مخکښو سرتیرو د لیږلو د پلان څخه خبر وو. خو ایکسترا بلدیت ورځپاڼي د ۲۰۱۱ زکال د ډسمبر په میاشت کې د ثبت شوي اواز لویه برخه افشاء کړل، ټول شکونه پر دفاع وزارت متمرکز شول. د سوسیال ډموکراټانو ډیر پخواني غړي، جان ډیربیو پاولسن [۳۰۱] چې د عدلي کمیسون غړی و، وویل چې دغه معلوماتونه کولای شي د دفاع د وزیر، سیون ګیده ښه په قضیه کې راښکیل کړي: «دا څه شي دي چې ټنټ هالټ یې خبري کوي؟ دا نیم خاموشه ځوک دي او څه شي د همدغه سړي څخه په لاس ورغلي دي؟ که دا ومنو چې یعقوب وینتر په سفر کې د دفاع د وزیر سره ملګري نه و نو چا وینتر ته دنده ورکړه چې ټنټ هالټ ته زنګ ووهي؟ کیدلای شي چې ګوته د دفاع وزیر، سیون ګیده ته ونیول شي.» د ثبت شوی فیل د خپریدو پر بنسټ د کوپنهاګن پولیسو یو ځل بیا موضوع تر څیړنې لاندې ونیول. د پولیسو ارزونه دا ډول وه چې ثبت شوی اواز واقعي دي او دا ډول ثبت شوی دي چې چا لاسوهنه په کښې نه ده کړی. ثبت شوی اوازونه د ژورنالیست، نیلس ګیورسن او راسموس

[۳۰۰] - Janni Pedersen

[۳۰۱] - John Dyrby Paulsen

ټنټ هالټ خبري دي. د کوپنهاګن د پولیسو مشر، جان ریمین [۳۰۲] په وینا د ثبت شوی اواز فیل کافي شواهد ګڼل کیدای نه شي. ثبت شوی اواز په جزایي دوسیه کې پرته د شاهدانو څخه رغنده شواهد نه ګڼل کیږي. د ډنمارک په قضایي سیستم کې د شاهدانو حضور ډیر مهم رول لري ځکه سړي د شاهدانو څخه په جلا جلا توګه تحقیق کوي. خو په نوموړي دوسیه کې د شاهدانو څخه تحقیق کیدلای نه شي ځکه شتون نه لري. د پولیسو مشر پولیټکن ورځپاڼي ته وویل: «که یو نفر وایي چې په ثبت شوی اواز کې مطالب درست نه دي، خو کولای نه شوو چې د څو کسانو څخه په جلا جلا توګه تحقیق وکړو لکه چې شاهدان شاهدي ورکوي.» د پولیسو له پاره ډیره ارزښتناکه وه که نیلس ګیویرسن او یا راسموس ټنټ هالټ اړ ایستل شوی وای چې شاهدي ورکړي. د ژورنالیستانو د نه مجبوره کولو علت دا دي چې د ۲۰۱۱ زکال د فبوري په میاشت کې ستړې محکمې د رسنیو د ساتنې په تړاو پریکړه وکړه. دا موضوع به هیڅوخت دومره ډیره د پاملرنې وړګرځیدلې نه واي که د دفاع وزیر، سیون ګیده په پیل کې د کتاب لیکونکي، ټامس رات هاک دومره ډیر تر فشار لاندې نیولی نه واي چې د کتاب خپرولو د سرتیرو ژوند ته ګواښ جوړ کړي او د پوځ پټ رازونه افشاء شوی دي. اوس عیني تهمت د دفاع پر وزارت وارد شو لکه د بمب چاودنه. دا دوو دوسیو ډیر عواقب ودرلودل.

پریکړه هغه وخت وشوه چې د دفاع وزیر په لبنان کې د ډنمارکي سرتیرو سره ملاقات کولو. د ۲۰۱۰ زکال د فبوري په (۱۱) نیټه د پنجشنبې په ماښام نړیوالي سولې د مرکز لوي دفتر ته په ناقورا [۳۰۳] کې ورسیدي. دوسیه د ده پر شاوخوا راګرځیدل، نوموړي د پنجشنبې او جمعې ماښام تر مینځ پریکړه وکړه. سیون ګیده وروسته یولندپوستن ورځپاڼې ته وویل: « زما لور راته وویل چې ما خپل د خوشالي مزاج د لاسه ورکړی دي. مانا دا چې زه هغه پخوانی سړی نه وم. دا خبري زما سترګي را خلاصي کړي، نو وروسته ما احساس کړل چې زما د لور خبره واقعیت لری.» کله چې د لبنان د سفر څخه را وګرځیدي، سمدلاسه یې صدراعظم ته ټلیفون وکړي چې زه استعفاء کوم. د وخت صدراعظم لارس لویکه غاسموسن [۳۰۴] ورته وویل چې یو ځل بیا باید پر خپله پریکړه فکر وکړي. د دفاع وزیر وعده ورکړه چې دوباره به فکر ور باندې وکړي. څو ورځې وروسته د دفاع وزیر د دوهم ځل له پاره صدراعظم ته ټلیفون وکړی چې تر سوچ وهلو وروسته بیا هم پر خپل غوښتنه ولاړ یم او استعفاء کوم. سره د دي چې د سیون ګیده د اداعا له مخې صدراعظم د بل وزارت وړاندیز ورته وکړي. خو د دفاع وزیر ورته وویل چې زه باید ځان ته وخت ولرم. وروسته سیون ګیده د انځورونو رسام، کیسپر ټورستینګ [۳۰۵] ته زنګ وواهه. دا هغه کس و چې یو وخت یې د دفاع د وزیر انځور د یو فلم په تړاو رسم کړي و. وزیر ورته وویل زه یو معلومات در کوم چې صدراعظم او څو محدود کسان ور باندې خبر دي، دا کار ځکه کوم چې باور در باندې لرم. نوموړي د فبوري په میاشت کې مستعفي شو. د نوموړي په وینا وروستی شپږ میاشتي د یو فرد په توګه ډیر تر فوکوس لاندې و. ټول ملاتړي ګوندونه د دوو لویو موضوعاتو په خاطر نور باور نه را باندې لري. سړی د اتومي فزیک استاد نه وي چې زما د سیاسي ضعف محاسبه وکړی. د دفاع د وزیر د استعفاء سره د هغه مشاور هم استعفاء وکړل. نور د (۶) کالو نژدي همکاران هم د وزارت څخه ولاړل. تر نوموړي وروسته، ګیټه لیلوند بیک [۳۰۶] د لومړي ځل له پاره یوه ښځه د دفاع وزیره شوه. نوموړې د پوځ په اړه هیڅ تجربه او معلومات نه درلودې خو د سیاسي اړخه څخه قوي وه. د ښی لیبرال ګوند غړي (۴۱) کلنه ګیټه د پوځ د کمسیون غړې، د دفاع چارو د کمسیون مرستیاله او د بهرنیو اړیکو د کمسیون مشره وټاکله شوه. د دفاع وزارت دنده به ژر نوموړې ته ښکاره شي چې ډیره درنه دنده ده.

---

[۳۰۲] - John Reimann

[۳۰۳] - Naqoura

[۳۰۴] - Lars Lykke Rasmussen

[۳۰۵] - Kasper Torsting

[۳۰۶] - Gitte Lillund Bech

## د افغانستان په اړوند د پای خبري

د ۲۰۱۱ زکال څخه تر ۲۰۱۲ زکال پوري

د ۲۰۱۰ زکال د فبوري میاشت: ډنمارکي پوځیان د لنډ مهال له پاره د ګولډ پوځي مرکز ګزمه پریږدي.

د ۲۰۱۰ زکال پسرلی: حاجي اسماري د ګرشک د پولیسو قوماندان شو.

د ۲۰۱۰ زکال د مارچ میاشت: ډنمارکي سرتیرو د پاټرول پوځي [۳۰۷] مرکز مسولیت واخیستی.

د ۲۰۱۰ زکال د جون میاشت: د (لمر توفان دوم) تر نوم لاندې عملیاتو کې د ایساف ځواکونو (۱۴۰۰) سرتیرو د پاټرول پوځي مرکز مطمین کړي. دوي په لار کې ونې، خاشي او واښه له مینځه یوړه. کښتونه یې له مینځه یوړه او سړک یې جوړ کړي.

د ۲۰۱۰ زکال دجون (۲۳) نیټه: جنرال سټانلي میک کریستال د ایساف د ځواکونو د مشرتابه څخه استعفاء وکړه ځکه نوموړي یو ځل بیا د اوباما د نژدي کارکنانو په تړاو منفي وینا وکړه. ډیویډ پیټریویس یې پر ځای وټاکل شو. نوموړي د سرتیرو عملیات لږ کړل خو د طالبانو د مشرانو د نیولو له پاره یې هڅې ګړندی کړي.

د ۲۰۱۰ زکال د اګست (۷) نیټه: دوه ډنمارکي سرتیري د پاټرول پوځي مرکز پر مطمینه سړک ووژل شول.

د ۲۰۱۰ زکال د سپټمبر میاشت: ډنمارکیانو خپل ډیر پام د ده ادم خان سیمې ته چې ګرشک ته نژدې پرته ده، واړاوه. د ګرشک څخه تر بند برق پورې لار باید قیریزي شي تر څو وکولای شو د بریښنا د فابریکې ترمیم تر سره کړو.

د ۲۰۱۰ زکال د نومبر (۱۹ ـ ۲۰) نیټې: د ناټو هیوادونو لویه غونډه په لیسابون کې جوړه شوه او د امنیت نیولو د لیږد پلان یې منظور کړي. مانا دا چې د افغانستان امنیتي ځواکونه د ۲۰۱۴زکال په پای کې د خپل هیواد د امنیت مسولیت پر غاړه واخلي.

د ۲۰۱۰ زکال د ډسمبر (۱۶) نیټه: اوباما اعلان کړل چې زموږ دنده د القاعدې له مینځه وړل وه خو دنده مو په افغانستان کې د ډموکراسی جوړول نه وه.

د ۲۰۱۱ زکال د می او جون میاشتې: د ګرشک ولسوال او د پولیسو قوماندان حاجي ایسماراایی تبدیل شول.

د ۲۰۱۱ زکال د مي لومړی نیټه: د امریکا ځانګړو ځواکونو اوساما بن لادن ووژي.

د ۲۰۱۱ زکال د جون (۲۲) نیټه: اوباما پریکړه وکړه چې (۱۰۰۰۰) سرتیري د افغانستان څخه وباسي.

د ډنمارکي پوځیانو په پوځي کنډک کې د حاجي اسمارایي د مقرري خبر په زړه پورې نه و. حاجي د ۲۰۱۰ زکال په پیل کې د افغاني مقاماتو لخوا د ګرشک د پولیسو د قوماندان په توګه وټاکل شو. مخکې ډنمارکیانو ډیره هڅه کړې وه چې د حاجي د تقرر څخه په دغه مهم مقام کې مخنیوي وکړي. نوموړي د ډنمارکیانو په هغه لست کې قرار درلودي چې ډیر وربانډي شکمن وو. خو بیا هم حاجي بریالی شو چې دغه مهم مقام تر لاسه کړي. د پولیسو د قوماندانی چوکی هغه وخت خالي شول چې مخکنی قوماندان، عبدالرازق د نشه ای توکو د قاچاق په موضوع کې (۱۶) کاله په بند محکوم شو. د قوماندان په زنداني کیدلو سره د مختلفو زورواکونو تر مینځ د زور ازمایي پروسه پیل شول نو ځکه حاجي ته چانس پیدا شو چې مقام تر لاسه کړي. ښار د ولسوال او پولیسو قوماندان په واسطه اداره کیدي چې د ښاري شورا د دوو مخکښو غړو لخوا مشورې ورکول کیدلي. په واقعیت کې ولسوال او قوماندان د ښار ټول واک په لاس کې وو. خلکو حاجي اسمارایي قوي ترینه سړی ګڼي او ویل کیدل چې د دغه چوکی له پاره یې یو میلیون ډالره رشوت ورکړی وو. کیدلای شوای چې حاجي اسمارایي یوازنی مقتدر سړی و چې ډیرې غیري رسمي اړیکې درلودي او دغه تشه یې ډکولای شواي تر څو په ګرشک کې ارامي رامینځته کړي. ډنمارکیانو د دغې مقرري په تړاو یوه دقیقه تشریح تر لاسه نه کړه.

حاجي اسمارایي د خپلو شخصي نفرو څخه ډیر کسان په پولیسو کې داخل کړل. حاجي په دغه ډول خپل واک ټینګ کړي. څو میاشتې وروسته قوماندان د پولیسو نوی جوړی شوی ودانی ته انتقال شول کوم چې نوموړی ته نوی دفتر ورکړل شو. د

[۳۰۷] - Patrol Base Line(PBL)

دفتر دیوالونه يې ژیړ رنګ کړل، د کار لوی ښایسته میز يې درلودې چې یو بنډل سپین کاغذونه ور باندې پراته وو. پر بله څنډه پلاستیکي ګلدانی پرته وه چې کوټې ته يې ښکلا ورکړې وه. حاجي اسمارایی پر لویه ګرځنده چوکی ناست و. پر دیوال باندې د ولسمشر حامد کرزي لوی انځور ځوړند و. مراجعین به په سیټونو او یا پلاستیکي څوکیو کې کښېنستل څو مراجعین يې تر نظر لاندې وي. میلمنو ته يې شنې چای د وچې میوی او بادامو سره ورکولې. دا میوې او چای يې ملایانو او مشرانو ته اینودلې تر څو خپل واک ورته وښیي. ډنمارکیانو ته ډېره ستونزمنه وه چې د حاجي په اړیکو باندې وپوهیږي. خو دومره وشوه چې د ۲۰۱۰ زکال په پسرلي کې د پولیسو تر مینځ اختلافونه حل کړل. د ګرشک د پولیسو شمیر (۳۰۰) تنه وو خو پلان و چې (۸۰۰) تنه ته يې زیات کړي. د ډنمارک د پوځ په بریښنایي ویبپاڼه کې د هلمند په اړوند ډېر معلوماتونه خپاره شوی وو خو د ګرشک د پولیسو د قوماندان د مقررې په تړاو معلومات نه و. په همدغه خاطر د پارلمان غړو ته د ګرشک د قوماندان د مقررې خبر چې څو میاشتې وروسته په پولیټکن کې خپور شو، حیرانونکي وو. د سوسیال ډموکراټانو د بهرنیو اړیکو د کمسیون مشر، موګنس لویکه ټافټ د همدغه خبر سره موازي داسې وویل:« که دا خبر رښتیا وي، نو د ټولو ستونزو څخه ښکاري چې موږ د حامد کرزي اود هغه د دولتي اپارات سره د هیواد په کچه ستونزې لرو. موږ په کراتو کراتو هیله درلوده چې هر څه سم شي خو زموږ هیلو ګټه نه درلوده.»

د دفاع وزیرې، ګیټه لیلوند بیک [۳۰۸] نه غوښتل چې موضوع بحث ته واچوي خو یوازې وویل:

«موږ باید دټولو هغو کسانو سره ګډ کار وکړو کوم چې افغاني مقامات يې د مشرتابه په مقامونو کې مقرروي.» یوه ورځ وروسته حاجي اسمارایي د پرایس کمپ ته زنګ ووهي.

نوموړي وویل چې زما په تړاو د ډنمارکیانو تبصره مې په ورځپاڼه کې ولوستل او هغه مې د ګوګل په مټ و انګلیسي ته وژباړل خو جزییات يې ورته تشریح نه کړل. نوموړي غوښتل چې دا معلومه کړي، ایا رښتیا دا معلومات ژورنالیست ته ډنمارکیانو ورکړی دي؟ خو په یوه غونډه کې د ډنمارکیانو قوماندان وویل چې د نوموړي د تیر ژوند په تړاو دوي معلومات ورکړي نه دي، قوماندان هم ومنل. د ۲۰۱۰ زکال د وړی څخه ډنمارکیانو د محلي پولیسو ټریننګ ته جدي پاملرنه وکړه. تر (۲۰) تنو زیات ډنمارکي سرتیري، د پوځ پولیس او ملکي ډنمارکیان د محلي پولیسو په ټریننګ بوخت وو. بنسټیز ټریننګ د پولیسو په نوي مرکز کې چې د ښار د مرکز څخه لږ لیري و، اجرأ کیدي. ډنمارکیانو حاجي ته هم تشریح کول چې د پولیسو جوړښت او مشرتوب يې باید څه ډول وشي. اسانه نه وه چې افغاني پولیسو ته د ډسپلین اساسات وښودل شي. ډیري وخت پولیس پرته له دې چې خبر ورکړي، ټریننګ ته نه راتلل. کله به چې راغلل، پلمې به يې کولې چې نور ټریننګ ته اړتیا نشته. دا يې کافي ګڼل چې محلي پولیسو بنسټیز کورس په اتو اونیو کې پای ته ورسوي. خو ستونزه دا وه چې فزیکي تمرینونه يې نه کول. نو په همدغه خاطر به ټریننګ د غرمې پر(۱۰) بجو پای ته ورسیدي که څه هم د ټریننګ اصلي پروګرام به پای ته رسیدلې نه و.حاجي اسمارایي هڅه وکړه چې ډنمارکیانو ته ثابته کړي چې د رشوت اخیستلو او پیسو ټولولو پرته نور کارونه هم کولای شي. د نوموړی سرتیرو ته معاشونه ورکول کیدل. حاجي هڅه وکړه چې انظباط او ډسپلین ډیر ټینګ کړي. څو ځله ډنمارکیان شاهد وو چې د پولیسو مشر، حاجي د هغو خلکو سره چې د پولیسو د بدو اخیستلو څخه يې شکایت کولو، څه ډول رفتار کولو. د ډنمارکي پوځي قطعي مشر، [۳۰۹] ځار زیات کړي. لیني فریدسکوو اوس داسې بیان کوي: «موږ همیشه د کنترول سیستم نور هم ښه کولو او معاشونه مو سرتیرو ته د پولیسو په مرکزي دفتر کې ورکول. په دغه ډول د معاشونو څخه د لیني فریدسکوو تر ځار لاندې دپیسو غلا کیدل سخت کار و تر هغه چې معاشونه مو په هره پوسته کې ویشلي واي. پولیس باید خپله مرکزي دفتر ته راغلي وای او خپل کارت يې ښودلی وای، موږ يې د وسلې نمبر هم کنترول کوي تر څو باوري شوو چې وسله يې پلورلي نه ده. که به هر څه سم وو نو مو پوره معاش ورکولو. دا هر څه زموږ ډنمارکیانو په واسطه کنترول کیدل.»

زما د کنترول سیستم درسته پایله نه درلوده. د ۲۰۱۱زکال د نومبر په میاشت کې په ګرشک کې د ډنمارکي ملکي پولیسو مشر، پاول سیوې یرینسن کوم چې افغان پولیسو ته زده کړی ورکولې او هم يې د کنترول سیستم ورښودې. نوموړی ارزونه دا وه چې اوس هم په ښار کې (۲۵) سلنه پولیس چې یوازې نومونه لیکلي دي خو په واقعیت کې نشته، شتون لري. کله مو چې د پولیسو لست کنترولوي په واقعیت وپوهیدلو چې د دوي معاش د کابل څخه راساً حواله کیږي، خو دوي نشته، معاشونه يې د پولیسو د قوماندان جیب ته لویدل. کله به چې ډنمارکیان د افغان پولیسو شاه ته ولاړه وو، هر څه به سم وو. دا ستونزمنه وه چې محلي مشرانو ته په کافي اندازه قابلیت ورکړو چې په راتلونکي کې دوي خپله وکولای شي چې د پولیسو مرکز رهبري کړای شي. کمپیوترونه او پرینټونه (د چاپ وسایل) پیدا کیدل خو داسې پرسونل شتون نه درلودې چې درسته استفاده

[۳۰۸] - GitteLillelund Bech
[۳۰۹] - Lennie Fredskov

ور ښځه وکړي چې خپل کارته همدلته دوام ورکړي ځکه زيات داسې کسان کابل ته تلل تر څو زيات معاش واخلي او امنيت يې هم تأمين وي.

د ۲۰۱۱ زکال د اپريل په مياشت کې يو عيسوي ملا په امريکا کې قران کريم ته اور واچوي. دا کړنه په افغانستان کې د سخت غبرګون سره مخامخ شوه. خلک ښارونو ته د اعتراض په توګه راووتل په ډېرو لويو ښارونو کې دغه لاريونونه په تاو تريخوالي بدل شول. په مزاري شريف کې د همدغو لاريونو په ترځ کې د ملل متحد اوه تنه کارکوونکي ووژل شول. حالات په ګرشک کې هم کړکيچن وو. په ګرشک کې طالبانو پر محلي ملايانو زور واچوي چې د خطابو په وخت کې خلک لاريون ته راوبولي. خو د پوليسو قوماندان، حاجي اسمارايي او ولسوال، غلام محی الدين خان يې مخه ونيوله. خو بيا هم د ډنمارک د قوماندي مرکز د پوليسو دغه شکمن قوماندان وستايه. ډګروال فليمينګ مينيرتز [۳۱۰] د پوځ په بريښنايي پاڼه کې د پوليسو د قوماندان او ولسوال ډېره ستاينه وکړه چې په ټاکلي موضوع کې د نا ارامیو په مخنيوي کې ښه رول ولوبولو.

مګر د۲۰۱۱ زکال په پسرلي کې اوازه شوه چې د پوليسو قوماندان بدل شوی دي.

ډګروال ينس ريس [۳۱۱] وايي: « د مي مياشتي په يوه ورځ کې هغه ناڅاپي ورک شو. موږ ته هيڅ معلومات و نه شو او نه مو هم د قوماندان سره مخه ښه وکړه. حاجي اسمارايي بس ورک شو. موږ وروسته هم پوه نه شوو چې هغه چير ته ولاړ او څه وشوه.»

حالات دوباره په ګرشک کې د اندیښني وړ شوه. د پوليسو نوی قوماندان، سيف الله خپل خلک د ځان سره راوستل او د پوليسو په ليکو کې ځای پر ځای کړل. دا حالات د پوليسو په مينځ کې نا ارامي راميځته کړه. څو ورځي وروسته نوي قوماندان ميګروفون واخيست او په ښار کې اعلانونه وکړل. نوموړي اعلان کړل هر څوک که د رشوت خورو او يا ناقانونه پوليسو څخه شکايت لري کولای شي ماته راشي. سيف الله څو تنه هغه پوليس چې په بډو اخيستلو تورن وو، بنديان کړل. اوړده ويښتان پوليس او هغه پوليس چې په نشه ای توکو روږد وو د پوليسو د ليکو څخه ويستل.

د سيف الله دغه کړونو د عدالت نښاني څرګندې کړي چې وروسته ډنمارکيانو د پوځ په بريښنايي پاڼه کې وليکل. ډنمارکيان هيڅ وخت پوه نه شول چې د نوی قوماندان دغه نوي هڅې په رښتيا د حاجي د کسانو تصفيه وه او يا بله موخه يې درلوده.

د ښار خلکو د نوی قوماندان د چلند سره عادت ونيوي. څو ورځې وروسته ولسوال، غلام محی الدين خان د حاجي په څير ورک شو. هيڅ تشريح هيڅ په مخه ښه يوازې بل کس د ولسوال په توګه مقرر شو. دغه تبديلي کومه لويه ناکامي نه ګڼل کيده، وروسته ډنمارکيانو عادت ونيوي چې والي به نوي کس د ولسوال په توګه معرفي کړي، د هغه نوی ولسوال سره يې ګډ کار کولو. خو په مشرتابه کې بيرنی بدلون د ښار د امنيتي حالت ثبات د ګواښ سره مخامخ کولو.

د ګرشک سهيل لوري ته ډنمارکي سرتيرو ځانونه په نامناسبه حالت کې ليدل. د ۲۰۱۰ زکال د مارچ په مياشت کې خبرونه خپاره شوه چې د ډنمارکي سرتيرو ستونزې د لومړی ځل له پاره د ډنمارک تر پارلمانه [۳۱۲] رسيدلي دي. (کريستينسبورګ: د ډنمارک د پارلمان د ودانۍ نوم دي.) البته د سرتيرو د ليکو څخه ستونزې رسيدلي وي.

د مارچ پر (۲) نيټه، جان ډيربيو پاولسن [۳۱۳] يوه سرتيري ميلمه ته په پارلمان کې ښه راغلاست ووايه. دا يو باتجربه سرتيري و چې د يولند څخه د سوسيال ډموکراټانو د دفاعي چارو د کميسون د مشر سره د ملاقات له پاره پارلمان ته ورغلي و. د يو افسر په واسطه د سوسيال ډموکراټانو دغه مشر د نوموړي سرتيري سره اړيکي نيولي وي. نوموړي افسر، مشر ته د هغه انتقادي ايميل په تړاو معلومات ورکړي وو چې د اتمې دلګی سرتيرو ډنمارک ته ليږلي وو. هغه افسر د سرتيرو په اجازه دغه ايميل مشرانو ته ليږلي وو. کله چې دغه سرتيري د ۲۰۱۰ زکال په فبوري مياشت کې کور ته راستون شو نو يو اوږد ايميل يې د سرتيرو د حالت په تړاو چې خپل نظر يې ور په کښې څرګند کړی و، جان ډيربيو پاولسن ته وليږي.

دا جګړه ده او موږ امر ته انتظار باسوو:« ما هر څه تجربه کړه دا ټول وخت چې زه هلته وم. زه د لارې د سر د يو مين څخه چې انفجار يې وکړي، (۱،۵) متره ليري وم. ما دګزمې په وخت کې وليدل چې د سرتيرو موټري وسيله پر ماين برابره شوه او انفلاق يې وکړ چې د سرتيري سر يې ورڅخه بيل کړي، ما د سرتيرو وژنه په ډزو کې وليدل. زه بيا هم د هغو تجربو څخه ډير ليری يم چې پر نورو سرتيرو تيری شوی دي.»

---

۳۱۰ - Flemming Meinertz

۳۱۱ - Jens Riis

۳۱۲ - Christiansborg

۳۱۳ - John Dyrby Paulsen

د ایمیل د محتوا ډېره برخه د دندو پر سختوالي راګرځېده چې ډنمارکي سرتیري په ځومرو ستونزو د ناممکنه دندو په سرته رسولو بوخت دي. په ډنمارک کي سیاستوالو، افسرانو او د سرتیرو کورنیو همیشه لیکل چې ډنمارکي سرتیرو یو غټ بدلون راوستي دي. خو دا بدلون کوم دي؟

« په لنډه مهاله توګه مونږ ټولو بدلون راوستي، د اوبو چینلو ځاه ګان مو وکیندل، پلونه او سړکونه مو جوړ کړل، د افغانستان پولیسو او پوځ ته مو ټریننګ ورکړي، مخالفین مو ووژل او یو زیات مقدار پیسي مو ور پمپ کړي.» نو موړي اضافه کړه:

« که مونږ غواړو چې یو ستر بدلون راوړو نو باید ډېر کلونه په هغه هیواد (افغانستان) کي پاته شوو، ډېر سرتیري ولړو او د نورو قربانیو له پاره باید تیاري ولرو( زه فکر نه کوم چې د همدغې جګړې ملاتړي به هم د دغه قیمت ورکولو ته زړه ښه کړي). دلته زه د نورو (۲۰) کلنو خبري نه کوم، ممکن (۴۰ ـ ۵۰) کاله وي. مونږ ټول پوهیږو چې زمونږ د سرتیرو شتون دومره اوږده موده ممکن نه دي.»

د نوموړی سرتیري موخه دا وه چې ډنمارک باید یو لار ولټوي تر څو خپل سرتیري د افغانستان څخه وباسي. په پیل کي نوموړی سرتیري شرمیدي چې د پارلمان د یو مخکښه غړي سره خبري کوي خو نوموړي پوهیدي چې د ده بیان د مخالفو ګوندونو پر ژرندو د اوبو ډیرول دي(ژ: مانا دا چې د نوموړي خبري په پارلمان کي د اپوزسیون په ګټه دي). دوي کولای شي چې د داسي یو سړی د نظریاتو څخه ګټه واخلي چې د جګړې د لومړی لیکي څخه راغلي وي، په ځانګړي ډول هغه وخت چې بارک اوباما د سرتیرو د ایستلوپلان اعلان کړي.

« په ایمیل کي په ځرګندو ټکو لیکل شوی وو چې مونږ د غه اړ کسان خطر ته غورځوو. نو په همدغه خاطر دغه ډېره اړینه او مهمه ده چې د سرتیرو د ایستلو له پاره نیټه وټاکل شي.» نوموړی اضافه کوي: «زه پوهیږم چې مونږ د نورو هیوادونو یوه برخه یوو او مونږ ډنمارکیان باید مرسته وکړو، مګر نور بس ده. ممکن زه زوړ او بدبینه یمه او یا کیدلای شي زوړ یم خو واقعبینه یم.»

دوي د جان ډیوبیو پاولسن دفتر ته ولاړل کوم چې سرتیري خپل کیسي ورته بیان کړي. نوموړی بیان کړل چې افغانان په هلمند کي په ژوره توګه د لویدیزو د سرتیرو د شتون سره هیڅ علاقه نه لري. د نوموړی سرتیري دنده د ډنمارکیانو په اتمه دلګۍ کي دا مانا درلودل چې نوموړی د ډیرو افغاني بزګرانو سره خبري وکړي او د نوموړی د خبرو او تجربي پایله دا شوه چې هیڅا د دوي د شتون سره علاقمند نه وه. افغانانو یوازې هغه پیسي غوښتلي چې ډنمارکیانو د ځان سره راوړي وي. افغانانو یوازې خپل په ګټه کي فکر کوي. دا د دوي په سیستم کي و او په دغه ډول یې ژوند کولو. کله چې ډنمارکیانو د محلي خلکو سره خبري کولي، د افغانانو بیان د حالاتو سره برابر وو. افغانانو فکر کولو چې د لویدیزو درانده جګړه ایزه وسلي د دوي او د کورنیو د ژوند او مرګ پریکړه کوي. په همدغه خاطر دوي ځانګړي انتقادي ځواب نه وایي چې ډنمارکیانو به د دوي نظر د بهرنیو سرتیرو د شتون په تړاو وپوښتي. نوموړي سرتیري په یو وخت کي د ډنمارکیانو د عملیاتو د سیمي څخه بهر یوه پوځي پوسته جوړه کړل.

«هلته د لیرو ځایو څخه خلک راتلل چې تر ځانګړي فشار لاندې نه وو. داسي ښکاریدل چې دوي پرته د ډار څخه خپل نظرونه بیانول. د دوي په مینځ یو کس هم نه و چې زمونږ د شتون څخه خوشاله اوسي. دوی ویل: «زمونږ د مینځه ووزئ. دوي ویل تاسي څه فکر کوي چې مونږ به د خپلو کورنیو غړي د طالبانو د مینځ څخه تاسو ته په لاس درکړو.»

نوموړی سرتیري یو ساعت د پارلمان د غړي، جان ډیو بیو پاولسن سره خبري وکړي.

« جان ډیو بیو پاولسن د سرتیري څخه وپوښتل چې غواړي د سوسیال ډموکراټانو د مشرې، هیله تورنینګ سره وګوري؟» سرتیري ومنل. سرتیري ته (۵ ـ ۱۰) دقیقي وخت ورکړل شو چې د ګوند د مشرې دفتر ته ورشي. سرتیري د ګوند مشرې ته د خپلو تجربو لنډیز بیان وکړي. د ګوند مشرې هیله ونه کړه چې سرتیري خپل معلومات په ژوره توګه بیان کړي. د غونډې په پای کي سرتیري فکر وکړي چې دواړو سیاسي مشرانو د سرتیري خبري په ښه توګه نه واوریدلي. بیا هم نوموړی سرتیري خوشاله وه چې د هلمند واقعي حالات یې مشرانو ته بیان کړل او زیات خوشاله شو چې د سوسیال ډموکراټانو مشري د یو باتجربه سرتیري د نیوکو څخه ډک بیان په ټولیزه توګه د جګړې په تړاو واوریدي.

جان ډیو بیو پاولسن ارزونه وکړه چې غونډه د ګوند د مشرې له پاره ډیره ارزښتناکه وه. جان ډیو بیو پاولسن د ګوند مشرې ته مخکي چې سرتیري یې دفتر ته وروستي، د سرتیري د بیان په تړاو معلومات ورکړي وو. د سرتیري د مخامخ کتنې څخه د ګوند د مشرې څخه موخه دا وه چې د ګوند مشره شخصاً ارزونه وکړي چې سرتیري څومره رښتیا وایي.

د ۲۰۱۰ زکال د مارچ په میاشت کي د هلمند په تړاو د پلان وروستنی خبري وي. اوس نو سوسیال ډموکراټانو او کیڼ لیبرال ګوند پرافغان حکومت فشار راوړي چې د خپل هیواد د امنیت موضوع پر خپله غاړه واخلي. دواړو ګوندونو ویل چې اوس وخت را رسیدلي دي او اړینه ده چې زمونږ سرتیري خپلو کورونو ته راستانه شي.

د بيرلييينګ ټيدنه په ورځپاڼه کې د کين راډيکال يو مخکښ غړي (پخواني د بهرنيو چارو وزير) ، نيلس هيلويګ پيټرسن په خپله ليکنه کې څرګنده کړه چې د ډنمارک سرتيري بايد د ۲۰۱۱ زکال په وړی کې د هلمند څخه ويستل شي. دغه ګوند غوښتنه وکړه چې د هالنډ په ډول چې خپل سرتيري د اروزګان ولايت څخه د ايستلو له پاره تياره وي، ډنمارک هم بايد ورته کړنه وکړي. کاناډا هم پريکړه وکړه چې خپل وروستي سرتيري د ۲۰۱۱ زکال په وړی کې وباسي. د کيڼ ليبرال ګوند په بدل کې وړانديز وکړي چې پرته له هلمند څخه په نورو ولايتونو کې چې امنيت ښه دي، په ملکي پروژو کې بايد مرستې زياتې شي.

سره د دې چې د سوسيال ډموکراټانو مشرانو د ډنمارکي سرتيري خبري اوريدلي وی او د نورو سرچينو څخه يې هم معلومات تر لاسه کړی وو چې ډنمارکي سرتيري په هلمند کې په څومره ناوړه شرايطو کې ژوند کوي خو بيا هم د کيڼ ليبرال ګوند په څير په بحثونو کې جدي نه وه. سوسيال ډموکراټانو د سرتيرو د ايستلو غوښتنه وکړه خو د دقيقې نيټې غوښتنه يې ونه کړه. دا به کافي وي چې په ټاکلې وخت کې د سرتيرو د وتلو پر موضوع بحثونه وشي او په جزيياتو پلان جوړ شي. په بدل کې بايد سوسيال ډموکراټان باوري شي چې افغاني پوځيان به د ډنمارکيانو د مسوليت سيمو ته په ۲۰۱۰ زکال کې راشي. دا به د ډنمارکي سرتيرو د وتلو له پاره يو ښه بنسټ او اصل وي. نو ځکه بايد افغاني پوځيان د راتلونکو دندو د ښه اجراُکولو له پاره ټرينينګ شي. د ډيرو افغاني پوځيانو راتلل و ګرشک ته کومه ګرانتي و نه غوښتل شوه. د ناټو هيوادونو په مينځ کې داخلي مبارزې جريان درلودي چې خپل د مسوليت په سيمو کې افغاني پوځيان ځای پر ځای کړي. د ډنمارک د بهرنيو چارو نوی وزيرې (د ځان ساتو د ګوند غړي) ، لينه ايسپيرسن [۳۱٤] په کابل کې پر موضوع بحث کولو. د نوموړې له پاره لوی برياليتوب دا و چې د رسنيو په مخ کې د امريکا د مشر قومانداان جنرال سټانلي مک کريستال [۳۱۵] سره څنګ په څنګ ناسته وه او ويې ويل چې افغاني کنډک د (۴۵۰ ـ ۵۰۰) تنو پوځيانو په درلودلو ګرشک ته روان دي. د ډنمارک د بهرنيو چارو وزيرې په بحث کې يوه اندازه کاميابي د انګليستان او امريکا په پرتله نصيب شوه.

موږ بايد په بشپړ باور ووايو چې ډنمارکي پوځيان بايد د ۲۰۱۱ زکال په جريان کې ډنمارک ته راستانه شي. د دفاع وزيرې وويل چې د ټولو ملاتړو ګوندونو لويه هيله داوه چې د ډنمارکي پوځيانو د عملياتو ليد لورى وټاکل شي.د دفاع وزيره، لينه ايسپرسن د افغانستان څخه کور ته د ځينو برياليتوبونو سره راوګرځيدله. نوموړې د افغان سرتيرو د ګرانتي سره را وګرځيدله. ګوندونو د ۲۰۱۱ زکال د اپريل په مياشت کې د ډنمارکي سرتيرو له پاره په هلمند کې نوی پلان جوړ کړي. د سرتيرو د را ايستلو د دقيقې نيټې ټاکل بل کال ته وځنډيدل. د دې خبري مانا دا وه چې ګوندونه بايد انتظار وباسي تر څو په منې کې د ناټو هيوادونو غونډه په ليسبن کې جوړه شي، وروسته به پر موضوع رغنده بحثونه وشي. د ناټو په غونډه کې به ملاتړی هيوادونه د افغانستان او ملل متحد په ګډون به يو ګډ پروګرام معرفي کړي چې د مسوليت سپارلو انتقالي دوره به ځانګړي شي تر څو افغانان وکولای شي ټول امنيتي مسوليتونه پر غاړه واخلي.

کله چې د پلان په تړاو بحثونه پای ته ورسيدل نو جان ډيوبيو پاولسن خپل ميلمه ته يو ايميل وليږي. نوموړی ميلمه (سرتيري) د ايميل په لوستلو متعجب نه شو او داسې ځواب يې وليکي:

«تاسو سياستوال ياست تاسو به پوهيږي چې دا به ښه پريکړه وه. ما هيله درلوده چې دغه بحثونه ډير مخته ولاړ شي خو جرأت يې و نه کړای شوای».

حکومت  د ډنمارکي پوځيانو د فعاليتونو ارزونه په ۲۰۰۹ زکال کې رسنيو ته په واک کې ورکړل. ډنماکيانو و نه شوای کولای چې افغان پوليس دومره منظم کړي چې د خلکو باور ور باندې پيدا شي. حاجي اسماراېي د ناټو د مخالفت سره سره د پوليسو د قومانداان په توګه وټاکل شو خو د نوي ولسوال ټاکل هم د يو لايق او باوري ملکي مشرتابه په رامينځته کيدو کې کومه مرسته ونه کړه. ټاکل شوې موخې ته نه و رسيدلي. په بدل کې دغه کال په هلمند کې ډير غمجن او خونړی حالت وو چې (۷) ډنمارکي سرتيري مړه او (۵۹) سرتيري ټپيان شوی وو. په کافي کچه افغان سرتيري هلمند ته را نغلل او دغه افغان پوځيان چې په هلمند کې وو، د مستقلانه عملياتو توان يې نه درلودي.

څو روښانه ټکي وه. د بيلګې په توګه د څو ښونځيو د ودانيو او يوې ليليې د دوو پوړو په رغولو کې ډنمارکيانو مرسته کړې وه. ډنمارکي پوځيانو پر پوځي حالاتو کنټرول نه درلودي او د هلمند په سهيل کې حالات ډير خراب و.

طالبانو پر سړکانو د ډنمارکي پوځيانو د پوستو پر شاوخوا ماينونه ښخول. ډنمارکيانو ټوله انرژي د خپلو پوستو پر ساتلو مصرفول او يا به يې د پوستو په اکمالاتو وخت تيروي. د ۲۰۰۹ زکال د اګست په مياشت کې ډنمارکي مشرتابه په هلمند کې غوښتل چې د ارماډيلو پوځي کمپ وتړي.

[۳۱٤] - Lene Espersen

[۳۱۵] - Stanley McChrystal

د پوځ مرستیال مشر، ډګروال مایکل اینګهالم پریکړه وکړه چې: «موږ ارزونه وکړه چې څه به پیښ شي که موږ (ډنمارکیان) د ګرشک لوری ته ځانونه نژدې کړو؟ موږ باید پوځي کمپونه لیرې کړو.» دا یوازې د ارزونې په کچه کې پاته شوه، لوی درستیز نه غوښتل چې ارماډیلو پوځي کمپ وتړي، سره د دې چې د ارماډیلو پوځي کمپ خپل ستراتیژیکي او تاکتیکي ارزښت د ۲۰۰۹ زکال د جنوري په میاشت هغه وخت د لاسه ورکړي چې د کجکي د پروژې څخه صرفنظر وشو. لوی درستیز ویل چې د ارماډیلو کمپ سمبولیک ارزښت لري.

د ارماډیلو کمپ په افغاني نوم (د بدوانو د کمپ په نوم یاد شو. بدوان د ده ادم خان د سیمې په وروستۍ او د ښورکې په پیل کې واقع ده.) سره یاد شو. نورو پوځي کمپونو ته هم افغاني نومونه ورکړل شول. د دې کړنې موخه دا وه چې مسولیت افغانانو ته وسپارل شي. د مرستیال مشر، مایکل ایګهالم په نظر د کمپونو تړل سایکلوژیکه اماده ګې وه. د بدوانو نوم د ډنمارکیانو په زړونو کې ځای ونه نیوي. دارماډیلو نوم د ډنمارکیانو په پوځ کې د ویاړ خاطرات درلودل.

په ۲۰۰۹زکال کې د ناټو د سرتیرو (۸۰) سلنه تلفات په کورونو کې د جوړو شوو ماینونو څخه وو. مګر د ۲۰۰۹ زکال په وروستیو کې ډنمارکیانو او د ناټو نورو غړو هیوادونو پوځونو د طالبانو د اساسي وسلو د له مینځه وړلو له پاره پاملرنه وکړه. د امریکا د دفاع وزیر، رابرت ګیټس [۳۱۶] یو ځانګړی مرکزي پوځي واحد جوړ کړي چې د سړکانو پر غاړه د ښخ کړه شوو ماینونو پر ضد فعالیتونه ګړندي کړي.

د ډنمارک د دفاع وزارت مشران ډیر اهسته وو. د ۲۰۰۹ زکال په جریان کې ډنمارکیان د خپل مسولیت په سیمو کې (۴۳۵) د سړک پر سر ښخ شوي ماینونه پیدا کړل. د هرو پنځو ماینونو څخه تر انفجار څخه مخکې څلور ماینونه شنډ شول. خو بیا هم د ماینونو د انفجار څخه پنځه ډنمارکیان مړه او (۳۵) سرتیري ټپیان شول. همدا ډول د دغو ماینونو په پایله کې تر سلو میلونونو کرونو اضافه تجهیزاتو ته تاوان اوښتي وو. د پوځي واحد (۵۰) د انجنیري ځانګې سرتیري دومداره په کار بوخت وو او کله کله خپله دوي هم د ماینونو ښکار کیدل ځکه د ګزمې په مخکې تلل. د پارلمان په ګډه پریکړه کې راغلي وو چې د انجنیري پرسونل باید زیات شي. مګر سیاستوالو د پرسونل شمیره او وخت و نه ټاکي. یوازې د پوځ د قوماندې مرکز ته دغه دنده سپارلې وه.

لومړي قدم ډیر جدی نه و. د پوځ د مشرتابه د کمسیون د یوې غونډې د پریکړې څخه په ۲۰۰۹ زکال کې څرګنده شوه چې د اکتوبر د میاشتې په جریان کې په انټرنټ کې یوه ځانګړی پاڼه پرانیستله چې ټولې ښکیلې خواوې د سړک د غاړې د ماینونو، طالبانو او د دوي د نوي تجهیزاتو په اړوند تجارب تبادله کړي. یو کال وروسته ځانګړي پوځي واحد د پوځ د قوماندې د مرکز په جوړښت کې جوړ شوو چې ډنمارکي سرتیري تیار کړي چې د ماینونو ښکار نه شي. مخکې تر هغه چې د سرتیرو د انتقال موټري وسایط ښه محافظت شي او د ماین پاکولو وسایل هم موډرن شي. د سرتیرو د انتقال مخکني وسایط په لاندې برخه کې د محافظت له پاره ښه جوړ شوی نه وو.

د ایکسترا بلدیت ډنمارکي ورځپاڼې د معلوماتو له مخې په ۲۰۰۸ زکال کې کارپوهانو غوښتنه وکړه چې موټري وسایط یې باید په لوړ معیار د ماینونو پر ضد جوړ شي خو دا هیلې دوه دري کاله وروسته د عمل جامه واغوستل. په ۲۰۱۱ زکال کې د امریکا څخه (۴۰) موټري وسایط ډنمارکیانو واخیستل چې د سړک د غاړي د ماینونو په مقابل کې ښه جوړ شوی وو، ځانګړي مواد ور په کېښې کار شوي وو چې سرتیري محافظت کړي. دا وسایط ډیر درانه او غټ وو چې هر ځای ورڅخه ګټه اخیسته ستونزمنه وه. دا وسایط د جګړه ایزې ستراتیژي سره برابر نه وو چې د افغانانو په مینځ کې د ښه امنیت باور رامینځته کړي. د دغو غټو وسایطو لیدنې د افغانانو په مینځ د ډار چاپیریال خپور کړي وو او په افغانانو کې داسې یو باور پیدا کړی چې بهرنې سرتیري ځان مصون نه ګڼي.

همدغو وسایطو هم ستونزه حل نه کړه. د طالبانو ځواب بیا هم د سړک پر غاړه د ماینونو ښخول وو او دغه وسایط یې ړنګولای شوای. په همدغه خاطر ډنمارکي سرتیرو هڅه وکړه چې د سړک د غاړي ماینونه مخکې د انفجار څخه پیدا کړي او همدا ډول د بمونو ښخولو کسان پیدا کړي. دا کار په لوړه کچه څارګریزو پلټونو او د ټلیفوني خبرو اوریدلو ته اړتیا درلودل. په همدا ډول هغه ماینونه چې سرتیرو موندل، باید تخنیکي څیړنه یې شوی وای. دغه پیدا شوی ماینونه باید پرزه شوی وای، پر ماینونو د ګوتو نښانونه او ډی ان ای [۳۱۷] څیړل شوی وای.

په ۲۰۱۰ زکال کې انګریزانو په هلمند کې (۱۲) د ماینونو د پیداکولو ګروپونه جوړ کړل کوم چې دوي شپږ کاله ځانګړي زده کړې کړې وي او (۱۱) تنه یې د پهره دارانو په توګه ټاکلي وو. خو د یو کال په جریان کې څلور انګریزي ګروپونو د جګړې توان د لاسه ورکړي ځکه هغه کار پوهان چې ماینونه یې پرزه کول او څیړنې ورباندې کولې یا د طالبانو لخوا

[۳۱۶] - Robert Gates
[۳۱۷] - DNA

وویشتل شوه او یا هم د ماینونو د انفلاق په پایلو کې ووژل شول. د دښمن (طالبانو) کار پوهانو د ځانګړو موډرنو ماینونو په جوړولو پیل وکړي. ډیر ځله د سړک د غاړې ماینونه د یو پټ میکانیزم په واسطه منفجر کیدل، یاني زموږ کارپوهانو به فکر وکړي چې ماینونه یې شنډ کړي خو هغو به انفلاق وکړي.

د ماینونو د شنډولو ډنمارکي کارپوهانو په انګلیستان کې زده کړې کولې. د ۲۰۱۰ زکال په وړي کې لومړی ګروپ هلمند ته د استولو له پاره چمتو شو. خو بیا هم دغه ګروپ د لنډ وخت له پاره معطل شوو. پوځ اړین اضافي وسایل رانیولي نه وو ځکه د رانیولو بیه یې (۱۰) میلیونه کرونه وه. د رانیولو پروسه وځنډیدله کله چې د رانیولو فرمایش ورکړل شوو نو د تحویلي وخت یې ډیر انتظار ته اړتیا درلودل. د ۲۰۱۱ زکال په منی کې د ډنمارکیانو د ماینونو شنډولو کارپوهان هلمند ته ورسیدل.

د ۲۰۱۰ زکال په جریان کې د ارماډیلو او لس کیلومتره د ګرشک د سهیل لوري ته د بارکزیو په پوځي کمپونو کې حالات ډیر ترینګلي شول. د همدغه کال په لومړیو دري میاشتو کې د ارماډیلو د پوځي کمپ په شاوخوا کې یو ډنمارکي سرتیري ووژل شو او (۲۳) سرتیري ټپیان شول. د پورته سرتیرو څخه (۱۹) تنه د سړک د غاړې د ماینونو ښکار شوه، سره د دې چې د پوځي کمپ پر شاوخوا د ژمی په موسم کې ټولې ونې چپه شوي او یا انفلاق ورکړل شوو چې د طالبانو د نژدې کیدو او د ماینونو د ښخولو مخه ونیول شي.

وروسته د ډنمارکي کنډک د مشرتابه لخوا پریکړه وشوه چې د قطار په مخ کې باید د ماین کښلو وسیله (د مځکې د اړولو یانی د یوي کولو ماشین) حرکت وکړي. دغه وسیله په یوه زري داره ټانک پورې وتړل شول چې په لوی طاقت یې مځکه اړول، ماینونه یې د مځکې څخه راکښل او شنډول. د ماین کښلو او زري ټانک تر مینځ واټن زیات و چې زري وسیله او ور په کښې ناستو کسانو ته زیان و نه رسیږي. تردغې وسیلې وروسته په اړول شوي مځکه کې نورو وسایطو حرکت کولو. په دغه ډول په بشپړ باور ډنمارکیان د ارماډیلو کمپ ته رسیدل. خو د مځکې اړولو (د ماین کښلو ماشین) د نورو ډیرو دندو د پاره د استعمال وړتیا نه درلودل.   که چیرې د دغو وسایطو څخه ډیر کار اخیستل شوی وای د کښتونو او د اوبو د کانالونو او لارو د ویجاړیدو سبب ګرځیدل ځکه وزن یې ډیر زیات و. بله ستونزه دا وه چې ډنمارکیانو د مځکې اړولو (د یوي کولو) یوه وسیله درلوده او هغه به هر وخت ترمیم ته لیږل کیدل ځکه د ماین د انفجار په وخت کې به کړه شوی وه. د سړک د غاړې ماینونو ستونزه ډیره زیاته کړی وه نو ځکه سرتیرو لږ ګزمې کولې او هم د نورو پوځي پوستو د اکمالاتو له پاره د موادو د قطار په مخکې د همدغې وسیلې څخه کاراخیستل کیدې.

د سړک د غاړې د ماینونو یوازې بهرني سرتیري او افغان امنیتي ځواکونه نه ښکار کیدل بلکې عام وګړي هم په ماینونو وژل کیدل کله چې به د سورلی بسونه او موټر وربانډې برابر شول. بیا به محلي خلک یوازې پر طالبانو په غوصه نه وو. ماشومان پوهیدل چې ماینونه ځکه ښخیږي چې بهرني سرتیري په هیواد کې شته. د ماینونو د انفجار په پایله کې چې عام وګړي وژل کیدل نو پر افغان دولت یې باور لړیدي او ادعا یې درلودل چې افغان حکومت د خپل ولس امنیت خوندي کولای نه شي.

د ارماډیلو کمپ په ډنمارک کې ډیر شهرت درلودي ځکه د ارماډیلو د پوځي کمپ مستند فلم چې په ۲۰۱۰ زکال کې د سینما پر پرده وښودل شو، سل زره ټکټونه یې وپلورل شول.

وروسته د جګړې د ورځنیو ستونزو انځورونه او مستند فلم د ډنمارکي دوهم تلویزیوني چینل پر پرده هم وښودل شوو. د فلم جوړونکي یو کال مخکې د یو ګروپ ډنمارکي سرتیرو سره ملګري وه او د هغو جګړه ایزه حالات یې تعقیبول. سرتیرو پوځي پوستې ساتلي، ګزمې بې کولې د طالبانو سره یې جګړه کوله د عادي افغانانو سره یې خبري کولې. انځورونو نور واقعیتونه بیانول کوم چې سرتیري ډیر کلونه په هلمند کې د جګړې په جبهه کې جنګیدل.  نوی لوی درستیز، کنود بارټیلس [۳۱۸] په پټه توګه د پوځي کمپ په تړلو پیل کړی و. لوي درستیز په ۲۰۱۰ زکال د مارچ په میاشت د انګریزانو د پوځ د محلي مشرانو سره په هلمند کې موضوع راپورته کړه. لوي درستیز وویل:« ما حالات وڅارل او ما ولیدل چې حالات په عمومي توګه ځنګه دي او په ځانګړي توګه حالات د ارماډیلو د کمپ پر شاوخوا څه ډول دي.

شرایطو ته په کتو سره زما نظردا دي چې د یوې سیمې ساتل یوازې د دې له پاره باید نه وي چې زه دا سیمه تر ولکې لاندې ساتم. که سړی یوه سیمه ساتي باید په ساتلو کې یوه مهمه موخه ولري. زماوروستی نظر دادي چې د ارماډیلو پوځي کمپ خپل رول لوبولی دي.»

پوځي کمپ د هغو پوځي دوکتورینو سره هم برابر نه دی چې د ایساف مشر قوماندان د ۲۰۰۹ زکال په وړی کې بیان کړل. د ناټو پوځونه باید ټوله پاملرنه د هغو سیمو امنیت ته را واړوي چې ډیر افغانان ژوند ور په کښې کوي. ډیر خلک په ښارونو

[۳۱۸] - Knud Bartels

کې اوسيږي. ډېر لږ شمیر بزګران د هلمند سیند په سهیل کې ژوند کوي چې ډنمارکي سرتیرو د ۲۰۰۷ زکال د مني څخه د مخالفینو سره په جګړه بوخت وو. کنود بارټیلس باوري و چې د ولسوالي د ټولو وګړو (۸۰) سلنه د ګرشک په ښار او شاوخوا کې میشت وو.

کنود بارټیلس وایي:« سړی ویلای نه شي چې د ارماډیلو د پوځي کمپ پر شاوخوا د میشتو وګړو شمیره ډیره ده. کیدلای شي چې پرته د دي چې د وګړو شمیره زیاته وي، یوه سیمه تر ولکي لاندې وساتل شي. زما ارزونه دا نه ده چې د ارماډیلو د پوځي کمپ سیمه دا ډول یو ځانګړتیا نه لري چې پر ساتلو یې ټینګار وشي.»

د ارماډیلو د کمپ تړل د ۲۰۱۰ زکال په منی کې پیل نه شول سره د دي چې د غونډ قوماندان، فلیمینینګ ماتیسین [319] په نظرکې درلودل.

فلیمینینګ ماتیسین وایي:« طبعي **خبر**ه وه چې د ګرشک ښار امنیت ته باید ډیره پاملرنه اوښتي وای.» فلیمینینګ ماتیسین خپل نظریات د ډنمارک د ملي مقاماتو سره شریک کړل. فلیمینینګ ماتیسین یې نه تشریح کوي چې ولې د ارماډیلو د کمپ تړل پر هغه ټاکلی وخت پیل نه شول. خو حالت د ډنمارکیانو د سهیلي کمپ پر شاوخوا د زغم وړ نه و.

په لومړی نظر افغان ډګروال، همایون پیمان داسې پوځي نه ښکاری چې د جګړې سره عادت ولري. ښه پوځي جامي یې په تن وي، د اړتیا پرته یې ډیري خبري نه کولي. دا سخته وه چې سړی باور وکړی چې دغه وړوکی سړی به په هلمند کې د (۶۰۰) سرتیرو مشر وي. عراقي افسران هم په پیل کې دا ډول پېټه خوله وو کله چې فلیمینینګ ماتیسین د ۲۰۱۰ زکال د اګست په میاشت کې د ډګروال لینی فریدسکو [320] په عوض وټاکل شو. خو وروسته افغان پوځیان چې د ډنمارکي پوخیانو سره همکار وو، جدي شول، په ځانګړی توګه هغه وخت چې د ارماډیلو (اوس د بدوانو) د پوځي کمپ په تړاو بحثونه کیدل.

« لینی فریدسکو د افغان همکار څخه وپوښتل: د بدوانو د کمپ په تړاو څه نظر لري؟

« ډګروال همایون پیمان ځواب ورکړي: د بدوانو کمپ د استفادې وړ نه دي. پوځیان مو ډیرتیت و پرک دي او موږ په هغه سیمو کې چې ډېر خلک نه اوسیږي ډیره انرژي مصرفوو.»

لینی فریدسکو پریکړه وکړه چې کنډک باید خپلو چارو ته بدلون ورکړي. د ارماندیلو د کمپ پوځي دلګی باید نور ګزمې ته ولاړ نه شي. د ګزمو څخه کومه ګټه پلاس نه راځي خو خطر زیات دي چې سرتیري د کمپ څخه لیري وي. کله چې لینی فریدسکو هلمند ته تلي، پریکړه یې کړی وه چې د ارماډیلو پوځي کمپ به وتړي، د افغان پوځیانو د قوماندان نظر د ارماډیلو د کمپ په تړاو د لینی فریدسکو د نظر سره برابر و.

خو ځیني نور دلایل وو چې کمپ وساتل شي. یو دلیل دا و چې د انګریزانو د توپچي دلګی هلته ځای پر ځای شوی وه چې د ناټو او افغان سرتیرو ساتنه یې کوله. خو څرګنده شوه چې دغه ساتنه د ګرشک په ختیزه برخه کې د ځواکونو د شتون په وجه کیدلای شوای. همدا ډول د امریکایانو پوځیانو چې په هلمند کې د بهرنیو سرتیرو جګړه ایزه فعالیتونه تنظیمول، په راتلونکې پلان نه درلودي چې د ارماډیلو د کمپ څخه ګټه واخلي.

کله چې انګریزانو د ګیبرالټار پوځي کمپ وتړي، شپږ میاشتي وروسته یې د ډنمارکیانو څخه وغوښتل چې د ارماډیلو د کمپ په تړاو ورته چلند وکړي. ډنمارکیانو داسې ارزونه وکړه: «هیڅ ډول تاکتیکي او ستراتیژیک دلایل نه شته چې د ارماډیلو کمپ وساتل شي. د زمبولي د کمپ په تړاو هم ورته دلایلو اعتبار درلودي کوم چې ډنمارکیانو هلته لږ څه تلفات هم درلودل. په زمبولي کې د انګریزانو یوه دلګی سرتیري وو، سیمه د دښمن څخه ډکه وه نو ځکه یوه دلګی سرتیري بس نه وو چې حالاتو ته بدلون ورکړي. د همایون پیمان افغاني سرتیرو هم نه غوښتل چې د زمبولي د کمپ مسولیت پر غاړه واخلي.

مګر لینی فریدسکو کولای شوای چې د زمبولي کمپ وتړي خو د ارماډیلو د کمپ تړل باید په ډنمارک کې پریکړه شوی وای. په ډنمارک کې لوي درستیز مخکې پریکړه کړې وه چې د سیاسي لحاظه په سمبولیک ډول د ارماډیلو د کمپ د تړلو سره نه همږغي کیږي. ورته نظریه په هلمند کې د امریکایي او انګریزي پوځ مشرانو درلودل. ټولو ښکیلو لورو مخالفت وکړي. د ارماډیلو د پوځي کمپ تړلو څو اونۍ وخت ونیوي خو ډنمارکي مشرتابه پریکړه وکړه چې سمدلاسه د سرتیرو لیږل ګزمې ته ودروي تر څو د سرتیرو د وژلو مخنیوي وشي چې دا پریکړې مثبته اغیزه وکړه.

---

[319] - Flemming Mathiasen
[320] - Lennie Fredskov

تقریباً د لینی فریدسکو هر دریم سرتیری په لسمه ډله کې د څلورمې ډلې سره د ګرشک د سیمو په جګړو کې برخه اخیستې وه. د دوي څخه زیاتو سرتیرو پر اوږه یو نښان درلودي د نښان مانا داوه چې د جګړن اندریس سټورروډ [۳۲۱] په مشرتابه یې د ارماډیلو د کمپ د سیمو په نیولو کې برخه اخیستې ده.

دغه پوځي کمپ د ډنمارکي سرتیرو د بریالیتوبونو سمبول وو چې د طالبانو پر ضد یې د دوي د زړه په سیمه کې جګړه کړې وه. د ډنمارکیانو د سهیلي سیمو دغه پوځي کمپ باید د ښوونځیو، پلونو، روغتیایي کلینیکونو او د ښځو د پروژو د جوړولو بنسټ جوړ کړی وای. جګړن اندریس سټورروډ هیڅ وخت بریالي نه شو چې د دغه کمپ جوړیدل په خپلو سترګو ووینې ځکه نوموړي په جګړه کې ووژل شو. خو نوموړي د پوځ د اتلانو په ډله کې وشمیرل شو او یو پوځي ښوونځي یې په نوم ونومول شول. جګړه په دغه سیمه کې (د سیند په څنډو کې) یوازې د جګړې یوه برخه نه وه خو د پوځیانو د ښیړ پوهیدو وړ هم وو. د سیمې ساتل ډیر تلفات درلودل.

کله چې د ۲۰۱۰ زکال په منی کې د کمپ تړلو موضوع جدي شوه، تر سلو زیات سرتیري په ګزمو او جګړه کې ژوبل شوی وو او په ټولو دغو سیمو کې (۲۳) ډنمارکي سرتیرو ژوند د لاسه ورکړی وو. دغه (۲۳) تنه مړي د ټولو هغو (۳۹) ډنمارکي سرتیرو چې د افغانستان په نهه کلنه جګړه کې ژوند د لاسه ورکړي وو، لویه برخه جوړول. کله چې شپږ میاشتې مخکې د لومړي ځل له پاره انګریزي مشرتابه د ارماډیلو د کمپ د تړلو وړاندیز وکړي، یوازې د ارماډیلو او زمبولي کمپونو په شاوخوا کې (۵) ډنمارکي سرتیري وژل شوي وو او (۶۹) ډنمارکي سرتیري ټپیان شوی وو. د دغه کمپ ساتل د ملي ارزښت د سمبول په خاطر ډنمارکیانو لوړه انساني بیه پری کړه.

ډګروال لینی فریدسکو ته پوښتنه دا وه چې د جګړې اتلان به د کمپ تړل څه ډول و ارزوي؟ ایا دوي به فکر وکړي چې د هلمند په سهیل کې جګړه وبایلل شوه او د قربانیو ورکول بې ارزښته وو؟ لومړي لینی فریدسکو د هر سرتیري او افسر سره په جلا توګه د یوې پیالې قهوې څښلو پر وخت خبري وکړي تر څو غبرګون معلوم کړي او دوي د کمپ د تړلو په ارزونه باندې وپوهیږي. د ۲۰۱۰ زکال د سپتمبر په میاشت کې ډګروال په خلاصه خوله د دغې سختې پریکړې په تړاو وړغیدي. غونډه چې د پرایس په کمپ کې جوړه شوی وه، ډیرو سرتیرو د کمپ د تړلو پوهاوي درلودي. د ډګروال وړاندیز کومه ډموکراتیکه بڼه نه درلوده چې ځان کاندید او دوي ته د خپلې موخې بیان وکړي. نوموړي یوازې نظر دا و چې د کمپ د تړلو څخه باید لومړي سرتیري خبر شي.

«دا اړینه وه چې قوماندان او سرتیري همږغي وي خو مهمه دا وه چې سرتیري د کمپ د تړلو په علتونو وپوهیږي. نوموړي ډګروال چې اوس په پوځي ښوونځي کې تدریس کوی وایي: نن ورځ څوک سرتیري داسې دندې ته نه لیږي چې د پیښو د رامنځته کیدو په تړاو معلومات ونه لري.»

د سرتیرو په مینځ غبرګون مختلط وو ځیني سرتیري خفه او ځیني پوهیدل چې کمپ د مجبوریت په وجه تړل کیږي. ډګروال لینی فریدسکو حیران و چې ولې د هغو سرتیرو په تړاو چې د همدغه کمپ په ساتلو کې قرباني شوي دي، پوښتنه نه کیږي. ډګروال سوچ وکړ چې د کمپ د تړلو دلایل یې قوي وو. ډګروال ارزونه وکړه، دا چې سرتیري په موضوع پوه شوه، باید کورنۍ یې هم پوه شي. په ډنمارک کې د څلورمې دلګۍ سرتیرو ډیر مخکې په پټه د سرتیرو کورنیو ته معلومات ورکړی وو چې هغه مهم پوځي کمپ چې ستاسو د کورنیو غړو (سرتیرو) یې د ساتلو له پاره جګړه کړې وه، کیدلای شي وتړل شي.

دوي بریالي شول چې د کمپ د تړلو موضوع د ۲۰۱۰ زکال د اکتوبر تر (۱۷) نیټې پټه وساتي تر څو چې ډنمارکي ورځپاڼې، پولیټکن تر (د ارماډیلو څخه په شاه کیدل) سرلیک لاندې د کمپ د تړلو موضوع بیان کړل. په مقاله کې د دفاع وزیرې، ګیټه لیله لوند بیچ دا رد کړه چې جګړه او تلفات د ارماډیلو په کمپ کې بې ګټې وو.

نوموړې وویل: «هر ځل چې زموږ یو سرتیري ووژل شي، د یوه سرتیري مړینه ډیره زیاته ده خو دا مړینه بې ګټې او فایدې شوي نه ده.»

وزیرې د کمپ د تړلو موضو ډیره مهمه و نه ګڼله: « موږ د عملیاتو ستراتیژي بدلوو تر څو طالبان و نه کولای شي چې زموږ په کړونو وپوهیږي. همدا علت دي چې دا په بشپړه توګه طبعي خبره ده چې د جګړې ګروپونه د یوه ځای څخه بل ځای ته بدلوو. د پوځ د مشر دنده ده چې خپل سرتیري چیري او څنګه ځای پر ځای کړي.»

د جګړن اندیرس سټورروډ نژدې همکار، اندیرس ټانګورد [۳۲۲] په یوه مقاله کې د کمپ تړلو د روند بدلون وګڼي.

---

[۳۲۱] - Andres Storrud
[۳۲۲] - Anders Tanggaard

اندیرس ټانګورد وایي: « زه بشپړ باور لرم کله چې جګړن اندیرس ستورود د پاسه څخه موږ ته ګوري، وایي دا مو ډیره ښه پریکړه کړې ده. د مسلکي سرتیرو له پاره دا پریکړه دردونکي ده چې اوس ډنمارکي سرتیري په همغه ځای کې چې مورد طالبانو سره جګړه کوله، خو دوي طالبان د دوي په کور کې نه ځپي. خو موږ په موجودو سرتیرو دا توان نه لرو چې دلته جګړې ته دوام ورکړو. زموږ پوځي توان لږ دي.»

سیاستوالو هم پر پریکړه نیوکه نه درلوده. د سوسیال ډموکراټانو مخکښ غړي، جان ډیبیو پاولسن دغه پریکړه یو عالي نظر وباله: «ما د ځینو سرتیرو څخه چې په پوځي کمپونو کې دي، واوریدل چې دوي یوازې په کمپونو کې ناست دي او خپل وسایط ساتي، او بل هیڅ هم نه کوي. په رښتیا دوي د دغه حالت څخه ډیر ستړي دي.»

د ډنمارک د خلکو دګوندو د بهرنیو چارو د کمسیون مشر، سیون ایسپرسن ویل: «موږ ټول عملیات د ملاتړو هیوادونو سره په ګډه تر سره کړی دي نو ځکه موږ داسې څه نه دی کړي چې بې ګټې وي.» نوموړی وویل چې د پوځ قوي کول رغنده اغیزه لري نو اوس موږ افغان پوځ ته روزنه ورکوو چې په قوي پوځ بدل شي: «موږ نه شوو کولای چې افغانانو ته بډي ورکړو چې موږ ته د دوستانو په سترګه وګورئ. موږ نه شوو کولای چې دوي خپل ملاتړی کړو چې یوازې د تولیدو یوه ګډه وداني او یا پل ورته جوړ کړو. دوي زموږ څخه کرکه لري ځکه موږ د دوي په هیواد کې اشغالګر یوو. خپل په سترګو کې د خاور پاشل دي که باور ولرو چې موږ د افغانانو دوستي رانیولای شوو.» د ارماډیلو د کمپ تړل د رسنیو په مخ کې خوشاله صدراعظم او ویاړلي د دفاع وزیر لیدلای نه شي. هیڅ پوځي مارش به نه وي چې جنرال مدالونه وویشي. دا ځکه چې موږ پر شاه ځوو او دا پوځي پر شاه تګ دي سره د دي که دا چاره اړینه هم وي. دا یو مهم پر شاه تګ و چې په افغانستان کې د ډنمارک پوځ ور سره مخامخ شوو کوم چې د ډنمارک سیاستوال او د پوځ مشرتابه غواړي چې په پټه خوله تر سره شي. دا رښتیا نه وه چې ډنمارکي پوځیان د ګرشک په سهیل کې د سیند په اوږدو کې همیشه د پرمختګ په حال کې وو.

د پوځیانو پر شاه تګ د یو پراخ بحث لپاره زمینه برابره نه کړه چې د ډنمارکیانو د مخامخ ځلور کلني جګړې پر ګټو په هلمند کې بحث وشي. د ورځپاڼو تر مقالو دیارلس ورځي وروسته د پوځ په بریښنایي ویبپاڼه کې په لنډه توګه لیکل شوی وو: «د پوځي کمپ د تړلو علت دا و چې ډنمارکي پوځیان شرایطو ته په کتو سره خپل فعالیتونه تنظیموي. هغه سرتیري چې په کمپ کې وو په مناسبه توګه نورو پوځي دندو ته ګومارل کیږي.»

د کمپ تړل یوه درنده لوژیستیکي دنده وه چې د نومبر په میاشت کې پیل شوه او د ۲۰۱۱ زکال د فبوري د میاشتي پر (۱۱) نیټه د جمعي په ورځي پای ته ورسیده. په کمپ کې ځیني ودانۍ او پر شاوخوا یې اغزن سیم پاته شوو چې د محلي وګړو د راتګ څخه ممانعت وکړي چې د ښخ شوو ماینونو سیمي ته داخل نه شي. د پهره دارانو برج په کانتینر کې ډنمارک ته را انتقال شو چې د کوپنهاګن ټای هوس [۳۲۳] په موزیم کې په ځانګړي توګه د افغانستان د جګړې د سمبول په توګه سیلانیانو ته ایښودل شوی دي.

د ډنمارکي سرتیرو مشر قوماندان، لینې فریدسکو او د ګرشک ولسوال په ګډه پریکړه وکړه چې د پوځي کمپ تړل د محلي رسنیو له لوري اعلان کړي تر څو طالبان و نه کولای شي چې د کمپ د تړلو څخه د خپل بریالیتوب د تبلیغ د وسیلي په توګه ګټه واخلي. دغې پریکړې ښه اغیزه وکړه. د سیمي د خلکو له خوا د کمپ تړلو ته ډیره پاملرنه ونه شوه. هغه ډار چې موږ درلودي چې طالبان به د کمپ د شاوخوا اوسیدونکو څخه غچ واخلي هم بې دلیله ثابت شو. د سیمو د اوسیدونکو څخه باید مننه وکړو چې زموږ د اوسیدو په وخت کې ډیرې اړیکي نه راسره درلودي نو په همدغه وجه طالبانو غچ ور څخه وا نه خیستي.

تر دري نیمو کلنو وروسته طالبانو او د سیمي مخورو دوباره واک تر لاسه کړي.

په افغانستان کې د جګړې د پیل ۲۰۰۱ زکال څخه ۲۰۱۰ زکال خونړی کال و. نهه ډنمارکي سرتیري مړه او ۱۰۵ تنه ټپیان شوو. په ټولیزه توګه (۷۰۰) بهرني سرتیرو ژوند د لاسه ورکړي. ملکي تلفات هم تر پخوا ډیر زیات وو. د ملل متحد د ریوټ له مخې د کال په لومړیو لسو میاشتو کې د تیر کال د همدغه وخت په پرتله په ملکي تلفاتو کې (۲۰) سلنه زیاتوالی راغلي. یاني ۲۴۱۲ ملکي وګړي مړه او ۳۸۰۳ تنه ټپیان شوی وو.

تلفات اوج ته ورسیدل چې وروستي دوه کاله تلفات مخ پر ډیریدو وو. په همدغه وجه د امریکا ولسمشر، بارک اوباما د ۲۰۱۰ زکال د ډسمبر په میاشت کې یو ځل بیا نوي تګلاره ټینګه کړه: « نور په افغانستان کې د ډموکراسی پیاده کول او د ښځو د حقوقو اعاده کول موخه نه وه. اصلي موخه د القاعدې سره جګړه او د طالبانو کمزوري کول شوه یاني طالبان باید د

[۳۲۳] - Tøjhusmuseet

حامد کرزي حکومت نسکور نه کړای شي. امریکایان دوباره د ۲۰۰۱ زکال حال ته وګرځېدل چې د جګړې اصلي موخه د ترهګرو سره جګړه وه.

د هغه وخت د ډنمارک صدراعظم خپل نوی موقف د (توفان په سترګو کې) [۳۲٤] نومي کتاب کې بیان کړي. د دغه کتاب د بشپړولو له پاره د وخت د صدراعظم، لارس لویکه غاسموسن [۳۲٥] سره د ۲۰۱۰ زکال د نومبر په میاشت کې مرکه وشوه. (ژ:نوموړي بیا هم د ۲۰۱۵ زکال په ټاکنو کې د سوسیال ډموکراټانو په مقابل کې بریالي شو چې صدراعظم شي.)

صدراضم وویل:« موږ د ټولو پوروړي یوو چې دلایل مو کره او دقیق وي چې موږ هلته یوو او باید تر یو وخت پورې هلته و اوسوو. په همدغه دلیل باید موږ بشپړ باور پیدا کړو چې افغانستان بیا د ترهګرو په ځاله نه بدلیږي. زموږ د لږ یا ډیر وخت د پاته کیدو اصلي دلیل دغه دي. موږ په افغانستان کې د دي له پاره نه یوو چې د نیکولای فریدریک [۳۲٦] ارمانونه د ډموکراسي په پیاده کولو کې پوره کړو. (ژ:نوموړي یو مشهور فیلسوف، شاعر، مذهبي عالم، لیکوال او سیاستوال و. نوموړي د نولسم قرن په نیمایي کې په ډنمارک کې د پرمختګ پر لوري ډیر بدلون راوستي دي.) ربښتیا به نه وي چې خلکو ته داسې روحیه ورکړو چې موږ لومړي د خلکو حکومت، ډموکراسۍ او مرفه ټولنه جوړوو مخکې تر دې چې موږ خپله لومړنۍ دنده پایته رسولې وي. موږ افغانستان ته د جګړې له پاره ولاړوو چې داسې یو حکومت چې موږ ته تهدید او په سیمه کې د ثبات له پاره جدي ګواښ و، نسکور کړو.»

دا د سیاستوالو له لوری نوی پیغام و. ستونزه دا وه چې زموږ پوځونو د کلونو په جریان کې تلفات ورکول خو جګړه یې د بیا رغوني او د ډموکراسۍ د پیاده کولو سره تړلې ګڼله. د هغه وخت د پوځ د عملیاتي مرکز مشر، پاول کیاسکوو په دې اړوند د ۲۰۰۷ زکال د مي په میاشت د یو ډنمارکي سرتیري تر وژلو وروسته وویل:« دغه سرتیري په جګړه کې ځکه ګډون وکړي چې په افغانستان کې د سولې، امنیت او د ډموکراسۍ پیاده کول هیله وه خو تر ډولو تراژیدي دا ده چې موږ ده ژوند و نه ژغورلای شو.»

د ډیرو سرتیرو هیله اوس هم دا ده چې د ماشومانواو ښځو له پاره ښه بدلون راولي او ډموکراسۍ باوري کړي. دغه هیلې دي چې سرتیري د خپل هیواد څخه لیري په افغانستان

کې د مرګ او معیوبولو خطر قبلوي. مګر واقعیت دا و چې ناټو هڅه کوله چې د منځلاری طالبانو سره سوله وکړي او همدا ډول د افغانستان پوځ دومره غښتلی کړي چې په راتلونکي کې د مخالفینو سره جګړه مخته یوړلای شي. که د دې خبرې مانا دا هم وي چې لویدیزو هیوادونو په افغانستان کې طالبانو ته ماتي ور نه کړه او د ډموکراسۍ او ښځو د حقوقو بنسټونه یې ټینګ نه کړه.

په لیسابون [۳۲۷] کې د ۲۰۱۰ زکال د مني په موسم کې د ناټو په سرمشریزه غونډه کې د جګړې موخې داسې بیان شوې: د ۲۰۱۴ زکال په پای کې باید ټول بهرني جنګي پوځونه د افغانستان څخه ویستل شي. په بدل کې افغان امنیتي ځواکونه غښتلي او جوړ شي چې جګړه مخته بوزي.

په افغانستان کې جګړې د امریکایانو په اذهانو کې محبوبیت د لاسه ورکړي. په ۲۰۱۰ زکال کې د واشنګټن پوست [۳۲۸] او اس بی ثی نیوز [۳۲۹] د څیړنو له مخې (۶۰) سلنه امریکانو نظر درلودي چې د افغانستان جګړه د دې ارزښت نه لري چې دوام ورکړه شي. دا شمیره دوه برابره شوی وه یوازې (۳۴) سلنه امریکایانو د جګړې ملاتړ کولو. د پولیټکن او ډنمارکي دوهم چینل څیړونو هم ورته حالت په ډنمارک کې ښودي، (۵۹) سلنه ډنمارکیانو نظر درلودي چې د ډنمارکي سرتیرو تلفاتو ته په کتو سره د جګړې پایلې ښې نه دي. یوازې (۲۲) سلنه ډنمارکیانو نظر درلودي چې د افغانستان په جګړې کې تلفات او لګښت د دې ارزښت لري چې جګړې ته دوام ورکړه شي.

کله چې د ارماډیلو پوځي کمپ وتړل شو، ډنمارکي سرتیرو د ګرشک په سهیلي تراډه کې څلور پوځي کمپونه غښتلي کړل تر څو د دغې سیمې د (۷۰۰۰۰) اوسیدونکو امنیت خوندی کړي. دا د طالبانو پر ضد وروستی خوځښت و. تر پنځو کلنو

---

[۳۲٤] - I orkanens øje

[۳۲٥] - Lars løkke Rasmussen

[۳۲٦] - **Nikolaj Frederik Severin Grundtvig** (8 September 1783 – 2 September 1872

[۳۲۷] - Lissabon

[۳۲۸] - Washington post

[۳۲۹] - ABC news

ښه امیدونو (خوشبینیو) وروسته د ډنمارکیانو هیلي په هلمند کې ډیرې لږ شوې. اوس یې غوښتل په دی بسنه وکړي چې د ګرشک دمرکز څخه د پنځه کیلومترو په شعاع تر کنترول لاندې سیمو امنیت په بشپړه توګه ټینګ کړي. سربېره پر دې ډنمارکیانو غوښتل چې د ګرشک د ښار څخه د لسو کیلومترو په اوږدوالي هم ډیر واک ولري. دا هغه سیمه وه چې (۲۵) کاله مخکې شورویانو د اشغال په پای کې تر ولکې لاندې درلوده. وروستۍ موخه دا وه چې افغان ځواکونه د دغو سیمو د امنیت مسولیت واخلي خو ډنمارکي پوځیان به افغان ځواکونه ټرینینګ کوي تر څو ډنمارکي سرتیري د ۲۰۱۴ زکال په پای کې په بشپړه توګه د ګرشک څخه وزي. تجربو ښودلي وه چې د افغان ځواکونو پر پښو درول ستونزمن کار وو.

ډنمارکیانو په حقیقت کې د څلورو پوځي کمپونو مسولیت چې پاټرول [۳۳۰] په نوم یادیده او ګرشک څخه د سهیل ختیز په شپږ کیلومتري کې پروت و، نه درلودې. دلته افغان ځواکونه پراته وو. ځیني وختونه به ډنمارکي پوځیان د (۳۰) سرتیرو په شاوخوا کې هلته میشت شول. خو دا کمپ شرایطو ته په کتو سره ښه نه چلیده. طالبان د دغو څلورو کمپنو، کلیفټن [۳۳۱]، بیردزار [۳۳۲]، سپنډون [۳۳۳] او مالویرن [۳۳٤] څخه پرته د ستونزو تیریدل.

د ۲۰۰۹ زکال په پسرلي کې ټولو افغان پولیسو ته یو اړین کورس جوړ شوو نو ځکه دوي د کورس په وخت کې د پاټرول په کمپ کې پهره کولای نه شوای. د ډنمارکي پوځیانو مشر په کافي اندازه سرتیري نه درلودل چې د کمپ مسولیت پر غاړه واخلي خو نورو افغان پولیسو دغه دنده پر غاړه واخیسته. یو سهارد ډنمارکي پوځیانو دلګی مشر ولیدل چې د کمپ څخه افغان پولیس تښتیدلي دي. د شپې له خوا محلي خلکو او طالبانو دغه دوه واړه کمپونه چور کړي او ډیر د سرک د غاړې ماینونه یې ښخ کړی وو. ډنمارکیانو د خپلې غوښتنې په خلاف اړ شول چې د پاټرول د کمپ مسولیت واخلي. دا دنده شپږ میاشتې د ارماډیلو د کمپ تر تړلو مخکې ډنمارکیانو پر غاړه واخیسته. دوي د دغې دندې په وجه ژر د غبرګون سره مخامخ شول.

د ۲۰۰۹زکال د می په څلورمه شپه تقریباً (۵۰) ډنمارکي سرتیري د ګزمو د مرکز په بیدزار کمپ کې وو چې ناڅاپه د ریګو د بادیدو توفان پیل شو. توفان د دښت له لورې پیل شو.

ډنمارکیان د خیمې په بسترو کې تر ختین چت لاندې پراته وو د لیري لیدلو کچه صفر وه. پهره دارانو نه لیدل چې د دغه خالي ودانۍ د دیوال څخه د سلومترو په واټن کې څه جریان لري. طالبانو برید پیل کړی وو او د وړو ټپو او وړو ونو تر شاه پټ وو. ناڅاپي د طالبانو د دهشکو او ماشینګړو مرمي د باران په شان پر کمپ اوریدل پیل کړل. د باد توفان طالبانو ته ډیر ګټور و ځکه طالبانو دومره ودانۍ ته نژدې شوه چې لاسي بمونه یې د ودانۍ تر دیوال راغور ځولای شوای.

موږ کولای نه شوای چې د کلیفټن کمپ څخه چې (۴۰۰) متره لیري پروت و، مرسته وغواړو. دوي کولای نه شوای چې خپل وسلې وکاروي ځکه د دښمن لیدل ممکنه نه وه.

د دوړو او خاور په وجه سرتیرو نه شوای کولاي چې په دغه خطرناکه حالت کې د بریدزار کمپ سره مرسته وکړي. حالات ډیر خطرناکه وه. په لنډ وخت کې (۱۱) ډنمارکي سرتیري ټپیان شول چې اته کسان یې خطرناکه ټپیان وو. دوه تنه ژباړونکي، دوه انګریزي سرتیري او یو امریکایي سرتیري چې د شپې لخوا په کمپ کې وو، ټپیان شول.

د سرتیرو نیمایي برخه یا ټپیان وو او یا د ټپیانو سره په مرسته بوخت وو، پاتې نیمایي سرتیري د بریدزار کمپ په دفاع بوخت وو. حالات دومره تهدیدونکي وو چې کیدای شوای طالبان کمپ ته ننوزي او لاس په لاس جګړه پیل شي. موږ بریالي شوو چې زرې وسایط په خوځښت راولو چې د وداني د دیوال په اوږدوالي حرکت وکولای شي. په همدغه وخت کې ډنمارکیانو د پورتنۍ برخې څخه پر طالبانو ډزې پیل کړې تر څو د کمپ څخه دفاع وکړای شي.

د ۲۰۰۹ زکال په پسرلي او د وړی په لومړیو وختونو کې ډنمارکي پوځیانو ډیره انرژي د څلورو پوځي مرکزونو د شاوخوا سیمو د ښه امنیت له پاره ولګول. ونې یې چپه کړې، کښتونه خالي شول او نوی جغل دار سړک جوړ شو. د سړک جوړول او د ونو چپه کیدلو د سرتیرو د لیدلو ساحه پراخه کړه او د کمپونو تر مینځ یې په امن کې ترانسپورتي اسانتیاوې برابرې کړي او هم یې د کمپونو تر مینځ د اړتیا په وخت کې د مرستې امکانات برابر کړل.

---

[۳۳۰] - Patrol Base Line
[۳۳۱] - Clifton
[۳۳۲] - Bridzar
[۳۳۳] - Spondon
[۳۳٤] - Malvern

د دې کار مانا دا وه چې ډنمارکیانو پورتنۍ مځکې ضبط کړې سره د دې چې د هلمند د سیند په غاړه کې خلک د مځکو په کمبود اخته وو. دا ډېر خطرناکه چاره وه چې د محلي خلکو په شخصي ژوند کې لاسوهنه وشوه خو د ډنمارکي پوځیانو مشر دا چاره د سرتیرو د امنیت په خاطر اړینه وګڼله. نو ځکه د امنیت په خاطر (۲۰) هکتاره زراعتي مځکه ضبط شوه او (۶۷۰) ونې یې چپه کړې چې ډنمارکیانو ورته چاره د ارماډیلو د کمپ په شاوخوا کې کړی وه. دغه بزګرانو چې مځکې او کورونه د لاسه ورکړه، په بدل کې پیسې ورته ورکړه شوې خو دا ستونزمنه وه چې موږ وپوهیږو چې د مځکې اصلي خاوند پیسې تر لاسه کړې وې ځکه موږ د مځکو د خاوندانو په تړاو شکونه درلودل. هغه کسانو چې پر مځکو کار کولو، تاوان ور نه کړه شوو.

په همدې توګه ډنمارکیانو ته په ګرشک کې د اضافي سرتیرو مرسته وشوه. تر (۵۰۰) تنو افغان سرتیري د امریکایي پیاده سرتیرو سره په ګډه د لومړی نمبر لویې لارې د امنیت د ټینګولو له پاره وګومارل شول او همدا ډول افغان سرتیري د پورته څلورو پوځي کمپونو چې په سهیلي برخه کې پراته وو، د امنیت نیولو له پاره هم ولیږل شول. برسیره پردې د امریکا ولسمشر، بارک اوباما پریکړه وکړه چې زیات سرتیري ور ولیږي چې حالت تر کنترول لاندې راشي. امریکایانو د انګریزي سرتیرو ځای ونیوي او یو شمیر انګریزي سرتیري د ډنمارکي پوځیانو سره یوځای شول. په ټولیزه توګه (۳۰۰۰) امریکایي، انګریزي او ډنمارکي سرتیري د څو سوو افغاني پولیسو سره په ګډه په ګرشک کې ځای پر ځای شول. بیا هم طالبانو د پاټرول پر کمپ باندې بریدونو ته دوام ورکړې او موږ بریالي نه شولو چې د محلي خلکو سره اړیکې ټینګې کړو.

صوفیه برون [۳۳۵] د بریدزار په کمپ کې د ډنمارکي پوځ د جګړې یوه اتله وه. نوموړې د ټانک یوه ښه نښان ویشتونکې وه چې د ۲۰۱۰ زکال د جون په لومړی نیټه د ورځې پر (۱۲:۰۷) بجې پر ټانک انفجار وشو او ووژل شوه. د سړک د غاړې ماین صوفیه برون ځای پر ځای ووژله او دوه نور سرتیري ټپیان شوه. دغه ځوانه ډنمارکۍ چې د هالبیک [۳۳۶] وه، (هالبیک د ډنمارک یوکوچنی ښار دي) لومړنی ښځینه سرتیرې وه چې په جګړه کې ووژل شوه، خو مخکې د امریکا، برتانیا او کاناډا ښځینه سرتیرې هم په افغانستان کې وژل شوې وې.

وروسته ډېر هغه سرتیري چې په پخوانیو زرې وسایطو او نوي وسایطو (پیراهیر) [۳۳۷] کې حرکت کولو، ووژل شول. په همدغه وجه پریکړه وشوه چې امنیت باید ښه شي. کله چې درانه زرې وسایط، ای کی کی [۳۳۸] د ۲۰۱۰ زکال د فبورې په میاشت کې هلمند راوړل شول، دغه ډنمارکي وسایط د ښه کیفیت درلونکي وو. د ډنمارک د پوځ نوي خریداري د سویډني میني کپ وسایط وو. د پوځیانو نیوکه دا وه چې لږ زرهي لري. سویډني پوځي وسیلې کولای شواې چې د چټک حرکت په وخت کې قوي فیرونه وکړې او د اوو (۷) تنو سرتیرو له پاره یې ځای درلودې. ولې باید ومنل شي چې دغه وسایط ښه زرې شوې وو.

د ۲۰۱۰ زکال د اګست پر (۷) نیټه ډنمارکي سرتیري د یو ګروپ برتانوي سرتیرو سره د پاټرول پوځي کمپ ته په دغه نوي وسیله کې وخوځېدل. د ډنمارکیانو وروستی دنده وه چې باید ډنمارک ته راشي. د غرمې څخه مخکې د دوي وسیله تر کمپ پورې په نوي جوړ شوی سړک کې د یو قوي انفجار ښکار شوه. د (۸۰ ـ ۱۰۰) کیلوګرامو انفجاري توکو موټریزه وسیله چپه او څو لوله یې وخوړل چې په پایله کې ناست کسان چې کمربندونه یې تړلي وو سرچپه شول. ایریک بیر رولانډسن [۳۳۹] او جیمي بیو بیارګ پیټرسن [۳۴۰] روغتون ته د انتقال پر وخت مړه شوه. دوه نور سرتیري سخت ټپیان شوه خو یو تن سرسري ټپي شو. دا لومړی ځل نه و چې جیمي بیو بیارګ پیټرسن په هلمند کې ټپي کیدي. کله چې نوموړې دري کاله مخکې هلمند ته راغلي، د ډنمارکیانو لومړي سرتیري و چې د ګرشک د سیند په اوږدو کې د یو فیر په پایله کې سخت ټپي شو. نوموړي د هغه ټپي کیدو څخه روغ شو او دوباره خپلې دلګۍ ته را وګرځېدي. خو دا ځل یې و نه کړای شوای چې د انفجار څخه ژوندی پاته شي. انفجار وښودله چې مهمه نه ده چې کوم ډول زرې وسایطو کې ډنمارکي سرتیري ناست وي

خو که طالبان موقع پیدا کړي کولای شي د زیاتو انفلاقي موادو په ښخولو سره هغه وسیله ړنګه کړي.

پوښتنه دا ده چې طالبانو څنګه وکولای شوای د کمپ څخه په سل متري واټن په نوي جوړ شوی سړک کې دومره لوی غار جوړ کړی چې یو زیا مقدار انفلاقي مواد یې په کښې ځای کړی وو. د تعجب وړ دا هم ده چې د کمپ څخه په دوامداره توګه

[۳۳۵] - Sophia Bruun

[۳۳۶] - Holbæk

[۳۳۷] - Piranhaer

[۳۳۸] - IKK

[۳۳۹] - Erik Berre Rolandsen

[۳۴۰] - Jimmi Bøgebejrg Petersen

شپه او ورځ په عصري وسایلو سرک څارل کیږي. ډنمارکیان په حیرت کې شوه خو څرګنده شوه چې انفجاري مواد په غار شوي ځاي کې ځای پر ځای شوی نه وو. یو څو د موادو ښخولو کسان د اوبو په کانال کې کمپ ته رانژدي شوی وو او تر هغه پل لاندې د خاشو په مینځ کې لوی غار جوړ کړی او یو زیات مقدار مواد ایښي وو چې سړک ورباندې تیر شوی دی. ډنمارکیانو مخکې پریکړه کړی وه چې باید پر دغه ځای اغزن سیم را وګرځی او پاتې خاشې وریبل شی. دا چاره باید څو میاشتې مخکې پای ته رسیدلی وای خو سرتیري د انجنیرانو دلګی ته معطل وو ځکه هغوي په بله چاره لګیاه وو. نو ځکه پوځیان بریالي نه شوه چې دغه مهمه چاره پای ته ورسوي. د ګرشک د ښار په مینځ کې کارونو ښه پرمختګ کولو. د ډنمارکیانو هغه ستراتیژي چې باید ټول قوت د ګرشک ښار ته متوجه کړي، ښه اغیزه یې وکړه. امنیت هم ښه شو. ځان مرګي بریدونه او دشپې لخوا ډزي ډیره موده ورکي شوي. خو ټولنه په نورمال ډول نه چلیدل. کله چې لمر لویدي د ګرځندو غږ لیږدو (ټلیفونو) سیګنالونه پرې کیدل یانې کار یې نه کولو.

طالبانو او مجرمو ګروپونو پر ټلیفوني موسسو فشار راوړي چې باید د شپې لخوا سیګنالونه خاموش وي. که کومې موسیسې سرغړونه کړی وای، نقدي جریمه ورڅخه اخیستل کیدل. کله چې په ۲۰۱۰ زکال کې د ټلیفونونو قوي موسیساتود طالبانو د امر څخه سرغړونه پیل کړل او سیګنالونه یې نه خاموشه کول، طالبانو یو شمیر دستګاوي په بمونو والوزولې. کله چې ټلیفوني موسیسو د طالبانو غوښتنو ته غاړه کښیښوده، دستګاوي بیرته فعاله شوي او د پخوا په شان د طالبانو د غوښتنې سره برابر، د لمر لویدو څخه تر لمر ختو پورې ټلیفوني امواج خاموشه وه. د نشه ای توکو د کار و باریانو او طالبانو موخې ګډې وې. دوي غوښتل چې د شپې له خوا خپل عملیات او د قاچاقي موادو ترانسپورت پرته د کومې ستونز تر سره کړي. د ټلیفوني امواجو خاموشه کیدلو دا موقع ورکول چې څوک د دوي دشتون څخه نړیوالو ځواکونو او یا هم افغاني مقاماتو ته خبر ور نه کړای شي. د ټلیفوني امواجو نه شتون دا رسوا کول چې نړیوال ځواکونه او یا افغاني مقامات د ګرشک په سیمو کې پر اوضاع کنترول نه لري.

د ټلیفوني امواجو د بندیدو مبارزه یو سمبول شو. د ناټو ځواکونو ډیر کلونه کوښښ وکړي چې د ټلیفوني شبکو د امواجو استولو پایې (ستنې) د پوځې کمپونو په مرکز کې وټومبي (نصب کړي) تر څو شپه او ورځ تر څار لاندې وي. د پرایس په کمپ کې د امواجو لیږونکې ستنی چاره د ۲۰۱۰ زکال په وروستیو کې پای ته ورسیده خو کار یې ور نه کړي. هغه وخت چې د ټلیفوني امواجو لیږدونکو ستنو د ډلي څخه به یوه خاموشه شوه نورو ټولو هغو ستنو چې په امنیتي سیمو کې ځای پر ځای وي، کار نه ورکولو.

د شپې له خوا د ټلیفوني امواجو خاموشه کیدل د طالبانو او نشه ای توکو قاچاق وړونکو د واکمنۍ (برلاسی) څرګندوي وو. د ورځې له خوا ټلیفوني امواج د ټولو ښکیلو خواو او عادی خلکو د ګټې اخیستنې له پاره فعال وي. قاچاق وړونکو کولای شوای د تریاک د تجارانو او هغو کیمیاوي مواد د راوړلو ټرونونه وکړي چې د ګرشک د ښار په لابراتوارونو کې د هیروینو د تولید له پاره کار ورڅخه واخلي. په دغو لابراتورونو کې د اومو تریاکو څخه هیروین جوړیدل.

د هیروینو عاید د تریاکو تر تجارت څو برابره زیات وو چې د قاچاق وړونکو جیبونو ته لویدل. طالبانو په سیمه کې د ډنمارکیانو د پوځې خوځښت په تړاو د خپلو ملاتړو څخه معلوماتونه تر لاسه کول او خپلو نورو ملګرو ته یې اطلاع ورکول. طالبان د ټلیفون په شبکې پورې ډیر تړلی نه وو ځکه ډیر موډرن راډیویي سیستم یې درلودې چې د امریکایی کار پوهانو لخوا د ټلیفون په ډول اروېدل کیدی.

د ګرشک سهیلي لورې د څو کیلومترو په واټن د بریښنا جوړولو زړه فابریکه شته.

(ژ: ګرشکوال بند برق ورته وایی) په نورماله توګه د ګرشک د کورونو زیاتې برخې ته په شبانه روز کې څو ساعته بریښنا ورکوي. په ښوو وختونو کې نیمایې کورونو ته د ورځې زیات وخت بریښنا ورکولای شي. د بریښنا دغه غیری ثابت حالت د اوسیدونکو غوصه پاروله.

ډنمارکي پوځیانو د پیل څخه دا امکانات ولیدل که د بریښنا فابریکه ترمیم کړی، کیدلای شي د ښار د اوسیدونکو لویه برخه بریښنا ته لاسرسي ولري. دا فابریکه د کجکي د لویې پروژې په پرتله په ډیره اسانی سره بیا رغول کیدل. د ډنمارک د پوځ لوی درستیز، تیم سلوت هینسن او د ډنمارک سفیر، فرانز میکایل میلبین [۳۴۱] د ګرشک د بریښنا د فابریکې څخه لیدنه وکړه.

لوی درستیز وایې:« زما را یادیږي چې سفیر د بریښنا د فابریکې د بیا رغولو د کار د پیل سره څومره علاقه وښودل. دا یو ډیر ښه نظر و چې ډیره ښه اغیزه یې کول.» دوي د بیا رغوني لګښت دري سوه میلیونه کرونه اټکل کړه چې ډیرې پیسې وې. دا چې د ډنمارک د پرمختایي پروژو مرسته په افغانستان کې ډیره زیاته شوی وه نو سفیر وویل چې د بریښنا د فابریکې د بیا رغوني پروژه به په څو کلنو کې تمویل شي. لوی درستیز او سفیر وعده وکړه چې په ګډه به فشار راوړي چې هر څه

۳۴۱ - Franz Michael Mellbin

ژر د بیا رغوني کار پیل شي. خو د اولا ټیورنیس [۳٤۲] د پرمختیایي چارو د وزارت لوړ رتبه چارواکي د پورته پروژې سره علاقمند نه وو. دوي نظر درلودي چې په هیڅ صورت باید ډنمارک د دغې پروژې په تمویل کې یوازې نه وي نو ځکه باید د دغې پروژې په تړاو په ښه توګه د سیاسي کانالونو له لارې په افغانستان او هلمند کې معلومات ورکړل شي.

لوی درستیز، تیم سلوت یونسن وایي:« هر ځل چې زه د هغو مسولو کسانو سره چې د بیا رغوني په چارو کې واک درلودي، مخامخ کیدلم نو پوښتنه به مې وکړه چې د بریښنا د فابریکې چارې پیل شوی دي؟ په راز راز پلمو به یې د نه پیل کیدلو ځواب راکړي. زما په نظر په هلمند کې د ډنمارکیانو د شتون او فعالیت یوه ډیره مهمه پروژه وه چې د پوځي فعالیتونو سره یې هم په نیغه تړاو درلودي.»

دوه کاله وروسته د بریښنا د فابریکې د موډرن کولو پروژه د ډنمارک د پرمختیایي پروژو د مرستو یوه برخه شوه. په پروژه کې انګلیستان او د اسیایي پرمختیایي پروژو مرسته هم وه. د پلان له مخې دغه پروژه باید په ۲۰۱۳ زکال کې پای ته رسیدلي وای. د ډنمارک د مالي

مرستې برخه (۵۰) میلیونه کرونه وه. د پروژې موخه بشپړه بیا رغونه، د یو اضافي توربین نصبول او د بریښنا د ویش د نوی دستګاه نصبول وو. که چیري د پروژې پر عملی کولو بریالي شوو نو د ګرشک د اوسیدونکو سره به د ډنمارکي پوځونو د شتون تر ټولو څرګنده مرسته وګڼل شي.

یوه ستونزه وه. د بریښنا فابریکه (بند برق) د ده ادم خان په سیمه کې پرته ده. په دغه سیمه کې تر (۱۰۰۰۰) زیات د نورزو په قوم پورې تړلي بزګران (ژ: موخه یې د مځکو خاوندان او بزګران دي.) اوسیږي. دوي په لویه کچه د تریاکو کښت کوي او د طالبانو سره ټینګې اړیکې لري. برسیره پر دي د ګرشک څخه د (ژ: بغرا کانال) کانال په اوږدوالي تر بند برق پورې یو سړک شته چې دغه سړک تر څلورو پوځي کمپونو پورې چې د پاټرول د کمپ پر شاوخوا پراته دي، دوام کوي. د دغه شپږ کیلوتره په واټن کې دواړو خواو ته ختین کورونه چې لوې دیوالونه لري، پراته دي. لړ میوه لرونکو ونو او ناجوګانو هم سیمه پوښلي ده. په دغه سیمه کې د تریاکو کښتونه دي چې حاصل ورڅخه اخلي. دغه سړک د بند برق د سړک په نوم یادیږي. خو زمو سرتیرو د بند برق خونړی سړک نوم ورباندې ایښي وو. دا ځکه چې پر دغه سړک خونړي پیښې رامینځته شوي دي. د سړک په اوږدوالي کې د افغان پولیسو پوستې وي او د وسایطو د تیریدو په وخت یې پیسې (حق العبور) ورڅخه اخیستې. د ۲۰۱۰ زکال د سپتمبر په میاشت کې د نوموړی پوستې د پولیسو مرګ نژدې شوی وو چې په یوه برید کې د پوستې د اتو پولیسو څخه (۷) تنه ووژل شول. پوستې ته نژدې د انګریزانو یو ګروپ سرتیري وو، ډیره هڅه یې وکړه چې مرستې ته یې ځانونه ورسوي. دوي وکولای شوای چې یوه پولیس ته نجات ورکړي خو د (۷) تنو سره وحشیانه کړني شوي وي، حتي تناسلي الات یې ور څخه غوڅ شوي وو، نو ځکه نجات یې پیدا نه کړي.

په پیل کې د پولیسو اټکل دا وو چې برید د طالبانو له لوری شوی دي خو وروسته څرګنده شوه چې د پوستې سرتیري د یو مقتدري کورنی سره په جنجال کې ښکیل شوی وو. کیدلای شي پولیسو د رشوت په توګه د ډیرو پیسو غوښتنه ورڅخه کړی وه یا هم امکان لري چې قومي دښمني وه. هر څه چې وه خو څرګنده شوه چې خراب امنیتي حالت د طالبانو تر شتون نور ډیر دلایل درلودل.

په همدغه خاطر د ډنمارکي سرتیرو نوی مشر، لیني بریدسکوو ته ډیره مهمه وه چې د پوستو د جوړولو په پلان کې د اوسیدونکو نظرونه ټول کړي، مخکې له دې څخه چې سرتیري سیمې ته ولیږل شي. ګرشک ته د منظمې بریښنا ورکولو له پاره د لاری امنیت ډیر مهم و. بند برق ته د ټولو اړینو وسایلو او ماشینری انتقال د همدغې لاری څخه صورت نیوي خو په لار کې د سړک د غاړې مینونه ښخیدل. نو د کار لومړی پړاو د همدغې لارې قیریزي وه تر څو مخالفینو ته ستونزمنه وي چې ماینونه ښخ کړي. د ۲۰۱۰ زکال په منی کې ډنمارکیانو د یو محلي مشر سره خبري پیل کړي. بزګران د دا ډول مرستو سره روږد نه وو ځکه دوي فکر

کولو چې د سړک د قیر کیدلو په صورت کې به ډنمارکي پوځیان او افغاني پولیس د ده ادم خان سیمه تر کنترول لاندې ولرې نو د تریاکو کښت به ستونزمن شي او جوړ کښتونه به ویجاړ کړي. د نورزو د قوم مشرانو ګرانتي غوښته چې د دوي د تریاکو کښتونه به نه ویجاړیږي. د ډنمارکي سرتیرو مشر، لیني بریدسکوو د کلیوالو غوښتنه افغاني مقاماتو ته محول کړل.

« لیني بریدسکوو کلیوالوته وویل: موږ ستاسو په کښتو کار نه لرو خو دا چې ستاسو افغان حکومت کومه پریکړه کوي، موږ یې ضمانت نه کوو.»

---

[۳٤۲] - Ulla Tørnæs

د حل یوه لاره پیدا شوه څو کسان بندیان شوه نورو ډیرو خپلو د تریاکو د کرلو کښتونو ته دوام ورکړي. اساسي ستونزه حل شوه خو عادي ستونزه دا وه چې مورږ بشپړ باور کولای نه شوای چې څه به پیښ نه شي.

کله چې لینی بریدسکوو کلیوالو ته وویل چې د بند برق سړک به جوړ شي او د لمریزي انرژي په واسطه به د سړک په غاړه کې څراغونه روښانه کړو. د شپې لخوا به روښنایي او ښه امنیت وي. یو محلي سړی وویل ښه لاس په کار شي. ډیرو کلیوالو تر هغه وخت پورې باور کولای نه شوای تر څو کار پیل شوی نه وای.

د ډنمارکیانو مهمه موخه دا وه چې په ده ادم خان کې جګړه و نه شي.

همدغه دلیل و چې ډنمارکیانو د ارماډیلو او زنبولي د کمپونو تر تړلو وروسته هغه ځواکونه د هغو مخالفینو پر ضد ګټه ورڅخه اخیستل چې په ده ادم خان کې د احتمالي نا ارامیو له پاره لمن وهل. د ډنمارکیانو د مسولیت په سیمو کې وسلوالي نښتې لږ شوي. د سړک د جوړولو له پاره ډنمارکي، انګریزي او افغان پولیسو د سړک په اوږدو او نژدې کلیو کې څو پوستې جوړې کړې. خو بیا هم ډنمارکیانو تلفات ورکړل.

د لارې په اوږدو او د پاټرول کمپ ته نژدی اوسیدونکي د ډنمارکیانو په وړاندې مهربانه نه وه. طالبان بریالي شوه چې د هغه سړک پر غاړه ماین ښخ کړي چې څلور پوځي کمپونه یې د پاټرول د کمپ سره نښلول. ماینونونه د یوې شیلې (د باران په موسم کې په دښتونو کې په وړو شیلو «وړوکی کانال» کې اوبه بهیږي) تر پل لاندې ښخ شوی وو په لومړی ځل ډنمارکیان خوشبخته وه خو څو ورځې وروسته غمجن شول.

د ډنمارکیانو یو سرتیري، سیمون مونډټ یونسن [٣٤٣] د هغو سرتیرو ساتنه کوله چې د پل په جوړولو لګیاه وه. نوموړي (۲۱) کلن سرتیري د خپل یو ملګري سره د یو کور پر بام پل ته نژدې موقعیت ونیوی. په اغلب اټکل بمب تر بام لاندې ښخ شوی و. هر څه چې وو د ماین د چاودلو څخه یو هیبتناکه اواز پورته شو، سیمون او ملګری یې څو متره لیرې وغورځول. سیمون روغتون ته پر لاری ساه ورکړه خو ملګري یې سره د دې چې سخت ټپي شوی وو، ژوندی پاتې شوه.

یوه میاشت وروسته په همدغه سیمه کې د ګزمې سرتیري په جګړه کې ښکیل شوه. د پوځي واحد (۲۱) کلن روغتیایي پرستار د یوې مرګوني مرمۍ ښکار شو خو د لینی بریدسکوو له پاره دا وروستی تراژیدي نه وه. د نومبر د میاشتې په نیمایي کې یون راندروپ [٣٤٤] د ډنمارکي انجنري ګروپ ساتنه کوله او هغوی د بندی برق سړک لاندې د ماین په خنثی کولو لګیاه و چې ناځاپي د یون راندروف څنګ ته بل ښخ شوی ماین وچاودي او نوموړي ځای پر ځای مړ شو.

په دغه نامطمینه حالت کې د سړک څخه د ماینونو د پاکولو چارې مخته وړل کیدي تر څو کارګران وکولای شي چې سړک قیریزي کړي. دا چې د ماینونو د پاکولو له پاره ډنمارکیانو ځانګړي کارپوهان نه درلودل نو د انګریزانو د انجنیري ګروپ د دغې دندې مسولیت پر غاړه واخیستې. د سړک څخه د ماینونو پاکول په یوې ځانګړې دندې بدله شوه. انګریزي انجنیرانو یوه ورځ د سړک څخه ماینونه لیرې کول خو بله ورځ به په نورو ماینونو پسې ګرځیدل. د جنوري د میاشتې د یوې ورځې په جریان کې انګریزانو د (۳۰۰) مترو په واټن کې (۱۲) ماینونه موندل چې په ماینو کې د (۵ ـ ۱۵) کیلوګرامه چاودیدونکي توکي ځای پر ځای شوی وو. د افغانستان په هیڅ سیمه کې په دومره لنډ واټن کې په دغه شمیره ماینونه موندل شوی نه دي. دا طالبان وو چې په یوازې توګه یې دومره ماینونه ښخول.

د سیمې د نشه ای توکو قاچاقبران ډیر وارخطا وه چې د سړک په قیر کولو سره به حکومت پر دغو سیمو ولکه ولري. د قاچاقبرانو په آند دوې لارې وي: یا به د تریاکو کښتونه له مینځه وړي او یا به پولیسو او نورو حکومتي چاراواکو ته ډیرې پیسي ورکوي چې د دوي د تریاکو د کښتونو سره کار ونه لري. د ۲۰۱۱ زکال د جنوري تر میاشتې پورې لا هم د قیریزي کار پیل شوی نه وه. خو انګریزانو کوښښ وکړي چې د سړک قیرکولو کارګرانو ته زمینه مساعده کړي تر څو په کار پیل وکړي. په دغه وخت کې د ډنمارکیانو د پاټرول سره د څلورو پوځي

کمپونو امنیت پر غاړه واخیستي چې د بند برق د سړک په وروستی برخه کې پراته وو. په تولیزه توګه د کمپونو په ساتنه کې پنځه ډنمارکیان ووژل شول خو څلور ډنمارکیان د ده ادم خان پر لار مړه شوه.

د ۲۰۱۱ زکال په پسرلي کې سړک قیر شو. د لاری په اوږدو کې (۱۲۴) د څراغونو ستنې ښخې شوې. د ستنو پر پاسنی برخه د لمر څخه د انرژي اخیستلو هینداري نصب شوي چې بریښنا تولید کړي نو کیدلای شوای دغه (۶) متره برداره سړک د شپې لخوا روښانه شي. د سړک پر بله برخه دوه متره واټن د خاشو څخه پاک شوو. بله څنډه یې د بغرا کانال و چې ډیر

[٣٤٣] - Simon Mundt Jørgensen
[٣٤٤] - Jørgen Randrup

میلان داره جوړ شو. یو ګروپ ډنمارکي او افغاني سرتیرو د سړک د امنیت څارنه کوله خو بیا هم په بشپړه توګه د ماین اېښودولو خطر د مینځه تللی نه وو.

د ډنمارکیانو یو ګروپ سرتیرو د ۲۰۱۱ زکال د سپټمبر په میاشت کې پر سړک ګزمه کوله چې د سړک پر څنډه د خاشو په مینځ کې یو شی ته متوجه شوه. سرتیري د غیري عادي شیانو د پلټلو له پاره ټرینینګ شوی وو نو ځکه د سپټمبر په میاشت کې د سړک د غاړې وچې خاشي ورته عادي ښکاره نه شوې. سرتیرو په احتیاط سره په پلټولو پیل وکړی د پلټني په وخت کې د ماین پیداکولو د وسیلې څخه هم ګټه واخیستل. کله چې سرتیرو خاشي لیرې کړې، متوجه شوه چې یو لوی سوری جوړ شوی دی. دغه سوری د یوه تونل سره وصل شوی وو او تونل د نوی قیر شوی سړک لاندې تیر شوی وو. په تونل کې ډنمارکي سرتیرو (۳۰) کیلوګرامه انفجاري مواد وموندل چې د سړک د غاړې د ماین له پاره تیار شوی وو. د تونل له پاره د سړک څخه په لږ لیرې واټن کې کار پیل شوی و. هغه سوری چې د تونل سره وصل شوی و د خاشو په مینځ کې پټ و.

د ۲۰۱۱ زکال په ډسمبر کې ډنمارکیانو اطلاع تر لاسه کړه چې د سړک پر څنډو واړه بریښنایي لینونه لیدل کیږي. بریښنایي لینونه کوم خطر نه رامینځته کوي خو طالبانو پلان درلودي چې موټروانان د لینو په لیدلو ډار شي او موټر بل لوری ته کاږ (وګرځوي) کړي. تر څو موټر د بغرا کانال ته ولویږي. یو ځل د انګریزانو موټر د بغرا کانال ته لویدلی و چې سپاره څلور سرتیري یې ډوب کړی وو. د بندی برق په فابریکه کې ډنمارکیانو د ویکینګ [۳۴۵] په نوم پوځي پوسته جوړه کړه. دا یو وړوکی پوځي مرکز و چې (۱۱) ډنمارکي سرتیري ور په کښې اوسیدل. د پوځي مرکز پر شاوخوا دري متره لوړ د یوال چې د سختو موادو څخه جوړ شوی و او ورسره دریګو په بوجیو هم احاطه شوی و.

په ډنمارکي پوځي واحد کې هیڅ چا باور نه درلودی چې د بند برق د بیا رغوني چارې به د پلان مطابق په (۲۰۱۳) زکال کې پای ته ورسیږي. د ټولو احتمالي باور دا وو چې په راتلونکي کال (۲۰۱۴زکال) کې چې ډنمارکیان او انګریزان د هلمند ولایت پریږدي، د بند برق د بیا رغوني چارې به پای ته ورسیږي. د ډنمارکي پوځي واحد مشر، کین کنودسن [۳۴۶] په ۲۰۱۲ کې د پولیټکن ورځپاڼي سره په مرکه کې داسې وویل:« خرابترینه حالت به هغه وي چې څوک دا ټول منفجر کړي. په دی صورت کې به زموږ ټول حیثیت (پرسټیژ) د خاورو سره برابر شي. موږ دا پروژه په داسې یو ارمان پیل کړه چې موږ خپل قابلیت د امنیت په راوستلو کې ننداري ته وړاندې کړو. بند برق او سړک یې هغه سمبولونه دي چې زموږ سخت کار په ده ادم خان کې تاییدوي.»

د بندبرق ورانول د طالبانو او قاچاقبرانو موخه نه وه. د ویکینګ یو سرتیري پولیټکن ورځپاڼي ته وویل چې زموږ او طالبانو ګټې د بندبرق په شتون کې یو ډول دي.

طالبان یوازې د خپل شتون موخه لري خو نه غواړي چې موږ ډنمارکیان په بشپړه توګه د بندبرق څخه پر شاه شوو. دوي نه غواړي چې بندبرق وران کړي. ما د خپل دلګی په شتون کې داسې څه تر سترګو نه شوه. دوي پوهیږي چې دوباره په افغانستان کې واک ته رسیږي نو ځکه هیڅ دلیل نه لري چې زموږ په واسطه جوړ شوی شیان وران کړي.

د ډنمارکیانو ګډون د ګرشک په زیات نفوس لرونکو سیمو او خلکو ته د زیاتې بریښنا برابرول د بندبرق په جوړولو سره په حقیقت کې امریکایي پروژه وه. دا د امریکایانو نوي ستراتیژي وه چې د (مخالفینو سره مبارزه ) [۳۴۷] په نوم یادیدل.

دغه ستراتیژي ته په پوځي ژبه کې کوین [۳۴۸] وایي. (ژ: کوین د انګریزي لغات چې ما لاندې لیکلی دي، مخفف دي.) دا هغه ستراتیژي وه چې د امریکا د پوځونو مشر، جنرال دیوید پیترویس [۳۴۹] په ۲۰۰۶ زکال د مخالفینو سره د مبارزې د میتود په توګه په عراق کې پیاده کړه چې تر یوې کچې پایلې بریالی وې. دغه ستراتیژي تر عراق وروسته د جنرال د بریالیتوب یوه فلسفه شوه. موخه دا وه چې په لوړه تکنالوژي مجهز پوځ د جګړې په څنګ کې د هغه دولت د جوړولو له پاره کوښښ وکړي کوم چې هر څه وران شوی دي. د دې دندې د اجرأ له پاره ډیرو پیاده سرتیرو ته اړتیا وه چې یوازې په جګړه بوخت نه وي. سرتیري د عامو خلکو په مینځ کې کار وکړي تر څو د عامو خلکو زړونه او ماغزه خپل کړي. مانا دا چې دولتي موسیسات جوړ کړی او عادي ملکي ژوند دوام وکړي. دغه دوکتورین پوځي ساحه پراخوي چې د ډیپلوماتیکو او سیاسي نوښتونو له پاره زمینه برابره شي. په دغه ډول جنرال ته د سیاسي اغیزې پراخ امکانات ورکوي.

---

[۳۴۵] - Viking
[۳۴۶] - Ken Knudsen
[۳۴۷] - Counterinsurgency
[۳۴۸] - COIN
[۳۴۹] - David Petraeus

د ستراتیژي مهمه برخه دا وه چې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وشي ځکه د عامو وګړو د بی باوري مخه نیسي. په بدل کې باید زموږ بریدونه پر دښمن هدفمند وي چې د دوي مشرتابه ته په مختلفو کچو تلفات ورکړو. په عمل کې دا ستراتیژي ډیره قهرجنه وه چې د دښمن د مشرانو موندل د کلیو تر کچې ورسیدل. د دښمن لوی او واړه مشران د ځانګړو ځواکونو د شپې په عملیاتو کې وژل کیدل او یا نیول کیدل او یا هم د بې پیلوټه الوتکو د بمبارد په پایله کې له مینځه وړل کیدل.

سره د دې چې جنرال ډیوېډ پیټرویس په عراق کې (۲۸۲) مخونه پوځې د (کوین) لارښوونې د پوځ په واک کې ورکړې خو دا لارښوونو بیا هم په عمل کې رغنده رول نه درلودې. دغو لارښوونو په ډیره یا لږه کچه پر پوځې او یا ملکي ستراتیژي اغیزه ښودلای شوای خو په حالتو پوري یې تړاو درلودې. کله چې جنرال مک کریستال [٣٥٠] په ۲۰۰۹ زکال کې د مشر قوماندان په توګه په افغانستان کې مقرر شو او د عراق د جګړې تجربې هم درلودې، نوموړي هڅه وکړه چې ستراتیژي تطبیق کړي. د ستراتیژي تطبیق ډیرو پوځیانو ته اړتیا درلودل.

جنرال مک کریستال پر ولسمشر اوباما باندې فشار راوړي چې جګړه زوره وره کړی یانې نور پوځیان افغانستان ته راولیږي. اوباما، جنرال ته هغه (۴۰۰۰۰) نوي پوځیان چې غوښتنه یې وه ور نه کړه خو (۳۳۰۰۰) نوي پوځیان یې ورکړه چې په واقعیت کې ډیره لویه شمیره وه. خو په څنګ کې شرط دا و چې د پوځیانو د وتلو پر ستراتیژي هم کار وشي او د ۲۰۱۱ زکال د وړی په موسم کې د پوځیانو ایستل پیل شي.

جنرال مک کریستال د ځانګړو پوځې واحدونو شمیره د څلور څخه و (۱۹) ته په افغانستان کې لوړه کړه چې طالبان په ښه کړي خو په بدل کې د عادي سرتیرو شمیره ډیره کښته کړه چې د ملکي تلفاتو مخنیوی وشي. نوموړی داسې حساب وکړي: هر ځل چې موږ یو بیګناه افغان وژنو په بدل کې لس تنه دښمنان ځانته پیدا کوو. نوموړی هر وخت خپل سرتیرو ته د شوروي د وخت عملیات د بیلګې په توګه یادول چې هغوي یو میلیون افغانان ووژل خو د دوي له پاره یې هیڅ بریالیتوب په نصیب نه کړي. کله چې جنرال مک کریستال په عراق کې و او د امریکایي سرتیرو شمیره زیاته شوه، جګړه ډیر توده شوه نو په طبعي ډول د ملکي وګړو تلفات هم زیات شول، ځکه جنرال اړ و چې د خلکو څخه په وارو وارو بخښنه وغواړي.

ستراتیژي بریالی او ناکامه وه. ډیرو د جګړې ملاتړو ومنل چې امریکا د بریالیو پایلو د لاس راوړولو له پاره اړینه ده چې پوځیان یې د ډیرو کلونو له پاره په افغانستان کې پاته شي. برسیره پر دې د کوین د دوکتورینو پر بنسټ حکومت باید د باور وړ وي. خو حامد کرزي او وزیران یې د خلکو د باور وړ نه وو. همدا ډول د عراق او افغانستان تر مینځ توپیر شته. د افغانستان ښارونه او ودانی د عراق په څیر نه دي او افغانان هیڅوخت د قوي مرکزي حکومت سره عادت نه وو. افغان ولسونه د خپلو قومي مشرانو او محلي ټولنې تر اغیزې لاندې دي او د قوي دولتي واک غوښتونکي نه دي. نو په همدغه دلیل د باوري دولتي مرکزونو جوړول ځانګړي چلش نه لري او نه هم د خلکو په مینځ کې محبوبیت تر لاسه کولای شي.

د ۲۰۰۹ زکال په ډسمبر کې د کوین د ستراتیژي جوړونکي، جنرال ډیوېډ پیټرویس د فینانشل ټایمز [٣٥١] ورځپاڼې سره په مرکه کې اعتراف وکړي چې په دغه ستراتیژي سره افغانستان ګټلای نه شوو. دلیل دا نه دي چې په عراق کې مو د دغه ستراتیژي په مټ د یو خطرناکه حالت څخه ځانونه وژغورل. دا په بشپړه توګه دوي بیلي موضوعګانې دي.

د نوموړي د باور سړی جنرال مک کریستال د ۲۰۱۰ زکال د جون په میاشت کې د اوباما لخوا د دندې څخه ګوښه شو. دا موضوع په ستراتیژي او د افغانستان په جګړې پورې تړاو نه درلودې. علت یې د نوموړي جنرال په باب د رولینګ سټون [٣٥٢] په مجله کې تفصیلي معلوماتو خپرول وو چې د مایکل هیستنګس [٣٥٣] په واسطه راټول شوی وو. نوموړی ژورنالیست، جنرال او د هغه نژدې کارکوونکې د ډیر وخت څخه تعقیبول. جنرال مک کریستال ځانګړی شخصیت درلودې او ځان ورته سوپر مین (ډیر زړه ور او غښتلي) ښکاریدي. نوموړی ویل چې په شپه او ورځ کې یوازې څلور ساعته خوب کوی او یو ځل غذا خوري. د جنرال د قرارګاه پرسونل هم غیري عادي کسان وو. په قرارګاه کې د هر ډول مسلکونو څخه نفر راټول کړي وو. په قرارګاه کې، د جګړې اتلان، ځانګړي سرتیري، د ښکاري الوتکو پیلوټان، سیاسي کارپوهان او یو قانون پوه راټول شوی وو. دوي ځانونه امریکایي ټیم ګانه او ویاړ یې کولو چې د اتتوریتې خاوندان او د اجراتو توان لري.

د دغو خصوصیاتو په وجه جنرال د ډګر څخه ویستل شو. په یوه مقاله کې ژورنالیست د امریکایي ټیم مسخره تبصری د اوباما او د هغه د لاندې نژدی کسانو په وړاندې خپرې کړي: « د اوباما مرستیال، جو بایډن، امنیتي مشاور، جیم جونز [٣٥٤]

[٣٥٠] - McChrystal

[٣٥١] - Financial Times

[٣٥٢] - Rolling Stone

[٣٥٣] - Michael Hastings

[٣٥٤] - Jim Jones

، سفیر، کارل ایکینبیري [۳۵۵] ، او د امریکا ځانګړی استازي د افغانستان او پاکستان له پاره، ریچارد هولبرک [۳۵۶] ، ټوله هغه کسان چې د جنرال مک کریستال او د پنتاګون ستراتیژي د جګړې په تړاو نیوکې درلودې، د ریشخند وهلو په لست کې وو او د مجلې په مقاله کې په دقیق ډول بیان شوی وو.

دغه په جګړې عادت جنرال د خپلې ازادې ژبې څخه ګلان کرلي وو.

کله چې موضوعات راووتل، جنرال ډیره هڅه وکړه چې خپلې دندې ته نجات ورکړي. جنرال مک کریستال وویل:«زه د مسخره خبرو په ویلو د زړه له کومې بخښنه غواړم. زه په ژوره توګه ولسمشر بارک اوباما او د هغه کاري ټیم ته چې د امریکا د ملي امنیت له پاره کار کوي، درناوی لرم.»

د جنرال بخښنه غوښتنه د سپینې مانۍ له پاره کافي نه وه. نوموړي سپینې مانۍ ته وروغوښتل شو. جنرال مخکې له دې څخه چې سپینې مانۍ ته ورشي، د خپلې دندې څخه یې استعفاء وکړه. نوموړي د هغه ولسمشر له خوا ګوښه شو چې د یوه کال په جریان کې دوه ځله اړ شو چې د افغانستان د جګړې له پاره مناسب مشر جنرال ومومي. په حقیقت کې اوباما ډیر داسې کسان نه درلودل چې یو یې مشر وټاکي. بارک اوباما باید په بیړه یو کس ټاکلی واي تر څو دا وښیي چې په ستراتیژي کې بدلون راغلی نه دی. په دغه وخت کې د مک کریستال امر، ډیوډ پیټرویس بل انتخاب و.

د ناټو جنرال سکرتر، اندریس فوک غاسموسن په ټینګار وویل چې مک کریستال موخه د ستراتیژي څخه درسته وه. اندریس فوک غاسموسن په یوه ویډیو مرکه کې وویل:« سره د دې چې جنرال مک کریستال نور د پوځونو مشر نه دی خو هغه څه چې نوموړي کړي دي، صیحح دي.

جنرال ډیوډ پیټریوس د عراق په جګړه کې پرمختګ کړي و نو ځکه د جګړې اتل ګڼل کیدی. نوموړي ته د یو هوښیار او نوښتګر جنرال په سترګه کتل کیدل. تر عراق وروسته د جورج بوش لخوا جنرال ډیوډ پیټرویس ته د عراق، افغانستان او منځنی ختیځ د پوځونو مشرتوب ورکړل شو. په همدغه دلیل په رسمي توګه په افغانستان کې نوي دنده یوه درجه کښته وه. خو جنرال پیټرویوس نه غوښتل او کولای یې هم نه شوای چې دغې دندې د رد ځواب ورکړي ځکه یو ځل بیا دا چانس درلودې چې د خپل هیواد د نجات جنرال واوسي. موخه دا نه وه چې د ناټو سرتیري ډیر ملایم اوسي او د افغان ولسونو په مینځ کې محبوبیت پیدا کړي. په بدل کې جنرال غوښتل چې ځانګړي ځواکونه تر پخوا زیات د طالبانو په نیولو کې چټک شي او داسې حالت رامینځته شي چې طالبان و نه کړای شي د سرتیرو سره مقابله وکړي چې سرتیري ډزو ته اړ شي.

سره د دې چې د ناټو په مشرتابه کې لوی بدلون راوستل شو خو بیا هم جګړ ایزه پلان د ناټو د سرمشریزي غونډې تر جوړولو پورې په لیزبون کې دوام وموندې. بله غونډه په کابل کې وه چې د هیلري کلینټن تر مشرتوب لاندې د (۶۰) هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په ګډون جوړیدل. د نړیوالې لویې غونډې د امنیت نیول لومړی درجه دنده وه او پنځه راکټونه چې موخه و نه ویشتلای شي، دا ډول اغیزه باید نه وکړي چې په کابل کې امنیت نه شته. ګناه د امریکایانو غاړې ته ورغورځول کیده.

د ۲۰۰۸ زکال څخه تر ۲۰۱۰ زکال پورې امریکایانو د ایساف د مشرتابه چوکې نیولي وه ځکه چې د امریکایانو پوځي ځواکونه څلور برابره زیات شول. د ۲۰۰۸ زکال د اپریل په میاشت کې د ایساف د ټولو (۴۷۰۰۰) پوځیانو څخه (۱۹۰۰۰) تنه امریکایان وو. دوه کاله وروسته د ایساف(۱۲۰۰۰۰) پوځونو څخه (۸۰۰۰۰) تنه امریکایان وو. په دې تړاو چې څوک پریکړه وکړي، هیڅ ډول بحث شتون نه درلودي.

د پلان سره سم د ۲۰۱۰ زکال د نومبر په میاشت کې د ناټو سرمشریزه غونډه په لیزبون کې جوړه شوه. د ایساف په چوکاټ کې د (۴۸) هیوادونو مشران، د افغانستان ولسمشر، حامد کرزي او د ملل متحد سرمنشي، بانکي مون [۳۵۷] په ګډون پریکړه وشوه:« د افغانستان امنیتي ځواکونه باید د ۲۰۱۴ زکال په پای کې د ټول هیواد د امنیت مسولیت پر غاړه واخلي. همدا ډول په غونډه کې وعده وشوه چې ناټو به تر ۲۰۱۴ زکال وروسته هم د افغانستان سره ستراتیژیک تړون کوي.

د ناټو سرمنشي، اندریس فوک غاسموسن وویل: «دا تړون ځانګړی و ځکه افغانان توانیدل چې د خپل هیواد واک په لاس کې واخلي، د ټولو ستونزو سره سره پرمختګ شته. په افغانستان کې نورالقاعده نه شته او طالبان هم ډیر تر فشار لاندې دي.

[۳۵۵] - Karl Eikenberry

[۳۵۶] - Richard Holbrook

[۳۵۷] - Ban Ki moon

اندریس فوک غاسموسن تر نهه کاله جګړې وروسته او د ځلورو نورو کلونو د جګړې وړاندوینې وهڅاوه چې ووایي: طالبان زمو د پوځونو تر وتلو تر وخت پورې ارام نه کښيني.

«زه هیله نه لرمه چې تر ۲۰۱۴ زکال وروسته به بهرني سرتیري په جګړه کې ښکیل وي. خو موږ افغانستان تر هغه وخته یوازې نه پرېږدو چې پر پښوو ونه درېږي.»

افغانان باید داسې فکر ونه کړی چې تر ۲۰۱۴ زکال وروسته لویدیزو هیوادونه شاه ورګرځوي. موږ به بیا هم په میلیاردونو کرونه د سرتیرو، پولیسو او هغو ښوونکو ته چې د افغانانو سرتیري روزي، د معاشونو له پاره ورکړو تر څو طالبانو ته ماته ورکړي.

د ډنمارک صدراعظم، لارس لویکه غاسموسن [۳۵۸] د لومړی ځل له پاره د ناټو په سرمشریزه غونډه کې برخه اخیستې وه.

د هغه وخت څخه چې لارس لویکه غاسموسن د صدراعظم په توګه وټاکل شو، د ډنمارک کلک بهرني سیاست چې د جګړې په تړاو یې درلودې، د سیاسي بحثونو ښکار شو. سوسیال ډموکراټانو او ملاتړو ګوندونو او هم ښي اړخو او منځني ګوندونو نه غوښتل چې په ټاکنیز کمپاین کې د خلکو پاملرنه د افغانستان جګړې ته راواړوي. همدا ډول د سوسیالیست ګوند هغو غړو چې د جګړې سره مخالفت درلودې هم یې نه غوښتل چې د جګړې د ډیرو لګښتونو او تلفاتو موضوع په ټاکنیز کمپاین کې را برسیره کړي.

د ډنمارک سوسیالیست ګوند لګیاه و چې د سوسیال ډموکراټانو سره د ګډ کار پر موضوع کار وکړي. سوسیالیست ګوند اړ و چې د جګړې تاوانونه هیر کړي که غواړي چې د راتلونکو ټاکنو وروسته د سوسیال ډموکراټانو سره په حکومت کې برخه واخلي. په همدغه خاطر د سوسیالیت ګوند د پاره ښه شوه چې ټولو هغو ګوندونو چې د افغانستان د جګړې تر شاه ولاړ وه، موافقه وکړه چې کلني بحث د هلمند د جګړې په تړاو باید ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ زکلونه په بر کې ونیسي. دوه کلنی پلان یوه غوښتنه وه چې مسایل په ټولیزه توګه په نظر کې ونیول شي او یوازې د یوه بل کال له پاره پلان جوړ شي. او دا هم ګرانتي شوه چې ګوندونه باید د افغانستان جګړه د ټاکنیز کمپاین څخه وباسي چې د پلان له مخې د ۲۰۱۱ زکال په نومبر کې ټاکني تر سره کیدلې.

کله چې د ناټو لخوا ۲۰۱۴ زکال د جګړې وروستی کال اعلان شو، نو د ډنمارکیانو د بحث موضوع یوازې دا نه وه چې ډنمارکي سرتیري څنګه د افغانستان څخه ویستل شي، بلکې دا هم په نظر کې ونیول شول چې څنګه او څومره په بیره ډنمارکي سرتیري د افغانستان څخه ویستل شي. کله چې بارک اوباما د ۲۰۱۰ زکال د ډسمبر پر (۱۶) نیټه د افغانستان د جګړې د حالاتو ارزونه د رسنیو او عوامو په اطلاع ورسول نو ډنمارکیانو ته نور هیڅ شک پاته نه شوو.

بارک اوباما وویل: «پرمختګ ډیر اهسته دي خو لګښت (انساني او مالي) یې ډیر زیات دي. شک نه شته چې موږ طالبان د ډیرو سیمو څخه باسو تر څو خلک دوباره د سیمو کنترول په لاس کې واخلي. وروسته یې مهمه موضوع داسې یاده کړه: د امریکا موخه دا نه وه چې د افغانستان ټولنه جوړه کړي او یا د هر ډول امنیتي تهدید په وړاندی وجنګیږي. د امریکایانو د جګړې موخه د القاعده ځپل وو.»

د ډنمارک د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیرې، لینه یسپرسن [۳۵۹] هم په تأکید وویل چې د ډنمارک حکومت د امریکا د موخو د پیاده کولو له پاره ګډون کړي وو. موګنس لویکه ټافټ د هغه پلان د جوړولو غوښتنه وکړه چې موږ باید په څه ډول اهسته او پرته د خطر څخه خپل سرتیري په افغانستان کې لږ کړو. ښه موقع برابره شوه چې ټول ګوندونه په هلمند کې د ډنمارکي سرتیرو د فعالیتونو په تړاو په (۲۰۱۲ ـ ۲۰۱۱ ) زکلونو کې بحث وکړي او همږغي شي او د حل لار پیدا کړې تر څو هیڅ لورې بی ابرو نه شي. خو اړینه وه چې په پیل کې د پوځ د قوماندې مرکز پر عملي چارو د انګریزي جنرالانو سره په لندن کې وږغیږي.

په همدغه خاطر بی مفهومه وه چې اضافه تر دي ډنمارکیان په هلمند کې د جګړه ایزه ګروپ مرکزي مشرتابه په لاس کې ولري.

د انګریزانو پلان جوړونه د ډنمارکیانو د غوښتني سره چې رول یې لږ شي، همږغي نه وه. انګریزانو اندیښنه دا وه که مشرتوب پر غاړه واخلي نو د قرارګاه له پاره به ډیرو افسرانو ته اړتیا ولري. د ډنمارک د قوماندې مرکز هم نه غوښتل چې

[۳۵۸] - Lars Løkke Rasmussen

[۳۵۹] - Lene Espersen

يو قدم شاه ته ولاړ شي. د ک ـ يادداشت [٣٦٠] د تصويب څخه وروسته موخه دا وه که ډنمارکيان په لويو جګړه ايزو فعاليتونو کې ونډه اخلي بايد په مستقل ډول ډنمارکي پوځي واحد په موضوع کې شامل شي. دغه موخه د عراق په جګړه کې عملي شوه او په افغانستان کې هم ادامه ورکړل شول، خو د ٢٠١٢ زکال څخه وروسته دوباره ډنمارکي پوځيانو يوازې د جګړې په دوم قدم کې وو.

پرته د سياسي واقعيتونو څخه د انګريزې او ډنمارکي جنرالانو له پاره بله لاره نه وه. د ٢٠١١ زکال د فبوري په (١٠) نيټه د پنجشنبې په ورځ، جان ډيربيو پاولسن (پوځی) او موګنس لويکه ټافټ (سوسيال ډموکراټ) د بهرنيو چارو د وزيرې، لينه ايسپيرسن سره په داسې حال کې چې د کينې ليبرال مهم سړي، نيلس هيلويګ پيټرسن هم حاضر و، وکتل. د بهرنيو چارو وزيرې معلومات وړاندې کړي چې د انګريزانو سره بحثونه ډير پيچلي وو خو د سوسيال ډموکراټانو او کينې ليبرال ګوند غړو په ټينګار ورته وويل چې ډنمارک بايد په ٢٠١١ او ٢٠١٢ زکلونو کې جنګي سرتيري لږ کړي.

په راتلونکو اونيو کې د ډيپارټمنټ مشر، لارس فيندسن  څو ځله د جان ډيربيو پاولسن سره وکتل خو د دفاع وزير داسې د حل لار پيدا کړل چې سوسيال ډموکراټان او کينې ليبرال ګوندونه راضي شي ياني په هلمند کې به د ډنمارکيانو په جنګي فعاليتونو کې څرګنده بدلون راوستل شي. د پورته ګوندونو مشرانو غوښتل چې ډنمارکي سرتيري جګړې ته ونه ليږل شي يوازې د افغاني پوليسو روزنه  اوهم په ٢٠١١ زکال کې (٣٠) ډنمارکي سرتيري لږ شي او په ٢٠١٢ زکال کې بايد (٧٠) سرتيري کورونو ته راستانه شي. مانا دا چې په اعظمي توګه بايد (۶٥٠) ډنمارکي سرتيري په افغانستان کې پاته وي.

د ګوندونو له پاره تر ټولو مهمه دا وه چې سرتيري د جګړې څخه ليري او د روزنې چارې پر مخ بوزي. مانا دا چې د ٢٠١٢ زکال په پای کې بايد يوازې ډنمارکي جګړه ايزه وسايط او لږ شميره سرتيري د جګړې له پاره تياري ولري. دغه پلان ډنمارکي سرتيري  د ګزمو په وخت کې هم د خطر څخه ليري کړل او د جګړې د پای ته رسيدلو پيلامه پيل شوه. په دغه بحثونو او پريکړه کې  بيا هم سوسياليست ګوند ګډون نه درلودي مګر سوسيال ډموکراټانو د دې له پاره چې د ګډ کار تمايل يې ښودلي وي مخکې له دې څخه چې په خپل ګروپ کې پر نوی طرحه پريکړه وکړي، سوسياليست ګوند ته يې د نوی طرحې په تړاو معلومات ورکړي.

د اوباما ډيره پاملرنه لومړی د پوځونو زياتوالي ته وه خو وروسته د پوځونو ايستلو پلان ٢٠١١ زکال د جولای په مياشت کې د سوسيال ډموکراټانو او کينې ليبرال ګوندونو ته د ژوند چارې اسانه کړي. دغو دوو ګوندونو په بحثونو کې داسې دروازه پرانيستل چې د وتلو په وخت کې د لږو سرتيرو پريښودلو غوښتنه مخې ته کړه. کله چې اندرس فوک غاسموسن د ډنمارکي سياست څخه ووت (ژ: د ناټو مشر مقرر شو)، د دفاع  او بهرنيو چارو نوي وزيرانو هم و نه کړای شوای چې نور په دې قانع کړي چې ډنمارکيان په هلمند کې مخکښه رول ولوبوي. ډنمارکيان تر جګړې او ډنمارکي فعال بهرني سياست په پرتله په لويه کچه د اقتصادي بحران او بيکاری په ستونزو بوخت وو.

د افغانستان په مسايلو کې نړيوال وتلي څيړونکي، احمد رشاد د پوليټکن ورځپاڼې سره په مرکه کې وويل چې ډنمارکي سياستوال فکر کوي چې په کوپنهاګن کې کښيني او د افغانستان د جګړې څخه د وتلو ښه لاره پيدا کړي.

پاکستاني ژورناليست څو پوښتني وړاندې کړي:«لنډ ځواب يې دا دي چې دا به د واقعيت څخه ليري وي او بريالي به نه شي.د پلان څخه ښکارې چې د افغانستان څخه په بيړه وتل د وارخطايي نښاني دي. د افغانستان امنيتي ځواکونه به څنګه وتوانيږي چې د کورنی جګړې مخه ونيسي؟ لويديزو پوځونو تقريباً و نه کولای شوای چې وسلوال مخالفين مات کړي نو افغان ځواکونه به څنګه دا کار وکړای شي؟»

د ٢٠١١ زکال د مي د مياشتي په لومړي نيټه د دوشنبې په شپه دوې امريکايې چورلکې د پاکستان د ابيټ اباد د ښار يوې ودانی ته ورسيدلې. هره چورلکه د ودانې يوه کنج ته نژدې شوه خو د لوی ديوال څخه نه ښکاريدې. په چورلکو کې (٢۴) امريکايي سرتيري، يو ژباړن او يو سپی د کايرو [٣٦١] په نوم ناست وو.

کله چې يوه چورلکه د ودانی بام ته نژدي شوه، پيلوټ کنترول د لاسه ورکړي. د زياتي ګرمي او خرابي هوا د فشار په وجه واقعه رامينځته شوه. چورلکه د يوې دقيقي په وخت کې د ډبرې په شان پر مځکه رانسکوره شوه، کوم وخت چې امريکايان خپلي موخي ته رسيدلي وه.

دا عادي چورلکه نه وه او سرتيري هم عادي سرتيري نه وه. چورلکو د جلال اباد د ښار څخه د پاکستان د پلازمينې، اسلام اباد وروسته د ايبټ اباد د ښار پر لورې الوتنه کړی وه چې ايبټ اباد تتقريباً (١٠٠) کيلومتره د اسلام اباد څخه واټن درلودي.

---

[٣٦٠] - K- Notatet
[٣٦١] - Cairo

امریکا د عملیاتو څخه پاکستان ته خبرتیا نه وه ورکړی او د امریکایي چورلکو تقریباً (۹۰) دقیقي الوتنه د پاکستان په خاوره کي د پاکستان د مقاماتو لخوا هم نه وه کشف شوی. دغه چورلکو د لوړ ي ارتفاع څخه د ودانی په مینځ کي ټول خوځښتونه تر څار لاندي نیولی وو.

دغه چورلکه [۳۶۲] د لوړې تکنالوجی محصول و. د اواز د ټیټولو او د رادار سیستم د خطا ایستلو ځانګړي وسایل یې درلودل. چورلکو په وړه کچه بغلونه او انتنونه درلودل چي کشف یي د رادر په واسطه ستونزمن و. سرتیري د ناوی سیل [۳۶۳] وو خو دا سرتیري د هغو ځانګړو سرتیرو څخه وو چي په شپږم ټیم[۳۶٤] پورې اړه درلوده. په دغه پوځي واحد کي (۳۰۰) سرتیري د ډیرو ځانګړو دندو له پاره ټریننګ شوی وو.

شپږ میاشتي مخکي سی ای ای [۳۶۵] د اوساما بن لادن د استوګني په اړوند معلومات تر لاسه کړي وو. د مارچ په میاشت کي امریکایي مقامات بشپړ باوري شول چي د ایبټ اباد د سیمي په ودانۍ کي داسي مهم کس استوګنه کوي چي باید افشاء نه شي. دغه ودانۍ ټلیفون نه درلود ي او د انټرنټ اړیکه یي هم نه درلوده او اضافي مواد یي خپله سوځول د دي پر ځای چي د ګاونډیانو په ډول د موظف شخص په واسطه یووړل شي. د ودانۍ پر شاوخوا لوی دیوال وو په دوهم پوړ کي هم یو لوي دیوال وو چي د ګاونډیانو د څار څخه پټ او هم د دوربین په واسطه څه و نه لیدل شي.

تر عملیاتو څو ورځي مخکي بارک اوباما پریکړه وکړه چي یو چانس وازمویي. اوباما بشپړ باور نه درلودي چي په ودانۍ کي به اوسامه بن لادن وي او د عملیاتو د رسوا او خرابیدو لوی خطر هم و. اوباما پوهیدي چي ۱۹۸۰ زکال د اپریل په میاشت کي د امریکایي ډیپلوماتانو د خلاصولو له پاره د تهران په عملیاتو کي یوازې اته امریکایان ونه وژل شوه بلکي د جمهور ریس کارتر د بیا ټاکلو له پاره یي هم د پوښتني علامه کښیښوده چي بیا ونه ټاکل شو.

بارک اوباما چانس واخیستي. یوه چورلکه د کار څخه ولویده خو پیلوټ څو ثانیې وخت درلودي چي پریکړه وکړي. نوموړې بیرنۍ ناسته پر مځکه وکړه د دي پر ځای چي سرتیري د ودانۍ پر بام کښته کړي. چورلکه د ودانۍ په غولی کي د چرګانو، غواو اوبزو په مینځ چپه شوه.

دغه عملیات مخکي په داسي یوې ودانۍ کي چي د ایبټ اباد ودانۍ کاپي وه، تمرین شوی وو. سرتیرو اوسپنیزې دروازې ته انفلاق ورکړي او ډزې کولي چي د اوسیدونکو څخه یي څلورتنه چي یو یي وسلوال و، ووژی. وروسته دري سرتیري د یو جګ، نرې سرې سره چي ږیره یي درلوده د ودانۍ په دریم پوړ کي مخامخ شول. د نارینه مخ ته درې ښځي ولاړې وي. یوې ښځي په عربي ژبه چیغي کړی. سرتیرو هغه ښځه په پښه کي وویشتله او د یوې بلي ښځي سره یي د دغه ځایه څخه کش کړه. بل سرتیري جګ سړي په سینه کي وویشتي مخکي له دی چي هغه پر مځکه راولوېږي، پر ښۍ سترګه یي هم وویشتي چي ځای پر ځای مړ شو.

یو سرتیري په جګوالي کي د القاعده و مشر ته ورته و. سرتیري د مړی څنګ ته پریوتي، ښکاره شوه چي جګوالی یي ورسره برابر دي. بل سرتیري د مړی څخه د ډی ان ای [۳۶۶] د ازمویني له پاره مواد واخیستل. معلومات د مخابرې له لارې ورکړل شو. جیرونیمو، جیرونیمو [۳۶۷] دښمن ووژل شو. (جیرونیمو د اوساما بن لادن د کود نوم و.)

کله چي راډیویي خبر بارک اوباما ته ورسیدي، ویې ویل: هغه زموږ لاسته راغي. د اوباما خبره ځانګړی شخص ته متوجه نه وه. اوباما د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو او یو شمیر سلاکارانو سره په ځانګړی تنظیم شوی کوټه کي د عملیاتو جریان لیدي. اوس باید امریکایان د پاکستان څخه د مړی سره یو ځای ووزي.

په ټولیزه توګه د خرابی شوی چورلکي سرتیري (۴۳) دقیقي د ایبټ اباد سره پر مځکه وو چي وروسته د هغي احتیاطی چورلکي په واسطه راټول شول، چي دغه ښار ته نژدي په غرو کي وه. دوي د اوساما مړی په پلاستیکی کڅوړه د ځان سره درلودي. دوي د اوساما کمپیوتر، سیډیګاني، ډیویډیګاني او نور اړوند مواد ورسره واخیستل. دواړې چورلکي هغه سیمي ته والوتلي کوم چي بله چورلکه د تیلو سره منتظره وه او دواړو چورلکو ته یي تیل ورکړل.

---

۳۶۲ - Black Hawk
۳۶۳ - Navy SEAL
۳٦٤ - Team Six
۳٦٥ - CIA
۳٦٦ - DNA
۳٦۷ - Geronimo

د جلال اباد په هوايي ډګر کې د اوساما مړی بلې چورلکې ته انتقال شو او مړی يې د بګرام هوايي ډګر ته انتقال کړي. د بګرام څخه مړی د امريکا د هنګار بيړی [٣٦٨] ته چې پاکستان ته نژدې په سمندر کې وه، انتقال شو. د ډی ان ای ازمايش او د څيرې پيژندل، د ځانګړی ماشين په واسطه تاييد شول چې همدغه شخص اوساما بن لادن دې. د ولسمشر بارک اوباما سلاکار، جان برينان [٣٦٩] د سعودي عربستان خارګري اداري ته تيليفون وکړی تر څو باوری شي چې سعودی عربستان د اوساما بن لادن مړی د ښخولو له پاره نه غواړي. سعودې عربستان د مړی د غوښتلو څخه انکار وکړی. د محلي وخت د (١٠:١٠ ـ ١١,٠٠ ) بجو په مينځ کې د اوساما بن لادن مړی ومينځل شو او به سپينه ټوټه کې وپيچل شو، وروسته تر لنډو اسلامي مراسمو عربي سمندر ته وغورځول شو.

د امريکا د ولسمشر ستر بريالیتوب په نصيب شو. امريکايانو د ترهګری سره په مبارزه کې د دغه بريالیتوب په خاطر خوشالی کولې. د ترهګرو مشر تر نهه کاله، اوه مياشتې او شلو ورځو وروسته چې د سپتمبر پيښه شوی وه، ووژل شو. د اوساما بن لادن وژل کيدلو دا افشاء کړه چې د ترهګري پر ضد جګړې د حقوقي او مورال په لحاظ جهت بدل کړي.

پلان دانه و چې د القاعده مشر ژوندی ونيول شي. لس کاله مخکې داسې فکر هم شوی نه و چې د سربيا ملي مشر، سلوبودان ميلوسيويچ [٣٧٠] به ژوندي د بشري جناياتو په جرم د هاګ محکمې ته ليږل کيږي.

په نوی وخت کې داسې څرګندوني شوی دی چې په ايټ اباد کې پر وداني د عملياتو په تړاو رسمي خپروني شکمني دي. لومړی معلومات داسې وو چې اوساما بن لادن هغه وخت په ډزو کې ووژل شو چې هڅه يې وکړه د خپلو ښځو ښځو څخه د يوې ښځې تر شاه پټ شي. خو يوه ورځ وروسته داسې خبرونه خپاره شوه چې اوساما بن لادن هيڅ وسلوال نه و او ځان يې د خپلې ښځې تر شاه نه دي پټ کړی. خو هغه پر هغو امريکايي سرتيرو حمله وکړه چې ښځه يې ور ټيټې کړی وه. خو ورځ وروسته بيا رسمي خبر بدلون وموند. نوی خبر داسې خپور شو: د مخکني ريپوټ له مخې چې ډزو ډير دوام کړی وو، داسې نه وو بلکې ډزو ډيره لنډه موده دوام وکړي.

مانا دا چې امريکايي سرتيري د ډير لږ وسلوال مقاومت سره مخامخ شول مخکې له دې څخه چې امريکايي سرتيري ځانونه بې وسلې اوساما بن لادن ته ورسوي او مړ يې کړي. ايا دا درسته وه چې بی وسلې اوساما بن لادن ووژل شي؟ ايا د دې خبری مانا دا ده چې اوساما بن لادن بايد هيڅوخت د عدالت د تطبيق له پاره محکمې ته حاضر شوی نه وای؟ که څه هم د دوهمې نړيوالي جګړې څخه د نړيوالي ټولني ميتود دا وو چې يو شمير نازيستان يې هم عدالت ته وروپيژندل. وروسته هم سلوبودان ميلوسيويچ او صدام حصين محکمه شوه. بحث يوازې د اوساما پر سر نه و. په وداني کې نور کسان هم وو چې په دغو کسانو کې يو شمير ماشومان، درې ښځې او لږ تر لږه پنځه نارينه شامل وو. څلور کسان ووژل شول او زيات شمير ټپيان شول. د ولسمشر بارک اوباما پوځونو هيڅوک هم د بندی په توګه نه بوتلل. دوي يوازې د اوساما بن لادن مړی د ځانونو سره يوړی.

د اوساما بن لادن وژنه يوازنی پيښه نه وه. دا د ترهګری د تهديد په وړاندې د ستراتيژي د بدلون پيلامه وه. ولسمشر جورج بوش په عراق او افغانستان کې خونړی جګړه پيل کړه چې ډير ملکي وګړی ور کښې تلف شول. جورج بوش ډير کسان ونيول او د ګوانتانامو مشهور زندان ته يې واستول، په دغه زندان کې د بنديانو شکنجه کول تر سره کيدل او د سی ای ای په واسطه کنترول‌يدي. خو بارک اوباما ډيره پټه جګړه د ځانګړو پوځيانو، جاسوسانواو بی پيلوټه الوتکو په واسطه مخته وړله چې د بنديانو شميره يې هم ډيره کمه وه. ملکي تلفات لږ وو د جګړې دغه ميتود د جګړې څخه د سترو امريکايانو د منلو هم وړ وو. په بدل کې پټه جګړه د عامه د ځار څخه ليري وه نو په همدغه وجه ستونزمنه وه چې پر جګړې ډموکراتيکه څارنه وشي.

د اوساما بن لادن وژني د ځان سره لوي پوځي غبرګون هم درلودې. د ٢٠١١ زکال د جون په مياشت کې بارک اوباما اعلان کړل چې (١٠٠٠٠) سرتيري بايد د افغانستان څخه د کال تر پايه ويستل شي او نور (٢٣٠٠٠) امريکايي سرتيري د ٢٠١٢ زکال د اګست تر مياشتې پورې افغانستان پريږدي. د امريکايي سرتيرو د بيرته ايستلو پروسه د هغه په پرتله چې بارک اوباما د ٢٠٠٩ زکال په ډسمبر زيات سرتيري افغانستان ته را وليږل، ډيره چټکه وه.

[٣٦٨] - USS Carl Vinson
[٣٦٩] - John Brennan
[٣٧٠] - Slobodan Milosevic

د امریکا د دفاع وزیر، رابرټ ګېټس [۳۷۱] مخکې ویلي و چې د نوموړی انتظار دا و چې په کراره سرتیري ویستل شي. د امریکا د پیاده پوځونو قوماندان، جنرال جیمس کون وی [۳۷۲] ویلي و چې د پوځونو ایستل تر وخت نه مخکې دي. د هغه له نظره باید انتظار ایستل شوی وای. د جنرال اندیښنه دا وه چې د بارک اوباما پریکړه د طالبانو مورال لوړوی.

اوباما د پریکړې د اعلان په وخت کې تاکید وکړي چې دا پریکړه وروستی ده ځکه زموږ موخه د القاعده له مینځه وړل او یا دومره کمزوري کول وو چې د دي توان ونه لري پر لویدیزو هیوادونو باندې بریدونه وکړي. موخه د یو ازاد او ډموکراټ افغانستان جوړول نه وه. د اوساما په نه شتون کې نړیوال ترهګریز تهدید ډېر کمزوری شوی دي. په همدغه وجه د امریکا ډیر سرتیري ژر باید خپلو کورونو ته راستانه شي.

په ګرشک کې د هغه وخت د ډنمارکي پوځونو قوماندان، جینز ریس [۳۷۳] د ۲۰۱۱ زکال په وړی کې د اوباما د پریکړې په تړاو په نیغه کوم بدلون احساس نه کړي مګرپه سیمه کې د ډېرو سرتیرو شتون اړتیا وه.

نوموړی قوماندان وویل: «ما غوښتل چې یو تناسب په نظر کې ونیول شي چې د هلمند د سیند په اوږدو کې طالبان لیري کړای شوو. د ډنمارکیانو د مسولیت د سیمې په سهیل کې (۸۰۰) امریکایي سرتیري پراته وو. دا یوه ډېره پیچلي سیمه ده. زه بشپړ باور لرم چې د ایساف غوښتنه دا وه چې په دغه سیمه کې ډیر سرتیري ولري خو د اوباما تر پریکړې وروسته سرتیري د هلمند څخه ایستل کیږي.»

یوه ډله انګریزي سرتیري د ګاونډ ولسوالی څخه ویستل شول چې په ګرشک کې د امریکایانو ځای ونیسي. د ډنمارکیانو د مسولیت د سیمې په سهیل کې د (۸۰۰) امریکایي سرتیرو په بدل د انګریزانو دغه پوځي ډله چې (۳۰۰) سرتیري یې درلودل، ځای پر ځای شول. د ګرشک ساحه په ۲۰۱۱ زکال هم ډیره ستونزمنه وه ځکه اوسیدونکي په مختلفو قومونو پورې تړلی وو، هره ورځ جنایي جرمونه کیدل او د تریاکو د تولید ستونزو دوام درلودې. د ډنمارکي قوماندان، جینز ریس د ارزونې له مخې د نا ارامیو علت (۵۰) سلنه د طالبانو لخوا وو نور د جنایي جرمونو شتون وو.

د امریکایانو ایستل د هلمند څخه په ټولیزه توګه د ناټو قوتونه کمزوري کړل چې پایله یې د ډنمارک پلان هم کمزوري شو. په دغه دلیل د ۲۰۱۱ زکال د اګست په میاشت کې باید ډنمارکي سرتیري د پاټرول د څلورو پوځي مرکزونو څخه وتلی وای او مسولیت یې افغان پوځیانو ته وسپاري. دوي د دوو وړو پوځي مرکزونو مسولیت هم واخیستي نو په دغه دلیل عملیات په ټپه ودریده.

ولسمشر، حامد کرزي پریکړه وکړه چې د هلمند ولایت مرکز، لښکرګاه امنیتي مسولیت باید افغان ځواکونو ته وسپارل شي. د امنیتي مسولیتونو اخیستل د افغان ځواکونو په واسطه د هغې پریکړې د عملي کولو پیل و چې د ناټو په سرمشریزه غونډه لیسبون کې پریکړه شوی وه. هلمند تر نورو ولایتونو ډیر نا امنه وه نو ځکه دغه پریکړې ډیر جرأت غوښتې. خو د حامد کرزي له پاره د سیاسي لحاظه ډېره مهمه وه چې سیګنال ورکړي چې افغان امنیتي ځواکونه د افغانستان د جنوب امنیت پر غاړه اخیستلای شي. د ډنمارک حکومت ته خبر ورکړل شوو چې په ګرشک کې د ډنمارکیانو د مسولیت سیمې ته ډیر افغان سرتیري نه ورکول کیږي ځکه د افغان سرتیرو لویه برخه باید د هلمند ولایت مرکز، لښکرګاه ته واستول شي. نو په همدغه وجه ښه افغان روزل شوی پوځونو د هلمند مسولیت چې په ټول هیواد کې خطرناکه و، واخیستي. دا پریکړه د حامد کرزي او ناټو د باور سیګنال وو.

ډنمارکي ګوندونه چې د افغانستان د جګړې ملاتړی وو، اړ شوه چې د سرتیرو د ایستلو ځنډ ومني. خو د دفاع وزیرې، ګیټه لیله لوند بچ دا نه منله چې جګړه یې بایللي ده چې افغان سرتیري د سیمو مسولیت اخلي. اوس باید ډنمارکیان دا ومني چې د څلورو خطرناکو پوځي مرکزونو څخه د دوو مرکزونو مسولیت د ۲۰۱۲ زکال تر پیل پورې پر غاړه واخلي.

د ۲۰۱۱ زکال د پسرلی موسم ډیر ارام و چې اوږده موده یې داسې حالت نه وه تجربه کړی. جګړه ډیر لږ وه. د ډنمارکیانو یولسم (۱۱) ګروپ سرتیرو په شپږو میاشتو کې یو مړی او (۹) ټپیان ورکړی وو چې د ۲۰۰۷ زکال را وروسته ارام ترینه موده وه. نصیب او طالع مهم فکټور و. د سړک د غاړې د ماینونو په واسطه تلفات دومره حساس وو چې د سانتي متر په واټن کې پیښیدلای شي.

د ډنمارکي پوځونو قوماندان، جینز ریس وایي:«طالبان کمزوری شوی وو. جګړه لږ وه، زموږ پاملرنه د سړک د غاړې ماینونو ته وه. موږ په هدفمنده توګه د بم اینودونکو ګروپونو په نیولو او د دوي دوسلو په ډیپوګانو د موندلو له پاره تلاښ

---

[۳۷۱] - Robert Gates

[۳۷۲] - James Conway

[۳۷۳] - Jens Riis

کولو. د ډیرو امریکایي سرتیرو د شتون په وخت کې ممکنه شوه چې د طالبانو مشرتابه او د دوي لوژیستیکي اکمالات په نښه کړي.

کیدلای شي په لوړه سطحه بحث وشي چې د پاټرول پوځي مرکز نظریي اغیزه وکړه. د هغه وخت د پوځي ډلي قوماندان، کیسپر پیدرسن [۳۷٤] چې د کلیپټن [۳۷٥] پوځي مرکز مسول و، د ۲۰۱۲ زکال د جنوری په میاشت کې د ویکنډ ورځپاڼي [۳۷٦] سره په مرکه کې وویل:

«که د پاټرول پوځي مرکز د ساتلو څخه موخه دا وي چې طالبان د سیمي څخه وشړل شي خو بریالي نه شولو. دا چې اوس جګړه لږ ده، علت یي د ژمي موسم دي چې وني او خاشي نه شته تر څو طالبانو په توګه کار ورڅخه واخلي. خو دښمن زموږ پر شاوخوا د (۳۶۰) درجي دایرې په ډول راګرځیدلی دي. د دوي کسان د اغزی لرونکي سیم سره نژدي موږ څاري. کله چې موږ د مرکز څخه ووزو، سمدستي خبر ورکوي. که موږ (۲۰۰ ـ ۳۰۰) متره د کمپ څخه لیري شوو، پر موږ ډزي کوي.»

طالبان او نور وسلوال خلک د جګړې د مختلفو میتودونو څخه ګټه اخلي. دغه ناوړه جګړه د خونړیو پیښو په تکرار سره د کلونو په اوږدو کې کله زیاته او کله لږ دوام لري. خو د ۲۰۱۱زکال د وړي په موسم کې طالبانو په لویه کچه د حامد کرزي ملاتړي ووژل. دوي د حامد کرزي د ناسکه ورور، احمدولي کرزي په وژنه لړی پیل کړل.

احمد ولی کرزي ډیر کلونه د کندهار یو واکمن شخص پاته شوی و. په رسمي توګه احمد ولي کرزي د ولایتي شورا مشر و خو هغه د قومي ، سیاسي او جنایي اړیکو په وخت کې د حامد کرزي ښی لاس و. نوموړي د خپل مشر ورور، حامد کرزي له پاره د ټاکنو په وخت کې وټونه راټولول. نوموړي ځان او د کرزي نورې کورنی ته زیاته شتمني د ساختماني شرکتونو او خصوصي امنیتي کمپنیو په مټ راټولول. دغه ټنده او خشن څیره احمد ولي د حامد کرزي د لوبې بله څنډه نیولي وه.

احمد ولي کرزي هیڅ وخت یوې محکمې ته معرفي نه شو تر څو ثابته شي چې د هلمند ولایت پخوانی والي، شیرمحمد اخندزاده سره په ګډه د نشه ای توکو تجارت مخته وړي. په یوه مرحله کې امریکایانو کوښښ وکړي چې احمد ولي کرزي عدالت ته وسپاري خو بیا داسي څرګنده شوه چې احمد ولي کرزي په یوه مرحله کې د امریکا د څارګرې اداري، سی ای ای د معاشونو په لست کې شامل و. حامد کرزي هم تلاښ کولو چې خپل ورور عدالت ته د سپارولو څخه خلاص کړي، وروسته امریکایانو هم لاس ورڅخه واخیستي. په بدل کې امریکایانو د دغه واکمن سړي سره ګذاره کول. نوموړي ویل چې زه د اتو ځان مرګو بریدو څخه ژوندی وتلی یم.

د ۲۰۱۱ زکال د جولای پر (۱۲) نیټه د هغه ژوند پای ته ورسیدي. په دغه ورځ د څاښت په وخت کې احمد ولي کرزي د حمام څخه راووتي. بهر ته د نوموړي د باور وړ باډی ګارډ ولاړ و کوم چې د دوي د کورنی له پاره یي ټول ژوند خدمت کړی و. همدغه دلیل و چې هغه پرته د کومي ستونزې د وسلي سره همیشه احمد ولي کرزي ته ورتللای شو. نوموړي احمد ولي کرزي په سر او سینه کې وویشتي. بریدګر سمدلاسه د نورو باډیګارډانو له خوا وویشتل شو. دغې خونړی پیښي حامد کرزي او ناټو ولړزول. د نوموړي په مړینه سره د کندهار امنیتي حالات د کنترول څخه ووتي او پرته د دغه قدرتمند سړي څخه د نورو تر مینځ هم جنجالونه پیل شول. طالبانو د برید مسولیت واخیستي. که دا خبره رښتیا وي نو طالبانو وکولای شوای چې د کرزي د قوم مهم شخص جذب کړي. بل احتمال کیدلای شي چې د پیسو او واک پر سره اختلاف رامینځته شوی وي. د بریدګر په وژل کیدو د قاتل په تړاو د نورو معلوماتونو امکانات له مینځه ولاړل.

بل برید دوي ورځي وروسته پیښ شو. د احمد ولی کرزي د فاتحې مراسم چې په سره مسجد کې نیول شوی وو، د برید د نوي میتود څخه کار واخیستل شو. هیڅ چا فکر نه کولو چې بریدګر به په لنګوټه کې بم ایښی وي. د افغانانو په مینځ کې د لونګۍ پر سر کول یو ډول د حیثیت موضوع ده، نو د لنګوټي تلاښي کول سپکاوي ګڼل کیږي. د لنګوټي د بمب په چاودنه کې یو معتبر ملا، حکیم الله حکمت او څلور نور کسان ووژل شول. د کرزي بل ورور او یو شمیر وزیران د برید څخه ژوندي ووتل.

طالبانو دري ورځي وروسته په کابل کې یو برید وکړي. دوو ځوانو طالبانو وکولای شوای د حامد کرزي نژدي مشاور او ملاتړي جان محمد خان چې مخکي د روزګان والي و، ځانونه ور ورسوي. د نشه ای توکو د کارو بار په پایله کې حامد کرزي اړ شو چې د ملا شیرمحمد اخندزاده په ډول، جان محمد خان هم د ولایت څخه لیري کړي. د حامد کرزي ورور، جان محمد خان او ملا شیرمحمد اخند زاده د افغانستان جنوب ولایتونه د امنیتي لحاظه تر کنترول لاندې درلودل. د بریدونو لړۍ

[۳۷٤] - Casper Pedersen
[۳۷٥] - Clifton
[۳۷٦] - Weekendavisen

پای ته رسیدلي نه وه. د جولای پر (۲۷) نیټه د کندهار ښاروال، غلام حیدر حمیدي د یو ګروپ قهرجنو ښاریانو سره وکتل، دوي د ښاروال د هغې پریکړې سره سخت غبرګون وښودي، چې د ښار په سهیل کې نوي جوړې شوي ودانۍ د ښارې پلان سره په مخالفت کې جوړې شوي وې، ورانې کړي. ناځاپه یو سړی د خلکو د ګڼې ګونې څخه راووتي او پر ښاروال یې ځان وغورزاوه. نوموړي هم په لنګوټه کې بمب پټ کړی و چې وچاودي. خلک په وارخطایي هر لورې ته په منډو شول. پر میدان د برید کوونکي، ښاروال او یو بل تن مړی پاته شوو.

د باور وړ نه ده چې دغه څلور پیښې به د طالبانو لخوا تر سره شوی وې، ولې دا پیښو رغنده رول نه درلودي. د ایساف ځواکونو پلان و چې کندهار تر کنټرول لاندې راولي، خو د جولای د خونړي میاشتې په وجه د نورو ټکرونو څخه صرفنظر وشو.د ښاریانو او د دولت د عادي مامورینو له پاره تیرو مسلسلو پیښو ډیرې اندیښنې وپارولي ځکه د دولت لوړ پوړو چارواکو ژوند هم مصون نه وو. د امریکا د سفیر، راین کروکر [۳۷۷] تش تسلیت د خلکو زړه ارامولای نه شوو، نوموړی ادعا وکړه چې طالبان تر پوځي فشار لاندې راغلي دي نو ځکه هر لورې ته لاس اچوي. په دغه وخت کې راین کراکر نه پوهیدي چې د وسلوالو وروستي دري بریدونه د سفیر د ودانۍ څخه ته پیښیږي. د امریکا د سفارت ودانۍ ډیره لویه ده او جګ دیوالونه پر راګرځیدلي دي او مخې ته یې لوی سړک تیر شوی دي، عادي ترافیک هم د تګ او راتګ اجازه نه لري. د سفارت په ودانۍ کې ډیر کسان کار کوي ډوډۍ خوري او ویده کیږي چې په ندرت په ښار کې په عادي توګه ګرځیدلای شي. د ډنمارک او یو شمیر نورو هیوادونو او د ایساف عمومي دفتر هم د امریکا سفارت ته نژدي پروت وو.

د څو سوه مترو په واټن د سفارت څخه پر یو څورلس پوړیزه ودانۍ د څو کلونو څخه کار جریان درلودي خو پای ته رسیدلی نه و. د دغه ودانۍ څخه د ۲۰۱۱ زکال د سپټمبر پر (۱۳) نیټه د ماشینګړو او راکټونو ډزې پیل شوي. کله چې د سفارت د خطر الارام وړغږل شوو، د لوډسپیکر پواسطه خبرداري ورکول کیدي چې ډزې کوم د وسلو ټریننګ نه دي. یو بم پر سفارت ولګیدي خو څوک یې ټپي نه کړي. د طالبانو موقعیت پر لوړې ودانۍ اغیزناکه وه. د بریدګرو مخ خلاص و نو ځکه ودانۍ یې تر بلې ورځې په واک کې وه. په همدغه ورځ څو نور ځایونه هم ځانمرګي بریدونه وشول. د امریکا پر سفارت برید تر یو بل منظم برید دري اونۍ وروسته رامینځته شو. د انګلیستان کلتوري مرکز د ځان مرګي برید او د وسلوالو طالبانو د ډزو ښکار شو. د انګلیستان کلتوري مرکز دومره زیات د طالبانو تر واک لاندې شو چې په تلویزون کې انځورونه ټولي نړۍ ولیدل.

د دغو مسلسلو پیښو پر بنسټ د سرتیرو کورنیو په بهر کې باور نه درلودي چې افغان امنیتي ځواکونه به په یوازیوالي د طالبانو د بریدونو مخ ونیولای شي. پوښتنه دا وه چې امنیتي ځواکونه ربښتیا هم دومره کمزوری وو چې طالبان کولای شي د هیواد په پلازمینه کې دومره منظم بریدونه وکړای شي.

بیا هم په لنګوټه کې بم ځای شوی و. حامد کرزي، پخوانی جمورریس، برهان الدین رباني د سولې د شورا د مشر په توګه وټاکی. نوموړی باید مخالفینو ته د سولې لاس غځولی وای. نوموړي یو مهم شخصیت و کیدلای شوای د سولې د خبرو جریان ته یې چټکوالی ورکړی وای. سره د دي چې برهان الدین رباني یو تاجیک و، د شمالي ټلوالي مشر او پخوانی ولسمشر و خو بیا هم هیله کیدله چې د پښتنو (طالبانو) سره د سولې خبري پیل کړای شي. (ژ: لومړی خو ټول پښتانه طالبان نه دي او نه هم ټول طالبان پښتانه دي، دوهم هغه دومره منفور شخص و چې نه یوازې ې د سولې د خبرو د پیل توان یې درلودي خو د سولې د خبرو د پیل په مخ کې لوی خنډ هم و.)

نوموړی تهران ته تللی و او غوښتل یې د ایرن د روحانی حکومت څخه غوښتنه وکړي چې د ځان مرګو بریدونو په تړاو یو داسې فتوا صادره کړي چې ځانمرګي بریدونه ناروا وګڼل شي. په کابل کې د طالبانو د سولې استازی د سولې د شورا په ځانګړي میلمستون کې د برهان الدین رباني راتللو ته منتظر و. نوموړی عصمت الله نومیدي. د نوموړی پخواني سابقه دقیقه کنترول شوی وه او د طالبانو د دفاع پخوانی مرستیال وزیر د هغه په اړوند د ښه والي سپارښتنه کړی وه. همدا ډول عصمت الله مخکې هم د طالبانو د سولې د استازی دنده تر سره کړی وه. عصمت الله په ډیره اسانی سره د برهان الدین د لیدلو چانس پیدا کړي ځکه هغه ویلې و چې یوه مهمه سی ډي د ځان سره لري. سفارتونو ته نژدي د برهان الدین رباني کور دي چې امنیتي چارواکو د نوموړي په لنګوټه کې ځای پر ځای شوی بم پیدا نه کړي. لږ وروسته عصمت الله د روغبړ له پاره برهان الدین رباني ته لاس اوږد کړي. عصمت الله سره ډیر کښته کړي چې ګواکې ډیر درناوي ورته لري نو ځکه د نوموړي لنګوټه د برهان الدین رباني وجود ته دومره نژدي وه چې د بم د چاودلو سره برهان الدین رباني سمدستي مړ شو. دا پیښه دومره خطرناکه او جدي وه چې د سولې خبري په ټپه ودرولي. د طالبانو پر پخواني مرستیال وزیر شکونه زیات شول خو هغه هم ډیر سخت ټپي شو(ژ: د دفاع وزارت اوسنی سرپرست معصوم ستانکزی اګست ۲۰۱۵). تر پیښي وروسته طالبانو

[۳۷۷] - Ryan Crocker

د برید مسولیت واخیستي خو بیا هم څرګنده نه وه چي د پیښي تر شاه د چا لاس و. حامد کرزي  د ځانمرګو بریدکوونکو سره د سولې د خبرو کولو څخه ډه ډه وکړه.

د وژنو لړۍ په ګرشک کي د محلي دولتي مقامونو له پاره هم یو تریخ واقعیت و. د ۲۰۱۱ زکال د اګست په (۲۱) نیټه د ولسوالی څارنوال، محمد اعظم د خپلي دندې پر لور روان و. نوموړي د عدلي سیستم مهم سړی و چي ډنمارکیانو غوښتل په ګرشک کي یو ښه عدلي سیستم جوړ کړي. مخکي څو قاضیان وژل شوی وو نو ځکه د ګرشک قاضي د امنیت په وجه په لښکرګاه کي اوسیدي. نو ځکه ستونزمنه وه چي محکمه په ګرشک کي دایره شي خو محمد اعظم غوښتل چي دا چاره جوړه کړي. دوه موټرسایکل سپاره د محمد اعظم څنګ ته تیر شول. او ډز یي وکړي چي محمد اعظم ووژل شو. د ډنمارکیانو له پاره یو بل مهم شخص په ډزو ووژل شو. خو دا امکان چي ښه عدلي سیستم جوړ شی یو ځل بیا د ناکامی سره مخ شوو. د همدغه ورځي په پای کي دغو دوو موټر سایکل سپرو د ولسوالي د شورا یو غړی مړ کړی خو بریدګر هیڅکه پولیسو ته لاسته ورنغلي. څو محدود پولیس د وژنو د روښانه کولو له پاره روزل شوی وو چي زیات وخت د بریدګرو د نیولو له پاره څیرني نه کیدلي.

د اګست په میاشت کي د ولسوالي شورا دوه غړي چي یو یي د ده ادم خان اوسیدونکی و، ووژل شوه. دوه ملایان او (۱۶) پولیس هم د اګست په میاشت کي ووژل شول. د دوه نیمو کالو په موده کي د ولسوالي شورا د (۵۰) غړو څخه لس تنه ووژل شول.

دا ناممکنه ده چي په ګرشک کي د مختلفو ډلو لګښت او د مړګونو شمیره په جګړکي درسته روښانه شي. تر هرې وژني وروسته غم او ارمانونه پټ دي چي پوهیدل یي ډیر ستونزمن دي.

د ډنمارکیانو د تلفاتو شمیره: د ۲۰۱۱ زکال د اکتوبر تر لومړی نیټي په ټولیزه توګه (۴۲) ډنمارکیان وژل شوی وو چي (۳۷) تنه په هلمند کي مړه وه. د دغو (۴۲) تنو څخه (۳۶) تنه په جګړه او پاتي د انفجارونو، ځان مرګو بریدونو او یا په ناروغي مړه شوی دي. په ټولیزه توګه (۱۷۷) سرتیري ټپیان شوی وو. (۲۶) تنه سخت ټپیان وو، د (۱۶) سرتیرو د بدن یو

یا څو غړي قطع شول.

ډیر سرتیري په لوړه او یا لږه کچه روحي ناروغه شوه. ځیني کسان ژر روغ شول خو د ځینو سرتیرو سره روحي ناروغي ټول ژوند پاته شوه. د پوځ د سایکلوژي انستیوت او د اغوس د پوهنتون پرفیسور ډورته بیرنتسن [۳۷۸] د اوم (۷) ګروپ لیږل شوو ډنمارکي سرتیرو ژوره څیرنه وکړه. کله چي سرتیري ډنمارک ته راورسیدل، سایکلوژیکي څیرني پیل شوي. څیرونو (۸) میاشتي وخت وغوښتي وروسته څرګنده شوه چي تقریباً (۵) سلنه په جدي روحي ناروغي اخته شوی دي. سایکلوژیستانو ارزونه وکړه چي د څیرونو پایلي د ټولو هغو سرتیرو په تړاو چي د عراق او افغانستان جګړو ته استول شوی دي، د تطبیق وړ دي.

د دفاع وزارت د شمیرني له مخي تقریباً (۴۸۰۰) سرتیري عراق او تقریباً (۷۸۰۰) سرتیري د جګړو له پاره افغانستان ته لیږل شوی دي. د دغو سرتیرو څخه یو شمیر په عراق او هم په افغانستان کي وو. هغه سرتیري چي څو ځله د جګړې ډګر ته لیږل شوی دي، د دوي د ډلي څخه (۵۰۰ ـ ۶۰۰) سرتیري په جدي روحي ستونزو اخته دي.

په دي ډول د ډنمارکي سرتیرو د تلفاتو، ټپي کیدو او په روحي ناروغیو د اخته شوو کسانو په تړاو دقیق معلومات شتون لري خو د افغانانو په باب هیڅ څیرنه نه ده شوی او نه هم معلومات شته. د پوځ د معلوماتو په اساس شک شته چي (۳۱) تنو ډنمارکي سرتیرو د هلمند ولایت د ملکي وګړو په وژلو کي ښکیل وو. په (۱۴) پیښو کي د ډنمارکي سرتیرو په واسطه بی ګناه  ملکي وګړي وژل شوی دي. د (۲۰۱۱) زکال د نومبر په میاشت کي د پاټرول د پوځي کمپ سره یو افغان بیګناه سړي د سرتیري د بی پروایي په پایله کي ووژل شو چي هغه سرتیري په قتل تورن شو. خو تر اوسه پوري روښانه نه ده چي دغه سرتیري به داسي تورن شي چي محکمي ته واستول شي که یا؟ د پوځیانو د معلوماتو له مخي په (۱۷) ملکي وګړو کي (۱۳) طالبان وو او د نورو په اړوند  دقیق معلومات نه شته. دغه (۱۳) تنه موږ ته را په ګوته کوي چي شکمن راپور ورکړل شوی دي. د ۲۰۰۶ زکال د جولای پر (۳۱) نیټه د ماپښین له خوا یو پایکپ او یا میني بوس چي د موسی کلا څخه د جګړې په وخت کي د وتلو په حال کي و، د الوتکو په واسطه بمبارد شوو. د ډنمارکي پوځیانو لخوا د موسي قلعه په ښار کي د الوتکو څخه غوښتنه وشوه چي بمبارد وکړي. د انګریزي ورځپاڼي، انډیپینډینټ [۳۷۹] په حواله الوتکي پر موټر یوځل برید وکړي. د (۱۳) تنو مړو په مینځ کي نهه ماشومان او دوې میندې د یوې کورنۍ څخه وي. د ډنمارک ـ انګریزانو پوځي څارنوالي

---

[۳۷۸] - Dorthe Berntsen
[۳۷۹] - The Independent

ځیرونو د موضوع د روښانه کولو له پاره ځه ونه موندل. د ډنمارک پوځي مسول، لارس اولسليو يوهينسن [۳۸۰] په موسی قلعه کې او د څارنوالي د ځیرونو د پایلو پر بنسټ په ټینګار سره وویل چې دا طالبان وو، ځکه هوایي ډزې وکړې نو موږ هم د اصولو له مخې کړنه وکړه.

پنځه کاله وروسته ډنمارکي ـ افغاني ژورنالیست، نقیب خواجه د ځیرونو په پایله کې هغه سړي وموندي چې د کورنی غړي د لاسه ورکړی وو. خواجه په خپل (هغه کیسه چې تر اوسه ویل سوی نه ده) نومي کتاب کې د هغه سړی د خولې څخه ټوله کیسه په تفصیل بیان کړې ده. ژورنالیست بریالي شو چې د نوموړی سړی کیسه د هلمند د پخواني مرستیال والي لخوا تایید کړي. دوسیه وتړل شول ځکه د افغانانو په قول، انګریزي پوځیانو بخښنه غوښتي وه او یو زیات مقدار پیسي یې د تاوان په ډول عبدالحبیب ته ورکړی وي.

په هر صورت دا هغه معلوماتونه وو چې د ډنمارکیانو د مسولیت په سیمو کې ملکي وګړي زیانمن شوی وو. البته نامعلومه شمیري هم شته چې لویدیز پوځونه د عملیاتو څخه وروسته هغه ځیرلای نه شي ځکه چې امنیت ته یې زیات خطر شته. په ځانګړی توګه د هغو هوایي بریدونو تلفاتو شمیره نامعلومه ده چې د ډنمارکي پوځیانو په غوښتنه تر سره شوی وي.

په جګړه کې دریم ګروپ د ډنمارکیانو مخالفین دي: د خطرناکه جنایي مجرمینو ګروپ، طالبان او نور وسلوال ګروپونه، او بالاخره هغه بی مځکې بزګران چې د پیسو په مقابل کې د دښمن په لیکه کې ولاړ دي. د هغه ډراماتیکو جنجالو څخه وروسته چې څومره طالبان ډنمارکیانو په موسی قلعه کې وژلي دي، د امریکایانو او نورو هیوادونو برخلاف د ډنمارک دفاع وزارت د وژل شوو طالبانو(دښمنانو) احتمالي شمیره هم نه ورکوي. د ډنمارک د دفاع وزارت دلیل د وژنو د شمیري د نه ورکولو په اړوند دادي: د افغانستان جګړه د دي له پاره نه ده چې څومره ډیر طالبان چې ممکنه وي، ووژل شي بلکې جګړه د عادي وګړو له پاره د امنیت راوستل دي.

د هر ځل جګړې وروسته د مخالفینو په تړاو باید یو عمومي رپوټ ورکړل شي چې د دښمن شمیره څومره وه او په احتمالي ډول څومره تلف او ټپیان شوی دي. لوړپوړي پوځیان اټکل کوي چې په ګرشک کې د ډنمارکیانو په وړاندې طالبان او نور مخالفین تقریباً (۳۰۰۰) تنه وو. دا شمیره ډیر زیاته ده، کیدلای شی غلطي ولري. طالبان هر وخت وروستی تلاښ کوي چې خپل مړي یوسي. تجربې ښودلي ده، هر ځل چې طالبان برید وکړي او مخامخ جګړه پیل شي نو د (۲۵ ـ ۵۰) تنه طالبان وژل کیږي خو که هوایي برید ورسره ملګری وي، د طالبانو تلفات زیات وي. د افغانستان په جګړه کې انساني تلفات ډیر قیمتي تماميږي. اقتصادي لګښتونه سرسام اوره دي. اقتصاد هغه مهم دلیل دي چې امریکا او لویدیز هیوادونه جګړه پای ته رسوي. بارک اوباما د ۲۰۰۹ زکال د ډسمبر په لومړی نیټه په خپله مهمه وینا کې چې د امریکا ستراتیژي په افغانستان کې په تړاو وه، په امریکا کې بیکاری او اقتصادی بحران ته هم اشاره وکړه. بارک اوباما په تاکید وویل چې موږ د جګړو لګښت په عراق او افغانستان کې د پامه غورځولي نه دي. د امریکا د کانګرس د محاسبې پر بنسټ د ۲۰۱۱ زکال تر وتلو پورې په افغانستان کې امریکایانو ته د جګړې لګښت (۲۴۰۰) میلیارده کرونه (ژ: تقریباً ۵،۵۰ کرونه یو ډالرکیږي) شوی دي.

د افغانستان په جګړه کې ډنمارک د ۲۰۱۱ زکال تر پایه پورې (۱۰۰) میلیارده کرونه لګولی دي. د پورته سل میلیاردو کرونو لویه برخه په ګرشک کې لګیدلي ده. (ژ: سوچ وکړی که یوازې د ډنمارک د جګړې لګښت د هلمند په ولایت کې د اقتصادي پروژو د جوړولو له پاره شوی واي اوس به هلمند د پرمختګ په کوم پړاو کې قرار درلوداې؟) که د پورته پیسو دري پر څلور برخه د ګرشک د (۷۵۰۰۰) اوسیدونکو د امنیت راوستلو له پاره پانګونه شوی وای نو ویلای شو چې د ۲۰۰۶ زکال د وړی څخه به د هر ګرشکوال د امنیت له پاره (۱۰۰۰۰۰) کرونه لګیدلي واي. د ۲۰۱۰ زکال د احصاییې له مخې د هر افغان کلنی عاید (۵۰۰۰) کرونه وو.

د جګړو په دوران کې د دواړو لورو انساني تلفات او اقتصادي لګښتونه سرسام اوره مخ پر لوړیدو دي. د ډنمارکیانو د مسولیت په سیمو کې د کال په جریان کې امنیت د ښه کیدو په حال کې وو. د ۲۰۰۷ زکال څخه د ۲۰۱۰ کال تر نیمایي پورې چې سخت حالت و، اوس د هغه وخت په پرتله جګړه لږ ده او ځانمرګي بریدونه هم لږ شوی دي. د ۲۰۱۱ زکال د منی تر پایه ځانمرګي بریدونه ډیر لږ وو خو په بدل کې په زرګونه ماشومان (هلکان او نجونې) ښوونځیو ته تلل او هم روغتیایي اسانتیاو ته لاسرسي اسانه شوی وه. د انګریزانو څخه باید مننه وشي چې په ګرشک کې د روغتون له پاره پانګونه وکړه، روغتون یې ورغاوه او د زیږیدون نورې (ولادي او نسایي) ځانګې یې ور اضافه کړې. په ګرشک کې د څلورو پنځو کالو په جریان کې دوکانونه جوړ شول او تجارت رونق پیدا کړي. د بانک څانګه پرانیستل شول او د وړو فابریکو په جوړولو پیل وشوو.

---

[۳۸۰] - Lars Ulslev Johannsen

هغه وخت چې ډنمارکیانو د ارماډیلو پوځي کمپ وتړي او د ګرشک د پاسنی برخې څخه یې ډېر سرتیري ښار ته راوستل نو د ګرشک په ښار کې امنیت د (۲۰۱۰ ـ ۲۰۱۱) په ژمي کې ډېر ښه شو.

باید په یاد ولرو چې د ډنمارک لږ شمیر سرتیرو د هلمند په ولایت کې ډېر لږ پوځي رول درلودي. دا انګریزان او وروسته امریکایان وو چې د پوځي ستراتیژي لوری یې ټاکي. ځو ځله ډنمارکیانو پلان ته بدلون ورکړی دي، ځکه کله به انګریزي پوځ اړ شو او کله به یې نوې موخه وټاکل او پلان ته به یې بدلون ورکړي. ډېر کلونه یې وغوښتل چې د ۲۰۰۶ زکال رامینځته شوو ستونزو ته د حل لار پیدا شي. کله چې ډنمارکي او انګریزي پوځونه د هلمند ولایت ته ولاړل، د واک د پیچلي جوړښت په تړاو یې هیڅ معلومات نه درلودي نو ځکه څوځله پوځي ستراتیژي ته بدلون ورکړل شو.

په لنډ مهاله موده کې مهمه دا وه چې پرمختګ باید دوامداره وی او هم وسائل شي. خو موږ متوجه شوو چې ډنمارکیان او د ناټو نور پوځونه د سیمو تر نیولو وروسته هغه دوباره پرېږدي او مسولیت افغانانو ته سپاري. د افغانانو د پوځ شمیره د ۲۰۱۲ زکال په جنوری کې (۱۷۰۰۰۰) تنه وو خو باید تر ۲۰۱۴ زکال پورې دا شمیره (۲۶۰۰۰۰) تنو ته جګه شي تر څو وکولای شي د ټول هیواد امنیتي چارې پر غاړه واخلي. د پوځ او پولیسو مجموعه به (۳۵۰۰۰۰) تنو ته ورسیږي.

د دومره لوی امنیتي پرسونل معاشونه او چلول ځانګړی ستونزه وه. که چیري افغانان ټول لګښت ورکړي نو د ټول عاید (۸۰) سلنه باید ورکړل شي چې په دغه ترتیب د هیواد اقتصاد د ماتي سره مخامخ کیږي. نو په همدغه دلیل ډیره مهمه وه چې تر ۲۰۱۴ زکال وروسته کله چې لویدیز پوځونه ووزي، بیا هم باید د افغانانو سره په دغه تړاو مرستو ته دوام ورکړل شي. د لویدیزو هیوادونو له پاره هم دا ډیري پیسي دي ځکه همدا اوس په بودجه کې کمبودي لري. کیدلای شي چې حامد کرزي او ناټو د امنیتي ځواکونو د جوړولو څخه ډه ډه وکړي خو دا د کابل له پاره نوره هم ستونزمنه ده چې طالبان او نور وسلوالو مخالفینو ته ماتي ورکړي.

د ۲۰۱۲ زکال په جریان کې د هلمند په ولایت کې اساسي بدلونونه رامینځته شول. د اګست تر میاشتي پورې د ۲۰۰۹ زکال د رالیږل شوو پاتي پوځونه ووتل. په هلمند کې د امریکایي پوځیانو شمیره د (۲۰۰۰۰) تنو څخه تقریباً و (۶۰۰۰) تنو ته را کښته شوه. دا یوه لا ځوابه پوښتنه وه چې ایا د افغان امنیتي ځواکونو اضافه کسان به د امریکایانو د جګړې قوت، تکنالوژي او سازماندهي تشه ډکه کړي که یا؟ د امریکایانو د پاته پوځیانو په ګډون افغاني ځواک کې (۹۰۰۰) برتانوي سرتیري، (۶۵۰) ډنمارکي سرتیري او لږ و ډیر د نورو هیوادونو تیت و پرک سرتیري پاته وو.

د امریکایانو د سرتیرو وتل باید د ۲۰۱۲ زکال تر مني دوام وکړي تر څو بارک اوباما د دوهم ځل له پاره ټاکني وګټي. د اوباما له پاره ډیره مهمه وه چې د امریکا ولس ته ثابته کړی چې امریکایي سرتیري د افغانستان څخه کورونو ته راستنیږي. سپیني ماڼي په ۲۰۱۱ زکال د پنتاګون (د امریکا د دفاع وزارت) څخه غوښتنه وکړه چې پر داسې یو پلان کار وکړي چې د نورو سرتیرو د ایستلو امکان د افغانستان د ناخوښي جګړې څخه برابر شي.

په همدې توګه انګریزانو هم هڅه کوله چې په هلمند کې پوځونه لږ کړي. انګریزانو نه غوښتل چې په یوازې توګه د نا ارامه هلمند ولایت د امنیت مسولیت پر غاړه واخلي لکه د امریکایانو د اضافي پوځونو تر راتلو تر (۲۰۰۹) زکال پورې مسولیت یوازې د انګریزانو پر غاړه وه. ډنمارکي سیاستوالو هم د ۲۰۱۲ زکال د مني څخه بحثونه پیل کړی وو، موخه یې دا وه چې په ۲۰۱۳ زکال کې لویه شمیره سرتیري وباسي.

د ټولو ناوړه امنیتي شرایطو برسیره افغانانو ته نوی دنده هم ور د غاړې شوه. هیڅ داسې علایم نه ښکاریدل چې د فساد په مخنیوي کې پرمختګ وشي او داسې یو حکومت خلکو ته ور وپیژني چې ولسونه ورباندې باور وکړي.

په ګرشک کې د ډنمارکي پوځونو د پولسمي (۱۱) ډلې مشر، ینس ریس باور نه درلودي چې د ۲۰۱۱ زکال د وړي په موسم کې د قتلونو بهیر به د امنیت له پاره ګواښ وي. خو هغه باور لري چې دغو قتلونو موږ ته ستونزې جوړی کړی چې موږ د باور او د فساد څخه تر یوې کچې پاک دولتي سیستم جوړ کړو. نوموړی ډګروال د لویدیزو هیوادونو د ملایم پلان د عملي کولو له پاره اندیښنه درلوده د بیلګې په توګه: ښه افغان حکومت او د اقتصاد پرمختګ.

« موږ د جنګي عملیاتو د تنظیمولو له پار یوو. موږ د دغې دندې په اجرأ کې وړتیا لرو خو یوازې په جنګي عملیاتو امنیت نه تأمینیږي. ځیني کسان وایي چې د افغانستان حالت به نور خراب شي، خو زه داسې فکر نه کوم. ډګروال ینس ریس پوښتنه کوي: که دغه ټوله اپارات او حکومت په ګډه تلاښ وکړي، کیدلای شي چې بریالیتوب تر لاسه کړو؟»

خو نوموړي ډګروال د دفاع وزارت د څارګرې اداري د ارزیابي په پرتله خوشبینه وه. په عوامو کې د کلنی ارزیابي انګازې د ۲۰۱۱ زکال په منی کې د ښه راتلونکي امید نه درلودي.

د ډنمارکي څارګرۍ اداري په رپوټ کې ليکلي وو: «د امکان څخه ليري بريښي چې د افغانستان امنيتي ځواکونه او سياسي بنسټونه به د ۲۰۱۴ زکال د پای ته رسيدو سره د دغه درون مسوليت تر عهده ووتلای شي. وسلوال مخالفين به د افغانستان په جنوبي او ختيزو ولايتونو کې د ۲۰۱۴ زکال تر پای ته رسيدو کمزوري نه شي.»

د څارګرۍ اداري پورته رپوټ تر هغه چې ډنمارکيانو مخکي معرفي کړی وو، د ډيرو اندیښنو څخه ډک وو. په رپوټ کې د دفاع وزارت څارګرۍ اداري د مجرمينو د جال شتون په ګرشک کې د نا ارامیو سرچینه ګڼل شوی ده کوم چې د مځکو، اوبو او نشه ای توکو په تړاو جنجالونه رامينځته کيږي او ژوند يې د عادی بزګرانو له پاره ستونزمن کړی دي. خو طالبان د ډنمارکيانو او نورو بهرنيو سرتيرو باندې بريدونو ته دوام ورکوي.

نشه ای توکي لويه ستونزه ده. د افغانستان امنيت په لويه کچه د نشه ای توکو د توليد په کموالي اړه لري. نشه ای توکي د قاچاقبرانو، قومي مشرانو او قومونو تر مينځ د خونړيو شخړو باعث ګرځي. په ځانګړی توګه د ډنمارکيانو د مسوليت په سيمو کې د ۲۰۱۱ زکال په پای کې حالات ډير کړکیچن شول. د ګرشک په سيمو کې د کوکنارو کښت د دو کالو په جريان کې (۳۲) سلنه زيات شو او د حاصلاتو عايدات يې تقريباً (۷۰۰) ميليونو کرونو ته جګ شوو. په نوموړي کال کې د ترياکو د کرکښت مځکې په تقريبي ډول د ټول هيواد په کچه د ترياکو لس سلنه توليدول. په زړه پورې دا وه چې د ټول هلمند په کچه د ترياکو کرکښت (۹) سلنه کښته شوو نو ځکه دګرشک ولسوالي د لومړی ځل له پاره د ټول هيواد په کچه د ترياکو لويه توليدونکي ولسوالي شول.

پورته شميري د ملل متحد د رپوټ په اساس وي. نړيوالو سازمانونو وړاندوينه وکړه چې په ۲۰۱۲ کال کې د ترياکو توليد نور هم زيات شي. د پورته معلوماتو څخه څرګنديږي چې ډنمارکيانو د نشه ای توکو د کار و باريانو په وړاندې ټينګه مبارزه نه وه کړی. ترياک په سيمه کې د واک او طالبانو د توان قابليت ټاکي. د ډنمارک د پرمختيايي چارو وزير، کريستين فريس بک [۳۸۱] د پورته رپوټ په اړوند خپله اندیښنه داسې بيان کړه:«د ترياکو د توليداتو د زياتيدو له پاره کيدلای شي ډير دلايل شتون ولري. خو که په دغه ډول دوام وکړي نو د خراب امنيت د علايموڅرګندوی به وي. مبارزه يوازې سياسي او پرنسيپي نه ده بلکې د نشه ای توکو د پيسو په وړاندې هم بايد په لوړه کچه مبارزه وشي.»

د ډنمارک د پرمختيايي چارو وزير، کريستين فريس بک وړانديز وکړی: د دي له پاره چې د نشه ای توکو د توليد په مقابل کې افغانان موثره مبارزه وکړای شي بايد د افغانانو سره مرسته وشي ياني د پرمختيايي چارو سره مرستي زياتي شي تر څو په قانوني توګه کار پيدا کړي او د قانوني موادو توليد زيات کړي. ستونزه دا ده چې د څو کلونو را په ديخوا پر دغه ستراتيژي کار جريان لري خو مثبتي پايلي نه لري. په ګرشک کې بزګرانو ته څو کاله تخمونه او کيمياوي سره د ډنمارک له خوا رايګان ويشل کيده خو په بدل کې لاسليکونه وکړه چې کوکنار به نه کري خو بيا يې هم کوکنار کرل.

په ۲۰۱۱ زکال کې د ترياکو بيه (۱۱) برابره تر غنمو لوړه وه. نو ځکه بزګرانو د ډنمارکيانو مرستي هم تر لاسه کولي خو کوکنار يې په هغو سيمو کې کرل چې د نشه ای توکو قاچاق وړونکو او طالبانو واک چليدي خو هغه وخت چې ډنمارکي او نور پوځونه د ګرشک د ښه امنيت په خاطر د دوي د سيمو څخه ووتل. د سيمي څخه يو افغان مځکه وال، حاجي جمعه و رسنيو داسې بيان وکړي: «زه کوکنار کرم او ډير هم خوشاله يم چې کوکنار کرم. زه په هغه ځای کې کوکنار کرم چې د ړنګولو امکان يې نه شته.»

د ۲۰۱۲ زکال د جنوري په مياشت کې د ډنمارک صدراعظمي، هيله تورنينګ سميت [۳۸۲] په هلمند کې د ډنمارک سرتيرو څخه ليدنه وکړه. نوموړې ومنل چې ترياک لويه ستونزه ده خو هغه يې د ډنمارکيانو ستونزه ونه ګڼله.

صدراعظمي وويله:«موږ هيڅکله افغانستان ته د دي له پاره راغلي نه يو چې د کوکنارو د کښت مخه ونيسو. موږ د پيل څخه د دي موخي له پاره راغلي يو چې ترهګري له مينځه يوسوو» د صدراعظمي موقف د ترياکو د توليد په تړاو د موجودو واقعيتونو سره سر نه خوري ځکه د ترياکو توليد د امنيت له پاره ستر ګواښ ګڼل کيږي او بدلون يې هم لويه ستونزه ده، نو ځکه بايد دايمي مبارزه ورسره وشي خو د طالبانو ستره مالي سرچينه هم ده. د دفاع وزارت د څارګرۍ اداري د خطر رپوټ په ارزونه کې چې د ۲۰۱۱ زکال په مني کې جوړ شو، راغلي دي چې په دومداره توګه د سيمه ايزو مشرانو تغير او تبديل هم لويه ستونزه ده. د ولسوالي د مشرانو له پاره د زده کړو کمښت، د کارمندانو کمبود او پراخ اداري فساد لويي ستونزې جوړی کړی دي چې د سيمه ايزو واکدارانو (قوماندانانو) او طالبانو سره مقابله وکړي.

واقعيتونو خراب ليد لوری څرګندولو. د ۲۰۰۷ زکال را وروسته څلور ولسوالان، څلور د پوليسو قوماندانان، دوه ښاروالان او زيات قاضيان او څارنوالان په ګرشک کې ووژل شول. د کلونو په اوږدو کې د پوځيانو او ملکي کارکوونکو په ګډون د

[۳۸۱] - Christian Friis Bach

[۳۸۲] - Helle Thorning-Schmidt

ښه حکومتوالی، ثبات او پر راتلونکي باندې د باور له پاره چارې تر سره کيدلې. د ګډې مفکورې اصطلاح د ډنمارک د سياستوالو او افسرانو په مينځ کې د ورځې د موډ په کلمه بدله شوی وه. جنرال يسپر هيلسيو [۳۸۳] د افغانستان د ډنمارکي پوځونو مسوليت د ۲۰۰۲ زکال د اکتوبر د مياشتې څخه تر ۲۰۰۸ زکال اګست مياشتې پورې درلودې تر څو د نومورې په عوض تيم سلوت ينسن[۳۸٤] مقرر شو. نن هم يسپر هيلسيو ګډه مفکور يو کمزوری نقطه ګڼي. نوموړی د اندريس فوک غاسموسن څخه د ډنمارک د صدراعظم په توګه د کلونو په اوږدو کې د هدفمند سياسي کارغوښتونکې و.

يسپر هيلسيو د خپلې ارزونې په اړوند وايي: «اندريس فوک غاسموسن د ملي ستراتيژې په کچه (۴۰۰) متره منده وکړه. نوموړی لومړی(۳۰۰) متره منډه وکړه خو وروستې (۱۰۰) متره يې عادی تګ وکړې. ما يو قوي صدراعظم غوښتې چې د ملکي پروژو د پياده کولو د سطحې خبرو په مينځ کې د پوځې ـ ملکي عمل لار يې پرانيستې واي.»

ينس يسپر داسې ادامه ورکوي: « صدراعظم دغه مبارزه د ځان ساتو (کنسرويټوو) ګوند په خاطر پريښودل. که په صدراعظم کې کمزورې نقطه ولټوو دا نه وه چې د افغانستان په جګړه کې برخه واخيسته بلکې دا وه چې پوره (۴۰۰) متره يې منډه ونه کړه. نوموړي کولای شوای چې په ډيره لوړه کچه د ډنمارک د فعاليت اغيزه وښندې. نن به حالت ډير ښه واي.»

د ناټو اوسنې مشر او د ډنمارک د وخت صدراعظم، اندريس فوک غاسموسن د جنرال يسپر هيلسيو د ارزونې سره همږغی نه دي.

اندريس فوک غاسموسن وايي: « زه د جنرال ادعا په کلکه ردوم. دا ډنمارک و چې په ټوله موده کې د پوځې او ملکي ګډ کار مفکوره رامينځته کړه او هميشه مخکښ و تر څو دغه مفکوره د ناټو په ستراتيژې بدله شوه. په پيل کې د مفکورې په وړاندې مخالفتونه رامينځته شوه خو موږ د ناټو د ۲۰۰۶ زکال په سرمشريزه غونډه کې د لومړی ځل له پاره لومړنی ټول مخالفت مات کړې. زه د ناټو د سرمنشي په توګه ډير خوښ يم چې د ۲۰۱۰ زکال را وروسته د پوځې او ملکي ګډ کار مفکوره د ناټو په نوې ستراتيژۍ کې مرکزي ځای لري. نو ځکه ما تر موخې رسيدلو هميشه منډه وکړه تر څو د خپل غوښتنې سره سمه پايله را په برخه شوه. ما په دوامداره توګه په افغانستان کې په ټوليزه توګه فعاليتونه تر څار لاندې نيولې وو چې څنګه به پای ته ورسيږي. بخت مې داسې دی چې اوس هم بايد د ناټو د سرمنشي په توګه هر څه وڅارم. زه د ستراتيژې په جوړولو کې ور سره وم نو هيله مې ده چې ښې پايلې را په برخه شي.»

په هلمند کې د سيمې د ټرينينګ لوی مرکز (د شوراوک پوځې کمپ)د افغانانو د راتلونکې له پاره دي. په دغه مرکز کې افغانانو ته د اتو اونيو له پاره د بهرنيو ښوونکو لخوا ټرينينګ ورکول کيږي. د نويو جذب شوو سرتيرو هر ګروپ (۱۴۰۰) تنه وي چې د ښوونکو له پوځې ټرينينګ، د بشري حقوقو او عدلي قوانيو تدريس ورته کيږي. خو شرايط په زړه پورې نه دي. تر (۱۴۰) تنو پورې په يوه خيمه کې بيديږي او پرته د پوځې ټرينينګ څخه نور ازاد فعاليتونه نه شته. ډير ژر (۳۰) سلنه سرتيري دوباره تيښتي.د يونيفورم، وسلو او نورو اړوندو وسايلو کمښت هم شته. پوځې بوټونه (موزې) نه وي نو ځکه نوی جذب شوی سرتيري تر څو اونيو په خپلو عادي بوټونو او چپلکو کې ګرځي.

د هلمند شورابک پوځې مرکز به په راتلونکې کې د افغان سرتيرو د ټرينينګ مرکز وي چې د ډنمارکيانو او نورو بهرنيو پوځيانو له خوا به ورته تدريس وشي تر څو افغان سرتيري تيار کړي چې د امنيت تر عهده په مستقلانه ډول ووتلای شي. د ۲۰۱۲ زکال په پای کې تقريباً (۹۰) تنو ډنمارکي ښوونکو نويو افغان سرتيرو ته تدريس کولو او تقريباً (۵۰) ډنمارکي ښکاري او د ښنا سرتيرو د پوليسو د ځانګړې عملياتي ډلې ټرينينګ د لښکرګاه په مرکز کې تر لاس لاندې نيولی وو.

د ۲۰۱۱ زکال د ډسمبر په مياشت کې د ډنمارک د دفاع وزير، نيک هيکروپ [۳۸۵] پريکړه وکړه چې ځانګړی سرتيري بايد حرکت ونه کړي تر څو چې څرګنده نه شي چې سرتيري د کومو عدلي قوانينو په چوکاټ کې کار وکړي. د دفاع وزير ډيره اندېښنه درلوده چې ډنمارکي سرتيري په داسې شرايطو کې راښکيل نه شي چې د بشري قوانينو سره په مخالفت کې وي کوم چې په عراق کې پيښ شول. د ډنمارک ځانګړې سرتيري نه يوازې بايد افغان سرتيري ټرينينګ کړي او تدريس ورته وکړي، بلکې ډنمارکي ځانګړې سرتيري بايد د افغانانو سره په جګړه ايزو عملياتو او دمخالفينو د نيولو په پروسه کې هم فعاله ونډه واخلي ځکه ډير ريپوټونه شته چې په افغان زندانونو کې بنديان شکنجه کيږي.

د دفاع وزير د پوليټکن ورځپاڼې ته وويل: « موږ بايد بشري قوانينو ټولې برخې په کلکه رعايت کړو. موږ د عراق په څير بايد بې پروايي ونه کړو. په همدغه خاطر د عملياتو د قوماندې مرکز اوس د کار حقوقي جهت ځانګړی کوي، سره د دي

[۳۸۳] - Jesper Helsø

[۳۸٤] - Tim Sloth Jørgensen

[۳۸۵] - Nick Hækkerup

چې ډنمارکیانو په عملیاتو کې ونډه اخیستې ده. د دفاع وزیر موخه دا وه چې ډنمارکیان کیدلای شی یوازې د مشاور رول ولري. سره د دې چې دغه موډل د عراق موډل ته ورته دې خو د عراق د موډل څخه باید ګټه وا نه خیستل شي.»

د دفاع وزیر وویل: « ښکارې ډنمارکي سرتیري ورسره شته چې د عملیاتو له پاره تیاري ونیسي، په عملیاتو کې ورسره دي او تر عملیاتو وروسته یې ارزونه کوي. خو دا افغانان دي چې دروازه په لغته وهي او وايي: (تاسو زموږ سره زنداني یاست).»

یو بله لویه ستونزه داوه چې بهرني سرتیري او سیاستوال په لویه کچه د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د ټرینینګ په وخت کې وژل کیږي. په ځانګړي توګه طالبانو د افغان امنیتي ځواکونو په مینځ کې نفر پیدا کړی وو چې په ډیرو حالاتو کې خپله وسله د بهرنیو سرتیرو او ښوونکو پر لور ور اړوله او مړه به یې کړل.

هغه سرتیري چې نوی به جذب شول، د دوی په مینځ کې ډیره عادی خبره وه چې خپل یونیفورم په بازار کې وپلوري تر څو د خپلو اولادونو نفقه برابره کړي نو ځکه ځو ورځې وروسته به د نوي یونیفورم د غوښتلو له پاره راغلل. په همدغه دلیل د سرتیرو ډیر یونیفورمونه په بازار کې موجود وو چې ډیر وخت وسلوالو مخالفینو ګټه ورڅخه اخیسته. دا یوازې خاین افغانان نه دي چې زموږ پر لور د ټوپک خوله را اړوي. د افغنستان په ختیز کې د امریکایي کوماندو له خوا یوپټ رپوټ لیکل شوی وو چې د ۲۰۱۲ زکال د جنوري په میاشت کې نیویارک ټایمز خپور کړي. په رپوټ کې ویل شوي دي چې د کلتوري توپیرونو په وجه د لویدیزو او افغان سرتیرو تر مینځ شخړه پیښه شي نو هغه دي چې افغان سرتیري پر لویدیزو سرتیرو او یا ښوونکو ډزې وکړي.

رپوټ هغه وخت جوړ شو چې (۵۸) بهرنیان د افغان پولیسو او یا سرتیرو په ډزو د څلورو کلنو په موده کې د ۲۰۱۱ زکال د مې تر میاشتي پورې ووژل شول. دغه وژنې په مختلفو پیښنو کې رامینځته شوي او زیاتره یې د ۲۰۰۹ زکال د اکتوبر تر میاشتې وروسته پیښې شوي. کله چې رپوټ د رسنیو لاسته ورغي په همدغه وخت کې یو افغان سرتیري څلور فرانسوي سرتیري ووژل او یو زیات شمیر یې ټپیان کړل. نو ځکه د وژل شوو بهرنیو سرتیرو شمیره (۶۲) تنو ته جګه شوه.

یو افغان ډګروال نیویارک ټایمز ورځپاڼي ته د نوم د نه افشاء کولو په شرط داسې وویل: زموږ ډیر سرتیري غله، درواغجن او په نشه ای توکو محتاط کسان دي. خو امریکایان یې هم سخت بی شرمه او داسې په ځان مغروره چې نورو ته په ټیټه سترګه ګوري، وګڼل. ډګروال وویل چې په دواړو لورو کې پوځیان د خپلو احساساتو پر بنسټ عمل کوي.

ډګروال اضافه کړل چې زه ډار لرم چې ډیر ژر به دغه ستونزه په کښته درجه پوځیانو کې ډیره خپره شي. د پیښنو علتونه، غلط فهمي او یا د طالبانو شتون په امنیتي قوتونو کې لیکل کیږي خو رپوټ د پیښنو بل انځور ترسیم کړی وو.

امریکا او ناټو پورته ادعا رد کړه دا یې ځینې محدودې پیښې وګڼلې چې د اندیښنې وړ نه دي.

د نیویارک ټایمز د رپوټ له مخې مرګوني اختلافات په سیستماتیک ډول په لویه کچه رامینځته کیږي چې د رپوټ له مخې دغه ډول پیښې په موډرنو جګړو کې بالکل نوی پدیده ده. خو په رپوټ کې د طالبانو رول لږ ګڼل شوی دي.

## د انتظار څخه ليري جګړه

کال ۲۰۱۱ تر ۲۰۱۲

د ۲۰۱۱زکال د فبوري (۱۵ ـ ۲۰): فتح بل [۳۸٦] تيرزنداني شو او د بنګازي[۳۸۷] ښار د مخالفينو لخوا ونيول شوو.

د ۲۰۱۱زکال د فبوري ۲۵ : ناټو د بريد ډول پلانونه رد کړل.

د ۲۰۱۱زکال د فبوري ۲٦ : د امنيت شورا پر ليبيا بنديزونه تصويب کړل.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۴ : فايټر وينګ سکريودستروف [۳۸۸] ته وويل شول چې پر ليبيا باندې د هوايي بريدونو پلان جوړ کړي.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ پنځمه: انتقالي شورا [۳۸۹] اعلان کړل چې د ليبيا يوازني قانوني واکداره شورا ده.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ د (۷ ـ ۱۳) پورې: د قذافي پوځونو کلک بريدونه وکړل. مخالف وسلوال دوباره بنګازي ته پر شاه ولاړه او قذافي تهديد کړل چې د موږکانو په ډول به يې ووژني.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۱۳ : د عربي هيوادونو شورا د ملل متحد څخه غوښتنه وکړه چې پر ليبيا هوايي بنديزونه ولګوي.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۱۴ : د ډنمارک صدراعظم، لارس لويکه غاسموسن د بارک اوباما سره په سپينه ماڼی کې پلان شوي اوږده غونډه وکړه. د بهرنيو چارو وزيري، هيلري کلينټن په پاريس کې د عربي هيوادونو د مشرانو سره په غونډو لګياه وه چې د هوايي بريدونو د ګډون له پاره يې قانع کړي.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۱۵ : بارک اوباما پريکړه وکړه چې د امنيت د شورا موافقه تر لاسه کړي تر څو د ملکي وګړو د نجات له پاره د ليبيا پوځونه بمبارد کړي.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۱۷: د ډنمارک صدراعظم، لارس لويکه غاسموسن خبر ورکړي چې په قوي احتمال به يوه پريکړه وشي او ډنمارک به په عملياتو کې ونډه واخلي.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۱۸: د امنيت شورا (۱۹۷۳) پريکړه تصويب شوه. د ډنمارک پارلمان د ب ـ ۸۹ پر پريکړه بحث پيل کړي خو د ډنمارک لومړی الوتکه د شپې ناوخته د سيګونيلا [۳۹۰] په هوايي ډګر کې چې په سيسيلين[۳۹۱] کې واقع دي، مځکې ته راکوزه شوه.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۱۹: د ب ـ ۸۹ پريکړه د رايو په اتفاق تصويب شوه او د ډنمارک شپږ اف ـ ۱٦ [۳۹۲] الوتکې د سيګونيلا هوايي ډګر ته ورسيدې او خپل اماده ګي يې اعلان کړه.

د ۲۰۱۱زکال د مارچ ۲۰: ډنمارکي الوتکو د ليبيا پر فضاء الوتنه وکړه خو بمبارد يې ونه کړي.

د ۲۰۱۱زکال د اګست ۲۳: ترپيولي ازاد شو.

---

[۳۸٦] - Fathi Terbil
[۳۸۷] - Benghazi
[۳۸۸] - Fighter Wing Skrydstrup
[۳۸۹] - NTC
[۳۹۰] - Sigonella
[۳۹۱] - Sicilien
[۳۹۲] - F-16

د ۲۰۱۱زکال د اکټوبر ۲۰ : معمر قذافي په سيرتي [۳۹۳] کې ونیول او ووژل شو.

د ۲۰۱۱زکال د اکټوبر ۳۱ : د ناټو عملیات په رسمي ډول په لیبیا کې پای ته ورسیدل.

فتح ټیربل هیڅوخت پرته د پیکه دار خولي او یا د پارتیزانانو د دستمال څخه ځان نه ښودي. دغه (۴۱) کلن وکیل د لیبیا په دوهم لوي ښار، بینګازي کې پیژندل شوي شخص و. دا هغه ښار و چې د معمر قذافي پر ضد په پټه ډیرو مخالفینو شتون درلودي.

دغه حقوق پوه یو د هغو کسانو څخه و چې پرته د ډار څخه یې خپل مخالفت د معمر القذافي د رژیم سره ښودي. د نوموړي په مشتریانو کې د هغو کورنیو پاتي کسان وو چې د ابوسلیم په زندان کوم چې په پلازمینې ، تریپولي کې دي، وخت تیر کړی وو. پلازمینه د بنګازي د ښار څخه (۶۵۰) کیلومتره واټن لري. په دغه زندان کې امنیتي چارواکو زیاتره هغه کسان چې د رژیم سره یې مخالفت درلودي، راټول کړی وو. په ۱۹۹۶ زکال کې بندیانو د غیري بشري ظلمونو په وړاندې بغاوت وکړي نو ټول ووژل شول. تر (۱۰۰۰) کسانو زیات زندانیان ووژل شول او وروسته په دسته جمعي مړستون کې ښخ شول. په دغو وژل شوو کسانو کې ډیر کسان د حقوق پوه د کورنۍ غړی وو نو ځکه هغه ډیر کلونه کوښښ وکړي چې اصلي مسولین پیدا او محکمه کړي. د نوموړي د پورته کوښښونو په خاطر حقوق پوه څو ځله زنداني شو او په دوامداره توګه دامنیتي چارواکو تر څار لاندې وو.

د ۲۰۱۱ زکال د فبوري په میاشت کې نوموړي د یو لاریون پلان جوړ کړي او لاریون په (۱۷) نیټه د پنجشنبې په ورځ دایر شو. د لاریون ورځ په دقیق ډول هغه ورځی ته ورته وه چې پنځه کاله وړاندې پیښه شوی وه. لاریون کوونکي د امنیتي پولیسو سره په شخړه کې ښکیل شول نو ځکه دغه ورځ د نفرت او خرابي ورځې په نوم یاده شوه. د لاریون موخه د هغه خونړي ورځی یادونه وه چې د ابوسلیم په زندان کې تیره شوی وه. په لاریون کې په لویه کچه د مړو زندانیانو د کورنیو غړي وو چې خپل مخالفت یې د رژیم سره په ډاګه کړي. فتح ټیربل او د هغه ملګرو د خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د بریښنایي پیغام په واسطه د لاریون خبر یو او بل ته واستوي او په انټرنیټ کې هم خپور کړي.

تر لاریون دوې ورځې وړاندې امنیتي پولیس د فتح ټیربل کورته ورغلل. نوموړي یې د بنګازي د پولیسو مرکز ته یووړ او هلته یې پوښتني او ګرویږنې ور څخه پیل کړي. پولیسو هڅه وکړه چې نوموړي قانع کړي. په همدغه خاطر حقوق پوه خبرداري ورکړي چې لاریون کیدلای شي په خونړی پیښه بدل شي.

د فتح ټیربل د زنداني کیدو اوازې ډیر ژر خپرې شوي. نژدې (۵۰۰) کسان د ودانۍ مخې ته د حقوق پوه د زنداني کیدو د اعتراض له پاره راټول شول. لاریون کوونکو د حکومت پر ضد شعارونه ورکول، پولیسو د اوبو په شیندولو، وهلو او ټکولو پیل وکړي. لاریون کوونکو د ډبرو په ویشتلو دفاع کول، زیات شمیر ټپیان شوه خو نا ارامي زیاته نه شوه. د لاریون په ورځ د ۲۰۱۱ زکال د فبوري په (۱۷) نیټه لاریونونه نورو ښارونو ته هم وغځیدل. په بنګازي کې ډزې وشوي او لږ تر لږه (۷) لاریون کوونکي ووژل شول. وروستی ورځې هم ډیر زیاتي خونړي شخړې رامینځته شوي. د مړو شمیره سلګونو ته ورسیدل، د نا ارامیو څپې ساعت په ساعت کې مخ پر ډیریدو وې.

په بنګازي کې په جوپو جوپو سرتیري وتښتیدل نو خلکو په اسانی سره وسلو ته لاسرسي پیدا کړل. د جګړې څپې مخ په وړاندې او هم پر شاه تللې. په پای کې د قذافي وفاداره څو سوه محدود سرتیري پاته شوه او د ښار په لوی پوځې مرکز، کاتیبا [۳۹۴] کې راټول شول. د سرتیرو په مینځ کې کرایه شوی سرتیري د توري افریقا څخه وو. سرتیرو یوازې د ځان د دفاع په خاطر پر لاریون کونکو هغه وخت ډزې کولي چې د پولیسو مرکز ته رانژدې کیدل.

د فبوري پر (۲۰) نیټه (۴۸) کلن مهدي ضیو [۳۹۵] د خپل ګاونډې د دروازې د سوری څخه یو لیک ور ټیل وهي. د لیک په پاکټ کې د تیلو د انجنیر وصیت نامه پرته وه. وروسته نوموړي د کورنۍ د موټر اشترنګ ته کښیناستي. د موټر په ټول بکس کې ډیر ښیښیي بوتلان او یو کوچني بمب پروت وو چې خلکو په معمولي توګه په ناقانونه توګه د کبانو نیولو له پاره ګټه ورڅخه اخیسته. کله چې په لاریون کې شخړه رامینځته شوه، د خلکو ښه وسله د کبانو نیولو بمونه وو. د ماپښین په وخت د تیلو انجنیر خپل موټر د پولیسو د لوی مرکز، کاتیبا عمومي دروازې ته ورسولو. انفجار عمومي دروازه ونړوله او لاریون کوونکي د پولیسو لوي مرکز ته ننوتل او د بنګازې د پولیسو وروستی لوي مرکز یې تر ولکي لاندې راوستي.

---

[۳۹۳] - Sirte

[۳۹۴] - Katiba

[۳۹۵] - Mahdi Ziu

د انجنير لور د نيويارک ټايمز او ګارډين ورځپاڼو ته په مرکه کې خپل پلار ډېر ارام سړی وګڼي. نوموړي د خپل دغه کړني کومه ليکلي دليل او يا داسې ويډيو چې د خپل شهادت دليل يې وړاندې کړې وي، پرې نه ښودې.

د ۲۰۱۱ زکال د مارچ تر لومړی نيټې د ليبيا دريم غټ ښار، ميسراتا [۳۹۶] د خلکو په واسطه ازاد کړل شو. د ليبيا په پلازمينه، ترېپولي کې مخالفين سخت وځپل شول او په سلګونو لاريون کوونکي ووژل شول. د نفوسا [۳۹۷] په غرونو کې چې د هيواد لويديز سرحد د تونيس[۳۹۸] سره نژدې پراته دي، هغه وګړي چې هلته اوسيږي لويه برخه يې د معمر قذافي تر واک لاندې وو، نا ارامي هلته هم وغځيدلې. د ديکتاتور اخښي په تلويزيون کې اعلان کړل چې خپله به هلته ولاړ شي او دوی به د موږکانو په څير وځپي. نوموړي په خپله وينا کې لويديز ته خبرداري ورکړي چې مخالف وسلوال په القاعده پورې تړلي دي. په همدې ډول يې اروپايانو ته اخطار ورکړي چې ليبيا به ټول د افريقا تور وګړي د هيواد څخه وباسي چې اروپا د کډوالو د توفان سره مخامخ شي.

د ۲۰۱۱ زکال په پيل کې د نړۍ پاملرنه شمالي افريقا ته واوښتل. د جنوري پر (۱۴) نيټه د تونس مقتدر ديکتاتور، بين علي د خلکو د (۲۸) ورځو تر اعتراضونو وروسته سعودي عربستان ته وتښتيدي.

په بنګازي کې د حقوقو پوه تر زنداني کولو څلور ورځې مخکې د مصر جمهور ريس حسن مبارک استعفاء وکړه. د خلکو اعتراضونه د تونس څخه په زده کړې دومره زيات شول چې د عربي هيوادونو مرکزي فيګور (حسن مبارک) يې استعفاء ته اړ ايستي. د مصر قوي اردو د حسن مبارک څخه ملاتړ وکړي، بيا هم حسن مبارک ليري شو خو اردو په خپل ټول قوت پاته شوو. د ځوانانو بيکاري، ديکتاتوري رژيم، اداري فساد او خلکو ته تهديد او فشار ورکول هغه ګډوله وه چې په عربي نړۍ کې بغاوته خپاره کړه. په بحرين او يمن کې وسلوالي نښتې وشوې.

نړۍ په حيرت کې وه. د هيوادونو مشران، کارپوهان او سازمانونه عادت وو چې په سيمه کې تر يوې کچې د ثبات بيه دا وه چې دغو زړو مشرانو او د دوی کورنيو اجازه درلوده چې واک او پيسې په يوه لويه پيمانه تر لاسه کړي. اوس داسې حالت رامينځته شو چې هيڅ يې وړاندوينه نه وه کړې چې هر څه به په څو اونيو کې بدلون مومي. د کار سرعت هغه وخت را په زړه کولو چې د برلين ديوال ونړيدي، په ختيزه اروپا او پخواني شوروي اتحاد کې بيړني بدلونونه راغلل.

معمر القذافي په اهسته ډول د نړيوالي ټولنې د منلو وړ وګرځيدي. د صدام حصين تر نړيدو شپږ ورځې وروسته په ۲۰۱۳زکال کې ، د ليبيا مشر د اټومي وسلو د پرګرام د پرمختګ څخه لاس پر سر شو ځکه ډاريدي چې دا ځل به زه د لويديزي نړۍ تر بريد لاندې راشم. کله چې د انګليستان صدراعظم، توني بلير په ۲۰۰۴ زکال د ليبيا څخه ليدنه وکړه، دا ورته لوی برياليتوب و. معمر القذافي د لويديزو هيوادونو سره د اسلامي بنسټپالو د ځپلو ګډ کار پيل کړي ځکه اسلامي بنسټپال د نوموړی له پاره هم خطرناک وو. په ځانګړي توګه د تيلو رايستلو هغو کمپنيو ته چې د انګليستان، فرانسې او ايټاليا څخه يې د تيلو په راايستلو کې پانګونې کړي وې، ډېر خطر رامينځته کولو. ليبيا د اروپا د ګډ بازار سره موافقه وکړه چې د غريبي په وجه کډوالو مخه د اروپا پر لوري ونيسي. دغو کړونو د ديکتاتور سره مرسته وکړه چې د يوازيتوب څخه يې وژغوري.

د معمر القذافي رژيم په شمالي افريقا کې يوه باثباته واکمني وه. کله چه حسن مبارک په مصر کې ګوښه شو، هيڅا فکر نه کولو چې دا ځل به د معمرالقذافي نوبت وي. خو د ۲۰۱۱ زکال په وروستيو اونيو کې بغاوتونه ډېر زيات شول.

د لومړي ځل له پاره لويديزو هيوادونو وړانديز وکړي چې نړۍ بايد يوازې د سيلانيانو رول ونه لوبوي پرته له دې چې پر ليبيا بنديزونه ونه لګوي. د ګوتو په شمار سياستوالو د پوځي عملياتو په تړاو خبري وکړي. د ۲۰۱۱ زکال د فبوري پر (۲۵) نيټه د ناټو سر منشي د غړو هيوادونو پوځي لاسوهنه رد کړه.

د ناټو سرمنشي، اندريس فوک غاسموسن وويل: «زه په تاکيد وايم چې ناټو د بريد هيڅ پلان نه لري. که کوم عمليات تر سره کيږي بايد د ملل متحد پريکړه وي.»

يوه ورځ وروسته د امنيت شورا پر ليبيا د بنديزونو پريکړه وکړه. خو د بنديزو د پريکړې محتوې پوځي بريد نه و. د ډنمارک د بهرنيو چارو وزيرې، لينه ايسپرسن ډنمارکي رسنيو ته وويل چې پوځي حل به ډېر اړين او وروستنۍ لار وي. په دغه جريان کې د افريقا او جنوبي اسيا ډېر ميلمانه کارګران د ليبيا څخه وتښتيدل. تر (۳۰۰۰) تنه زيات لويديز کارپوهان په

[۳۹۶] - Misrata
[۳۹۷] - Nafusa
[۳۹۸] - Tunesien

هوايي ډګرونو او د بېړيو په تم ځايونو کې د وتلو له پاره منتظر وو. د فرانسې جمهور رييس، نيکولاس سرکوزی [۳۹۹] په ورستيو وختونو کې د پوځي برید غوښتونکي و. نوموړي د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو په تړاو ډېر بايلونکي ښکاری دي، د نورو اروپايي هيوادونو د مشرانو په ډول د اقتصادي بحران تر ډير فشار لاندې و.

د فرانسې جمهور رييس وويل: « معمر القذافي بايد ګوښه شي» دا لومړی ځل و چې د يو بل هيواد مشر د ليبيا د ديکتاتور د ګوښه کيدو غوښتنه کول کوم چې (۴۱) کاله د واک پر ګدی ناست و.

د مارچ د مياشتې په پيل کې د قذافي پوځيان وتوانيدل چې د مخالفو وسلوالو د پرمختګ مخ ونيسي او په تعرض يې پيل وکړي. څو اونی وروسته د قذافي پوځيانو او اجيرو سرتيرو وکولای شوای چې بنګازی ته نژدې شي. ډيپلوماټانو او د هيوادونو مشرانو په بحثونو پيل وکړی چې ملل متحد د ليبيا په يوه برخه کې د الوتکو پر الوتونو بنديز ولګوي تر څو د قذافي د هوايي پوځ مخه ونيسي چې مخالف وسلوال بمبارد نه کړي. په ډنمارک او نورو اروپايي هيوادونو کې لوړ رتبه افسرانو د پلان په جوړولو پيل وکړي.

(ژ: يوه لاتيني اصطلاح يې کارولې ده چې مانا يې: «واک بهر، زور په کور کې» [۴۰۰] ) تقريباً اوه کاله تير شوه چې د ډنمارک اف ـ ۱۶ الوتکې هوا ته پورته شوي نه وي. وروستي عمليات يې چې (۷۴۳) ځله هوا ته د عملياتو له پاره پورته شوی وي، په افغانستان کې وو. د هوايي ځواکونو ډيرو پيلوټانو او نورو کارکوونکو دغه اوه کلونه د وچو کلونو په نامه يادول چې (۳۰) جنګي الوتکې د عملياتو له پاره نه وې تللې.

خو د ډنمارک پوځ لومړي په افغانستان او بيا په عراق کې ډير څه کړی وو. برسيره پر دې جنګي بيړي هم په عملياتو کې وې. د افريقا د لوی سيند په څوکو کې د کښتيو د غلو د نيولو له پاره د ډنمارک دوې جنګي کښتی، ابسلان [۴۰۱] او ايسبيرن سنار[۴۰۲] هلته دنده درلوده. د بيړيو پرسونل په ځانګړو ډراماټيکو حالاتو کې وو چې د سومالي بحري غلو سره په ډزو بوخت وو ځکه هغوي د سړيو تښتوني عمليات کول. د سياستوالو د پاملرنې په سياليو کې بايلونکي وو. د کلونو په جريان کې د ډنمارک هوايي ځواکونو څو ځله تلاښ وکړي چې د اف ـ ۱۶ جنګي الوتکي افغانستان ته د عملياتو له پاره وليږي. د پوځ لوړ پوړو چارواکوته د هوايي ځواکونو غوښتنه د پوهيدلو وړ وه خو هر ځل د سياستوالو له لورې منفي ځواب ورکول کيدې. د الوتکو ليږل افغانستان ته ډير ګران تماميدل خو د بل لورې د جټ الوتکو کمښت هلته نه وو. خو د ترانسپورتي چورلکو او الوتکو اړتيا زياته وه. ښکاري پيلوټانو خپل همکاران افغانستان ته وليږل ځکه د ډنمارک ترانسپورتي الوتکه، هير کوليس [۴۰۳] څخه ډيره ګټه اخيستل کيده.

د چورلکو د پيلوټانو له پاره په هيليکوپټر وينګ کاروپ [۴۰۴] کې الوتنه ډيره سخته وه. کله چې په ۲۰۰۸ زکال کې هلمند ته څلور وړې فنلنډی چورلکې وليږل شوې، هيڅ برياليتوب يې نه درلودې. خو تر مخکې لا هغه خرابي هغه وخت رامينځته شوه چې د ای اچ ـ۱۰۱ [۴۰۵] ډوله چورلکې چې د سرتيرو د نجات او هم د ترانسپورتي چارو له پاره په ډنمارک او د نړيوالو عملياتو لپاره په نظر کې نيول شوې، وليږل شوې. دغه الوتکې د يو لوې جنجال باعث شوې ځکه په رانيولو يې ميلياردونه لګيدلي وو. تر ډير جنجالونو وروسته اته د نجات چورلکې په کار ولويدلې خو ترانسپورتي چورلکو لويه ستونزه درلوده. په حقيقت کې دغه چورلکې د ګټې اخيستنې له پاره بايد تر ۲۰۱۰ زکال مخکې تيارې وای خو د خراب اقتصاد او د اضافي پرزو د موندلو د کمښت په وجه معطله شوې. په ۲۰۱۱ زکال کې د پارلمان دفاعي کمسيون ته خبر ورکړل شوو چې چورلکې به هلمند ته د ليږلو له پاره دري کاله وروسته اماده شي. خو په هغه وخت کې به ډنمارکي پوځونه په ډنمارک کې وي.

---

[۳۹۹] - Nicolas Sarkozy

[۴۰۰] - Opes foris vires domi

[۴۰۱] - Abslon

[۴۰۲] - Esbern Snare

[۴۰۳] - C-130 Hercules

[۴۰۴] - Helicopter Wing Karup

[۴۰۵] - EH-101

اندریس ریکس [٤٠٦] د فایټر وینګ سکریودستروف [٤٠٧] (د عملیاتو نوم دي) د عملیاتو د پلان جوړولو مشر و. د ٢٠١١ زکال د فبورې په میاشت کې د خپل امر، لارس کایلر [٤٠٨] سره په کوپنهاګن کې وو. دوي په ګډه د هلمند له پاره د دوو راتلونکو کلونو له پاره ستراتیژي جوړول. دا ځل هم د ډنمارک د اف ـ ۱۶ جنګي الوتکو له پاره د هلمند په په جګړه کې ځای نه وه. په بدل کې دا الوتکو باید بالتیکوم ته الوتنه کړې واي. کوم چې د سپټمبر پر دوهمه نېټه یې د درو بالتیکو هیوادونو چې د ناټو غړي وو، پر فضاء ګزمه کړې واي. دا د هغه قرارداد له مخې وو چې د ناټو هیوادونو سره یې مرسته کول. اندریس ریکس او لارس کایلر فکر نه کولو چې د لیبیا موضوع به دومره کړکیچنه شي چې د اف ـ ۱۶ جنګي الوتکو ته اړتیا پیدا شي. اندریس ریکس وایي: « موږ لیدل چې په لیبیا کې کړکیچ پیل شوی دي مګر هغه وخت ما فکر نه کاوه چې ډنمارکي سیاستوال به جنګي الوتکې د عملیاتو له پاره لیبیا ته واستوي.»

د افغانستان او عراق جګړې د ډنمارک خلک او سیاستوال دومره ستړي کړی وو چې هیچا فکر نه کولو چې ډنمارک به په یوه بله جګړه کې ځان ښکیل کړي. مګر د مارچ پر (۴) نېټه فایټر وینګ سکریودستروف د هوایي ځواکونو د لوړ پوړو له لوري یو مهم خبر تر لاسه کړي. د هوایي ځواکونو پیلوټان او نوره عمله ځانونه تیار کړي چې کیدلای شي د لیبیا پر فضاء د الوتکو د پرواز مخه ونیسي. نړیوالو بحثونو د پوځ مسولین اړ ایستل چې پلان جوړول پیل کړي. که چیرې د الوتکو پر پرواز بندیز په واقعیت بدل شي او حکومت اجازه ورکړي چې ډنمارک باید ګډون وکړي نو لوي درستیز ته باید وویل شي چې پوځ کومه مرسته وکړي. په انګلیستان کې هوایي ځواکونو ته عیني خبر دري ورځې مخکې ورسیدلی وو.

اندریس لیکس او لارس کایلر دغه خبر جدي ونیوي. په هر صورت دوي د ټولو پوځي واحدونو د تمرین پریکړه وکړه. داسې تمرین و چې د خبر په صورت په بیړه وکولای شي په یوه تاوده هیواد کې عملیات مخته بوتلای شي. مشران د اندریس لیکس په دفتر کې چې د لیبیا نقشه ځړیدل، راټول شول. دوي پر پلان جوړوني او تمریناتو باندې خبرې وکړي او د تیارې امر یې وکړي خو یوه هم باور نه درلودي چې شمالي افریقا ته به د عملیاتو له پاره ولاړ شي.

پیلوټانو ته ځانګړې جامې او د نجات پرمختللي وسایل ورکړه شوه چې د لیبیا د دښتونو په توده او یخه هوا کې الوتنه وکړای شي او د جګړې تر عهده ووتلای شي. د اف ـ ۱۶ الوتکو د شپې او ورځې د بریدونو مختلف تمرینونه وکړه. پر ډنمارکي الوتکو د لیبیایي الوتکو د برید په صورت او د لویو راکټونو د فیرولو تمرینونه هم تر سره شوه. دا د تمرین یو کلاسیک میتود نه و. په ورستیو وختونو کې د الوتکو برید په موخو باندې د افغانستان په جګړه کې ډېر دقیق وو ځکه پر دښمن برید په داسې حال کې تر سره کیده چې خپل سرتیري به هم د موخو سره ډېر نژدې وو. کله به چې الوتکو د برید او یا د عملي چارو تمرین نه کولو نو د کشفي ارګانونو لخوا به پیلوټانو ته معلومات ورکول کیدې. د لیبیا د هوایي ځواکونو په تړاو معلومات ډېر محدود وو. د کلونو په اوږدو کې ناټو لیبیا د یو فعال مقاوم هیواد په توګه نه پیژندي. پیلوټان پوهیدل چې ورکړل شوي معلومات ژوړ او نوي نه دي. د لیبیا هوایي ځواکونه د شوروي اتحاد د مځکې څخه هوا ته د راکټونو په بنسټ جوړ شوي وو چې د جیټ میګ او فرانسوي معراج الوتکې درلودې. په ځانګړي توګه د شوروی راکټونو ستونزه جوړولای شوای. دغه راکټونه د لیرې واټن ویشتلو له پاره وو چې ډنمارکي پیلوټانو نه شوای کولای چې الوتنه وربانډې وکړي. برسیره پر دې معمر القذافي ځانګړي راکټونه او قوي بمونه درلودل. ډنمارکیان د معمرالقذافي وسلو نه وو اندیښمن کړی ځکه د لیرې واټن ویشتونکي راکټونه یې ډېر غټ نه وو. مهمه پوښتنه دا وه چې د لیبیا پوځ څومره قابلیت لرې چې خپلې وسلې وکاروي او د رادر سیستم یې څومره فعال دي. امریکایي الوتکو په ۱۹۸۶ زکال کې د لیبیا پر پلازمینه ترییولي بمبارد وکړي چې (۶۰) کسان یې ووژل. دا بمبارد د هغه بمب په ځواب کې وو چې د لیبیا له خوا په لویدیز برلین کې پر امریکایي سرتیرو په یوه نڅاه ځای کې انفلاق ورکړل شوی وو. خو معمرالقذافي بې دفاع نه وه. د امریکا یوه الوتکه وویشتل شوه چې په مدیترانه کې نسکوره او دوه پیلوټان یې ووژل شوه. د افغانستان په جګړه کې د اف ـ ۱۶ الوتکو سره ربښتیانې مقاومت کیدې خو شک نه شته چې لویدیز پوځ ډېر قوي دي. د عراق په جګړه کې د امریکایانو لیرې واټن ویشتونکو راکټونو د عراق د راکټونو ټول اساسي سیستم وران کړي. بیا هم پیلوټانو د برید پر مهال ډېره پاملرنه کوله. د تمریناتو په وخت کې پیلوټانو دقیق غوږ نیوی او ټولې پوښتنې پر خپل وخت په دقت کولې.

په امریکا کې داسې چاپیریال او هیلې نه وې چې د لیبیا په کورنۍ جګړه کې وربښکیل شي. دا به د امریکا په مشرۍ په یوه اسلامي هیواد کې د لسو کلنو په جریان کې دریمه جګړه وي. د امریکا د دفاع وزیر، روبیرت ګیټ خبرداري ورکړي چې په دغه جګړه کې به امریکا په شمالي افریقا کې د یو اشغالګر قوت په څیر وپیژندل شي.

---

[٤٠٦] - Anders Rex

[٤٠٧] - Fither Wing Skrydstrup

[٤٠٨] - Lars Kjø

د بل لوري د امریکا پوځ په کافي کچه عملیات کړی دي او د دولتي بودجې کسر په سرسام اوره ډول زیات دي. بارک اوباما د جمهوري غوښتونکو سره په کانګرس کې د روغتیایي ریفورم او اقتصادي سیاست په تړاو په سخته روحي جګړه بوخت و. څیړونکو خبرداري ورکړی چې د لیبیا په کورنۍ جګړه کې لاسوهنه کولای شي چې القاعده د ګډوډو شرایطو څخه په ګټه پورته کونه سره وسلو او مرکزونو ته لاسرسي پیدا کړي. نورو اندیښنه درلوده چې لیبیا به د پخوا په څیر وویشل شي او د سومالیا حالت ته به پرمختګ وکړي.

په همدې وجه د پیاده پوځونو جګړه چې د لیبیا د وسلوالو سره مرسته وکړي، پر خوله نه راوړل کیده. خو د الوتکو پر الوتنو باندې بندیزونه یوازې کولای نه شي چې د لیبیا د پوځ جنګي ټانکونه، د لویو ویشتونکو راکټونو چې د بنګازي پر لورې روان دي، مخ ونیولای شي. د لیبیا پوځونه پرته د الوتکو او چورلکو څخه کولای شوای چې مخالف وسلوال وځپي او د مخالفو وسلوالو په ټول وژنه پیل وکړي. اواهسته د وسلوالو مخالفینو د جګړې نه پلان شوی کړښه ماته شوه او په خپله خوښه جګړه مارو مقاومت وځپل شوو، لیبیا اهسته د تیاتر ډارونکي صحنې ته نژدې شوه: په پیل کې بی احساسه معمرالقذافي د بنګازي (۷۰۰۰۰۰) اوسیدونکي د درونو وسلو په واسطه بمبارد کړل او وروسته یې په ښار کې د پیاده پوځونوعملیات پیل کړل. د واقعیت څخه لیري نه وه چې د دیکتاتور پوځونو به د قذافي د امر سره برابر، مخالفین وسلوال د موړکانو په ډول وژلي وای.

بارک اوباما د نورو دولتي مشرانو سره همږغي شوو چې معمرالقذافي باید د مشرتوب څخه ګوښه شي. پر لیبیا بندیزونه سخت شول او د لیبیا ټول مالونه په بهر کې کنګل شوه. خو د لیبیا پوځونو خپل حرکت ته دوام ورکړي او د بنګازي ښار ته نژدې کیدل چې د بنګازي اوسیدونکو په تیښته پیل وکړي. د مخالفونو غیري منظم مشرتابه [٤٠٩] د نړیوالو څخه د مرستې غوښتنه وکړه. ژورنالیستانو په ښار کې د وارخطا اوسیدونکو خبرونه خپاره کړه او نړیوالو تلویزیوني چینلونو د اندیښمنو لیبیایي خلکو انځورونه خپاره کړه چې د ناټو او عربي هیوادونو څخه یې غوښتنه درلوده چې د معمرالقذافي پوځونه بمبارد کړي.

د ډنمارک صدراعظم د پلاني غونډې له پاره امریکا ته تللی و چې د مارچ پر (۱۴) نیټه یې په سپینه ماڼۍ کې غونډه درلوده او د امریکایانو پر بحثونو یې لنډ نظر واچاوه. بارک اوباما د ډنمارک صدراعظم ته وویل چې مځکني پوځ په هیڅ توګه لیبیا ته نه لیږل کیږي خو پر الوتکو بندیز هم خپلې ستونځې لري. لارس لویکه غاسموسن په ډنمارک کې د لیبیا په تړاو سیاسي چاپیریال اوباما ته بیان کړي چې سیاستوال غوښتنه لري چې باید یو څه وشي.

په غونډه کې اوباما وویل چې بندیزونه باید سربیره د الوتنو منع کول نور ډیر مسایل هم په بر کې ونیسي. همدا ډول عربي هیوادونه باید په سیاسي لحاظ د عملیاتو ملاتړ وکړي او هم باید د ونډې اخیستلو له پاره تیار وي. وروستۍ موضوع ستونزمنه نه وه ځکه عربي شورا د الوتکو د منع زون د بندیز ملاتړ وکړي. خو کله چې یو جدي بندیز د امنیت د شورا لخوا تصویب شوو، د انتظار څخه لیري یې ډیره اغیزه وښندله. باید د امنیت د شورا هیڅ غړي پریکړه ویټو نه کړي، پریکړه باید په اکثریت وشي یاني د (۱۵) غړو هیوادونو څخه باید لږ تر لږه (۹) غړي د تایید رایه ورکړي.

د ډنمارک پر صدراعظم خبرو اغیزه وکړه. تر غونډې وروسته په نیغه د ډنمارک د لومړي تلویزیون په چینل کې راڅرګند شو خو په خبرو کې د خپل بهرنیو چارو وزیر په پرتله محتاط و. حکومت د اونیو په جریان کې د مخالفو ګوندونو له لورې تر فشار لاندې وو چې زیاتره یې د پوځي برید غوښتنه کوله. د سوسیالیست ګوند مشر، ویلي سیوندل [٤١٠] د پوځي برید ملاتړی و پرته له دې څخه چې د ملل متحد پریکړه وشي خو د یو موټي ګوند مشرانو وړاندیز وکړی چې وسلوالو مخالفینو ته دې د سټنګر راکیټونه ورکړه شي چې د معمرالقذافي الوتکي او چورلکې د بمبارد په وخت کې نسکوري کړي.

د ډنمارک صدراعظم په ملل متحد کې د ډنمارک استازی ته خبر ورکړی چې د یو داسي بندیز په محتوا کار وکړي چې ډیر مسایل په غیږ کې ولري. د ډنمارکیانو سفارت هم د هیوادونو په مینځ کې تبلیغ پیل کړي. خو دري ورځې وروسته هر څه بدل شول.

د شمالی اروپاه مذهبي افسانه ده [٤١١] (ځو ښځې چې بریالیتوب ټاکي)، یوناني مذهبي افسانه چې ښځې د بل چا څخه اولاد وزیراوه خو هلک یې مړ کړي [٤١٢] ، ښځه د هغه مرغه سره پرتله شوي ده چې لنډ وزرونه او اوږده لکی لري [٤١٣] . کله

[٤٠٩] - NTC

[٤١٠] - Villy Søvndal

[٤١١] - Valkyrierne

[٤١٢] - Amazonerne

[٤١٣] - Kvindelige høge

چې د بارک اوباما په مغزونو یکې د دغو درو واکمنو ښځو سوچونه وګرځیدل، په بیره یې پریکړه وکړه چې امریکا یوازې د لیبیا د دیکتاتور سیل نه کوي چې د بنګازي نهضت ته د پای ټکی کښیږدي.

د (۲۴) ساعتو یانې د دوشنبې څخه تر سه شنبې پورې بارک اوباما ومنل چې امریکا به هر څه وکړي چې د امنیت شورا تعرضي پریکړه لیک تصویب کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې، هیلري کلنټن د هغو درو ښځو څخه یوه مهمه ښځه وه چې جمهور ریس یې قانع کړي، خو د هغې تر شاه په ملل متحد کې د امریکا سفیره، سوسن رایس [٤١٤] او پخواني ژورنالیسته، سامانتا پاور [٤١٥] هم ولاړې وې. (ژ: پورته مې چې د درو مذهبي افسانو یادونه وکړه، موخه یې دغه درې ښځې وې چې اوباما یې برید ته وهڅاوه.)

سوسن رایس د هیلري کلنټن د میره یانې بل کلینټن د افریقا په چارو کې مشاوره وه. دا هغه وخت و چې په ۱۹۹۴ زکال د امریکا جمور ریس او نورې نړۍ په راواندا [٤١٦] کې د خلکو د عامه وژنې ننداره کوله. په راواندا کې د پنځه سوه زره څخه تر یو میلیون وګړو ژوند د لاسه ورکړي پرته له دې چې نړیواله ټولنه مداخله وکړي. په هغه وخت کې بل کلینټن وویل چې زما د ژوند لویه سیاسي تیروتنه همدا وه چې مداخله مې ونه کړه.

سامانتا پاور د بالکان جګړې په وخت کې یوه ځوانه او فعاله ژورنالیسته وه. نوموړې د نړۍ بې پروایې د لړکیانو د بشپړو نابودولو په تړاو داسې کتابونه ولیکل چې جایزې یې وګټلې. په ۲۰۰۹زکال کې نوموړی د هار ورډ [٤١٧] د پوهنتون د پرفیسور د ادارې لخوا یوې دندې ته وګومارل شوه. نوموړې د جمهور ریس د ملي امنیت د شورا تر لاس لاندې د مختلفو کلتورونو حالت د بشري قوانیو له مخې د ادارې د مشرې په توګه وټاکل شوه. پاوراو رایس د هیلري کلینټن څخه غوښتنه وکړه چې په بیړه اجرأت وکړي. په قوي احتمال بل کلینټن هم رول ولوبوي چې هیلري کلینټن پر لیبیا باندې د برید پریکړه وکړه. ډیرې ورځې مخکې چې اوباما کومه پریکړه وکړي، پخواني جمهور ریس، بل کلینټن غوښتنه کړې وه چې د لیبیا پر هوایي ځواکونو د الوتنو بندیز ولګوي.

د پورته درو مهمو فعالو ښځو سربیره بارک اوباما یو شمیر مهم مشاورین لکه د دفاع وزیر، رابیرت ګیټس، د ملي امنیت مشاور، ټامس ډونیلون [٤١٨] ، او د ترهګرې پر ضد مشاور، جان برینان [٤١٩] هم درلودل. پورته درو نارینوو بل نظر درلودې. د دوی له نظره په لیبیا کې روان پرمختګونه د امریکا امنیت ته ګواښ نه دي خو د مداخلې خطر دي چې بارک اوباما به د مسلمانانو په وژونکې تورن شي. په عادي توګه هیلري کلینټن او رابیرت ګیټس همږغي وو خو دا خل یې نظرونو توپیردرلودې.

کله چې د ډنمارک صدراعظم د بارک اوباما سره وکتل، هغه وخت هیلري کلینټن په اروپا کې وه.کله چې عربي شورا (عربي لیګا) د الوتکو د منع زون سره په لیبیا کې همږغي وښودله نو هیلري کلینټن د ګوالف د مشرانو سره په اړیکو کې وه چې هغه د الوتنو د منع زون په بندیز کې فعالې ونډې ته راوبولي چې د موضوع څخه پراخ ملاتړ وکړي. هیلري کلنټن په یو ریشخندي حالت کې قرار ونیوی او نوموړی د اماراتو د بهرنیو چارو پر وزیر په ټلیفوني خبرو کې ډیرې نیوکې وکړي کله چې اماراتو (۶۰۰) پولیس بهرین ته ولیږل چې د ټول وژنې مخه ونیسي. خولړ وروسته هیلري کلینټن د بهرنیو چارو وزیر څخه وغوښتل چې لیبیا ته د جګړې له پاره الوتکې ولیږي. دا یوه حساسه موضوع وه خو اړتیا وه چې اسلامي هیوادونو په سمبولیک ډول ګډون درلوداې، ځکه داسې به تعبیر شوی وای چې بیا هم لویدیزې هیوادونه په اسلامي هیواد کې لاسوهنه کوي. د ۲۰۱۱ زکال د مارچ پر (۱۵) نیټه د سې شنبې په ورځ هیلري کلینټن وکولای شوای چې واشنګټن ته د اماراتو او قطر د ګډون څخه خبر ورکړي.

په همدغه ورځ هیلري کلینټن د جمهور ریس سر په ټلیفوني کنفرانس کې ګډون وکړي په داسې حال کې چې په ملل متحد کې د امریکا سفیره، سوسن رایز هم ګډون درلودې. رایس ورته وویل چې زما د ارزونې له مخې ممکنه ده چې یو محکم بندیز د امنیت په شورا کې تصویب شي. البته رایس یوه اومه مسوده مخکې له مخکې تیاره کړې وه. د راوندا او بالکان د عامه وژنې څخه وروسته په ۲۰۰۵ زکال ملل متحد یو نوي پرنسیپ تصویب کړي وو.

---

[٤١٤] - Susan Rice
[٤١٥] - Samantha Power
[٤١٦] - Rwanda
[٤١٧] - Harward
[٤١٨] - Thomas Donilon
[٤١٩] - John Brennan

په پرنسیپ کې راغلي وو چې یو هیواد مکلف دي چې خپل د خلکو امنیت وساتي او لږه کیانو د ټول وژني مخه ونیسي. که چیرې د ټاکلي هیواد حکومت مداخله ونه کړي دغه پرنسیپ نړیوالي ټولنې ته حق ورکوي چې مداخله وکړي. درایس په جوړه شوې اومه (خامه) بندیز لیک کې د الوتنې د منع زون او د وسلو ورکولو بندیز په تړاو معلومات وړاندې شوي وو خو یوه بله مهمه موضوع هم په ګوته شوې وه. د عراق د جګړې په اړه، باید امریکا د جګړې اقدام ونه کړي تر څو چې ملل متحد په پریکړه کې همږغي شي. خو د ټولو اړوندو وسایلو څخه کار واخیستل شي که صدام حصین د ملل متحد د پریکړې پر بنسټ څارونکو ته ازاده اجازه نه وای ورکړې. خو دا ځل رایس داسې متن جوړ کړی و چې همدا شیبه باید پریکړه وړباندې وشي. په ټلیفوني کنفرانس کې رایس جمهور ریس بارک اوباما ته وویل چې د بندیز لیک په محتوي کې داسې متن ځای شوی دي چې د بندیز موخه د ملکي وګړو ساتل د هر ډول بریدونو په وړاندې د ټولو اړینو وسایلو په کارولو سره ده. دغه جملې د لیبیا د راتلونکي له پاره ټاکونکي رول درلودي. (ژ: په رښتیا هم دغې جملې د لیبیا ولس دربدره او هیواد یې په کنډواله ور بدل کړي لا څرګنده نه ده چې د دغې جملې پایله به څومره انسانان مرستونونو ته ولیږي. رښتیا هم پورته جملې د امریکا وروستی موخې بري ته ورسولې.)

تر ټلیفوني کنفرنس وروسته د امنیت په شورا کې بحثونه پیل شول چې د مارچ تر (۱۷) نیټې د پنجشنبې تر ورځې (د وټونو اچولو تر ورځې) یې دوام وکړي. بارک اوباما د امنیت د شورا د غړو هیوادونو د مشرانو سره اړیکې ونیولې. څرګنده شوه چې روسیه او چین به د ویټو د حق څخه کار وانخلي. په بدل کې دغه دوه هیوادونه به د وټ ورکولو څخه صرفنظر وکړي.)

(ژ: دشرم خبره ده چې دوه سوپر پاور قدرتونه د وټ اچولو په ورځ د رایه ورکولو څخه ډه ډه کوي او کمزوری رول لوبوي.) خو بیا هم د امریکایانو له پاره ستونزمنه وه چې د بندیز له پاره په کافي اندازه مثبت وټونه راټول کړي. د روسیې او چین برسیره المان، هندوستان او برازیل هم رایه نه اچوله خو د بندیز د تصویب له پاره (۹) موافقي رایې اړینې وې. د افریقایي هیوادونو رایې ډیره مهمه وه خو معمرالقذافي افریقایي هیوادونو ته ډیر سوغاتونه ورکړي وه او هم یې ډیره پانګونه کړی وه نو په افریقا او افریقایي یونین (شورا) کې ډیره اغیزه درلوده.

خو بارک اوباما د افریقایي شورا د غړو سره اړیکې ونیولې خو ملل متحد د صافي قذافي له خوا ریشخند شو. نوموړی د قذافي د (۷) زامنو څخه مشر زوي و چې تر قذافي وروسته د واکمنی میراث وړونکي هم و. نوموړی د فرانسوي تلویزیوني چینل (ایرو نیوز) سره په مرکه کې وویل چې نړیوال کمزوري او مرستو ته اړتیا لري.

صافي قذافي وویل: «پوځي عملیات پای ته ورسیدل او په (۴۸) ساعته کې هر څه پای ته رسیږي. زموږ پوځیان بنګازي ته نژدې دي. دا چې هره پریکړه وشي، اوس ناوخته دي.»

د امنیت په شورا کې تر رایه ورکولو لږ مخکې د جنوبي افریقا سفیر غونډې ته راغلی نه وه. د سوسن رایس په آند د جنوبي افریقا رایه مثبته وه خو د نایجریا په رایه باوري نه وه. سوسن رایس د جنوبي افریقا د سفیر په لټولو پیل وکړی خو هغه یې په دهلیز کې پیدا کړي او غونډې ته یې د رایې ورکولو پر وخت حاضر کړي. د نایجریا سفیر هم مثبت رایه ورکړه. د (۵۵) دقیقو خبرو څخه وروسته (۱۹۷۳ نمبر) بندیز لیک د لسو مثبتو رایو په ورکولو تصویب شو خو پنځو هیوادونو رایه ورنه کړه.

تر رایو اچونو مخکې د ډنمارک استازې ارزونه کړی وه چې بندیزونه تصویبیږي. د ډنمارک صدراعظم، لارس لویکه غاسموسن باوري و نو ځکه یې خبري رسنیو ته معلومات ورکړي. لارس لویکه غاسموسن وویل: زه باور لرم چې د بندیزونو پریکړه به د امنیت شورا تصویب کړي او متن به دومره پراخه وي چې یوازې به پر الوتکو بندیز نه وي، کله چې د قذافي پوځونه بنګازي ته ورسیږي. صدراعظم وویل چې ډنمارک به د ملل متحد د پریکړې د عملي کولو په پروسه کې ګډون وکړي.

د پنجشنبې په سهار مخکې د امنیت د شورا د پریکړې څخه، اندیرس ریکس په کالنګ [۴۲۰] (ژ:کالنک د ډنمارک د یو ښار نوم دي) کې د کورسونو جوړولو کوټې ته ولاړي. نوموړي باید د مشرو افسرانو په یوه کورس کې ګډون کړی وای. د سهار پر (۱۰:۲۷) بجې یې موبایل ټلیفون (ګرځنده غږلیږد) ته د صدراعظم د ارزونې په اړوند معلومات راورسیدي.

اندیرس ریکس نور وخت نه درلودي چې د توربن بیګورد سیونسن [۴۲۱] وینا د ستراتیژیکو چلنجو په تړاو واوري. نوموړي خپل شیان ټول کړل او په بیړه خپل موټر ته ولاړي او د سکریودسکروف پر لورې حرکت وکړي. د لارې څخه ټلیفون وکړي او د تیاریو په اړوند یې معلومات واخیستي.

---

[۴۲۰] - Kolding

[۴۲۱] - Torben Ballegaard Sørensen

اندیرس ریکس وویل: «یوه ورځ مخکې ما وویل چې زموږ لوی ستراتیژیک چلنج، فایتر وینګ سکریودسکروف (ژ: دا د ډنمارک هوای ځواک دي چې په سکریودسکروف کې قرار لري.) ما وویل چې موږ ډیر ښه مواد لرو خو مشتري نه لرو. کله چې زه د کورس د کوټې څخه جګ شوم نور وپوهیدل چې زه باید څه وکړم.»

کله چې د اندیرس مشر امر د امرینو د ګروپ څخه پوښتنه وکړه چې څوک به د لومړي ګروپ مشرتوب په غاړه واخلي، اندیرس ریک لاس پورته کړي او ویې ویل:«دا به زه یم» نور موضوع فیصله شوه. اندیرس د مشر په توګه په کښتی کې باید لیبیا ته ولاړ شي. نوموړی دنده درلوده چې عملیات رهبري کړي، د (۱۲۵) نفرو سره په عملیاتو کې ګډون وکړي او د مرکز سره اړیکې ولري. دا لا هم دقیقه څرګنده نه وه چې د اف ـ ۱۶ جنګي الوتکې په څه ډول په عملیاتو کې ګډون وکړي.

د یوځ د عملیاتو مرکز هر وخت د یوه وړاندیز څخه زیات بل وړاندیز هم درلودي کله چې ډنمارکي پوځونه بهر ته د عملیاتو له پاره لیږل کیږي د دې له پاره چې سیاستوال په انتخاب کې ډیر امکانات ولري. د همدې له پاره دري موډله د اف ـ ۱۶ جنګي الوتکو د عملیاتو له پاره وو. مهمه لومړی دنده دا وه چې ډنمارکي الوتکې د څار او د دښمن د موقعیتونو د پیژندلو دنده ولري پرته له دې چې په بمبارد کې ګډون وکړي خو د اړتیا په وخت کې د ځان دفاع باید وکړي. دوهمه دنده دا وه چې ډنمارکي الوتکې د نورو هیوادونو الوتکې د قذافي د هوایي ځواک په مقابل کې وساتي. دریمه دنده چې ډیره خطرناکه وه هغه دا چې د امنیت د شورا د پریکړې په بشپړ عملي کولو کې ګډون وکړي یانې د الوتکو بریدونه د قذافي پر پوځونو باندې چې په دغه دنده کې د ملکي وګړو د تلفاتو زیات خطر و.

د لومړي ګروپ د پیلوټانو پیدا کول ستونزمنه چاره نه وه. که چیري ډنمارکي الوتکې په نیغه په جګړه کې برخه واخلي، فایتر وینګ سکریودسکروف تیاري درلودي چې په لویه کچه مرسته ور ورسوي. په همدغه خاطر په لومړي ګروپ کې (۱۶) پیلوټان وو. دغه څلورو اف ـ ۱۶ جنګي الوتکو کولای شوای چې هره ورځ دوه ځله عملیاتو ته ولاړې شي او دغه چارې ته یې دوام ورکولای شوای ځکه دوه ګروپه پیلوټان د الوتلو له پاره تبدیلیدل. تخنیکي ستونزو هم دوي ځنډولای نه شوای. احتیاطي الوتکو شتون درلودي، که غټ ترمیم ته اړتیا پیدا شوی وای، د عملیاتو له پاره د ډنمارک څخه احتیاطي الوتکې ورلیږل کیدلې.

اندیرس ریکس په کالینګ کې د شپې په نیمایي کې کورته راورسیدي. په همدغه وخت کې (۱۹۷۳ نمبر) پریکړه لیک په نیویارک کې تصویب شو. اوس نو یوازې د ډنمارک پارلمان ته خبره معطله وه چې څومره ژر پریکړه کوي چې په افغانستان کې د (۲۰۰۳) زکال څخه راوروسته الوتکې د عملیاتو په لومړي پړاو کې ګډون وکړي.

صدراعظم، لارس لویکه غاسموسن د مارچ په (۱۸) نیټه د جمعې شپې په نیمایي کې د خپلو همکارانو سره ویډیو کنفرانس دایر کړي. د کنفرانس ګډونکونکي ټوله همړغي وو. د پریکړه لیک محتوي ډیره ښه ترتیب شوی وه نو ښکیلو هیوادونو د پریکړه لیک پر بنسټ حق درلودي چې د معمر القذافي پر پوځونو بریدونه وکړي کوم چې په ټول لیبیا کې د ملکي وګړو ژوند ته ګواښ وو.

کله چې د دفاع وزیرې، ګیټه لیله لوند بیک د ډنمارک د دوهم نمبر تلویزیوني خبري چینل څخه واوریدل چې د امنیت شورا نژدې ده چې د نوي بندیز پریکړه وکړي نو خپلو نژدې همکارانو ته یې ټلیفون وکړي چې سبا پر (۸) بجې د نوموړې په دفتر کې حاضر وي. په همدغه وخت کې د صدراعظم د دفتر څخه خبر راورسیدي چې باید پر (۸) بجې ویډیویي کنفرانس جوړ شي. د دفاع وزیره، د بهرنیو چارو وزیر او د عدلیې وزیر د صدراعظم سره په ویډیویي کنفرانس کې باید ګډون وکړي. د دغو څلورو وزیرانو مهم ریسان هم په لین کې وو.

صدراعظم د جمعې د ورځې پر (۸) بجې ویډیویي کنفرانس جوړ کړي. نوموړي پوه شو چې نوي بندیز لیک د اجرأتو لوری ټاکي نو ځکه د عدلیې وزیر ته یې دنده وسپارله چې پریکړه لیک ولولي او لنډیز یې برابر کړي.وروسته صدراعظم وپوښتل چې تاسو ټول همړغي یاست چې ډنمارک په عملیاتو کې ګډون وکړي؟ په غونډه کې څلور وزیران وو. د دفاع وزیرې د هوایي ځواک دري موډله وړاندې کړل خو بحث پر ونه شوو ځکه صدراعظم غوښتل چې دري واړه موډله پارلمان ته وړاندې کړي. عمومي نظر دا وو چې د ډنمارک اف ـ ۱۶ جنګي الوتکې کولای شي بمونه وغورځوي او د قذافي پوځونه پر مځکه له مینځه یوسي. صدراعظم، لینه یسپرسن او ګیټه لیله لوند بک ته دنده وسپارله چې د پارلمان د غونډې له پاره د پریکړې وړاندیز ترتیب کړي.

مخکې تر دی چې دوې وزیرانې د پریکړه لیک د جوړولو کار پیل کړي، وړاندیز یې وکړي چې باید د پارلمان له لوري پر وړاندیز د روخصتیو (شنبه او یکشنبه) په ورځو کې وټونه واچول شي. د کار طرز وټاکل شو. د پارلمان د بهرنیو اړیکو شورا د ورځې پر (۱۰:۳۰) بجو غونډې ته راوبلل شي. په دغه غونډه کې باید لینه یسپرسن او ګیټه لیله لوند ګوندونو ته د

پلان په تړاو خبرتیا ورکړي. نو د پریکړې مسوده په پورته دوو وزارتونو کې جوړه شي. تر غرمې وروسته دغه څلور وزیران باید دوباره په صدارت کې غونډه وکړي کوم چې لوي درستیز، کنود بارتیلس [٤٢٢] به هم ګډون وکړي.

تر (۲۰) دقیقې وروسته ټلیفوني غونډه پای ته ورسیده. ډنمارک په جګړې کې د ګډون له پاره وخوځیدي. خو ډنمارکي سرتیري به د ځمکني جګړې د پاره ونه ګومارل شي. څلورو وزیرانو پریکړه وکړه چې د پارلمان د غونډې له پاره په پریکړه لیک کې په څرګنده توګه ذکر شي چې ډنمارکي سرتیري په ځمکنۍ جګړه کې د ملل متحد د احتمالي پریکړې سره سره ګډون نه کوي. د بهرنیو چارو وزیري، لینه یسپرسن د ګوندونو د مشرانو سره اړیکې ونیولې او باورې شوه چې په جګړه کې د ګډون په خاطر پراخ سیاسي ملاتړ ور سره دي. پرته له دې څخه تعجب اوره وي چې د حکومت څخه بهر ګوندونه په ورځو ورځو د حکومت سره بحثونه کوي.

د پارلمان د بهرنیو اړیکو په شورا کې پورته دوو وزیرانو یوازې د هوایي ځواک دري وړاندیزونه چې د لیبیا پر خاوره به بریدونه کوي، په لنډه توګه معرفي کړل. وزیرانو د پارلمان د بهرنیو اړیکو د شورا بشپړ ملاتړ تر لاسه کړي. د دفاع وزیري، ګیټه لیله لوند هم د هوایي ځواک څخه خبر تر لاسه کړي چې دوي به ژر د سکریود سکروف هوایي ډګر څخه الوتنه وکړي. د معمر القذافي ځواکونه هم بنګازي ته نژدې شوي وو. د ډنمارک الوتکې باید ژر تر ژره الوتنه وکړي چې قمیتي وخت د لاسه ور نه کړي. د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمسیون تر پریکړې وروسته پارلمان وړاندیز تصویب کړي.

تر غرمې وروسته لینه یسپرسن او ګیټا لیله لوند صدراعظم ته ورغلې دا ځل په غونډه کې د ځان ساتو (کانسرویټیو) د ګوند مشر او د عدلیې وزیر، لارس بارفوډ [٤٢٣] هم ګډون کولو.

لوی درستیز هم په غونډه کې ګډون وکړي. په غونډه کې د ب ـ ۸۹ تړون د ډنمارک ګډون په جګړه کې، اړوند مطالب نقطه په نقطه ولوستل شوو. وړه غلطې هم اصلاح شوه. وروسته لوی درستیز د ډنمارکي الوتکو وسلې، د الوتکو تخنیکي ظرفیت او دا چې الوتکې به په کوم هوایي ډګر کې دریږي، په تفصیل بیان کړل. وروستی ماده (د الوتکو پارکینګ) یې په دقیقه توګه مشخص نه کړي. په دغه وخت کې ډنمارکیان نه پوهیدل چې چیرته الوتنه وکړي او د کوم هوایي ډګر څخه د معمرالقذافي پر ځواکونو برید وکړي.

لیرې واټن د ښکارې الوتکو له پاره لویه ستونزه وه. الوتکې باید په هوا کې تیل واخلي تر څو پر لیبیا بمبارد وکړای شي، هر څومره چې د عملیاتو مرکز د شمالي افریقا د سمندر غاړې ته نژدې وي، هغومره عملیات اسانه کیږي. دوو واقعي امکاناتو شتون درلودي: سیسیلین [٤٢٤] او یا کریټا [٤٢٥]. په دواړو جزیرو کې لوی هوایي ډګرونه وه. سیسیلین د تریپولي (پلازمیني) او لویدیزې لیبیا په لور ښه سمندري لار درلودل خو کریټا داسې ځاي پرته وه چې پر بنګازې او ختیزې لیبیا د برید له پاره ډیره ښه وه. کله چې د ډنمارک لومړي چیلنجر نومي الوتکه د جمعي په ماښام د (۱۳) تنو سپرلیو سره والوتله، دنده یې درلوده چې د ډنمارکي لومړی ګروپ له پاره هوایي ډګر وټاکي. پیلوټانو ته خبر ورکړل شوو، چیري دوي الوتکه کښینوي. ډنمارکیان باید د ناوال [٤٢٦] هوایي ډګر سیګونیالا[٤٢٧] کې ځای پر ځای شي چې د کتاینا [٤٢٨] څخه چې په سیسیلین کې پرته ده، لیرې نه دي. الوتکه مځکې ته راکوزه شوه. دغه (۱۳) تنه په بیره لاس په کار شول چې د خپلو نورو همکارانو له پاره چې بله ورځ راځي د اوسیدلو د ځای چاره وکړي.

مځکې له دې چې د ب ـ ۸۹ پر پریکړه په پارلمان کې بحث وشي، د ګوندونو د بهرنیو اړیکو مشرانو ته د پریکړې یوه کاپي ولیږل شول چې د وینا له پاره تیاري ونیسي. د ماپښین په وخت په پارلمان کې بحث پیل شوو چې ډنمارکي پوځیان بیا په یوه بله جګړه کې برخه اخلي. د پریکړې په تړاو سیاسي بحث غیري طبعي و. تر یوه ساعت او پنځه دقیقې بحث وروسته لینه یسپرسن احساس کړه چې تاریخي پراخ ملاتړ د پریکړې څخه وشوو په همدغه وخت کې د ګوندونو د بهرنیو اړیکو د کمسیونونو مشرانو خبري پای ته ورسیدي. سیرون یسپرسن د ډنمارک د خلګو د ګوند مسول دغه پریکړه د خپل ګوند له پاره ډیره سخته پریکړه وګڼله. نوموړی وویل چې موږ د هر ډول جګړې یا لاسوهنې سره د افریقایي هیوادونو په کورنیو جګړو کې مخالفت لرو. خو دغه ډار د حکومت له خوا د مینځ وړل شوی و ځکه په پریکړې کې په وضاحت لیکل شوی وو چې په

---

[٤٢٢] - Knud Bartels
[٤٢٣] - Lars Barfoed
[٤٢٤] - Sicilien
[٤٢٥] - Kreta
[٤٢٥] - Naval
[٤٢٦] - Sigonella
[٤٢٧] - Catania
[٤٢٨] - Frank Aaen

هیځوجه ډنمارکي سرتیري په ځمکني جګړه کې برخه نه اخلي. د یو موټي ګوند د بهرنیو اړیکو د کمسیون مشر، فرانک این[٤٢٩] یوازني مشر و چې نور مشران یې د چلنج سره مخامخ کړل. نومو‌ړی باید بشپړ باوري شي چې بمباردمان د سولې د خبرو په پیلیدو سره دریږي او نژدې وو چې د ملکي وګړو د نه وژل کیدلو له پاره ګرانټي وغواړي. خو ګرانټي ور نه کړل شول. لینه یسپرسن وویل چې دا ناممکنه ده چې دا ډول ګرانټي ورکړه شي. په بدل کې نوموړي وویل چې د ملي امنیت د شورا د پریکړې بنسټ دا دي چې د ملکي وګړو ژوند وژغورل شي. وروروسته فرانک این موافقه وکړه چې د ډنمارک جنګي الوتکې د قذافي پر ضد جګړې ته ولیږل شي.

د سیاسي همږغي په وخت کې هیڅ ګوند ونه پوښتل چې د ډنمارک ګډون د قذافي پر ضد پرته د جګړې څخه ممکن نه دي؟ د کمیسونونو د مشرانو له پاره د جمعې ورځ ډیره اوږده وه. په ټولیزه توګه د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو څخه (۴۲) پوښتنې وشوې او وروسته وزیران د مشورو له پاره د دفاعي چارو د کمسیون غونډې ته وبلل شول. د شپې په نیمایي کې پر پریکړه دوهم بحث پیل شوو. (ژ: د ډنمارک په پارلمان کې دود دي چې پر نویو قوانینو او یا پریکړو باندې په درو مرحلو کې بحث کیږي. په دریمه مرحله کې رد او یا تصوبیږي.) بحث لنډ و، یوازې فرانک این د خپل ګوند د ملاتړ دلایل د پریکړه لیک په تړاو بیان کړل. نوموړي په ډیر تأکید وویل چې دلیل یې دا دي چې د ټول وژنې مخه ونیول شي. نوموړي وویل وسلوال برید د دې له پاره دي چې د بریدونو مخه ونیول شي خو ملل متحد په پریکړه کې د لیبیا استقلال ته درناوي ښودلی دي.

یوې راضي د بهرنیو چارو وزیرې یو موټي ګوند ډیر وستایه چې د وسلوال واک استعمال د سولې له پاره ورڅخه ملاتړ کوي. د شپې د نیمایي څخه لس دقیقې وروسته د ۲۰۱۱ زکال د مارچ پر (۱۹) نیټه راتلونکې د شنبې ورځ د ب ـ ۸۹ پریکړه په پارلمان کې د رایو په اتفاق تصویب شول.

د ټولو ګوندونو همږغي چې ډنمارک په جګړه کې برخه واخلي، تاریخي پیښه وه. دا ځکه تاریخي وه چې د افغانستان او عراق په جګړو کې د ډنمارک ګډون د سیاستوالو او ډنمارکي ولسونو تر مینځ ډیر جنجالي بحثونه راپورته کړل. ټولو داسې انتظار درلودې چې باید ډیر کلونه تیر شي چې ډنمارک دوباره په بهرنی جګړه کې ګډون وکړي. څلور اساسي فکتورونو اغیزه وکړه چې دغه پریکړه د رایو په اتفاق تصویب شول.

لومړی دلیل دا و چې د قذافي پوځونه د بنګازي ښار ته ډیر نژدې وو که نړیوالو مداخله کړی نه وای، ډیر امکان و چې د بنګازي ښار د وینو په حمام بدل شوي وای او ډیر ملکي وګړي له مینځه تللي وای. (ژ: دا کتاب د لیبیا د جګړې وروسته لیکل شوی دی خو لیکوال اعتراف نه کوي چې اوسني د وینو حمام ډیر ځله د قذافي د برید په پرتله خونړي دی او لا به هم دوام لري.) دوهم دلیل د امنیت د شورا پریکړه وه چې د هغه پرنسیپ څخه یې کار واخیست چې د ملکي وګړو ژوند باید وژغورل شي. دریم دلیل دا و چې د امنیت د شورا په پریکړه کې په څرګنده لیکل شوی وو، چې په جګړه کې ګډون کوونکي هیوادونه اړ نه دي چې ځمکني پوځونه پیاده کړي، په دغه ترتیب د ګډون کوونکو هیوادونو د تلفاتو مخنیوي شوی وو.

(ژ: د امنیت شورا ته هم د لیبیا د خلکو تر ژوند د اشغالګرو د سرتیرو ژوند ډیر ارزښت درلودې ځکه د دریمې نړۍ او یا اسلامي نړي د خلکو وینه ارزښت او بیه نه لري.) څلورم دلیل دا و چې د معمر القذافي بدیل د مخالفو وسلوالو شورا وه که څه هم د امنیت د شورا پریکړې په رسمي بڼه لیکلي نه و چې رژیم بدل شي. (ژ: درواغ او بیا هم درواغ. که داسې نه وه نو ولې بمبارد اوه میاشتې وخت ونیوي تر څو چې په غیري انساني توګه د لیبیا مشر چې (۴۱) کاله یې حکومت کړي و، ووژنی.)

د جګړې اوږدوالي او د ډنمارکیانو د شمیر په اړوند چې په جګړه کې برخه اخلي، هیڅ چاپې وړاندوینه نه وه کړې. د فرانسي جمهور ریس، نیوکلای سرکوزي په یو عجیب سخت برید سره (۱۵) ساعته وروسته د ټولې نړۍ پاملرنه جلب کړل.

د ډنمارک صدراعظم، لارس لویکه غاسموسن د شنبې ورځې تر غرمې مخکې د یوې بیړنی غونډې له پاره پاریس ته ولاړي. د امنیت د شورا د پریکړې څخه وروسته قذافي یو طرفه اوربند اعلان کړي چې د نړیوالو د برید مخه ونیسي. د لیبیا مشر د یو شمیر هیوادونو مشرانو ته په لیک کې خبرداري ورکړي چې پر لیبیا باندې وسلوال برید ونه کړي. د شنبې په سهار د بنګازي په جنوب ختیزه برخه کې انځورونه وښودل شول چې د لیبیا پوځ څنګه خپل اعلان شوی اوربند ماتوي. جګړه په بیره د ښار مرکزي سیمو ته غزیدله. د پوهنتون پر محصلینو باندې ډزي کیدلې. ځوانانو بوتلان راټولول چې د اور بلیدونکو موادو یې ډک کړي، پر سړکونو یې موانع جوړول.

ژورنالیستانو د رژیم لخوا د درنو وسلو د استعمال خبرونه خپرول. په سلګونو موټران د کډوالو څخه ډک وو چې ختیز لورته کوم چې د وسلوالو مخالفینو تر کنترول لاندې وو او د مصر سرحدي سیمو ته په تیښته وه. تلویزیوني انځورونو وښودل چې یوه فرانسوي معراج الوتکه د ښار په یوه برخه کې پر مځکه رانسکوره شوه او اور یې واخیست. لومړی راپورونه داسې وو چې الوتکه د قذافي د پوځونو وه خو وروسته څرګنده شوه چې یوازنی الوتکه چې مخالفو وسلوالو درلودل، پر مځکه نسکوره شوی وه.

د هیوادونو مشران د فرانسې په ایلیسي [٤٣٠] قصر کې راټول شوی وو او معلومات یې تر لاسه کولو چې د قذافي ځواکونه مخ په وړاندې ځي. مخالفینو پوښتنې کولې چې د لویدیزو مرستې چیرې دي؟

د فرانسې جمهور ریس، نیکولاس سرکوزي تر غونډې وروسته د مازدیګر پر (۱۵:۴۸) بجې د رسنیو په مینځ کې راښکاره شو. د فرانسې جمهور ریس وویل:

« اوس زموږ الوتکې پر بنګازي باندې د بریدونو مخه نیسي. اوس زموږ نورې فرانسوي الوتکې تیارې دي چې پر ټولو هغو زرې وسایطو چې بی وسلې خلک تهدیدوي، بریدونه پیل کړي.» د دې له پاره چې د نړۍ او فرانسې د رایه ورکوونکو پاملرنه راواوړي، د فرانسې جمهور ریس د غونډې تر پیل مخکې الوتکو ته امر وکړي چې هوا ته جګې شي. الوتکو ډیر ساعتونه د سمندر پر سر الوتنې وکړې او په هوا کې تیل اخیستل. مخالفو وسلوالو د قذافي د بریدونو مخه ونیوله خو بیا هم شرایط پیچلي وو او د قذافي پوځونه د بنګازي پر لورمخ په وړاندې تلل.

دوه ساعته وروسته د فرانسې د دفاع وزارت ویاند وویل چې د فرانسې الوتکو د زرهي وسایطو یو قطار چې ښار ته نژدې وو، د دوي د الوتکو تربرید لاندې راغلي. څلور زرهي ټانکونه د فرانسې معراج الوتکو ړنګ کړل. په ټولیزه توګه د برید په لومړي څپه کې (۲۰) الوتکو ګډون درلودی. وروسته د فرانسې جمهور ریس وویل چې د فرانسې الوتکو مخکې له دې څخه چې د لیبیا دفاعي هوایي ځواک ړنګ کړي، بریدونه پیل کړل.

د وختې ماښام او شپې لخوا د امریکا او انګلیستان د جنګې او تر اوبو لاندې بیړیو څخه (۱۰۰) راکټونه فیر کړل. په لومړی بمبارد کې لږ تر لږه (۲۰) هدفونه وویشتل شول. د برید لومړي څپې د لیبیا د هوایي دفاعي ځواک چې د سمندر پر غاړه موقعیت درلودی، متوجې وې.

د ډنمارک شپږ اف ـ ۱۶ جنګي الوتکې د شنبې په ورځ تر غرمې نه مخکې د سیګونیلا په هوایي ډګر کې کښینستلې. کله چې الوتکو د ډنمارک څخه الوتنه کوله بیا هم د نهایي موخې په تړاو پریکړه نه وه. ایا الوتکې د الوتنې پر وخت د سیسیلین پر لورې وسله ولرې؟ ګټه یې دا وه چې الوتکې په بیړه لومړیو عملیاتو ته تیاریږې ځکه اړتیا به نه وي چې دغه لوی بمونه به په بل ډول ایټالیا ته د ټرانسپورټ کولو اړتیا ولري. دا اسانه نه وه چې دغه درنې جټ الوتکې د اروپا په فضاءکې الوتنه وکړي. د هر هیواد څخه اجازې ته اړتیا وه چې د دوي په فضاء کې په وسلو بار الوتکې الوتنه وکړي. د ډیپلوماټیکو لارو څخه د ستونزې حل ډیرې مودې ته اړتیا درلودل. ډیرو په وسلو بار د جټ الوتکو استولو سره مخالفت درلودي خو د مشرانو په غونډه کې اندیرس ریکس وویل پرته له دې څخه چې دغه امکان وازمویو، ولې ورڅخه تیر شو.

لارس کیولیر وویل ډیر ښه او د ډیپلوماټیکو لارو څخه یې په کار پیل وکړي. د ډنمارک پوځې اتشو په برلین او هاګ کې د جرمني او هالنډې مقاماتو څخه د رد ځواب تر لاسه کړي. هالنډ یوازې د الوتکو د الوتنو پر بندیز ګډون کړي وو خو المان د پریکړې لیک په تړاو منفي رایه ورکړې وه نو ځکه یې الوتکې هم د هوایي بریدونو له پاره نه لیږلي. یوه اوږده لار پاتې وه چې په سلګونو کیلومترو باید الوتکو اوږده لار طی کړی وای. الوتکو باید د فرانسې له لارې الوتنه کړی وای او په یوه هوایي ډګر کې چې د مارسیلیې [٤٣١] څخه وتلې وه، تیل اچولي واي او وروسته سیګونیلا ته الوتي واي.

وعده داسې وه چې د دفاع وزیره، ګیټه لیله لوند بک باید زنګ ووهي کله چې ډنمارکي الوتکې لومړی عملیات پیل کوي. د شنبې په ماښام نوموړې د خپل انګریزي سیال، لیام فوکس سره خبري وکړې. دوي نتیجې ته ورسیدل چې ژر به ناټو د عملیاتو مشرتوب پر غاړه واخلي. د جمعې په ماښام کله چې په صدرات کې غونډه وه، ټول همږغي وو چې د عملیاتو مشرتوب د ناټو پر غاړه د ډنمارکیانو زیاته دلچسپي ده.

د یکشنبې په ماښام اندریس ریکس لومړی اف ـ ۱۶ الوتکه لیبیا ته ولیږله. دوي ټولې اجازې تر لاسه کړي او هم دقیقه قومانده او وعدې تر سره شوي. په لومړی شبانه روز کې عملي چارې د امریکایانو د پوځې مرکز، رامستین [٤٣٢] څخه چې

---

[٤٣٠] - Elysee

[٤٣١] - Marseille

[٤٣٢] - Ramstein

په المان کې دي تر سره شوي. تر ټولو ښه دا وه چې د ډنمارکیانو اړیکې د امریکایي افسرانو سره په المان او سیګونیل پوځي مرکز کې ډیرې ښې وې نو ځکه د یکشنبې په ماښام ډنمارکي الوتکې هوا ته پورته شوې. دوې په ښه حالت کې دوباره راوګرځیدلې خو بمونه یې غورځولي نه وو.

په راتلونکو ورځو کې د امریکا غټو الوتکو، ب ـ ۱ [٤٣٣] او ب ـ ۲ [٤٣٤] په بریدونو کې برخه واخیستله چې موخه یې په طرابلس کې پوځي مرکزونه وو. په څلورمه ورځ د لیبیا د رادار سیستم او د لیري واټن ویشتونکو راکټونو ټولې د ستګاوې ړنګې شولې. د امنیت د شورا د پریکړه لیک پر بنسټ چې د (۱۱) هیوادونو الوتکو په بریدونو کې برخه درلوده، د لیبیا پر فضاء یې بشپړ کنترول درلودې.

په پیل کې عملیات د امریکا، انګلیستان او فرانسې لخوا په ګډه رهبري کیدل. خو په حقیقت کې د امریکا د افریقا د قوماندې مرکز، د هنګار کښتۍ یو اس اس مونټ وایټني [٤٣٥] لخوا چې لیبیا ته نژدې په سمندر کې ولاړه وه، په ګډه د امریکا د پوځي مرکز، رامسټین چې په المان کې و، رهبري کیدل. امریکا او د ناټو نورو هیوادونو غوښتل چې عملیات ژر تر ژره د ناټو تر مشرتوب لاندې کړي خو فرانسې مخالفت ښودې. د فرانسې جمهور رییس، سرکوزي نه غوښتل چې د عملیاتو واګې په بیره نورو ته ورکړي خو فرانسه د نورو هیوادونو تر ډیر فشار لاندې راغلل. امریکا نه غوښتل چې د جګړې مشرتوب واخلي خو ترکیې غوښتل چې عملیات په یو منظم او ثابت چوکاټ کې راشي.

المان د امنیت په شورا کې پریکړه لیک ته مخالفه رایه ورکړې وه نو ځکه یې مخالفت کولو چې د جګړې مسولیت د ناټو پر غاړه شي. المان ډیر ژر ولیدل چې د ناټو تر مشرتوب لاندې جګړه ډیره روښانه او د امنیت د شورا د پریکړې ټولې خواوې په نظر کې نیول کیږي او بشپړ کنترول یې ممکن دي. دلته د ناټو (۲۸) غړي د جګړې په جریان کې د خپلو سفارتونو له لارې چې په بروکسل کې دي، دومداره معلومات تر لاسه کولای شي. ډنمارک د یوه وړوکی هیواد په توګه هم غوښتل چې جګړه د ناټو تر مشرتابه لاندې دوام وکړي تر څو ډنمارک هم اغیزه ولري.

تر دریو ځلو زیات د ناټو سرمنشي، اندریس فوک غاسموسن بشپړ مسولیت اخیستي و. لومړی ناټو پر وسلو واردولو بانديز د بندیز مسولیت او په تعقیب یې د الوتکو د الوتلو بندیز مسولیت پرغاړه وو. وروستنۍ مسولیت د جګړه ایزه عملیاتو وو چې د قذافي پوځي ځواکونه بمبارد کړي تر څو ملکي وګړي وساتل شي.

د ډنمارکي جټ الوتکي پیلوټ، ټامس کریستینسن [٤٣٦] د دوهم ګروپ په ډله کې په لیبیا کې و. دغه پیلوټ د الوتکې په نوم، میټ [٤٣٧] تقریباً (۲۰۰۰) ساعتونه په اف ـ ۱۶ جټ الوتکې کې الوتنه کړی وه نو ځکه د هیواد د باتجربه پیلوټانو څخه و. نوموړي په ۱۹۹۹ زکال پر کوسوو [٤٣٨] الوتنې کړي وی او د ډنمارک لومړی پیلوټ و چې پر افغانستان یې بمونه وغورځول. په هغه وخت کې د ډنمارک څارګرې اداره ویلی وو که کوم پیلوټ د طالبانو لخوا ونیول شي د ژوندی پاته کیدو هیله دي نه کوي. دغه معلومات ټامس کریستنسن څو شپې بیخوبه کړي نو ځکه یې خپله تومانچه د مرمیو ډکه کړه مخکې له دي څخه چې د قزاقستان د هوایي ډګر څخه د افغانستان پر لوري الوتنه وکړي. طالبانو تقریباً هیڅ چانس نه درلودي چې ډنمارکی جټ الوتکه رانسکوره کړي خو کیدای شوای چې د الوتکې ماشین د افغانستان په دښتو او درو کې دریدلای وای چې په هغه صورت کې واقعه پیښیدونکې وه.

د کندهار په سهیل کې نوموړی لومړي ډنمارکي پیلوټ و چې بریدونه یې پیل کړل. امریکایي سرتیري پر مځکه د طالبانو سره په جګړه بوخت وو نو ځکه یې هوایي مرسته وغوښتل. کله چې پیلوټ د هغه سرتیري سره خبري وکړي چې د نوموړی برید پر طالبانو رهنمایي کړي، پیلوټ د ماشینګرو ډزې د الوتکې په وروستۍ برخه کې اوریدلې. طالبانو د یوې تپې پر سر موقعیت درلودې. لومړي ټامس د الوتکې څخه د قوي ماشینګرې ډزې وکړې. خو چې وروسته پر راوګرځیدې، بمونه یې پر وغورځول. سرتیرو د مځکې څخه خبر ورکړي چې ډزې او بمونه پر موخې ولګیدلې. که چیرې خلک هلته وو، نو حتماً مړه شوی دي. خو پیلوټ د دي موضوع سره ستونزه نه درلوده. نوموړي پوهیدې چې د امریکایانو سره باید مرسته وشي.

---

[٤٣٣] - B1

[٤٣٤] - B2

[٤٣٥] - USS Mount Whitney

[٤٣٦] - Thomas Kristensen

[٤٣٧] - MET

[٤٣٨] - Kosovo

مخکې له دې څخه چې نوموړي پیلوټ د عملیاتو له پاره د افغانستان پر لورې حرکت وکړي، یوه ویډیو یې ولیدل چې طالبانو په کابل کې د سپورټ په لوی میدان کې خلک ځړول. ټامس په بشپړه توګه پوهیدې چې دغه عملیات یو ښه کار دی.

اوس نوموړي پیلوټ باید بیا په جګړه کې برخه واخلي. د ۲۰۱۱ زکال د اپریل په (۱۹) نیټه سهار د وخت څخه د ډنمارک سهیلي برخې د فیون جزیرې ته چې کورنۍ یې ژوند کولو، ولاړې. د کورنۍ د دود پر بنسټ د پوسکه (د عیسویانو یوه مذهبي روخصتي ده) په ورځ ټول سره راټولیدل. بله ورځ میرمن او دوه دوګوه نې (جملیان) څلور کلن اولادونه یې ویده وو چې نوموړي په خپل موټر کې د هوایي ډګر لورې ته حرکت وکړي. په موټر کې د ټامس کریستنسن یو لیک (یانې وروستۍ غوښتنه) هم پروت و. نوموړي د خپل د ښخولو د مراسمو په تړاو معلومات نوشته کړی و. څوک د هغه تابوت پر اوږو واخلي او کوم ډول موزیک ورته وږغول شي. دا چاره یې مخکې نه وه کړی.

تر حرکت یوه اونۍ مخکې نوموړي خپلو دوو اولادونو ته وویل چې ایټالیا ته ځي چې پیزا وخورم. نوموړي متوجه شو چې ماشومان څه احساسوي ځکه پیلوټ په غیري طبعې توګه ډیر خبرونه اوریدل. ماشومانو د تلویزیون کتلو په وخت کې پلار ته په ماشومانه ژبه ویل: پلاره وګوره هغه دي قذافي کله به چې معمرالقذافي د تلویزیون پر پرده راښکاره شو.

کله چې نوموړي موټر پارک کړي د هوایي ډګر د سپورت لوی سالون ته ولاړې. په سالون کې (۱۲۰) تنه پر یوه لیکه ولاړ وو او خپل اړین وسایل یې تسلیم کول. هر نفر هغه لیک چې وروستۍ غوښتنې لیکلي وي، ټاکلي نفر ته ورکاوه. سامانونه یې لاري موټر ته اچول او وروسته ټول په سرویس کې الوتکې ته روان شول.

ټاماس کریستنسن لومړي الوتنه د ۲۰۱۱ زکال د اپریل پر (۲۱) نیټه د سیګونیل د هوایي ډګر څخه وکړه. د سمندر پر فضاء یې تیل واخیستل او د نورو الوتکو سره یو ځای طرابلیس ته نژدې د هدف ویشتلو له پاره په الوتنه کې و. موخه یو کانکریټي غټې کوټې ته ورته وه. لومړي ډنمارکي پیلوټانو الوتنه وربانديږ وکړه چې هدف صحت تایید کړي. دوهم ځل ټولو الوتکو (۲۰۰۰) پونډه بمونه ور باندې وغورځول. پر کانکریټي کوټه د ګراف په شمول یو کود و. ډنمارکیان د هیڅ مقاومت سره مخامخ نه شول. هیڅ داسې نښانه نه وه چې لیبیایې پوځونو به ځانګړي راکټونه د ډنمارکي جنګي الوتکو لورې ته برابري کړي وي.

ټاماس کریستنسن سوچ وکړي چې دا ساده دنده وه نو بیرته د سمندر پر لورې الوتنې ته دوام ورکړي. د پیلوټ تجربه د کندهار د بمبارد سره شباهت نه درلودې چې پیلوټ د الوتکې په وروستۍ برخه کې اواز اوریدي کله چې د سرتیرو سره یې په مخابره کې خبرې کولې. په لیبیا کې هیڅ داسې دوست پر مځکه نه و چې پیلوټان په احتیاط سره عمل وکړي تر څو دوستان ونه ویشتل شي. ډنمارکیانو د نورو ملاتړو هیوادونو په څیر ډیرې الوتنې وکړې. ډنمارکي الوتکو په لویه کچه د ناروې اف ـ ۱۶ جنګي الوتکو سره په ګډه ډیر بریدونه وکړل. د الوتکو پر زړوالي د ډیرو بمونو غورزونه ډیره اغیزه کول خو په ناټو کې مو ډیر درناوی تر لاسه کړي.

پیلوټانو ته د خطر پیښیدولو کچه ډیره ټیټه وه خو د ملکي وګړو تلفات او د قذافي د مخالفو ولسوالو ویشتلو خطر ډیر زیات وو. د ناټو له پاره ډیره مهمه وه چې په سهوه کې پر بیګناه انسانانو بمونه ونه غورځول شي. هدفونه د ناټو د کارپوهانو لخوا چې په ایټالیا کې ناست وو، ارزیابي او ټاکل کیدل. د ډنمارک یوحقوق پوه او یو پیلوټ د هغو هدفونو تایید کاوه چې ډنمارکي پیلوټانو باید بمبارد کړي وای. ډنمارکي استازو کولای شوای چې ځینې موخې داسې وارزوي چې د بمبار کولو څخه یې ډه ډه وکړي. دا کار یې په هغه وخت کې کاوه چې شاوخوا یې ملکي وګړو د زیان رسولو کچه لوړه وه. ډیر داسې حالات پیښ شول چې ډنمارکیانو یې د بمبارد څخه ډه ډه وکړه. وروسته ناټو کولای شوای چې د بل هیواد الوتکې د بمبارد له پاره هغې موخې ته ولیږي که د نوموړي هیواد ارزونه داسې وای چې غټ ملکي تلفات نه لري.

په وروستي برخه کې پیلوټ و چې د بمبارد پریکړه یې کوله چې انتظار وباسي، ډه ډه وکړي او که بمبارد وکړي. که پیلوټانو په خپلو پرمختللو وسایلو لیدلي وای چې د بې ګناه انسانانو تلفات زیات دي او یا هم مهمې بنسټیزې ودانې ورانیږي، نو د بمبارد څخه یې ډه ډه کوله. څو ځله داسې پیښه شوه چې هدف ته نژدې د ملکي خلکو موټران په حرکت کې وو، پل، د بریښنا فابریکه او یا به مهم سړک وو، د بمبارد څخه به ډه ډه وشوه. د وسلې د تخریب د واټن پر بنسټ د بمبارد ارزونه کیدله چې په کوم قطر سره ورانې کوي او په نوموړي ساحه کې ملکي وګړي او مهم ودانۍ شتون لري که یا؟ (ژ: پورته خبرې په سترګو کې د خاورو پاشل دي، د لیبیا ښکلي هیواد یې لوټه لوټه کړي خو بیا هم درواغو ته دوام ورکوي.)

پوځ، هوایي ځواک ته معلومات ورکړي چې یو ځل په سهوه کې د موخې څخه لیرې بمب وغورځیدي. د معلوماتو له مخې د دغه بمونو په واسطه بې ګناه خلکو ته زیان نه دی اوښتی. کله چې د ناټو یوې الوتکې د اپریل پر (۳۰) نیټه په طرابلس کې پر یوې ودانۍ بمونه وغورځول، د قذافي زوی او درې لمسیان یې ووژل شول. په قوي احتمال قذافي هم ټپي شوی و. د ناټو د راپور له مخې موخه د قوماندې د کنټرول مرکز و، خو حتماً په ودانۍ کې ملکي وګړی وو. ودانۍ د پنډ کانکریټي دیوال په واسطه احاطه شوی وه. انګریزي ورځپاڼې، ګارډین ولیکل چې پر ودانۍ ډنمارکي الوتکو هم بمبارد وکړي. د

ډنمارک هوايي ځواک او پیلوټانو د ګارډین ورځپاڼې د ادعا په تړاو ځرګندونې ونه کړې. دا ځرګنده ده چې دا ډول بمونه چې تر دومره پنډ کانکریټي دیوال ووزي، یوازې ډنمارکیانو درلودل.

د ناټو د معلوماتو له مخې داسې علایم شتون نه لري چې په ودانۍ کې بې ګناه ملکي وګړي وژل شوي وي. پرته له دې څخه چې سرتیري پیاده شي، د زرګونو بمونو د غورځیدلو دقیقه ارزونه ناشونې ده. د قذافي پوځیانو ادعا وکړه چې په سلګونو ملکي وګړي په ودانۍ کې وو خو د قذافي مخالفو وسلوالو، د بشري حقوقو سازمان [۴۳۹] او نړیوال بحراني ګروپ [۴۴۰] د غلط بمبارد په تړاو رپوټ خپور کړی نه دې.

ټامس کریستنسن (۲۰) ځله پر لیبیا الوتنه وکړه.بریدونو توپیر درلودې. کله به یو ټاکلی هدف ورکړل شو چې باید پیلوټ هدف مونډلی وای، کیدلای شوای چې په کومه سیمه کې د ملکي وګړو د پاره ځانګړی تهدید شتون درلودې. وروستی ځانګړی تجربه وه. ډنمارکي پیلوټانو ټرینینګ کړی وو خو هیڅ وخت داسې نه وه چې یو ګروپ الوتکې په ډله ایزه توګه پر درستې موخې بمبارد وکړی او بیرته ولاړې شي. د شپې لخوا ټامس کریستنسن ولیدل چې تر هر انفجار ورسته دومره رڼا خپره شي چې بل هدف په ځرګند ډول لیدل کیږي تر څو د نوموړی د بمبارد نوبت راورسیږي. نوموړي د هغه فلم په تړاو سوچ وکړي چې متحدینو د دوهمې نړیوالې جګړې په ورستیو کې ډله ایزې بمبارې کولې.

د جمعې یو ماښښین ټامس کریستنسن ته یو لوی کورډینات د بمبارد له پاره ورکړل شو. هدف په اوږدوالي پروت و چې د قذافي زرهی وسایط په کښې ترمیم کیدل. که څه هم د ورځې روښنایي وه، کله چې کاناډایي الوتکو بمبارد وکړې، ټامس دودونه او لوګی لیدلي. ټامس کریستنسن یوه ورځ مخکې همدغه ځای بمبارد کړی وو. نوموړي د خپلو وسایلو په واسطه د کړو وړو فولادو ذخیره تر سترګو شوی وه چې د هدف په شاوخوا کې پرته وه. ډنمارکیانو باید د ودانیو پاتې شوني تخریب کړی وای، هدف پیدا شو. ټامس څه ولیدل، پوښتنه ورته پیدا شوه چې ایا په ودانیو کې خلک په کار لګیاه دي؟ نو د ځان سره یې وویل چې دلته به یې کار نه کولای.

ټامس د راګرځیدلو په وخت کې د یوې عجیبې پیښې سره مخامخ شو. د الوتکې کبین ته یو غوماشه (وړوکې پرنده) ور ننوتل. په معمولي ډول ټامس په لاس وژل خو دا ورځ یې پریښودله. نوموړی د ځان سره سوچ وکړي چې نن باید نور وژنه ونه شي.

زه خبر نه یم چې هغه د کوم ځای څخه راغلل. خو زما ټوله اونۍ داسې تیره شوه چې ورانې مې وکړې. خو ټوله بریدونه پر پوځي ودانیو وې. د ځان سره یې وویل: ما خو خلک و نه لیدل خو که خلک وو نو به سخت زیان ورته اوښتی وي.

د وړې په پیل کې هوايي ځواکونو بمونه نه درلودل. ټول ګدامونه تش وو. خو هالنډ او امریکا بمونه ورکړل. د جولای په میاشت کې د دفاع وزیرې، ګیټه لیله لوند بک پریکړه وکړه چې ډنمارکي هوايي ځواکونه باید بمبارد لږ کړي. په شبانه روز کې دوه ځله عملیات نیمایي ته را لږ شوه که څه هم نورو هیوادونو د پیل څخه همدا کار کړی وو. د الوتلو نیمایي کیدلو په پرسونل کې هم کمښت راوستې یانې لږ سرتیري د سیګونیلا په پوځي هوايي ډګر کې پاته شول.

د لیبیا د وړی د پیل کیدو سره د قذافي مخالفینو هم پرمختګ وکړې.ډنمارک او یو شمیر نورو هیوادونو د مخالفینو شورا، ان تی ثي [۴۴۱] د لیبیا د یوازنې مشروع استازو په توګه ومنل. د دې خبرې مانا دا شول چې نوموړي شورا د لیبیا ملیاردونو پیسو ته لار پیدا کړل کوم چې په بهرنې بانکونو کې کنګل شوې وې.

په ماستر کې حالات د ښه کیدو پر لور و. د لیبیا دریم لوې ښار په اهسته ډول د شاوخوا سیمو کنترول په لاس کې واخیستې. د اقتصاد په پیاړوتیا سره ملکي وګړو ته د حتمي خطرونو پیښیدولو چانس د مخالفو وسلوالو تر کنترول لاندې سیمو کې لږ شو.

د ناټو سرمنشي، اندریس فوک غاسموسن څو ځله وویل چې د ناټو د بمبارد موخه قذافي او ور سره لوړو پوړو مهمو چارواکو نه وه. موخه د قذافي پوځونه وو چې خطر یې رامینځته کړي و.

درې غوښتنې وي: ټوله بریدونه پر ملکي وګړو بند شي. د قذافي پوځونه باید سمدلاسه پر شاه شي او خپلو پوځي مرکزونو ته وګرځي، د بشري مرستو سازمانونو ته اجازه ورکړه شی چې لیبیا ته د مر ستو له پاره ننوزي. د ناټو سرمنشي علاوه کړه ستونزمنه به وي چې باور وکړو چې د قذافي په شتون کې پر ملکي وګړو بریدونه بند شي. (ژ: د ناټو د سرمنشي ښکرور

[۴۳۹] - Human Rights Watch
[۴۴۰] - International Crisis Group
[۴۴۱] - NTC

درواغ د هغه په ورستي جمله کې رسوا شوه چې موخه يې د معمرالقذافي وژنه او د هغه د رژيم ړنګول وه چې لويديز هيوادونه او امريکا په خلاصو لاسونو ټولو شتمنيو ته لاسرسي پيدا کړي.)

د ناټو د سرمنشي د وينا پر بنسټ د هوايي ځواکونو بمبارد د قذافي د وسلوالو سره اوږه پر اوږه جګړه مخته نه بيايي او حتي د مخالفو وسلوالو سره يوځي اړيکي نه شته. د ناټو د پوځونو دنده يوازې د امنيت د شورا د پريکړې عملي کول دي. خو ځرګنده ده چې مخالف وسلوال پرته د ناټو د هوايي ځواک د بمباري څخه د قذافي د پوځونو له خوا څخه ځپل کيدل. مخالفو وسلوالو په اهسته ډول د قذافي د ځواکونو څخه واک تر لاسه کړي.

فرانسي، انګليستان او قطر په سلګونو ځانګړي مشاورين ليبيا ته وليږل تر څو چې مخالف وسلوال ټرينينګ کړي. په قوي اټکل ويلای شو چې د امريکا ځارګري اداري، سی ای ای هم په ليبيا کې د قذافي د پوځونو تر شاه اجنټان درلودل. د امريکا او دري نورو ښکيلو هيوادونو ځارګرو ادارو په ټولينيزو رسنيو کې د جګړې پر دغه برخه هيڅ تبصره نه ده کړی. په دغه ډول ناټو هم په رسمي بڼه د مخالفو وسلوالو سره د کارکولو څخه پرده پورته نه کړه. خو يوازې يو پټ راز و. په واقعيت کې د هوايي ځواکونو د قوماندې مرکز ډير معلوماتونه د مخالفو وسلوالو او د لويديزو د ځانګړو ځواکونو څخه چې د ليبيا په دننه کې وو، لاسته راوړل. خو دا ډيره مهمه وه چې ناټو د دوي سره په نيغه اړيکي نه درلودي خو برعکس وه. خو هيڅ داسي څه نه وه کوم چې د هوايي ځواکونو ممانعت يې کړي وای چې د مهمو معلوماتونو څخه ګټه وانخلي.

کله چې مخالفو وسلوالو د ليبيا د وړي په پيل کې پرمختګ وکړي، دوي مياشتي وروسته رسنيو دوباره دا جګړه د اشغال په عينکو کې ليدل. پرته و پيسو ته لاسرسي او تمايل د پوځ پاشلو ته په دی مانا وو چې د رژيم د نسکورولو ورځي شمير کيدلي. دا پريکنده ستونزه وه. څنګه کيدلای شوای چې وروستی قاطع بريد پر طرابلس داسي شي چې په ښار کې د خونړي بريد مخه ونيول شي کوم چې مخالفو وسلوالو هم د ډيرو ملکي وګړو ژوند اخيستي دي؟

په مياشتو مياشتو د مخالفو وسلوالو پټ کسان طرابلس ته ننوتلي، وسلې يې غونډې کړي چې نابره خطرناک بريد پيل کړي. کله چې مخالفو وسلوالو په طرابليس کې د اګست پر (۲۱) نيټه بريد پيل کړي، په پيل کې د بربري لړکيو(ژ: بربری يو لړکي مليت دي چې په شمالي افريقا کې اوسيږي او نفوس يې (۱۵) ميليونه اټکل شوی دي. دغه مليت د عربانو د اشغال څخه وروسته پاته شوو.) په وړاندې د طرابليس د لويديزې برخې څخه سخت بريدونه پيل کړل. په همدغه وخت کې نورو وسلوالو په طرابلس کې د ختيز څخه بريدونه پيل کړل. همدا ډول د ميسترا څخه بيړی د ښار د بيړيو تم ځای ته راورسيدلي. په طرابلس کې د وسلوالو مخالفونو ملاتړي دومره غښتلي وو چې څو ورځي جګړه وکړي تر څو د نورو ښارونو څخه مرسته ورته راورسيږي. په هر صورت پر طرابلس بريد ډير پراخ نه وو. په څو ورځو کې طرابلس ازاد شو. د اګست پر (۲۳) نيټه مخالفو وسلوالو د معمر القذافي استونځځی، باب ال ازيزيا [۴۴۲] او د طرابلس په جنوب کې هوايي ډګر ونيوي.

د برياليو ليبيانو انځورونه د بيړيو په زاړه تم ځای کې ټولي نړی ته خپاره شوه. په راتلونکو مياشتو کې د نړی مشران په جوپه جوپه طرابلس ته ورسيدل.

د ناټو هوايي ځواکونو بريدونو د معمر القذافي پر پټن ځايونو د ليبيا په مرکزي سيمواو سيرته کې دوام وموندي. د صحرايي سيمو په يو ښار کې چې (۱۸۰) کيلومتره د طرابلس جنوب ته پروت دي، د بن وليد په ښار کې د قذافي ځواکونه راټول شوی وو. د قذافي ځواکونه په تيښته کې وه خو د قذافي د شتون ډار د ليبيا د خلکو په زړونو کې ژور ځای نيولی وو. دوي پر خپل بريا تر هغه وخت پورې باور نه درلودي تر څو قذافي چې (۴۱) کاله يې واک درلودي، په تيښته کې وي.

د اکتوبر پر (۲۰) نيټه د سهار پر (۸:۳۰) بجې د سيترا د ښار څخه د موټرو يو قطار ووتي. د څو اونيو په اوږدو کې د سيترا ښار د مخالفو وسلوالو تر بريدونو لاندې وو خو عجيبه غيري طبعي مقامت يې کولو. د سيترا ښار د قذافي د زو کړې د ځای سره ډير نژدې پروت دي. د کلونو په جريان کې چې قذافي واک درلودي، د سيترا ښار ته يې ځانګړی پاملرنه درلوده. د ښار اوسيدونکې د قذافي په طايفه پورې تړلې وو چې د هيڅ شي کمښت يې نه درلودي. په ښار کې زياتو ودانيو او ښايسته هوټلونو د ښار بڼه بدله کړی وه چې معمولاً به لوي نړيوالې غونډې او کنفرانسونه په همدغه ښار کې جوړيدل. د ښار اوسيدونکې ډاريدل چې د مشر څخه يې کسات اخيستل کيږي نو ځکه يو ډير شمير اوسيدونکې د قذافي د ځواکونو سره تر وروستی سلګی د مخالفو وسلوالو سره جنګ ته دوام ورکړي. خو بيا هم کوم راز و چې دوي ډير وارخطا او انديښمن وو.

د سيترا څخه تقريباً (۱۰۰۰۰) کيلومتره ليري د نيوادا [۴۴۳] په صحرا کې د بي پيلوټه الوتکو لخوا د موټرانو يو قطار وليدل شوو. د بي پيلوټه الوتکو په واسطه انځورونه د نيوادا مرکز ته مخابره شوه.

[۴۴۲] - Bab Al-Aziziya
[۴۴۳] - Nevada

د ځار کارپوهانو د ځانګړو ځارکونکو الوتکو مرکز ته انځورونه ولیږل. معلومات د فرانسوي معراج الوتکو مرکز ته چې نژدې موقعیت یې درلودې، ولیږل شول. د سیترا د ښار په دننه کې د مخالفو وسلوالو نوکریوالو پوستو هم انځورونه ولیدل. قطار تر تعقیب لاندې ونیول شوو.د نیوادا د مرکز څخه د بې پیلوټه الوتکې یو راکټ پر قطار فیر شو او مخکښ موټران یې له مینځه یوړل. قطار د حرکت جهت ته بدلون ورکړي خو وروسته پر قطار د معراج الوتکو (۵۰۰) پونډه بم وغورځول شوو. د دغو خلکو په مینځ کې چې په وارخطایي د موټرانو څخه کښته او هر لورې ته په منډه وه، (۶۹) کلن معمرالقذافي، د نوموړي د پوځ لوي درستیز، د ځارګرې اداري مشر او د قذافي زوي، معتصم هم وو.

کله چې څو دقیقي وروسته مخالف وسلوال سیمي ته ورسیدل، قذافي یې د هغه پټنځای څخه چې په تونل کې پټ شوی و، راویستي. خو وروسته په باور ویلای نه شو چې څه پیښه شوه. دري د باور وړ احتمالونه د موبایل ټلیفون (ګرځنده غږلیږد) په واسطه د قذافي د نیولو په وخت کې ثبت شوی دي. داسې څرګندیږي چې نوموړي ژوندی نیول شوی خو ټپي و. په بله ویډیو کې ښکاري چې نوموړي وهل کیږي. بله ویډیو څرګندوي چې یو نفر هڅه کوي چې یو سیخ د قذافي په مقعده ور ننباسي. قذافي په پیل کې په یوه پایکپ موټر کې کښینودل شو خو وروسته یې په امبولانس کې واچاوه. د بلې ویډیو څخه ښکاري چې ډیر وسلوال د قذافي د جسد پر شاوخوا ولاړ دي چې د څو ډزو ټپونه یې په سر کې ښکاري.

وروسته د قذافي جسد د سیرتا په ګاونډ ښار، میسراتا کې ښکاره شو. څو ورځې د قذافي جسد د ښارونو د اوسیدونکو د تماشا له پاره ایښي وو چې په جوپو جوپو خلک په قطارونو ورته ولاړ وو. (ژ: د لیکنې څخه داسې ښکاري چې لویدیز او امریکایان ګواکې د پیښې څخه بشپړ ناخبره وه. بیا هم د نړیوالو په سترګو کې د خاورو پاشل دي.) یو بې پرې د عدلي طب څیړونو وښودل چې قذافي په ډزو وژل شوی وو. امریکایي کارپوهانو د ویډیویي انځورونو څخه په ګټه اخیستنه وویل چې پر قذافي په ډیر نژدې واټن ډزې شوی دي. ټولې څیړنې څرګنده وي چې قذافي ژوندی نیول شوي او وروسته وژل شوي او یا هم د قهرجنو مخالفینو له خوا وژل شوی دي. عیني چاره یې د زوي، معتصم سره وشوه چې تر نیولو وروسته څو ورځې ژوندی و.

د ناټو سرمنشي، اندریس فوک غاسموسن څو ورځې وروسته د پولیټکن ورځپاڼې ته وویل:

« زه باید ووایم چې دا یو ښه پیل نه و. زه هیڅ خوښ نه یم چې د هغه د مړه جسد سره څه وشول.»

د لیبیا خلکو د اوو میاشتو قهرمانانه مقاومت په وجه ډیر نړیوال ملاتړ خپل کړي. د قذافي وحشیانه وژنه د جګړې د پای ته رسیدو پیلامه وه خو د لیبیا د خلکو له پاره چې د مخالفینو په لیکو کې د یو ډموکراتیک نظام د جوړولو له پاره سره راټول شوي وو، اوږده لاره پاته وه.

د اکتوبر پر (۳۱) نیټه ناټو هوایي بمبارد پای ته ورسیدي. دوې ورځې وروسته د ډنمارک شپږ اف ـ ۱۶ الوتکې په ډنمارک کې خپل پوځي هوایي ډګر، سکریود سکریوپ ته د ورځې پر (۱۱:۳۰) بجې راورسیدلې. لږ وروسته ډنمارکي پوځي ترانسپورتي الوتکه په وسایلو بار او د پاتې سرتیرو سره هوایي ډګر ته راورسیدل. ډنمارکي جنګي جټ الوتکو په (۶۰۰) عملیاتو کې پر لیبیا (۹۲۳) دقیق ویشتونکي بمونه غورځولي وو. دغه شمیره د ټولو عملیاتو د بمونو او راکټونو لس سلنه جوړوي.

د ۲۰۱۱ زکال د سپټمبر په میاشت کې د لیبیا انتقالي (لیږدونکي) شورا وویل چې د قذافي ځواکونو (۳۰۰۰۰) کسان وژلي دي خو د دغومره لوړې شمیرې له پاره اسناد او شواهد شتون نه لرې. د دسته جمعي قبرونو (ګډو مړستونونو) ډیر راپورونه ثابت نه شوه. نړیوال سره صلیب راپور خپور کړي چې د طرابلس په سیمو کې (۱۲) دسته جمعي قبرونه وموندل چې په ټولیزه توګه (۱۲۵) جسدونه وو. لوی ترینه قبر په یو هنګر کې وموندل شو چې (۵۳) مړي په کښې ښخ شوی وو.

د نیویارک ټایمز ورځپاڼې د ۲۰۱۱ زکال د سپټمبر په میاشت کې د لویو ښارونو د روغتونونو د مړو ساتلو ځایونو څخه راپورونه راټول کړل چې په ټولیزه توګه (۳۵۰۰) مړي ورته راوړل شوی وو. ډیروژل شوي کسان سمدستي خاورو ته سپارل شوي وو نو ځکه دغه راپور هم دقیق ګڼل کیدای نه شي. داسې راپور نه شته چې د قذافي څومره ملاتړي پوځیان وژل شوی دي.

په همدغه میاشت کې د ناټو سرمنشی، اندریس فوک غاسموسن لوي کلمات استعمال کړل کله چې د جګړې ارزونه یې کوله او د پولیټکن ورځپاڼې ته یې داسې وویل:

«دا به غلطه نه وي که ووایم چې دا عملیات د نړۍ په تاریخ کې دقیق او هدفمند پوځي عملیات وو چې موږ بریالي شولو تر څو پوځي موخې په نښه کړو. دا عملیات دومره دقیق وو چې ویجاړي او ورانۍ پرته د هغو موخو چې موږ یې ویشتل غوښتل په ډیر لوړه کچه محدودې وې. موږ داسې عملیات وکړل چې د ملکي وګړو تایید شوی تلفات یې نه درلودل.»

دا خبرې ډېرې عجیبې وې ځکه داسې دقیقه جګړه نه شته چې ملکي تلفات و نه لري. د ډسمبر په میاشت کې د نیویارک ټایمز ورځپاڼې د دغې شمیرنې له پاره لیڅې راونغښتلې. د نیویارک ټایمز د ورځپاڼې ژورنالیستانو ډیر هغه ځایونه چې ناټو بمبارد کړي وو، وموندل. د پاټې شوو ژوندیو کسانو او ډاکټرانو سره یې مرکې وکړې. ژورنالیستانو (۱۳) داسې ځایونه وموندل چې د ناټو د بمبارد په هدفونو کې نه وو. کله چې د مړو اسناد یې ولټول (۷۰) بی ګناه ملکي وګړي چې (۴۰) تنه یې ښځې اوماشومان وو، د ناټو په هوایي بمبارد کې وژل شوی وو.

نیویارک ټایمز د هغې لوې ودانۍ بمبارد چې د ماجر [٤٤٤] په ښار کې وه او د ۲۰۱۱ زکال د اګست په ۲۸ نیټه وویشتل شوه، تړېولو خونړي بمبارد و چې د اوو میاشتو هوایي بمباریو په دوران کې تر سره شوی و، افشاء کړ. دوې د لیزر د شعاع په واسطه رهبري شوی بمونه د (۶۱) کلن علی حامد ګافیظ [٤٤٥] پر کور باندې غورځولي وو، هغه عادي خلک چې د بمبارد څخه تښتیدلی وو، په دغه کور کې راټول شوی وو. په لومړی پړاو کې پنځه ښځې او (۷) ماشومان ووژل شول او د کور د څښتن علی حامد ګافیظ ښځه د ټپیانو په مینځ کې وه. د هغې ښځې یوه پښه وروسته ورڅخه پرې شوه. پنځه دقیقې وروسته د ناټو الوتکو یو بل کور بمبارد کړي چې څلور کسان یې ووژل. یو شمیر ډیر نور هغه کسان هم وژل شول کله چې د ناټو الوتکو د دریم ځل له پاره بمبارد وکړي. دغه کسان د ټپیانو او مړو د ژغورنې او مرستې له پاره راټول شوی وو. د ورځپاڼې د معلوماتو پر بنسټ د بمبارد درنې څپې په دوهم او دریم پړاو کې زیاتې وې چې ملکي وګړي او د نجات کسان یې ووژل. د ناټو یو ویاند د نیویارک ټایمز د ورځپاڼې په وړاندې ومنل چې ستونزه ریښتیا وه. د ناټو ملاتړو هیوادونو هیڅ داسې پلان نه درلودې چې د دغو موضوعاتو په تړاو څیړنې وکړي.

وروسته د ډنمارک راډیو په پروګرام کې د نیویارک ټایمز (۱۳) پیښې د ډنمارکي الوتکو د پروازونو د وخت سره پرتله شوې. په پنځو پیښو کې ډنمارکي جټ الوتکو په همدغه ورځ او همدغو سیمو کې چې نیویارک ټایمز د ملکي وګړو وژنې جوته کړې وې، بمبارد کړی وو. د ډنمارک د هوایې پوځ مسولینو وویل چې موږ د ملکي وګړو د تلفاتو په تړاو چې د ډنمارکي الوتکو د بمبار په پایله کې رامیځته شوی وې، هیڅ معلومات نه لرو.

د رسمي ارقامو پربنسټ د ډنمارک د هوایې پوځ د بمونو، نورو اړوندو وسایلو، د سرتیرو او افسرانو مجموعي لګښت (۶۲۰) میلیونه کرونه شوی دي. که سرتیري او افسران په جګړه کې ګډون هم ونه کړي د معاشونو او د الوتکو نور لګښتونه (۳۲۴) میلیونه کرونه کیږي. د هوایي ځواکونو یوه سر چینه وایې چې په پورته جګړه کې د الوتکو ډیرې الوتنې د الوتکو د زړوالي سبب کیږي چې د الوتکو د بیا ترمیم او اضافي پرزو لګښت زیات دي.

د ډنمارک د هوایې ځواک ګډون د لیبیا د خلکو د ساتنې له پاره ډیر لنډ او ارزانه نړیوال عملیات وو کوم چې ډنمارکي پوځ په جګړه کې ونډه واخیستله. د ډنمارک د پوځ پخواني لوی درستیز، یسپر هیلسیو وویل چې جګړه یوازې د هوایې ځواک او یا د بیړیو د راکټونو په ویشتلو تر څو چې سرتیري پیاده نه شي، نه ګټل کیږي. د لیبیا په جګړه کې په رسمي ښه د هیڅ هیواد سرتیري د لیبیا په خاوره کې نه وو. د دې عملیاتو پایله باید داسې نه وي چې د هوایې ځواک استعمال پرته د ډیرو وینو تویولو څخه ستونزې پای ته رسوي او یا دا جګړه د عراق او افغانستان سره پرتله شي.

په لیبیا کې حالات ځانګړی وو. سره د دې چې مخالفو وسلوالو درست پوځي ټرینینګ نه وو کړي او ښه تنظیم شوی هم نه وو خو بیا هم د دوي زوړتیا او وسلوال مقاومت د لیبیا په خاوره کې اغیزناک وو. د معمر القذافي سرتیري درست تنظیم شوی نه وو او جنګي مورال یې هم ډیر کمزوری وو. د لیبیا جغرافیایي جوړښت چې پراخ بیابانونه او دښتونه لري، د پټن ځایونو امکانات لږ دي نو د هوایې ځواک د استعمال له پاره ډیره مساعده سیمه ده. د لیبیا د جګړې بریالیتوب دا و چې د قذافي پر ضد مخالف وسلوال په لویه کچه راټول شول. د قذافي د حکومت څخه د خلکو نفرت زیاد وو او محبوبیت یې د خلکو په مینځ کې ډیر لږ و او دا ډول قومي بنسټونو د قذافي د رژیم د ژر نسکورولو له پاره هم ډیره مرسته وکړه.

دا حالت په عراق او افغانستان کې نه وو. په ځانګړې توګه چې لویدیز وڅو کلونه انتظار ویست تر څو طالبان بیرته خپل ځای پیدا کړي.

د ډنمارک او د اروپایانو په نظر په لیبیا کې یو بل مهم ټکي هم و چې باید زده کړه ورڅخه وشي. امریکا د ستراتیژۍ او اقتصادي دلایلو پر بنسټ ډیر په اهسته توګه جګړې ته ور ګډه شوه. د اروپایي هیوادونو واقعي امکاناتو چې خپله جګړه پیل کړي، دومره لوی هوایي بریدونه کنټرول او تر سره کړي، شتون نه درلودې سره د دې چې جګړه د سمندر په بله غاړه کې وه. په حقیقت کې باید امریکا د جګړې مشرتوب پر غاړه اخیستي واي.

---

[٤٤٤] - Majer
[٤٤٥] - Ali Hamed Gafez

د اروپا لویه ستونزه د جنګي الوتکو درلودل نه وه. ډیر نور شیان وو که څوک غواړي هوایي جګړه په لږ تلفاتو وګټي. په هوا کې د تیل ورکولو (۴۰) الوتکو څخه (۳۰) الوتکي د امریکا وي. د ډنمارک، ناروې او بلجیم اف ـ ۱۶ جنګي جټ الوتکو ډیر بمونه نه درلودل، دا امریکا وه چې دیره بمونه او نور اړوند جنګي مواد یې اکمال کول. دا هم د امریکا تکنالوژی وه چې د قذافي د ضد هوایي ځواکونو دستګاوي پرته د کوم خطر څخه ور فلج کړي. او دا هم د امریکا جنګي بیړی وه چې د سمندر څخه یې پر لیبیا راکټونه ویشتل.

د اروپایانو اړتیا و امریکا ته په ډیرو هغو مهمو ځایونو کې چې په بشپړه توګه څرګنده وه نو نورو ته نه تر سترګو کیدله. د امریکایانو د اړیکو ټینګولو سټلایټونه د ډیرو هغو پټو انګریزي ، فرانسوي او عربي ځانګړو پوځونو سره چې د لیبیا په خاوره کې وه، اړیکې نیولې.

ارزونه

میرمن او میره لاسونه سره نیولي وو په داسي حال کې چې د مني لمر تر وریځو لاندې د پټیدو په حال کې و، د ګرانیټ د ډبرو څخه جوړ شوی دیوال په کاستیله [٤٤٦] کې ور ته ودریدل. لینه بیرګیسین [٤٤٧] وویل: «دا ځوانان د (۲۰ ـ ۳۰) کلونو په عمرونه دي، تقریباً لویان خلک دي. نوموړې دا خبرې هغه وخت وکړي چې د دیوال پر مخ یې د مړو سرتیرو نومونه لوستله.

د نوموړې میره د الوتکو میخانیک، بیاون کرومین [٤٤٨] د هغو دوو انجنیرانو سرتیرو په تړاو چې نوموړي هغه دوه سرتیري د خطرناکه موادو د ترانسپورت کولو په یوه کورس کې لیدلي وو، داسي وویل: هغه دواړه سرتیري په هلمند کې مړه شوه. « ما دوي د نژدې څخه نه پیژندل خو زه فکر کوم چې تر (۴۰) زیات مړه سرتیري به هلته کافي وي. او باید ډیر ځوانان نه وي. نوموړی اضافه کړه: که ډنمارکیان د جګړې په مخ کې وي، دوي باید کافي زده کړې ولري. دوي باید خبر وي چې څه کوي.»

کله چې د ۲۰۱۱ زکال د سپټمبر پر (۵) نیټه په نړیوالو شخړو کې د ډنمارکي ځوانانو د وژل شوو درناوي کیدي، څو محدود ځوانان وو چې مړه شوی وو.

افغانستان او عراق دغه اته ضلعي کوټه تر اغیزې لاندې راوستل. دا هغه دیوال دي چې په نړیوالو کړکیچونو کې د ډنمارکي وژلو شوو سرتیرو نومونه د ۱۹۴۸ زکال څخه راوروسته وربانديِ لیکل کیږي. په ژړ طلایي رنګ د سرتیرو د زیږیدني او مرګ نیټه لیکل کیږي. همدا ډول په لنډه توګه د سرتیري موقعیت، پوځي رتبه او په کوم هیواد کې ووژل شو، لیکل کیږي. د سرې میرمنې وویله: « ټول ډنمارکیان باید کاستیل ته راشي، د وژل شوو سرتیرو نومونه پر دیوال ولولئ، پنځه دقیقې ارام ودریږي او د دوي په اړوند سوچ وکړي.»

سیورن لارسن [٤٤٩] د مني په یوه ورځ کې د دغه ځای څخه تیریدي. نوموړي په ملی بانک کې کار کولو. نوموړي هغه ورځې را په یاد شوی چې د دفاع وزارت د خبرتیا په اساس به د بانک بیرغ نیم ځوړند شو.

سیون لارسن د خپل ځان سره وویل: « ما د پخوا څخه هیله درلوده چې دغه یادګاري ځلی وګورم. نن ښه لمر دي. زه ډیر خوښ یم چې موږ د ډنمارکیانو هڅې او تلاښونه نه پټوو او موږ باید دغه کار ته دوام ورکړو. ډنمارکیان باید په نړۍ کې مفت او رایګان ژوند ونه کړي. موږ خپل امکانات باید په واک کې ورکړو. سیون لارسن یو اخښی لري چې څو ځله د سرتیري په توګه کوسوو ته لیږل شوی دي.»

د درو ډنمارکیانو تر مینځ غونډه (خبري) چې د یادګاری ځلي څنګ ته یې کړي وي، د پولیټکن په ورځپانه کې د یولسم د سپټمبر تر لسمي کالیزې لږ وروسته د یوې مقالي په بڼه خپرې شوي. جنرال یسپر هیلسیو د یادګاري ځلي په تړاو یوه نظریه ومونډل. د (۲۰۰۲ ـ ۲۰۰۸) زکال پورې نوموړي د ډنمارک د پوځ لوی درستیز و. نوموړی بیان کړل چې ولې په دیوال کې د لیکلو له پاره زیات ځای په نظر کې نیول شوي دي:

[٤٤٦] - Kastellet
[٤٤٧] - Lene Bergesen
[٤٤٨] - Bjørn Kromann
[٤٤٩] - Søren Larsen

«موږ کولای نه شو چې د ختم یوه لیکه وکاږو. کیدلای شي دري سرتیري په ۲۰۱۴ زکال کې مړه شي. دغه ځلې د همیش له پاره پاته کیدونکي دي. نو موږ کولای شو د دیوال په کښته برخه کې نور (۳۵) نومونه ولیکو او په لوړه برخه کې دوام ورکړو. ډیر کلونه وروسته به دیوال د نومونو څخه ډک شي.»

موږ ته د کلونو تجربې راښیي چې ډنمارک په جګړو کې برخه اخیستي ده نو راتلونکي به څنګه وي؟

په دغه کتاب کې موږ تشریح کړی دي چې د سپتمبر تر یولسمې نیټې څخه وروسته، څنګه زموږ د پوځ رهبري پریکړه وکړه چې په جګړه کې برخه واخلو. د ډنمارک د پوځ مشرتابه نه غواړي چې یوازې د ملل متحد د سوله ایزو پوځونو یوه برخه وي. د پوځ مشرتابه دا غوښتنه هم لري چې د خپل پوځ شتون وښیې. د سپتمبر تر پیښې وروسته اندریس فوک غاسموسن د ډنمارک صدراعظم شو. نوموړي غوښتل چې امریکا او نړۍ ته وښیي چې د نړۍ په جګړه ایزو ستونزو کې رول لوبولای شي.

د پوځ او سیاستوالو ګډ دریز د دي سبب شوو چې د بعضي انسانانو په نصیب کې مرګوني بدلون راولي. ډنمارکي سیاستوال او د پوځ مشرتابه تیاری نه درلودی چې په جګړه کې ګډون به څه پیښې رامینځته کړي. تر هغه چې فکر شوی وو، جګړه ډیره خونړی وه چې د سیاستوالو او پوځي مشرانو سترګې رڼې کړي خو پریکړه یې کولای نه شوای.

دا ښه نه شوه چې قوي صدراعظم د صفر غلطي کلتور رواج کړي او هیڅوخت غلطي نه مني نو ځکه ستونزمنه به وي چې غلطي اصلاح شي. د خپلو اوړو څخه مسولیت لیري کولو پایله دا شوه چې د جګړې ناوړه پایلې د هغو افسرانو او سرتیرو پر اوږو بار شي چې په جبهه کې جګړه کوي.

ډنمارک د سپتمبر د تر هګریز برید څخه وروسته سملاسي ځانګړي سرتیري د افغانستان جنوب ته ولیږل چې د نورو هیوادونو د ځانګړو سرتیرو سره د امریکایانو په مشرتوب په جګړه کې وي. خو د ډنمارک حکومت او د پوځ مشرتابه د حقوقي او عملي لحاظه د بندیانو د مسولیت موضوع روښانه کړی نه وه. په افغانستان کې د بوش د حکومت سیاست د بندیانو په تړاو د ژینو د کنوانسیون سره په ټکر کې و خو ډنمارکیانو دغه موضوع تر سر تیره کړی وه. د رسنیو د راپورونو سره سره چې ډیر ژر خپاره شوه چې امریکایان د افغانستان په جګړه کې بندیان شکنجه کوي خو بیا هم د ډنمارک حکومت د دغو اخطارونو برسیره غبرګون و نه ښودي.

په ۲۰۰۳ زکال د مارچ په میاشت کې کله چې د عراق جګړه پیل کیدل، د ډنمارک صدراعظم ، اندریس فوک غاسموسن یو ځل بیا د امریکا د جمهور ریس، جورج بوش په څنګ کې ولاړ وو. د امریکا حکومت غوښتل چې صدام حصین له مینځه یوسي. د څارګرو ادارو رپوټونه تر کنترول لاندې ونیول شول او بڼه یې هم وربدله کړه. داسې وښودل شول چې صدام حصین د ټول وژنې (اتوم بمب) وسلې لري چې د لویدیزو هیوادونو له پاره ستر ګواښ دي. د اندریس فوک غاسموسن او د امریکا د جمهور ریس څخه چا ملاتړ ونه کړي خو د ډنمارک صدراعظم پوځیان د عراق جګړې ته ولیږل. د لومړي ځل له پاره پرته د پارلمان د پراخ ملاتړ څخه جګړه پیل شوه چې د ډیرو کلونو له پاره یې سیاسي شخړې او بحثونه رامینځته کړه.

د امریکا د جمهور ریس او د برتانیې د صدراعظم، توني بلیر پرته د ډنمارک صدراعظم د بحث څخه اوږه خالی کړه کله چې څرګنده شوه چې صدام حصین دا ډول وسلې نه درلودې. نوموړي د جګړې پریکړه د پارلمان پریکړې ته محول کړه چې د عراق دیکتاتور (۱۲) کاله د ملل متحد پریکړې ته اعتنا نه وو ورکړي.دا یوازینی دلیل نه وه چې اندریس فوک غاسموسن د جګړې تر پیل کیدلو پورې څو میاشتې په بحثونو کې ګټه ورڅخه اخیستل. د ډنمارک صدراعظم په دوامداره او اګاهانه توګه د صدام حصین د وژونکو وسلو درلودل هم د جګړې د پیل د دلیل په توګه کارولو. برسیره پر دی ملل متحد هیڅوخت پریکړه کړی نه وه چې د صدام حصین عدم همکاري د نړیوالو سازمانونو سره باید په جګړه پای ته ورسیږي. موږ د ټرلي پوځي بازې په تړاو د جګړې تر پیل پورې ټول اړخونه بیان کړل خو د پوځ مشرتابه غوښتل چې د اشغالګرانو په توګه په ځمکنی جګړه کې برخه واخلي.

د ډنمارک ګډون د عراق په جګړه کې سملاسي هغه کلتور مات کړي چې ډنمارکیانو به د سوله ساتو ځواکونو په ډول مرسته کول خو دا ځل یې په کورنی جګړه کې برخه واخیستل. د شیعه مسلمانانو وسلوالو د عراق د امنیتي ځواکونو واک په لاس کې واخیستې او د واک په واسطه یې بندیان په زندانونو او د پولیسو په مرکزونو کې شکنجه کول. موږ بیان کړي دی چې ډنمارکي پوځیانو څنګه د دغو شکنجو په تړاو معلومات درلودي او په سترګو یې لیدل خو مخ یې بل لوری ته اړولو، خو ډنمارکي پوځیانو د عراق په فساد ککړ پوځیانو او پولیسو سره مرسته کول چې خلک بندیان کړی کوم چې وروسته یې د شکنجه کولو ډیر خطر شتون درلودي. د دی له پاره چې د حقوقي مسولیت څخه د پوځ مشرتابه او د دفاع وزارت ځان خلاص کړي وي، یو ځانګړي او شکمن جوړښت یې رامینځته کړي کوم چې انګریزي او عراقي امنیتي چارواکو د عملیاتو په جریان کې په رسمي بڼه د بندي کولو چارې مخته وړي خو په حقیقت کې عملیات د ډنمارکیانو لخوا پلان شوي او رهبري کیدل.

ډنمارکيان هم نه پوهيدل چې د څو تنو بنديانو په تړاو د بشرئ قوانينو پر بنسټ په حقوقي او عملي بڼه مسوليت لري. د ۲۰۱۱ زکال د ډسمبر په مياشت کې د ډنمارک د پوځ د هغه وخت لوي درستيز، کنود بارتيلس معلومات وړاندې کړي چې ډنمارکيانو (۵۰۰) تنه په عراق کې بنديان کړي دي. خو دا شميره د (۱۹۸) تنو عراقي بنديانو په پرتله ډيره وه کوم چې مخکې د دفاع وزارت او د عملياتو د قوماندې مرکز پارلمان ته معلومات ورکړي وو. نوموړي لوي درستيز ومنل چې زموږ پوځيانو د بنديانو د راجسترولو او وروسته د دوي پر احوال پوښتنې بشپړ کنترول نه درلودې. همدا ډول په لږ کچه ډنمارکيانو په غيري قانوني توګه بنديان عراقيانو ته تسليم کړي دي. وروسته څرګنده شوه چې د پوځ د عملياتو مرکز د ۲۰۰۷ زکال څخه پوهيدی چې ډنمارکيانو تر (۵۰۰) زيات عراقيان بنديان کړي دي. سره د دي هم د عملياتو مرکز پارلمان ته يوازې د (۱۹۸) عراقي بنديانو په تړاو معلومات وړاندې کړي وو چې وروسته څو ځله په تکرار سره همدغه شميره ياده شوی وه.

موږ مخکې بيان کړل چې څنګه شيعه مسلمانانو د بصرې او اړوندو ډيرو سيمو کنترول په لاس کې واخيست، خو په عيني وخت کې ډنمارکي او انګريزي سرتيري بيرته خپلو پوځي مرکزونو ته وګرځيدل. په پوځي مرکزونو کې پر دوي د راکټونو باران پيل شوو. سره د دغه بيا هم د ډنمارک حکومت اعلان کړل چې سرتيرو يې د امنيت په ټينګولو کې پرمختګ کړی دي، دغو خبرو ته يې تر هغه وخت پورې دوام ورکړي تر څو د ۲۰۰۷ زکال په وروي کې ډنمارکي پوځونه د عراق څخه ووتل.

کله چې ډنمارکي پوځونه د عراق څخه ووتل، د ډنمارک حکومت پريکړه وکړه چې ډنمارکي سرتيري د افغانستان يوې ډيرې خطرناکه سيمي ته ولاړ شي. د ډنمارک حکومت غوښتل چې ثابته کړي چې اوس هم د ډنمارک پوځ د امريکايانو سره په ګډه په مخ کې روان دي چې دا کړنه د ډنمارکي پوځيانو غوښتنه هم وه. خو هيڅوک نه پوهيدل چې د کوپنهاګن څخه (۵۰۰۰) کيلومتره ليري څه خطرونه د ډنمارکيانو په انتظار کې دي. د افغانستان په جنوب د هلمند په ولايت کې جګړه د لومړي ورځي څخه خونړي او جدي وه. په پوځي کمپونو کې ډنمارکي سرتيرو د ژوندي پاته کيدلو له پاره جګړه کوله. تر يو څه وخت وروسته ډنمارکي سرتيرو په تعرضي جګړه د طالبانو پر ضد پيل وکړي خو بيرته خپل کمپونو ته راستانه شوه.

ډنمارکي سرتيري د انګريزي پوځ په مينځ کې يوه وړه ټوټه وه چې د جګړې ستراتيژي څو ځله بدله شوه. همدا ډول د ډنمارکي سرتيرو غوښتنې د واقعيتونو څخه ليري وې. موږ مخکې بيان کړل چې څنګه ډنمارکي پوځيانو د ارماډيلو پوځي کمپ ساتلو ته دوام ورکړي سره د دي چې انګريزانو څو ځله خبرتيا ورکړل چې پايله به يې د ډيرو ډنمارکي سرتيرو د ژوند په بيه تمامه شي. په هلمند کې طالبان د مخالفو وسلوالو ياني دښمن څخه يوه برخه وه. ډنمارکيان د مختلفو ګروپونو په مينځ کې راښکيل شول چې دا ګروپونه د بيلګې په توګه د مخالفو وسلوالو بيل ګروپونه، د نشه ای توکو قاچاق وړونکي، اداري فساد او د قابليت نه لرونکو حکومتي چارواکو نومونه يادولای شوو. تر پنځو کالو خوشبينی وروسته د ډنمارکيانو غوښتنه راټيټه شوه چې يوازې د ګرشک د مرکز څخه د لسو کيلومترو په شعاع امنيت تامين کړي.

په ليبيا کې بريالي شوو چې په بنګازي کې د خونړي جګړې مخه ونيسو. خو دا کار شپږ مياشتې وخت وغوښتې چې هوايي بمباريو په پايله کې د معمرالقذافي کمزوري او پاشلې پوځ له مينځه يوسوو خو اوس د ليبيا هيواد د مختلفو وسلوالو ډلو په منګلو کې دي. مخالفي وسلوالي ډلې يو د بل په وړاندې په جګړو کې ښکيل دي. هيڅوک نه پوهيږي چې په ليبيا کې به ثبات او سالمه ډموکراسی رامينځته شي.

اړتيا شته چې په ارامو مغزو د افغانستان او عراق لس کلنه جګړه په ژوره توګه وارزول شي. دا يو ډير سخت تمرين و چې ډنمارکيانو او کورنيو يې په ډيرو ځاني تلفاتو د سياستوالو غوښتنه چې پوځ يې کولای شي په جګړه کې مخکښ وي، ورپوره کړي. خو دا هم ډيره اړينه ده چې يو ځل بيا ورته غلطي تکرار نه شي.

د امريکا او ملاتړو هيوادونو دا هيله پوره شوه چې ډنمارکي پوځيان ور سره په جګړه کې ګډون وکړي. په ټوليزه توګه ويلای شوو چې د طالبانو رژيم له مينځه يووړل شو او صدام حصين د واک څخه ليري شو نو ځکه جګړه بريالی ګڼو چې د دواړو هيوادونو ولسونه مو د ظلم څخه ازاد کړل. پرته له دې څخه سخته ده چې د دواړو جګړو ښې پايلې مو تر ستوګو شي.

په افغانستان کې د ناټو پوځونو د وتلو په چارو پيل کړي دي. د افغانستان پوځ د رنګينو ګلانو سره پرتله کيږي چې د ډيرو ناکاميو سره به مخ شي. طالبان، پخواني جهادي قوماندانان، د قومونو تر مينځ د شخړو جوړولو مشران او د نشه ای توکو کاروباريان د مرکزي دولت په وړاندې يو ټينګ قوت دي، سره د دي چې لويديزو تلاښ وکړي چې قوي مرکزي حکومت جوړ کړي. اوس حامد کرزي تلاښ کوي چې د طالبانو سره سوله وکړي. د ډموکراسی په پياده کولو او د ښځو د حقوقو په اعاده کولو کې پرمختګ شوی نه دي، بلکې د موضوعاتو برعکس جريان لري.

په عراق کې په رسمي بڼه ډموکراسی ده خو د ډيره کيانو شيعه مسلمانانو او لږه کيانو سني مسلمانانو تر مينځ د واک پر سره شخړې جريان لري. تقريباً هره ورځ د سړک د غاړې د بمونو، په موټر کې د ځای پر ځاي شوو بمونو او ځانمرګي بريدونه

خبرونه خپرېږي چې ډېر ملکي وګړي په عراق کې وژني. عراق ثبات نه لري او ډموکراسی يې چلش نه لري. ژر به وي چې د امريکا په عوض ايران د جګړې ګټونکي شي. د امريکا پوځونه د عراق څخه ووتل او د عراق واکمنان د ايران د روحاني رژيم سره ټينګې د دوستي اړيکې لري. د عراق صدراعظم، نوری ال مالیکي [٤٥٠] په تهران کې د کډوال په توګه استوګنه کوله خو د شيعه مسلمانانو د يو روحانی مشر، مقتدا الصدر او د هغودوسلوالو سره اړيکې درلودې.

د عراق جګړې د نړيوالو ترهګرو تهديدونه پر لويديزو هيوادونو لږ نه کړل. خو برعکس جګړې تر يوې مودې پورې د ترهګريزو ګروپونو د جذب ساحه پراخه کړه. (ژ: دا کتاب خو په ۲۰۱۲ زکال کې پای ته رسيدلي دي خو اوس په عراق کې د ترهګرو ډېرې ډلې شته چې د وينو ويالې يې بهيولي دي. د اوسني خونړي ناورين مسولين په جګړې کې ښکيل لويديز هيوادونه خو په ځانګړی توګه امريکايان د جورج بوش په مشری ګڼل کيږي. که عدالت شتون درلوداي بايد اوس بوش په نړيواله محکمه کې د عراق د ورانی او په ميليونونو عراقيانو د وژونو ځواب ويلای واي.)

په پاکستان، يمن او سوماليا کې جدي هڅې د القاعده په لوړ پوړو غړو او مشر پسي، اوساما بن لادن او وروسته د هغه وژنې د ترهګرو جنبش دا فغانستان او عراق د جګړې په پرتله ډېر کمزوري کړي. په ډنمارک کې د ترهګريزو بريدونو پلانونه د ډنمارک او نورې لويديزې نړۍ د څارګرو ادرو په هڅو او کوښښونو سره شنډ شول.

د ډنمارک ډېر سياستوال او د پوځ لوړ پوړي چارواکي ادعا کوي چې په جګړو کې د ډنمارک ګډون د دې دليل وګرځيدي چې د ډنمارک اغيزه او پرستيژ په ناټو او امريکا کې ډېر اوچت شو، تر هغه چې ډنمارک يې د جغرافيايي غټوالي په پرتله مستحق ګڼل کيږي. ايا دا خبري ريښتيا دي؟

يوه دقيقه ګټه يې دا وه چې اندريس فوک غاسموسن د ناټو عمومي مشر وټاکل شو. که اندريس فوک غاسموسن د ډنمارک د صدراعظم په توګه د جګړې سره مخالف واي، د عراق او افغانستان په جګړو کې فعاله پوځي ونډه اخيستي نه واي، احتمال نه وه چې د ناټو عمومي منشي وټاکل شي.

د جګړې د ګټو ارزونه ستونزمنه چاره ده ځکه داسې څيړنه شخصي او د افرادو د نظريو پر بنسټ کيږي. دوو څيړونکو، په ۲۰۱۱زکال کې انديرس هينريکسن [٤٥١] او ينس رينګسموسه [٤٥٢] د امريکا د حالت په تړاو څيړنه وکړه. نوموړو څيړونکو يو ريپورټ د ډنمارکي انستيوت د نړيوالې څانګې [٤٥٣] له خوا تر هغه وروسته چې د ډيپلوماټانو، لوړ پوړو اړوندو چارواکو او د ډنمارکي موسيسو د استازو سره مرکې وکړي، خپور کړي.

دوي ارزونه وکړه چې: «د ډنمارک پوځي ګډون د افغانستان او عراق په جګړو کې د ډنمارک په تړاو په واشنګټن کې تر يوې کچې مثبت نظر ايجاد کړی او همدا ډول د واشنګټن په پريکړو کې د ډنمارک اغيزه ډيره لوړه شوه. ډنمارکي پوځي مشرانو، وزيرانو او ډيپلوماټانو ته اسانه شوه چې د امريکايي چارواکو سره خبري وکړي.

دغه ارزونه د هغو کسانو د نظرياتو سره برابره ده کوم چې موږ مرکې ورسره کړي دي. پرته له دې څخه چې د امريکا حکومت او د دوي ادارو ته زموږ لاسرسي اسانه شوی دي، ستونزمنه ده چې د جګړې ځانګړې او دقيقې ګټې د ډنمارک له پاره اندازه کړو. په هر صورت که موږ د امريکا سره په نيژدوالي کې ګټي هم لرلي وي، هيڅوخت د پارلمان مهمه غوښتنه دا نه وه چې يوازې په دغه دليل زموږ پوځونه په نورو هيوادونو کې پوځي عمليات وکړي.

په همدغه وخت کې امريکايانو او انګريزانو د عراق په جګړه کې د ګډون په تړاو ډېرې رسمي څيړنې او مرکې وکړي خو ډنمارک اوس د عراق او افغانستان په جګړو کې د ډنمارک د ګډون په تړاو د څيړونو له پاره يو کمسيون وټاکې.

په نوي حکومت کې (ژ: د سوسيال ډموکراټانو په مشرتابه) کې سوسيال ډموکراټانو، کيڼ ليبرال ګوند او د ډنمارک سوسياليت ګوند د حکومت د جوړښت په بنسټيزه پروګرام کې وليکل: که ډنمارکي سرتيري د نړيوالو جنګي عملياتو له پاره ليږل کيږي بايد لږ تر لږه د پارلمان دوې پر درې برخې يې ملاتړ وکړي. په بدل کې حکومت په ليکل شوی بڼه خپله هغه وعده پر ځای نه کړه، که لږه کې په پارلمان کې وغواړي د يوې مهمې پوښتنې په تړاو د بيلګې په توګه د جګړې په هکله څيړنيز کمسيون وټاکل شي.

[٤٥٠] - Nouri aL - Maliki

[٤٥١] - Anders Henriksen

[٤٥٢] - Jens Ringsmose

[٤٥٣] - DIIS

فکر کيږي چې داسې يو ځيرنې ته جدي اړتيا شته  څکه اوسنی حکومت (ژ: د بنی ليبرال ګوند حکومت د اندريس فوک غاسموسن په مشري) جګړې ته تمايل د ډنمارک د بهرني سياست يوه برخه ګڼي. د ۲۰۱۱ زکال په پای کې حکومت نوی شو نو د سوسيال ډموکراټانو د دفاع وزير، نيک هيکروپ [٤٥٤] د کينيا [٤٥٥] سره د پوځي مرستو ګډ کار پيل کړي چې څو کاله مخکې د کينيا حکومت د کورنی جګړې په جريان کې په سيستماتيکو وژنو تورن وو. د دفاع وزير په څرګنده وويل چې نوموړي نه غواړي چې د بشپړو پاکو لاسونو سياست مخته بوزي. نوموړی اعتراف وکړي چې د ډنمارک څخه په زرګونو کيلومترو ليري هيوادونو کې چې مات او شوړيدلي حکومتونه لري، د ډنمارک د بهرنی پاليسي پر بنسټ پوځ ډير رول لوبولای شي.

خو بايد څرګنده شي چې څومره چټل لاسونه د زغم وړ دي؟ په تيره لسيزه کې د اندريس فوک غاسموسن د پوځي پاليسي څخه څومره توپير شته؟

په دغه ځای کې نيک هيکروف درو برخو ته اشاره وکړه. لومړي د پارلمان لړ ترلړه دوي پر دري برخي ملاتړ د ولس د پراخ ملاتړ ښکارندوي وي. دوهم بايد حکومت د پوځي عملياتو په جريان کې د احتمالي چلينجنو او ستونزمنو حالتو په تړاو د زړه رازونه پټ نه کړي او په وازه خوله کړنې وکړي. په دريمه برخه کې بايد ډنمارکي او نړيوال بنسټيز پرنسيپونه او کنوانسيونونه مراعات شي.

زموږ موخه بايد دا نه وي چې بهرنی پاليسي مو په بشپړه توګه غيري پوځي وي خو دغه پاليسي بايد عياره او برابره شي. همدغه دليل و چې د دفاع وزير د مقرري  څخه لږ وروسته کينيا ته ولاړي څکه ډنمارک د کينيا د ساتونکو سمندري ځواکونو سره ډير نژدي کار کولو چې موخه يي د سمندري غلو په واړندې مبارزه وه. بايد يو عدلي سيستم جوړ شي چې سمندري غله محاکمه کړي، بايد د کينيا سمندري ځواکونو ته مرسته ورکړه شي چې (۵۰۰۰) تنه ساتونکي د ختيزې افريقا د سمندري څنډو د امنيت دنده په دغه سيمه کې پر غاړه واخلي.

دغه ګډ کار دوه کاله تر هغه وروسته پيل شو چې د ملل متحد لخوا د کينيا مرګوني ګذارونه محکوم شول. دا مرګوني کړنې هغه وخت وشوي چې د کينيا پوځ په سوماليا کې جګړه کوله او د خپلو خلکو په وړاندي په بشري جرمونو تورن دي. يوه نيمه مياشت مخکې د دفاع وزير، هيکروف هغه پنځه کب نيونکي چې د سمندر د ساتونکو لخوا وژل شوی وو، وليدل سره د دي چې دغه وژنه  د سيمه ايزو بشری حقوقو د څار د ادارو او هومين رايټ واچ لخوا په ټينګه وغندل شول، د حکومت څخه يي د مجرمينو د مجازات غوښتنه وکړه خو حکومت او پوځ يي د پيداکولو او مجازات ورکولو په اړوند هيڅ ونه کړه. د هومين رايټ واچ د اداري لخوا يو راپور خپور شو، په اسنادو يي ثابتول چې د کينيا پوليس او پوځيان د سوماليا پر ملکي وګړو جنسي تيري کوي، په شدت يي ټيپان کوي، بی عزته کوي خو د کينيا پوځيانو د عملياتو په جريان کې خپلې جرمي کړنې د الشباب د اسلامي ډلې پر اوږو ور باروليې.

د افغانستان په تړاو د دفاع وزير د ځانګړې ستونزې سره مخامخ و. د ۲۰۱۱ زکال د ډسمبر په مياشت کې د دفاع وزير، نيک هيکروپ پريکړه وکړه چې (۵۰) سرتيري د شنا او ښکاري ګروپونو څخه افغانستان ته وليږي. خو نوموړي سرتيري بايد تر هغه وخت پورې د افغانستان پر لوری حرکت ونه کړي تر څو چې څرګنده نه شي چې د کوم حقوقي قوانينو په رڼا کې چال چلند وکړي. د دفاع وزير انديښنه درلوده چې کيدلای شي ډنمارکي سرتيري په داسې يو حالت کې ښکيل شي چې فردي حقوق تر پښو لاندې شي لکه په عراق کې چې پيښه شوه.ډنمارکي ځانګړې سرتيري افغان ځانګړو سرتيرو ته روزنه او ټرينينګ ورکړي او په عملياتو کې فعال ګډون وکړي. په دغه صورت کې بنديان د افغانستان زندانونو ته لويږي چې د شکنجو ورکول ورځنی چاره ده.

دا هم عجيبه ده چې د ډنمارک حکومت د پوځ څخه د سياسي ابزارو په توګه کار اخيستي او اوس هم دوام ورکوي. سره د دي چې دا چاره د سيمه ايزو پوليسو د ټرينيګ او درس ورکولو په وخت کې تر سره کيږي.

نن ورځ به ډير سخته وي چې داسې سياستوال او څيرونکي پيدا شي چې د امريکا او ناټو له لوري پر نورو هيوادونو د لويو بريدونو خيال په څو راتلونکو کلونو کې ولري. که د سپټمبر د (۱۱) نيټې سره ورته پيښه رامينځته نه شي نو وړاندوينه داسې ده چې د بلې لويې جګړې پيښيدل به مهال وي. د جګړو ستونزو او اقتصادي بحران سياستوال او ولس ستړی کړی دي.

[٤٥٤] - Nick Hækkerup
[٤٥٥] - Kenya

په ۲۰۱۲ زکال کې اوباما د راتلونکو لسو کلونو له پاره د پوځ په بودجه کې ډېره سپما په نظر کې ونیول. ورته کړنې په نورو لویدیزو هیوادونو کې تر لاس لاندې ونیول شوې. ډنمارک هم د پوځي کلنی (۲۰) میلیارده کرونه بودجې څخه د ۲۰۱۵ د پيل څخه (۱۵) سلنه سپما په نظر کې نیولې ده.

دا سپما د دې مانا نه لري چې امریکا او ناټو به په نړۍ کې د شخړو، جګړو، تهدیدي او عامه وژنو د حالاتو په شتون کې یوازې تماشا کوي. خو په راتلونکې کې به نوی میتود کارول کیږي. د سپما د پروګرام برسیره امریکا غواړي پر ځانګړو ځواکونو، نویو وسلو او څارګرو عصري وسایلو باندې پانګونه وکړي. د اوساما بن لادن وژنه او د بې پیلوټه الوتکو استعمال د پاکستان په سرحدي قبیلوي سیمو کې به د راتلونکو جګړو بڼه جوړوي چې په فزیکي توګه به پوځ ګډون نه کوي. په ۲۰۱۰ زکال کې امریکایي بې پیلوټه الوتکو د پاکستان پر فضاء (۱۱۷) ځلې هوایي بریدونه وکړه چې دغه شمیره د بوش د جمهوري ریاست د وروستی دورې د وروستي کال څخه دري ځله زیاته وه. د امریکا بې پیلوټه الوتکې د یمن او سومالیا په هوایي حریم کې هم د حالاتو څارنه کوي او د احتمالي لوړ پوړو ترهګرو د وژلو له پاره راکټونه فیر کوي تر څو د دوي ځالې له مینځه یوسي.

دا د جګړې نوی پټ میتود دي چې امریکایان ډېر حساب وربانديې کوي. د جنرال ډیوېډ پیټرویس ټاکنه د امریکا د څارګرې اداري، سی ای ای د مشر په توګه دغه معنی لري. (ژ: جنرال پیټرویوس د یو سکرترۍ سره د نامشروع اړیکو د درلودلو په خاطر د دندې څخه استعفاء وکړه.) کله چې ډیوېډ پیټرویس په افغانستان کې د ایساف ځواکونو عمومي قوماندان و، د ځانګړو سرتیرو هغه عملیات چې (مړه یې کړه او یا یې و نیسه) [٤٥٦] عملیات د (۷۵) څخه په میاشت کې (۲۰۰) ته لوړ شول. سمدلاسې ډنمارکیانو په جګړه کې ګډون کولای نه شوای ځکه پټ او د بې پیلوټه الوتکو عملیات کیدلای شي چې د حقوقي لحاظه د نړیوالو مقرراتو او ژینو د کنوانسیون د ډیرو موادو سره په ټکر کې وي. په دغه صورت کې د ډنمارک حکومت ته ستونزمنه وه چې جګړه عادلانه یا قانوني وګڼي. همدا شیبه د بندیانو نیول او افغان مقاماتو ته تسلیمول چې د فرد د حقوقو په نه خوندي کولو او پراخو شکنجو تورن وو، هم د ډنمارک د حکومت له پاره حقوقي ستونزې رامینځته کړی وي.

ایا د اوسني حکومت سموني یاني اصلاحوي بڼه د قوي پوځي اغیزې پر بهرني سیاست د فعالې برخې په توګه د ډنمارک له پاره یوازنۍ د وتلو لار ده؟

ایا لس کلنه پاملرنه پوځي وسایلو ته د هیواد پر هغه قابلیت منفي اغیزه نه کوي چې د راتلونکو شخړو د حل له پاره نوي فکر وشي؟ کیدای شي دا نوی لار، قابلیت او نظریات چې په لوړه کچه د منلو وړ وي. د یو وړوکې شتمن هیواد د غوښتونو له پاره چې نړیوال کړکیچونه او جګړې په وقایه کولو حل کړي، اغیزناکه نه ده؟ دا کیدلای شي چې زیات تمایل او موخه شتون ولري چې د هغو هیوادونو چې سالم حکومتونه نه لري، د ملکي وګړو سره داسې مرستې وشي چې تر جګړې وروسته سالم ژوند ته لاره ولري او وچلیږي. د افغانستان، عراق او لیبیا څخه مو تجربه زده کړه چې تر جګړې وروسته انتقالي (لیږدیزه) دوره چې هیواد بیرته ثبات ته راوګرځي، د ډیرو ستونزو ډکه وي.

طبعي ده چې دا یو سیاسي انتخاب دي چې ډنمارکي سیاستوال کومه لاره خپلوي. خو په هر صورت ډیره مهمه ده چې اوس موږ صبر وکړوتر څو چې د تیرو لسو کالو جګړو د تجربو څیړنه وکړو. زموږ هیله دا ده چې دغه کتاب به د یادي شوي موخې د بریالیتوب سره مرسته وکړي. د دغو تجربو څیړونو ته اړتیا شته، په هغه ورځ چې لینه بیرګیسین د یادګاری ځلې مخې ته د مني په موسم کې د ډنمارکي مړو سرتیرو پر قبرونو لاندې خبرې وکړې:
«تر ټولو غمجنه دا ده چې پر دیوال تش ځایونه پاته دي.»
د دې خبرې مانا دا وه چې د ډیرو نورو نومونو له پاره چې ډنمارکي سرتیري به وژل کیږي، ځای په نظر کې نیول شوی وو.

---

[٤٥٦] -Kill or capture operationer



## د ژباړن لنډه پیژندنه

محمدابراهیم نعیمي په ۱۹۵۳ کال د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې زیږیدلی دی، پلاریې ښوونکی و اوپلرنۍ کورنۍ یې چې د کندهارد ښکاپوربازاردی ، یوه روحاني کورنۍ وه. دپلارد دندې په وجه د هلمند ولایت دګرشک په ولسوالی کې لوی شوی او د ابوالفتح بستي لیسه یې په ۱۹۷۱ زکال کې پای ته رسولې. په همدغه کال د کابل پوهنتون د پولیتخنیک په پوهنځۍ کې شامل شو. په ۱۹۷۶ زکال یې د کانوایستلوڅانګه پای ته ورسوله اوسملاسي یې دعسکري خدمت د احتیاطودوره پیل کړه او ترشپږمیاشتو وروسته یې ترخیص ترلاسه کړ. د۱۹۷۷ زکال په اوړي کې دپروان ولایت د فرنجل غوربند دبیرایتو په کان کې دانجیرپه توګه مقرر شو. په دغه ترتیب یې د کانواو صنایعو په وزارت کې بیلابیلې دندې ترسره کړې، د هلمند په ولایت کې دپنبې اونباتي غوړیود فابریکې ریس شو، شپږمیاشتې د پلچرخي په زندان کې سیاسي محبوس و، د کانواوصنایعو په وزارت کې دډبرو د سکرو د مرکزي اداري کارکوونکی اوپه پای کې له دولتي دندې څخه ګوښه ، دوه کاله یې دشخصي کارپه لړکې د ګلدوزۍ او خامکدوزي دوکان درلود، اوپه ۱۹۸۹زکال و ډنمارک ته کډوال شو . اوس په ډنمارک کې له خپلې کورنۍ ، میرمن اوڅلورو اولادونو سره ژوند کوي .

څو کاله کیږي چې د خپلې عادي ورځنۍ دندې ترڅنګ یې له لیکنوسره مینه پیدا کړې ده چې په درى ، پښتواوډنمارکي ژبه یې ډیرې لیکنې په بیلابیلو ویبپاڼوکې خپرې شوې دي. څو کاله کیږي چې یوه ویبپاڼه nahimi.dk چلوي چې په انګریزي ، ډنمارکي ، پښتواو دري ژبو سیاسي اوټولنیزې لیکنې خپروي .

۱ ـ (او لا ګلونه سوځي) یې لومړی کتاب و چې په ۲۰۱۲ زکال خپور شو، همدغه کتاب په ډنمارکي ژبه هم په ۲۰۱۵ زکال کې خپور شو. د کتاب منځپانګه د افغانستان د ښځو د ژوند د تاریخي بهیر بیان دي.

۲ ـ په ۲۰۱۲ زکال کې د هیواد سفرنامه چې په لنډه توګه د افغانستان د حالاتو انځور په ۲۰۱۰ زکال ترسیموي.

اوس بیا یې دا بریالیتوب په نصیب شو چې (په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې) کتاب وژباړي او د هیوادوالو د لوستلو له پاره یې وړاندې کړي.

په درناوي ۲۰ / ۱۲ / ۲۰۱۵ زکال ډنمارک